# د ویښ ځلمیانو غورځنګ

مؤلف: محقق میرزا محمد لودی

# «د ويښ ځلميانو غورځنګ»

# «د ويښ ځلميانو غورځنګ»

ليکوال: ميرزا محمد لودي
لارښود استاذ: د سرمحقق مرستيال دوکتور خواجه الدين صديقي

د علومو اکاډمي

■ **د کتاب نوم:**
«د ویښ ځلمیانو غورځنګ»
■ **لیکونکی:**
میرزا محمد لودی
■ لارښود استاذ:
د سرمحقق مرستیال دوکتور خواجه الدین صدیقی
**مهتمم:**
ضابط خان ځدران
**دیزاین او کمپوز:**
بسم الله احمدی
■ **لومړی چاپ:**
۱۳۹۲ کال
■ **ناشر:**
د افغانستان ا، ج، د علومو اکاډمي

بسم الله الرحمن الرحيم

# فهرست مطالب

د لاربنود استاد نظر... ......... .................. ...............................................الف
تقریظ... ...... .......................... ...................................... ..........................................د
تقریظ........................... ........................ ............................. ........................... ......و
سریزه... .................... ......................... ........... ...........................................................۱


## لومړی فصل

د موضوع تیروخت ته کتنه......... ............... ... .................. ................ ... ....... ....... ......۱۳


## دوهم فصل

د ویښ ځلمیانو د پیدا ایښت عوامل... ..................... .................... ... .......... ....... ......۴۱
لومړی- سیاسی عوامل............................................................................................۴۴
دوهم- اقتصادی عوامل............................................................. ...............۶۱
دریم- ټولنیز شرایط...............................................................................................۷۰
الف:- د ویښ ځلمیانو ټولنیز او طبقاتی ترکیب...................................................۷۲
ب:- د ویښ ځلمیانو نړی لید، مرام او غوښتنی.......................................................۸۱
ج:- د ویښ ځلمیانو په مقابل کی د دولت یا حاکمی سیاسی طبقی رژیم..۸۹
د:- تاکتیکی او ستراتیژیکی اهداف..........................................................................۹۴


## دریم فصل

د ویښ ځلمیانو لاربنود مرکزی سازمان........... ....... ........................... .....۱۰۰
دویښ ځلمیانو مرامنامه..........................................................................................۱۱۰
الف:- د مرکزی سازمان اهداف.............. ........................................................۱۱۷

ب: د ویښ ځلمیانو د سازمان میتود او فعالیت ...................... ۱۲۱
ج:- د ویښ ځلمیانو میتود او اهداف په تنویري او تبلیغاتي فعالیتونو په ساحه کي...... ۱۲۵

## څلورم فصل

د ۱۳۲۲ لمریز او ۱۳۲۹ کلونو ترمنځ د سیاسي فعالیتونو مشخصات...... ۱۲۹

الف: د ویښ ځلمیانو د مبارزې د پراختیا لپاره د زمینې مساعد کول........... ۱۳۲
ب: د ویښ ځلمیانو د تاریخي ارزښت درک ............................ ۱۳۶
ج: په هېواد کې د نورو جنبشونو سره د ویښ ځلمیانو اړیکې...................... ۱۴۰
لومړی:- دموکرات ملي –دولتی ګوند.................................. ۱۴۱
دوهم:- د وطن ګوند ...................................... ۱۴۴
دریم:- د خلق ګوند ........................................ ۱۴۹
څلورم: د محصلانو اتحادیه ...................................... ۱۵۲

## پنځم فصل

د ویښ ځلمیانو د لاربنوونکو غړو شمېر..................................... ۱۵۶
الف: د ویښ ځلمیانو د ځینو مشاهیرو بیوګرافي ........................ ۱۶۰
۱- د استاد بېنوا د نثر نمونه ............................ ۱۶۳
۲- فیض محمد انګار........................................... ۱۶۵
۳- نور محمد تره کي.............................................. ۱۶۶
۴- ګل پاچا الفت .................................................. ۱۷۲
۵- قیام الدین خادم ............................................... ۱۷۵
۶- پوهاند صدیق الله رښتین ...................................... ۱۷۸
۷- محمد ارسلان سلیمي ......................................... ۱۷۹
۸- محمد ولي ځلمي .............................................. ۱۸۰
۹- غلام حسن ساپي .............................................. ۱۸۴
۱۰- محمد رسول پښتون ......................................... ۱۸۵
۱۱- عبدالهادي هادي (توخي، بحر) ................................ ۱۸۷
نتیجه او وړاندیز ................................................ ۱۸۹
منابع او ماخذ ................................................ ۱۹۴

## د لارښود استاذ نظر:

د فلسفي او سايکالوجي محترم انستيتو ته!

«دويښ ځلميانو غورځنګ» تر عنوان لاندې تحقيقي پروژه چې محقق ميرزا محمد لودی د خپلې علمی ترفيع يعنی د سرمحقق مرستيالی رتبي ته زما تر لارښوني لاندي اخيستي وه او اوس يې بشپړه کړي ده پدي ډول خپل نظر د نوموړي اثر په باب وړاندي کوم:

په افغانستان کې د روشنفکري غورځنګ په تاريخی لحاظ څيړل او د هغه مختلف اړخونه او تياره ځايونه را څرګندول يو ضروري او پرځای کار ګڼل کيږي او په افغانستان کې که چيري د روشنفکري جريان تاريخي سير و څيړو هغه ډير پريشانه حالت لري. چې دا د افغاني ټولني له فرهنګي او ټولنيزو خصوصياتو سره نه بيليدونکي اړيکي او پيوند لري روشنفکري جريان د افغاني ټولني د تاريخي، سياسي او فرهنګي وروسته پاتي والي او د ناسمو رواجونو شته والي او د هغو ساتلو سره اخښل شوي دي. او زموږ اوسينو روشنفکرانو ونه شوای کړای ځانته بيله لاره د افغانستان د سياسی او ټولنيزو رازونو او طلسم لپاره پرانيزي او يا يې په اصطلاح کشف کړي. زما په نظر د افغانستان روشنفکرانو ونه شوای کړای د

معاصري نړۍ له فکري او فرهنګي جريانو سره موازي يا هغو ته ورته زموږ د ټولنۍ د اړتيا وو او عينی واقعيتونو سره سم قدمونه پورته کړي.

د امساله ځانته عينی او ذهنی عوامل لري. يو له هغو دلايلو څخه په افغانستان کی د روشنفکری جهان شنډ پاته کيدل دي يعنی روشنفکری جريان زيږنده او دوامداره ظرفيت او کيفيت پيدا نه کړ او بل دا چې افغانۍ روشنفکر د سيمه ايز طرز تفکر کې ونډه نه ده لرلي بلکه د ملي حوزې په برخه کې يې موثر فکري جريان رامنځته نه کړلو يعنی زموږ روشنفکر په اصطلاح د تفکر په بحران اخته وو او ټول وارداتي فکري او سياسی جريانو ته سترګي په لاري وو او په مصرف کوونکو باندي تبديل شوی وو.

دويښ ځلميانو جنبش له دغو روشنفکری جريانونو څخه متاثر دی.

دغه اثر د دغه اوږد سياسي، فکري او يا روشنفکري جهان يوه برخه څيړي. دغه اثر محقق په پنځو فصلونو کې ليکلي دی پدي ډول:

وروسته د مقدمي څخه په لومړي فصل کې يې د موضوع تاريخی څيړنه کړي ده کوم اثار او مخکني څيړني چې د دغې موضوع په اړوند تر سره شوي دي او د هغو څخه يې د دغه اثر په ليکوکې مستقيماً او يا غير مستقيم ګټه اخيستي ده، يادونه شوي ده.

په دوهم فصل کې دويښ ځلميانو د رامنځته کيدو ټولنيز، اقتصادي او سياسي علتونه څيړل شوي دي.

دريم فصل: دويښ ځلميانو د غورځنګ مرکزي رهبری کوم کسان وو.

څلورم فصل: د ۱۹۴۷ ميلادی څخه تر ۱۹۵۰ کلو پوري د سياسي فعاليتونو مشخصات او په پنځم فصل کې دريښ ځلميانو د ځينو رهبرانو د غړو بيوګرافی.

يوه نتيجه او د ماخذونو لست لري.

هر اثر پخپل ذات کې ښيګړي او نيمګړتياوي لري خو که چيری ديوه اثر د شيګڼو خوا درنده وي نو هغه کامياب اثر ګڼل کيږي. د دغه اثر هم شيګڼي ډيري دي په شکلي لحاظ دغه اثر د ليکوالي له اصولو سره سم ليکل شوی دي. په منطقي لحاظ د فصولو ترمنځ تسلسل

شته. ماخذونه، لمن نیکونه، د فصولو تدوین ټول د لیکنې په اصولو برابر او معیاري دي.

د محتوي له نظره دغه اثر د موضوع په اړوند لازم مواد راغونډ کړي او سپړلي یې دي. په سریزه کې یې د دغه روشنفکري جریان ټول مشخصات را سپړلي دي او د موضوع د ښه ثبوت لپاره یې د ډېرو معتبرو آثارو څخه ګټه اخیستې او هم یې د هغو کسانو په قول استناد کړی دی چې د نوموړي غورځنګ غړی او یا یې په هغه وخت کې ژوند کولو. ژبه یې روانه ده مطالب یې نوي او معلوماتي دي. دا اثر زموږ د هیواد د سیاسي جریانونو د روښانه کولو او بیانولو په ترڅ کتور اثر دی.

په اخر کې وایم چې که څېری ښاغلي محقق د خپلې علمي ترفیع لپاره یعنی د سرمحقق د مرستیال رتبې ته نور لازم شرایط بشپړ کړي وي د دغه اثر له مخې زه نوموړی محقق د ترفیع مستحق ګڼم او لیکوال ته د افغانی فرهنګ د بډاینې په لارکې لا ډېرې بریاوې غواړم.

په درنښت

د سرمحقق مرستیال دوکتور خواجه الدین صدیقي

۱۲-سنبله -۱۳۸۵

## تقریظ

اینجانب اثر محترم محقق مرزا محمد لودی عضو اکادمی علوم افغانستان را که تحت عنوان ( جنبش ویش زلمیان) جهت ترفیع از رتبه علمی محقق به رتبه علمی معاون سرمحقق برشته تحریر در آورده است بدقت مطالعه نموده ام.

این اثر که در ۵ فصل و حاوی (۱۹۴) صفحه میباشد دارای ارتباط و تسلسل منطقی بوده است. پشگفتار، فهرست مطالب، مقدمه، هدف تحقیق، مروری بر منابع، متن و محتوای این اثر با جملات واضح و روشن بیان گردیده موضوعات و قضایای این جنبش را در عرصه های مختلف حیات اجتماعی، سیاسی جامعه ما به شکل اساسی و واقعی آن بررسی نموده است.

موصوف در تهیه و نگارش این اثر زحمات زیادی را متقبل گردیده و از منابع دست اول و معتبر داخلی که جمعاً به ۳۲ ماخذ میرسد به سیستم جدید تحقیق نموده است.

در اخیر اثر بعد از نتیجه گیری علمی، پیشنهادات و فهرست مأخذ در آن جا داده شده است.

اینجانب اثر موصوف را برای ترفیع از رتبه علمی محقق به رتبه علمی معاون سرمحقق درصورتیکه دیگر شرایط ترفیع علمی را پوره کرده باشد کافی و بسنده دانسته و از بارگاه ایزد متعال موفقیت و کامیابی برایشان خواهانم.

با احترام

پوهنوال احمد ضیا نیکبین
امر دیپارتمنت فلسفه و جامعه شناسی
پوهنځی علوم اجتماعی پوهنتون کابل

## تقریظ

بجواب نامه شماره (۹۳)۱۳۸۵/۸/۱۱ احتراماً نگاشته میشود.
رساله که تحت عنوان « دوینې ځلمیانو غورځنګ توسط محقق جوان میرزا محمد لودی در یکصدو نودوچهار صفحه نگارش یافته و بمن جهت ارایه تقریظ سپرده شده بصورت دقیق مطالعه کرده قبل از انکه در مورد اظهار نظر نمایم نکات چند را در مورد ارایه میدارم:
تاریخ جوامع بشری شاهد تبارز جنبش های فکری بر بنیاد ارزشهای ملی و سنتی بر حسب ضرورت و شرایط عینی جهت رفع تناقضات و نابسامانی ها تامین عدالت اجتماعی رشد و انکشاف جامعه بوده نهضت ویښ ځلمیان هم یک چنین نهضت بود که بعد از جنبش مشروطه خواهان باعث عکس العمل طبعی و محافظه کارانه در برابر بی عدالتی و استبداد طبقه حاکم بوده این نهضت در قالب یک انجمن ادبی و اخلاقی در جامعه ظاهر شده که بیشترین اعضای آن را اراکین دولت تشکیل میداد و تعداد زیاد آن به نحوی از آنها با دربار در رابطه بودند این خود بیانگر خصوصیت جامعه مطابق به

شرایط عینی و ذهنی بوجود آمده و با در نظر داشت شرایط حاضر برنامه های کاری خود را در مطابقت به اهداف سیاسی خود عیار کرده و در حقیقت امر برنامه اصلاحی را که مشروطه خواهان و جوانان افغان طرح کرده بودند با آوردن اندک تغییرات همان برنامه را تعقیب کردند که آرزوی همه روشنفکران کشور برای رشد و انکشاف جامعه بود، نهضت ویښ ځلمیان محصول شرایط خاص که در رشد تضاد ها و فشار های داخلی و جوامع بین المللی بر دولت افغانستان برای ایجاد تغییرات و تحولات وارد شده بود نهضت ویښ ځلمیان رسمی نبود به همین دلیل مدت کمی فعالیت کرد نکته دیگر اینست که نهضت ویښ ځلمیان بر اساس کدام ایدیولوژی مشخصاً بمیان نیامده بود فلهذا وحدت نظر در بین آنها وجود نداشت افراد مختلف با طرز دید های متفاوت چون ریفورمستی، چپی، و محافظه کاران شامل این نهضت بودند که بزود ترین فرصت در رشد اختلافات طبقاتی قشری و فکری این نهضت از هم پاشید و منجر به جریانات متعدد سیاسی برمبنای تعلقات لسانی، منطقوی و اندیشه های سیاسی شد قسمیکه بعد ها دیده شد هر کدام آن مفید برای جامعه واقع گردیدند. بهر صورت نویسنده این رساله که یک مقدمه پنج فصل، نتیجه و پیشنهادات دارد سعی کرده که واقعیت ها را دریافت و بازگو نماید.

چنانکه در مقدمه اشارات مختصر به مسایل عمومی دارد در فصل اول و یا پیشینه موضوع کوشیده حوادث و وقایع را ریشه یابی کند و سلسله کرونولوژیکی آنرا مراعات نموده در فصل دوم عوامل تبارز نهضت ویښ ځلمیان ساختار اجتماعی، مرام اهداف ستراتیژیکی و تکتیکی این سازمان را پی گیری نمود، فعالیت های سیاسی و دست آوردی آنرا بصورت مفصل بازگو نموده است. در فصل سوم نقش رهبری میتود کار و فعالیت های این جنبش را در جامعه و اثرات آنرا بر حوادث بعدی به بررسی گرفته در فصل چهارم

ح/« دویېش ځلمیانو غورځنګ»
مشخصات فعالیت های سیاسی و زمینه انکشاف این جنبش را با درک اهمیت تاریخی آن، روابط و اثرات متقابل آنرا با جریانات دیگر سیاسی بصورت مفصل تشریح کرده در فصل پنجم، تعداد بیوگرافی هیات رهبری این سازمان را با فعالیت های کاری آن در جامعه افغانی توضیح کرده اسناد و مدارک هیات رهبری در این رساله ارایه کرده است در اخیر ساله از موضوعات بصورت منطقی نتیجه گیری کرده پیشنهادات مشخص را ارایه نموده فهرست مآخذ را بشکل معیاری ترتیب و تنظیم کرده است خلاصه اینکه نویسنده مطابق معیار ها و پرنسیب های علمی کار پروژه خویش را به انجام رسانیده و کار انرا مثبت ارزیابی می کنم و اگر مطابق لوایح اکادمی دیگر شرایط را تکمیل کرده باشد آنرا مستحق ترفیع از رتبه علمی محقق برتبه علمی معاون سرمحقق میدانم وموفقیت های مزید را از خداوند متعال و بی نیاز برای کار های بعدی ان می خواهم.

با احترام

معاون سرمحقق محمد یاسین رسول

۱۳۸۵/۸/۲۰

## سریزه

روشنفکري حرکت د تاریخي او ټولنیز واقعیت په توګه د بشري نوي تمدن لاسته راوړنه ده. چې په اولسمو او اتلسمو پیړیو کې د بورژوازي دو دي او د منځنۍ طبقي د عقلاني او انساني ارزښتونو د پر مختګ پر اساس رامنځته شو، او نن د جهان شموله پدیدي په څیر بدل شوي دي خو ښکاره ده چې دا شمولیت او پر اختیا په ټولو هیوادو او ټولنو کې یو شانته ندي، له بلي خوا تاریخي او ټولنیز واقعیتونه دا ثابتوي چې زموږ ونډه په دغو ټولو فکري او ټولنیزو بدلونو کې مخصوصاً د روشنفکري او روشنګري ډګروکې ډیره کمه ده او هغه هم داسي چې یوازي منفعل و او سو.

د دریمي نړۍ په هیوادو کې له هغي ډلي څخه په افغانستان کې د روشنفکري جهان د پیژندني یوه لاره داده چې لومړي ترټولو اروپائي روشنفکري او په اروپا کې روشنګري حرکت او د روشنفکري پدیدي خصوصیات ټولنیز تاریخي شرایط، فکري او فرهنګي فضا درک او وپیژنو، ضروري بریښي چې د هغي اشکال او کلي جریان د هري ټولني په ټولنیزو او اقتصادي مناسباتو کې کشف او راسربیره کړو.

په افغانستان کې د روشنفکري پدیدي د هیواد په سیاسي او تاریخي تحولاتو کې د هغي نقش او اغیزو له امله بیلابیل بحثونه

رامنځته کړي دي. څرګنده ده چې دغه بحثونه او تحليلونه له مختلفو اړخو څخه تر پاملرنې لاندې نيول کيداې سي، تر څو د نوموړو تحليلونو په نتيجه کې يوې اساسي نتيجې ته ورسيږو په افغانستان کې د روشنفکرې پديدې څېړل دا ضرورت رامنځته کوي چې لومړي هغه خنډونه او ننګوني چې روشنفکرې حرکت د خپل بهير په ترڅ کې ورسره مخاخ دي، راوڅېړو ترټولو د مخه به هغه خنډونه راوڅېړو چې دغه حرکت ورسره مخامخ دي.

په افغانستان کې د روشنفکرې حرکت دودي ځيني خنډونه چې دلته يادو د هغو عمومي عواملو له ډلي څخه ګڼل کيږي چې همدغه حرکت يې له خنډونو سره مخامخ کړی دی. همدارنګه کله چې په هيواد کې د روشنفکرې جريان د راڅرګنديدو تاريخي بهير راڅېړو دغه تصور را پيداکيږي چې په افغانستان کې د روشنفکرې پديدې يو عمده خصوصيات «مخکې له وخته پيدا کيدل» دي چې د روشنفکرې حرکت د شنډکيدلو (عقيم کيدل) سبب ګرزيدلي دي.

ځکه د هيواد ټولنيز، اقتصادي، سياسي او فرهنګي شرايطو دومره وده او تکامل نه ووکړي چې د ټولني منځنۍ طبقه رامنځته شوي واي او د هيواد په کچه يې پراختيا موندلي واي. په هره ټولنه کې د تحول او بدلون سربيره په زمينو او شرايطو بايد عمل کوونکي قوا وي هم له کمي او هم له کيفي پلوه و ټاکلي درجي ته رسيدلي وي، چې پرته د هغو هر ډول عمل او قدم به يا غير ممکن وي او يا به شنډ(نازا) وي.

و دغه مطلب ته په پام کولو سره روشنفکرې پديده له يوي خوا د بدلونو او پرمختيا په مقابل کې د تولني د تضادونو او څو ډله ايز غبرګون څرګندويه ده. په هغو ګذري اوسيدونکي وختوکې مخصوصاً په هغه وختو کې چې يوه سنتي يا عنعنوي ټولنه له عنعنوي حالت څخه د تيريدو وروسته و يوي نوي او پر مختللي مرحلي ته داخليږي. روشنفکر او د هغه نقش د پوهي ورکوونکي او دلاري او ارونکي فکري قوت په توګه اهميت پيدا کوي.

پدي توگه بې لدې چې موږ د هيواد د روشنفكرانو د افكارو په صداقت او ونكوتو يولو كې كوم شک ولرو دا بايد ووايو چې يوله هغو دلايلو څخه چې د دغې پروسې د ناكامي سبب شو، دا وو: كوم نيالگي چې دوي ښخ كړي وو، په يوه مناسبه مځكه او آب او هوا كې يې نه دي تر سره كړي. ځكه زموږ ډېر شمير روشنفكران د دريمي نړي د هيوادو د ډيرو همقطارانو په څيردنړي له اوضاع او په هغې كې د حيرانونكي بدلولونو څخه درک او فهم لرلو او هم يې د خپلې ټولني د وروسته پاتي والي او انحطاط څخه رنځ وړلو، همدارنگه د ټولني عيني او ذهني وضعيت دارنگه كلک او نفوذ نه منونكي وو چې هغه نه يوازي د هيواد دودي او پرمختک خنډ وو بلكه په ډيرو مواردو كې يې خپلې منفي او مايوس كوونكي اغيزي يې هم پر روشنفكري جريانونو باندي پخپل ځاي پري ايښي دي.

بل اساسي عامل چې په هيواد كې د رشنفكري جريان پرودي او پرمختک باندي منفي اغيزي لرلي هغه په هيواد كې د روڼ او شفاف د «تفكر» يا « تيوري» نشتوالي دي. هر ډول تحول او مبارزه بې له نظر او تفكر څخه نشي كيداي چې سمبالښت پيدا كړي. دا ډول تشه ددي سبب گرزي چې هر ډول جدي او صادقانه هلي ځلي او له ځان تيريدنه به له انحراف او تړلي حالت سره به مخامخ شي. ځيني كسان چې د دغه كار ته په سطحي توگه گوري او تيوريک كار خيالبافي، ذهني گرايې او واقعيتو څخه تيښته فكر كوي، د هغو په ځواب كي بايد ووايو چې د تئوريک كار په ډگر كې د ټولني عيني او ذهني شرايط او مسائل په روڼ او مشخص ډول په نظر كي نيول كيږي د هغوي د علاج لپاره لاري چاري سنجول كيږي او د شرايطو سره سم او متناسب منطقي لاري پيش بيني كوي.

خلاقيت، نقد او روشنگري د روشنفكري قوتونو له اساسي خصوصيتونو څخه دي چې دا خپله بيا په عمده توگه پر تئوريک كار باندي اخته كيدو او له ټولنيز كار سره د هغه له متقابلو اړيكو څخه سر چشمه اخلي. د هغه څخه پرته د روشنفكري عنصر او روشنفكري

بهير له نورو سياسي او ټولنيزو جريانانو څخه هيڅ توپيرونه لري. د تئوريک کار په برخه کي غفلت ددي سبب ګرزي چې روشنفکره عنصر له ټولنيزو واقعيتو او منطقي تحليلونو څخه پاته شي او په سطحي کتلو عاميانه فکر او خرافاتو باندي اخته شي. داسي خرافات چې زموږ په روشنفکري جريانو کي د مزمني او وژونکي ناروغي په څيرلاره مو ندلې ده چې د دغي ناروغي ريښې د تسوري په نشتوالي، د شفاف او څرګندي نظريي نشتوالي، د غلطو او ګمراه کوونکو سطحي اوزړه و ړونکو عقيدو په مقابل کي را سپړل کيداي شي. «عمل زده ګي» د روشنفکر جوړونکي او خلاق قوت په يوه اماتور او فرصت طلب عنصر باندي بدلوي چې د وطن د پرمختګ او د خلکو د نيکمرغي دښمنان به له هغه څخه ګټه پورته کړي.

په افغانستان کي د روشنفکري جريان اکثراً په مخالفه سياسي او ټولنيزه جبهه کې ولاړ دي، هغوي د حکومتي موسسو کړنو او د ټولني ناوړه ارزښتونو ته په تند انتقادي او منفي نظر ګوري زموږ روشنفکرانو ډيرلږ ددي وخت تر لاسه کړی دی چې خپلي فرضيي اوليد توګي په ازمايښت کي کشيږدي. په يوه دوامداره جهان کي دا ډول وضعيت له ټولني څخه د روشنفکر د تجريد او د ټولني د ډيرو مسائلو د ضعيف درک سبب ګرزي او په وروستی نتيجه کي يو ډير قوي منفي طرز تفکر او نظر په ده کي را پيداسو، دغه منفي نظر او منفي ګرائي تر دي حد، قوت موندلو چې په هيواد کي د ننه او د هيواد څخه بهر هر ډول مثبت اقدام او اصلاح څخه د توطئي او مخالفت له زاويي څخه ارزيابي کولو او څه نا څه د روشنفکري حلقو تکثر هم له همدغي روحي او ديد څخه سر چشمه اخيستي ده.

- يوه بله موضوع د ډګم فکر کولو او غير منطقي تعصب څخه عبارت ده چې د ځينو فکري يا سياسي طرز تفکر سره را پيدا کيږي او يا د ځينو خاصو سياسي افکارو مريد کيږي چې زموږ د ټولني ځيني روشنفکري حلقي د منفي خصلت په توګه پري اخته دي، دوي د نړيوال تحول او بدلون سره سره پخپل فکري ليکي او د خاصو افراد و له

پیروي څخه ملاتړ وي. پدې مانا چې له پروني ابزارو او تګ لارو څخه د نن ورځې د مسایلو د بحران د حل لپاره کار اخلي، ښکاره ده چې دا ډول خصلتونه ترکومې اندازې پورې د روشنفکرانه حرکتونو د شنډولو او رکود عامل کیدای شي.

- زموږ د ټولني د روشنفکرانو یوه بله مهمه ستونزه دا وه چې د خپلو کورنیو ستونزو د حل لپاره زموږ سیاسي او ټولنیز جریانونه و بهرته سترګي په لاروي، له بده مرغه زموږ د ټولني روشنفکرانه حرکتونه هم په دغه مرض اخته دي، دغه له بهر څخه نسخه اخیستل کله کله تر دې اندازې پورې غیر واقع بینانه وي چې دهیواد د داخلي غوښتنو سره هیڅ ډول مطابقت، تناسب او ورته والي نه لري، دا حتمي ده چې خاص سیاسي فکر او تګلاره په یوه ټولنه کې په ډیرې ښې مثبتې پایلې ولري.

خو دا پدې مانا نده چې دا د ټولو هیوادو او ټولنو لپاره د تعمیم وړ ده دا ځکه هره ټولنه او هر هیواد کیدای شي خپل ځانته خاص نظر ولري او د هرې ټولني شرایط له نورو ټولنو څخه توپیر لري، د دا ډول توپیر تشخیص د روشنفکر دنده ده. شاید دغه مشکلات چې نن ورځ زموږ ټولنه له هغه سره مخامخ ده د همدغه عامل یعني د بهر څخه د نسخې اخیستلو نتیجه ده. دا د روشنفکر رسالت ده چې په تولنه کې د پوهي د خپرولو له لارې منطقي لارې او روشونه پیدا کړي که چیرې د نورو افکارو او تجربو ته اړتیا وي په هغه وخت کې بیا هم باید د تحلیل او نقد اصل په دقیقه توګه مراعات کړي.

- په افغانستان کې د روشنفکري جریان یو بل عمده خصلت دا وو چې له مناسبو شرایطو او فرصتونو څخه یې سمه ګټه نده اخیستي، مرام او هدف د رسیدو لپاره هڅه او هلې ځلې دیوه پوه او درد مند انسان د کړو وړو له وسایلو څخه ګڼل کیږي. و دغه هدف ته د رسیدو لپاره د شرایطو او فرصتونو څخه ګټه پورته کول پروسې ته خوځښت ورکوي او نوموړو شرایطو او فرصتونو ته د پام نه کولو په صورت کې نوموړې بهیر ته حیرانونکي زیانونه ورسوي. زموږ د هیواد

په سياسي او ټولنيز تاريخ کي ډير داسي مناسب او ښه شرايط او فرصتونه برابر شوي دي چې له هغو څخه د ګټې پورته کولو په صورت کي کيداي شواي د روشنګري حرکت او ترقي غوښتني جريان ته سرعت او تکامل ورکړي واي، مثلاً: د امير حبيب الله خان په زمانه کي ځيني ښه فرصتونه همدارنګه د اماني دوري او د دموکراسي دلسيزي او نور ټول د ټولني د تحول او بدلون په لاره کي ډير ښه فرصتونه وو چې متاسفانه و بهرني عواملو ته په انتقادي نظر نه ليدل او پخپلو کړو او سياست ګذاريو کي د عدم تامل او دقت او د تجربو نشتوالي ټول هغه فرصتونه وو چې بې له ګټې او ميوي څخه له لاسه ورکړل چې په نتيجه کي د عنعنوي نظام غوښتونکو او د ترقي او پرمختګ مخالفينو له هغو څخه ګټه پورته کړه.

- د دغه بحث په پايله کي بايد ووايم چې هغه څه چې موږ تر اوسه ياد کړل د روشنفکرانو د روشنفکرانه افکارو د خنډ لمړني عوامل ياد کړل چې د منفي عواملو او زمينو په توګه د روشنفکرانو په منځ کې وجود لرلو، اوس په يو څو بهرني عوامل هم ياد کړو چې پخپل وار سره د روشنفکري حرکت د تک د سستيدلو سبب ګرزيدلي دي.

- يو له هغو عواملو څخه د فکر او روشنفکر ته بې تفاوتي ده، په ختيځ او عالم اسلام کي د تمدن د تکامل او ودي له لومړيو د ورو څخه وروسته متاسفانه عقل او فکر په انزوا کي واقع کيږي او ټول شيان تصادف، نامرئي قوتو مخکي له مخکي څخه مقدر شوي لاس ته سپارل کيږي هر چا چې د تعقل او فکر ته ميلان ښکاره کړي او يا يې په هغه لاس پوري کړي تر پوښتني يا سپکاوي او حتي ترتکفير لاندي راغلي دي. د کلام او مذاهبو تاريخي کتابو ته په مراجعي سره کولاي سو څرګندي بيلګي لاسته راوړو.

له دا ډول تير سو يو شرايطو سره د افغانستان په ټولنه کي چې يوه وروسته پاتي ټولنه ده دا به ډيره طبيعي غوندي وي چې تفکر او دتفکر خاوندان تر پاملرني لاندي نه دي. که چيري ځينو کسانو په يوه ترتيب سره له عقل او بشري لاسته راوړنو څخه ګټه پورته کري، ته به وايي چې يو نه پښونکي جرم مرتکب شوي دي.

- د تولنيزو ښو شرايطو نشتوالي يو بل عامل دي چې د روشنفکري جريان وده او پر مختک يي سست کړي دي. د ټولني وده او پرمختک لدي څخه ډير پيچلي دي چې وکولاي شو د يوه اقتصادي فرمول او يا اخلاقي دستورالعمل سره هغه عملي کړو. همدارنګه د ټولني حالت او پرمختيا د نهادونو، موسساتو، سياسي، فکري او فرهنګي حريانونو په روزنه، پيدا ايښت او حرکت کي پريکړي اغيزي لري. هغه چا چې دغه مهمه او پيچلي مساله بي ارزښته بللي ده پايله يي ناکامي او نا اميدي ده.

ټولنيز تکامل د ژوند په ټولو برخو کي متوازن رشد ته اړتيا لري، که چيري د ټولني يوه برخه له ودي او پر مختک څخه پاتي وي هغه وده به ناموزونه وي او پايلي به يي خرابي وي. په داسي يوه ټولنه کي چې او سيدونکي يي په لوږه او غربت کي را ګير وي او ټول خلک ديوي مړي ډوډي د لاسته راوړلو لپاره لاس او پښي وهي د دا ډول تحولاتو انتظار به يو خيالي شی وي. د ژوند او ټولني محدوده يي دومره تنګه وي چې پرته له خپل قوم او قبيلي څخه پرته بله محدوده نه پيژني او د ديد طرزيي په همدغه ماحول کي فعاليت کوي، په دغسي محدوده ټولنه کي فکري حرکت او د تحول او بدلون منځته راوړل به ډير ستونزمن او حتي په ځينو مواردو کي به غير ممکن وي، د ترلي ټولني اغيزي حتي موږ په سياسي برخه د ټولنيزو نهادونو او ځينو روشنفکرانه ساحو کي وينو چې په نوموړو برخو کي هم ډير انساني او مدني معيارونه يي د قومي يا ژبني معيارو تراغيزي لاندي راوستلي وي په نتيجه کي د اقتصادي او فرهنګي دوه برابره غربت، د ټولني ترلي حالت د هر ډول فکري و دي او تولنيز تحول مخنيوي کوي، د لازمو ټولنيزو شرايطو نشتوالي د هيواد روشنفکران چې په ټولنه کي اقليت ګڼل کيږي، له جدي او ماتيدونکو خنډونو سره مخامخ کوي.

سياسي استبدادي حاکميت او فکري تحجر يو بل لوي او اساسي مشکل دي چې په وروسته پاتي اسيايي ټولنو کي تريخ

داستان لري. سیاسي استبداد او فکري تحجر په تاریخي جریان کي هیڅ ډول فضا او شرایط د فکر کولو او پر مختک لپاره ندي پري ایښي. که چیري کله زموږ په تاریخ کي لیدل شوي چې یو پاچا یا حاکم د مسلطو دودونو زولني شرنګولي او یایي ماتي کړي وي اود ترقي غوښتني او اصلاح غوښتني ادعایي کړي وي عملکرد یي د اښودلي ده چي کاریي یا د تنوع لپاره وو او یا داسي سطحي او یي سنجشه وو چې د هغو منفي یایلي په ډیره لوړه بیه تمامي شوي دي. یا دا چې هر ډول بدلون یي د خپل سلطي او د خپلي کورنۍ د قدرت د تینګښت لباره ښه استقبالو لو. همدارنګه د متحجر سیستم ساتونکو او متولیانو د خپلو توجیهاتو او القائاتو په وسیله د هر ډول تحول او بدلون چې د خلکو په فکر او ذهن کي رامنځته کیدلو، مخنیوي کولو، هغوي خپله بقا او سلامتي د خلکو په سرټکولو او هر ډول حرکت او آزادي غوښتني جریان په شنډولو کي ویني د مخالف غږ او هرضعیف حرکت د هغوي لپاره لوي خطر ګڼل کیدلو.

هغه څه چې تر او سه پوري وویل شول د افغانستان د روشنفکرانو په مقابل کي هغه مشکلات وو چې د دوي د روشنفکري حرکت په وړاندي پراته دي. د یوي نتیجي په توګه ویلاي شو چې زموږ د ټولني د روشنفکرانو وهل شوي لاره د لویدیزو روشنفکرانو څخه بیله او توپیر لري. د لویدیز روشنفکرانو چې کومه لاره ترشا کړي او یا وهلي دي هغه ډیره طبیعي او په تدریجي توګه وهلي ده. زموږ روشنفکران په هر دلیل چې وو هغه نده تیره کړي او ورڅخه محروم دي. زموږ روشنفکرانو لکه چې انتظاریي کیږي ونه شواي کولاي په ټولنیزو رواجونو او دودونو کي لازم بدلون رامنځته کړي ځکه دوي له استعمار سره مخامخ وو او دفکر کولو او د انتخاب چانس یي ور څخه سلب کړي وو او له بلي خوا زموږ روشنفکران د مدرن جهان سره مخامخ وو چې په نتیجه کي دوي ونه شواي کولاي زاړه دودونه په یوه وار یوي خواته پریږدي او یایي واړوي. او هم یي ونه شواي کولاي خپلي پوهې او راتلونکي په نظر کې نیولو سره له نوموړو دودو سره سازش وکړي. او په دغي کلکي ستونزي کي قرار لري.

که دغه عام اصول او خصوصیات په افغانستان کي په ځینو مشخصو جریانو لکه د مشروطه غوښتني، ویښ ځلمیانو، وطن او نورو سیاسي جریانو باندي تطبیق کړو وضعه به څنګه وي؟
خبره به د لومړي مشروطیت له روشنفکري حرکت څخه را پیل کړو:
لومړي مشروطه غوښتني د جنبش حرکت د امیر حبیب الله خان په وخت شروع شو چې زموږ د روشنفکرانو په سرنوښت کي ډیري پراخي اغیزي پري ایښي دي. هغه څه چې په تاریخي لحاظ د پاملرني وړ ده هغه دا ده چې لومړني روشنفکري حلقي د دربار څخه د باندي نه بلکه پخپله په درباركي شكل اخیستي یعني روشنفكري فكري جنبش د قدرت په لمن كې زیږیدلي، په دغه وخت كي د یو شمیر خوانینو او ملكانو زامن و دربار ته د وفاداري او تضمین په توګه وركول كیدل چې د غلام بچه ګانو اصطلاح له همه غه ځایه را پیدا كیږي چې د امیر عبدالرحمن خان څخه و نورو ته په میراث پاتي ده، امیر حبیب الله خان د لویدیز څخه په تقلید و همدغو غلام بچه ګانو ته یې یو سازمان جوړ كړ، دا ډول روشنفكري حركتونه له همدي ځایه را پیل كیږي.
مشروطه غوښتني لومړني جنبش له هغو ټولو عالي ارمانونو سره سره چې لرل یې د قدرت په لمن كي وزیږیدلو او له هغه وروسته قدرت او قدرت ته مخ اړول او د هغه په سیوري كې كاركول هر وخت د روشنفكر لپاره خاصه جاذبه لري یو دلیل یې دا وو، كله چې زموږ روشنفكر د قدرت په لمن كي وزیږیدلو داسي تصوریې كولو چې كه چیري قدرت په لاس كي واخلي ټول كارونه به سم شي. له همدي امله زموږ روشنفكر ډیر كم فكري او ایدیالوژیكي چارو ته علاقه ښودلي ده، ډیره مینه یې د قدرت تر لاسه كولو لپاره ده، دا زموږ د روشنفكرانو د تفكر میراث دی.
د امیر حبیب الله خان د مړګ څخه وروسته امیر امان الله خان د قدرت واګي په لاس كي اخلي، خپله امان الله خان یو له هغو كسانو څخه وو چې ددغه روشنفكري حركت غړي وو خپلو ملګرو ته زیات چانس وركوي تر څو دغه كارته لا زیاته پراختیا وركړي. خو دوي ته د

قدرت مساله دیوي اسطوري په توګه مطرح وه یعني که چیري دوي قدرت تر لاسه کړي بیا به ټول کارونه سم تر سره شي. دا ددي سبب ګرزي چې دوهم مشروطیت یا د اماني دوري جنبش دیر ړر ددي پر ځاي چې د دښمن له خوا له منځه ولاړشي له داخل څخه د ماتي نښي او نښاني را څرګندي شوي. ځکه دوي په قدرت باندي د باور لرلو له امله قدرت ورته یوه اسطوره وه. دا قدرت د روشنفکرانو د انحراف سبب کیږي او د روشنفکري جریان په منځ کي د ډلو ډلو کیدل او بالاخره د ماتي سبب ګرزي.

یو بل مهم خصوصت چې د غه روشنفکري غورځنګ درلوده هغه دا وو چې تر ۱۳۲۰ لمریز پوري حتي د سردار محمد هاشم خان د صدارت دوري تر پایه پوري انفرادي بڼه لر له تر دغه وخته پوري روشنفکري حرکت د یوه جریان حالت نه لري بلکه یو شمیر افراد وو چې دغه د مبارزي میراث یي و خلکو ته د پوهي ورکولو له لاري په یوازیتوب سره ساتلي وو خود حزب یا سازمان څخه کوم خبر نشته.

د محمد هاشم خان د دوري له منځه تللو سره په سیمه او جهان کي داسي تحولات پیښ شول چې په افغانستان یي ټاکلي او مشخصي اغیزي لرلي. شاه محمود خان صدارا‌عظم کیږي او داد لومړي دموکراسي پیل ده او داسي موقع را پیدا کیږي چې روشنفکر یو ځل بیا میدان ته را وځي او خپل کاریي په سازماني او جریاني بڼه پیل کړلو.

دا پوښتنه رامنځته کیږي چې له فکري او ایدیولوژیکي پلوه دوي کومه لاره تعقیبوله؟ ترکومه ځایه چې د لومړي مشروطه غوښتني له حال او احوال څخه دتاریخ له پاڼو څخه خبریږو دا ویلاي شو چې دوي له اعتقادي پلوه مسلمانان وو دوي زیاتره په دیني مدرسو کي روزل شوي وو. خو اسلام دوي ته د ایدیالوژي په عنوان مطرح نه وو بلکه یو دین یا یو مذهب وو او عقیدتاً پر هغه یي اعتقاد لرلو، خو یو شمیر عناصروو چې یو ډول ازادمنش یا لیبرال وو خو دا په یقین سره ویلاي شو چې یو أیدیولوژیک عنصر هم وجود نه لرلو.

ټول هغه آثار یا ادبیات چې د شمال له خوا د ایران له لارې یا ترکیې او پاکستان له لارې موږ را رسیدلي خپلې اغیزې یې لرلې. خو کوم داسې سند په لاس کې نه لرو چې هغه په اسلامي ایدیولوژۍ یا مارکسستي ایدیالوژۍ باندې دلالت وکړي. اوس وخت دا معمول ګرزیدلی دی چې هر جریان یا هر څوک چې په یوه لیکه باندې تورن کړي بې له شکه ځیني تمایلات په (اقتصادي یا فرهنګي) موجود وي خو دا ددې دلیل نشي کیدلای چې هغوی به ایدیولوژیکي لحاظ په دغه یا هغه سیستم پورې مربوط وي.

دوېښ ځلمیانو جریان هم په دغسې نړیوالو او سیمه ایزو شرایطو کې را میدان ته شو، تر هر څه د مخه په دغه اثر کې به دا موضوع مدلله شي چې د ویښ ځلمیانو جریان د جهاني بدلولو و په ترځ کې د حاکمې سیاسي طبقې د خاص مجبوریت له امله رامنځته شو او په مجموعي ډول یوه نسبتاً آزاده سیاسي فضا او د جریانونو پیل وینو چې دلته هم د دغو جریانونو د پیل به باب دوه ډوله بحث وجود لري: لومړی دا چې خپله دربار مخکې له مخکې دنړیوالو شرایطو ته په پام د دغې خلا د ډکولو لپاره یو شمیر سیاسي جریانونه په محوري شکل رامنځته کړل دوهم د اخبره چې آیا د دربار د مداخلې څخه پرته دا ډول جریانونه په محوري شکل رامنځته شول؟ باید وویل شي چې د دغو اکثریتو سیاسي جریانونو په رامنځته کیدو کې دولت یا دربار نقش لرلو.

بله خبره چې دوېښ ځلمیانو د جریان به باب په دغه اثر کې پرې خبرې شوې دي هغه ددې جریان لومړني حالت یعني ادبي بڼه ده. یعنې مخکې له دې څخه چې دوېښ ځلمیانو غورځنګ سیاسي بڼه غوره کړي او د سیاسي جریان په توکه رامنځته شي یوه ادبي ټولنه وه چې د هغې ښه مثال مرحوم بینوادي چې د (ویښ ځلمیانو) تر نامه لاندې د کابل مجلې د یوې ګڼې په ځای د یو شمیر مقالو مجموعه خپره کړه چې د هغه وخت دیو شمیر لیکوالو له خوا لیکل شوي مضامین پکښې خپاره شول.

ځرنګه چې دويښ ځلميانو ډير شمير غړي پښتانه وو خود دوي رول و خلکو ته د پوهي ورکولو او د خپرونو په برخه کي محسوس وو. البته د دربار نقش په نسبي توګه فرق درلوده په ځينو مواردو کي يي ډير نفوذ لرلو او په ځينو مواردو کي يي کم لرلو البته د ويښ ځلميانو په سياسي جريان کي د دولت نفوذ نسبتاً ډيروو. خو دا ددي مانا نه لري چې دويښ ځلميانو سياسي غورځنګ د دربار له خوا جوړ شوي جريان وو بلکه د دربار خوا د دا ډول سياسي ګروپونو په جوړيدو کي ضمني اشاري وجود لري او يو شمير دولتي عناصر په نوموړي جريان کي داخل وو. دا ټول هغه مسايل وو چې د دغو پاڼو په ترڅ کي په پر هغو هراړ خيزه بحث وشي.

# لومړی فصل

## د موضوع تیروخت ته کتنه

## د موضوع تیروخت ته کتنه

د روشنفکري نهضتونو اصلي ناریخچه په نړیواله کچه د فرانسي انقلاب (۱۷۸۹م) څخه پیل کیږي چې د مطلق العنانه پاچا ها نو او حکمرانانو د اقتدار محدودولو او قانوني کولو په خاطر یي مبارزه کوله په همدي وخت کي د آزادي غوښتلو د مبارزو او د بشر د حقوقو د اعلامي د خپریدو له امله د خلکو یو شمیر زیات سیاسي ټولنیز او طبیعي حقوقو په رسمیت وپیژندل شول او مطلق العنان پاچا هان مجبور شول چې د خلکو د خوښي او د هغوي اساسي حقوقو ته د احترام له مخي د قانون په چوکاټ کي حکومت وکړي.

د ویانا کنفرانس(۱۸۱۵) میلادي د تړون څخه و روسته چې د اروپا متحدو دولتونو او د فرانسي لوي انقلاب ناپلیون له پښو و غورزاو، او (بوربوناتو) بیا اقتدارنه ویرسیده او هغه هیوادونه چې د ناپلیون د سلطي څخه خلاص شوي وو، بي سرپرسته پاتي شول نوموړي هیوادونه د متحدینو په منځ کي وویشل شول. د متحدو دولتونو پاچاهانو خصوصاً د روسي تزاري د اتریش امپراتوراو د پروس پاچا ودوو مهمومسالوته پام لرلو:

لومړي د بریالیو هیوادو ترمنځ د صلح ساتل.

دوهم د انقلابي افکارو، آزادي او مساوات د احساساتو څخه مخنیوي چې د جمهوري دوري لشکرکشیو له امله په ځینو هیوادوکې پیدا شوي وو.

د روسي امپراتور لومړي الکزاندر د صلح د تینګښت لپاره په۱۸۱۵ میلادي په پاریس کې د مقدس اتحاد د جوړولو پیشنهاد وکړ او ومنل شو. پدغه اتحاد کې چې مذهبي اړخ یې لرلود یورپ پاچا هان متحد شول چې پخپل منځوکې د عدالت او میړاني پر اصولو چې د مسیح د دین دوه رکنه دي، ژوند وکړي.

د اتریش صدراعظم مترنیخ د انقلابي عقاید د خپریدو د مخنیوي او د سلطنتي قدرت د بیرته را ژوندي کولو د ملي نهضتونو دارامولو په خاطرو یو بل اتحاد د (پانتارشي) په نامه د خلکوپه مخالفت د پاچاهانو څخه په ملاتړ پیشنهاد وکړ. د مقدس اتحاد او دپاچاهانو په مقابل کې د اروپا روشنفکري طبقې را پاڅیدلي ځیني له دي امله چې اروپائي پاچاهانو د ۱۸۱۲ میلادي کال وعدي چې خلکو ته یې د آزادي ورکولو لپاره ورکړي وي، تر پښنو لاندي کړي او ځینو لدي سببه چې شاهانو دشاهي حکومتونو د فسخ کولو وروسته په هسپانیه کې اغتشاشونه او انقلابونه شروع شول. د دغو انقلابونو د مخنیوي په خاطر اروپایي پاچاهانو د څو کنګرو په ترځ کې پخپل منځ کې سره متحد شول.

که څه هم دغه اتحادونه پایدار نه وو او په ۱۸۲۲ میلادي کې ړنګ شول. ځکه په دغه وخت کې یو شمیر هیوادونه په مشروطه شکل د حکومت طرز لرلو لکه په فرانسه کې د اتلسم لوئي د سلطنت لسم هارل او لوئي فلیپ په وخت کې مشروطه حکومت وو. دغو پاچاهانو د اساسي قانون په چوکاټ کې خپل اجراات کول او د فرمان پر اساس د فرانسي د خلکو یو کم اقلیت په حکومت کې ګډون کولای شو.

همدارنګه انګلستان کې د اتلسمي پیړۍ را پدي خوا پارلماني حکومت ټینګ شو او د حکومت مهمې برخې د چاپا د میراثي لارډانو د مجلس او د نمایندګانو د مجلس څخه جوړي وي. پاچا سلطنت کولو

او د حکومت اختياريي نه لرلو او مهمي چاري د نمايندګانو د مجلس د اکثريت رئيس په لاس کي وي چې پاچا هغه د حکومت په جوړولو مامور کولو.

پدي توګه د انګلستان حکومت د دوولو يو ګوندونو په لاس کي وو د پيښو او د عامه افکارو دا وښتني له امله حکومت کله د (ويګانو) او کله د (توريو) په ګوندونو اړه پيدا کوله، د ويګانو ګوند چې آزادي غوښتونکي هم ورته ويل کيدلو د معتبرو سودا ګرو او صنعتګرانو څخه جوړ شوي وو او سياست يي د ملي اقتدار په ګټه د پاچا د قدرت محدودول وو چې د نمايندګانو مجلس د هغه مظهر ګڼل کيدلو.

په ترکيه کي د سياسي روشنفکرانو نهضتو په هکله بايد ووايو چې د سلطان عبدالحميد د دکتاتوري سره چې د دير شو کلو په موده کي يي اتيازره ازادي غوښتونکي ووژل او وشړل او خفيه پوليسو د روشنفکري تجدد غوښتني هر ډول فعاليتونه شنډول خو سره ددي هم د اصلاحاتو ګوند چې د ځواني ترکيي (د اتحاد او ترقي) په نامه بلل کيده، او د زياتو روشنفکرانو د ښاريانو او بزګرانو له خوا حمايه کيدلو په (۱۸۹۴) ميلادي کي جوړشو د دغه ګوند زياتره غړي صاحب منصبان وو چې د اتحاد اوترقي چې د پټ سره په سالونيک کي ټينګ ارتباط لرلو، دغه ګوند دترکيي د ملي غرور او تاريخ، آزادي او بريا وو د ساتلو په مقصد په کال ۱۸۹۹ کي اساسي قانون اعلان کړ. سلطان عبدالحميد دغه نهضت او حرکت ډير وارخطا کړ په قسطنطنيه کي تسليم شو او د اساسي قانون د اجراء کولو وعده يي وکړه.

په ايران کي د مشروطه غوښتني حرکت په نامه نهضت د يو شمير منځنيو طبقوپوهانو له خوا پرمخ بيول کيدل چې د دبهرني سرمايو او د هغو د نهضتونو په مقابل کي چې ډيري بدي خاطري يي ورڅخه لرلي پيل کړي وي. د حاکمي طبقي د قدرت د محدودولو په خاطر يي چې د مطلقه حکومت طرزيي چلاوه د مشروطه په نامه يي خپلي سياسي مبارزي کولي. خو په هغه وخت کې د ايران کوم شمير

خلک د مشروط په مانا پوهيدل او مشروطه غوښتونكي په څو ډلو ويشل شوي وو:

يوه ډله هغه كسان وو چې اروپايي ليدلي وه دګوندونو فعاليتونه او اساسامي يې دحكومتونو د صلاحيت د محدودولو په باره كي مطالعي كړي وي نو ځكه يې په ايران كې د اروپايي ډول مشروطي د جوړولو لپاره هڅي كولي. بله ډله ملايان وو چې د دربار د عياشي او بيباكي څخه يې ښه نه را تلل او د شورا مجلس يې د شريعت نه انفاذ، فسق او فجور رواجولو وسيله ګڼله او په اخر كي يې د مشروطي نهضت هم مشروع نهضت نه ګڼلو، دوي اروپائيانو د سياسي مبارزو او دموكراسي د افكارو سره مخالفت كاوه او د لويديز سياست، فرهنګ او موسساتو جوړولو سره يې مقابله كوله.

دغه نهضت هغه و خت ښه تود شو چې ناصرالدين شاه قاجار ځيني اقتصاري امتيازات لكه د تنباكو، او سپني او دتيلو ايستلو امتيازات انګريزانو ته وركړل د انګليس كمپني يا سرمايداري په مقابل كي د ناصرالدين شاه قاجار ما تي د مشروطه غوښتني نهضت لا پياوړي كړ او ايرانيان يې د هغه په مخالفت كې راو پارول.

په دغه نازكو حالاتو كې د تهران يو شمير اوسيدونوكو د انګريزانو د سفارت په باغ كي ځكه ځالونونه بنديان كړل يا بنديان وساتل چې د پاچا قدرت محدود كړي او داكار د مشروطي د اعلان له لاري ممكن دي. او په كال ۱۹۰۸ ميلادي كي يې د محمد علي قاجار سره مرسته وكړه چې كودتا وكړي او مشروطي ته خاتمه وركړي. خو په ۱۹۰۹ كي د بختيار طايفي قيام وكړ محمد علي قاجار يې خلع او پر ځاي يې سلطان احمد شاه قاجار كشيناو، او مشروطه يې اعلان كړه.

د مشروطه غورځنګ د پياوړتيا او معرفي كولو بيلابيلو هيوادو هڅي كړي او د دغورځنګ د ښه معرفي كولو په خاطريي ځيني ورځپاني خپرولي البته د دغه نهضت په پيژندلو كي د هري ورځپاني چلونكي د خپل طرز تفكر او معلوماتو پر اساس خپروني كولي. د استانبول« اختر» د مصر « حكمت» د لندن«قانون» د كلكتي

(حبل المتين)، د تبريز (عدالت) د تهران (تربيت) خپرونو سر بېره د وطن، محاکمات، ترقي، جام جم زمان، علت، اتحاد او داسي نورو جريدو او ورځپانو د مشروطي نهضت د ستايني مبارزو په لارکي خدمتونه کړيدي.

خو په افغانستان کي د روشنفکري نهضت يا په اصطلاح د مشروطي غوښتني جريان څنګه دي؟ آيا دغه جريان له ولسونو يا له ښکسته خوا را پيل شوي او که له پورتنيو پوړيو څخه؟ په افغانستان کي دربار د روشنفکري حرکت د لومړي ځالي په توګه شميرل کيږي مخکي لدي څخه چي د امير عبدالرحمن خان دربار ته روشنفکري نظريات ورننوزي د افغانستان د خلکو اړيکي له بهرني نړۍ سره بشپړي محدودي وي و افغانستان ته د مترقي او روشنفکرانه افکار دننه وتلولاري تړلي په نظر راتلي. د امير عبدالرحمن خان د حاکميت په دوران کي تدريس د مدرسه يي زده کړو پر بنسټ ولاړ وو. د نوي تعليمي سيستم او معاصري پوهني څخه اصلا آثار نه ليدل، دغه حالت د سردار محمد يوسف خان د کورني ترراتګ پوري د برتانوي هند د (دون ديري) څخه د افغانستان پايتخت کابل ته دوام لرلو لدي وروسته چي عليا جناب(*) چي د نادر خان خوروه، له شهزاده حبيب الله خان سره واده ددي سبب وګرزيدلو چي شهزاده حبيب الله خان او ددغي کورني نور غړي له هغو روشنفکرانه افکار سره آشنايي پيدا کړي چي په برتانوي هند کي يي وده کړي وه، عليا جناب هڅه کوله د خپل ورو د سردار محمد نادر په مرسته روشنفکري افکارو حرکت د امير عبدالرحمن خان او شهزاده حبيب الله خان په مغزو کي ځاي کړي او د هغه د پراختيا لپاره اغيزمن ګامونه کشيږدي.

لومړي مشروطه چي د امير حبيب الله خان د امارت په وخت کي فعال وو د يوه سري جمعيت په نامه رامنځته شو چي د ۱۲۸۲ لمريز څخه تر ۱۲۸۸ لمريز پوري يي فعاليت دوام لرلو. د لومړي مشروطه

---

*- (عليا جناب) هغه لقب وو چي د سردار محمد يوسف خان لورته چي د دربار له خوا ور کړل شوی وو او د (الفاروق) په نامه کتاب يې هم په پارسی ژبه ژباړلی دی.

غوښتونکو د سیاسي کارنامو په باب تر او سه یو نظر وجود نه لري حتي د هغه نهضت د پیل کوونکو به باب کي چي کوم کسان چېري او په کوم تاریخ د هغه بنسټ کښیښود ل شو ، ژور اختلاف وجود لري.

مرحوم علامه حبیبي د لومړي مشروطیت په باب لیکي:

« د انجمن سراج الاخبار حرکت له هغو خنډونو سره سره چې د انګلیس استعمار د هغه په مخ کي را پیدا کړي وو ظاهراً و د رول شو. خو د دو ویا د ریو کالو څخه وروسته د یوه ګوند په شکل چي د مترقي مرام لرونکي وو، رامنځته شو چي هغه د افغانستان په فکري تاریخ کي لومړي مشروطیت بولو.(۱) ډاکتر اکرم عثمان د دغه غورځنګ په باب پخپله یوه تفصیلي مقاله کي لیکلي:

( په دغو وختو کي زموږ یوه هموطن جناب محمود نجفي د برلین د پوهنتون علمي عړي و ماته د یو شمیر لیکونو په ترڅ کي د مشروطه نهضت او د هغه د بنسټ ایښودونکو په باره کي ونوي مطالبو ته زموږ پام جلب کړلو چي هغه نوي او هم بحث انګیز دي. ښاغلي نجفي لیکي، ... تصادفاً د مشروطه غوښتني د مبارزو په برخه کي د ډاکتر عبدالغني خان او مولوي نجف خان ( مهربان پلارمي) او مولوي محمد چراغ خان او د هغه کوچني ورور دغو بزرګوارو زما پام ځانته وروا ړو لو. دغه لیکني مې له زیاتو غلطیو سره ومونده لي...(۲)

عبدالغني او د هغه مشر ورو مولوي نجف علي خان د اعلیحضرت امان الله خان د خصوصي ښوونکو له ډلي څخه وو چي (اتالیق) نومیدل. ډاکتر عبدالغني د امیر په غوښتنه د حبیبي نوم د نني لومړني مکتب لپاره پیشنهاد کړلو چي ومنل شو. او په همدي ډول په کال ۱۹۰۳ میلادي کي د افغانستان دنوي معارف تهداب کښیښودل شو. او دي یي د مدیر په توګه مقرر کړ. په ولایتونو کي د

---

۱- عبدالحی، جبیبی، جنبش مشروطیت د افغانستان، کابل، مطبعه دولتی، ۱۳۲۳، ص۱۲.
۲- داکتر اکرم، عثمان، قرائت نوین از تحول اندیشه تاریخ، روز نامه ترقی، شماره ۴۳، ۱۲ ثور، کابل: ۱۳۸۵.

ديارلسو ابتدائي او منځنيو ښوونځيو بنسټ کښيښودل شو. د لومړي مشروطه غوښتونکو غړي وو او د ( جان نثاران ملت» په نامه حلقې په سر کي قرار لرلو. دي د مشروطه غوښتونکو سره بندي شو او يو ولس کاله وروسته د امير امان الله خان په وخت کي له زندانه خلاس شو.(۱)

ځيني خلک پدي عقيده دي چې د مشروطي مشر او رئيس دي وو (ډاکټر عبدالغني) خکه ټول هغه کسان چې د مشروطه غوښتني د غړيتوب په جرم بنديان او بيا اعدام شول د ډاکتر عبدالغني د فقري تر نامه لاندي تر تحقيق لاندي نيول کيدل.

که څه هم ډاکتر عبدالغني او دده کورنۍ ډير زيات تکليفونه او ربړونه و ګالل او د حبيب الله د استبداد قرباني شول، خو افغانستان يي لکه خپل د زوکړي ټاټوبي باله او پري ګران وو. د ده د يوولس کلن زوي (عبدالجبار) يې له زندانه ويوست وروسته له مرګه يي ټوټه ټوټه کړي او دربار د هغه پر دغه بي رحمانه قتل باندي پرده واچوله

ډاکتر اکرم عثمان په لومړي مشروطه کې د ډاکتر عبدالغني درول په باب ليکي:

« همدارنګه جناب محمود نجفي پخپل يوه بل ليک کي له هيڅمدان سره يوه بله موضوع مطرح کړي ده چې د هغي يوه برخه را اخلم: په کال ۱۹۰۹ ميلادي کې د حبيبي د مکتب په يوه لوي اطاق کي چې د ميلمستون په باغ کي واقع وو ، د لومړي مشروطه غوښتونکو وروستي غونډه جوړه شوه. په دغه غونده کي ډاکتر عبدالغني خان د مشروطه غورځنګ روشنګرانه برنامه د غورځنګ د مشرانو په حضور کي( مولوي محمد سرور خان او مولوي نجف عليخان ) او د مشروطيت نور برجسته مشرانو ) ته وړاندي کړله او پيشنهاديي وکاوه چې د جمعيت د ټولو غړو د

۱- داکتر اکرم، عثمان، قرائت نوين از تحول انديشه تاريخ روز نامه ترقی، شماره ۴۳، ۱۲ ثور، کابل: ۱۳۸۵.

فیصلي او تصویب څخه وروسته د عریضي په ډول د امیر حضور ته وړاندي شي.(۱)

د دغي عریضي په متن کې د سراج الاخبار یا دندی شوی، دا ځکه چې دسراج الاخبار یوازي یوه ګڼه د مولي عبدالروف خاکي کندهاري او مولوي نجف علي خان د هیات، تحریر په مشر تا به خپره شوه. په کال ۱۹۰۶ میلادي کې همدارنګ ډاکتر عبدالغني له قوله:

... چې د آزادي تخم او د استبداد او خود کامګي سره د ضدیت فکر مخکي لدي څخه چې (د سراج الاخبار افغانیه) آرګان را منځته شي کرل شوي وو.(۲)

محمود نجفي بیا په یوه بله مقاله کې د (نګاهي برجنبش تحریک مشروطه اول و دوره امانیه) تر عنوان لاندي لیکي:

د هیواد د مشروطه غوښتني غورځنګ او آزادي غوښتني حرکت کولاي شو د هندي، ازبک، ترکمن، هزاره، بلوڅ، پښتون او تاجک د ملتونو د اتحاد، یووالي او برابري یوه بیلکه و بولو چې ټول د قرآن مجید، قلم او توري باندي قسم یاد کړي وو چې د خپلي ویني ترو روستي څاڅکي پوري یو دبل ملګري، ورونه او هم سنګرو او سو.(۳)

ډاکتر اکرم عثمان ډاکتر عبدالغني د لومړي مشروطیت مشربولي اولیکي:

«د لومړي مشروطیت رهبري ډاکتر عبدالغني خان په غاړه لرله... د انګلیسي انتلجنت سرویس په اسنادو کي چې نور ښکاره او علني شوي دي پردغه مضمون باندي یو مدرک موجود دي چې: هغه توطئه چې د ډاکتر عبدالغني او د ده دګوند له خوا په لاره لویدلي وه، هدف یې د پارلماني حکومت جوړیدل دي څرنګه چې دا اقدام تر هغه وخته چې امیر

---

۱- داکتر اکرم عثمان، قرائت نوین از تحول اندیشه تاریخ، روزنامه ترقی، شماره ۵۴۴، ۱۴ ثور، کابل: ۱۳۸۵.

۲- پورتنی اثر.

۳- پورتنی اثر.

حبیب الله ژوندی وي د حصول وړندي بناءً عبدالغني او ګوندیې تصمیم ونیولو چې امیر له صحنې څخه وباسي.(۱)

همدارنګه د همدغو اسنادو په یوه څنډه کې راغلي دي چې:

(ډاکټر عبدالغني یو انجمن (سوسایټي) تاسیس کړی وه چې د انجمن غړي په د شپې له خوا د نوموړي ډاکټر په کورکی غونډه کوله په دغه ځای کی هغه د سیاسي، اقتصادي د اساساتو په برخه کي تدریس کاوه او په تدریجي توګه یې د مطلقه او استبدادي حکومت پر ځای د پارلماني حکومت د ګټو په باره کي لکچر و رکاوه او امیر د شپې ومیاشتو په اوږدو کي له نوموړي ټولني څخه خبر نه لرلو.(۲)

کوم کسان د لومړي مشروطیت په ترکیب کي ګډون لرلو؟ په دي اړه مرحوم علامه حبیبي لیکي:

(... په لومړي مشروطیت کي خون ګرمه ځوانان او تندرو رادیکال اشخاص وجود لرلو چې د هغوي رهبران د اعتدالي فکر لرونکي او احتیاط خوښونکي وو، د لومړي مشروطیت په پیل کي د دغه جمعیت د مخکښانو پام درباري غلام بچه ګانو ځوانانو ځانته جلب کړي وه. ځکه دغه عناصر دراک، فهیم او د سیاسي شعور لرونکي وو اود ۱۳۲۷ هـ ش په پیښو کي د دغو ځوانانو څخه څو تنه په قتل ورسیدل. او د دوهم مشروطیت په وخت کي هم د اوضاع دراګرزولو او دامیر حبیب الله په قتل کي دغو و منورو ځوانانو د امان الله خان سره یو ځای لاس لرلو او محمد ولي خان د دغو غلام بچه ګانو سر دسته وو.(۳)

د امیر عبدالرحمن خان د پاچاهي په وخت کي د هیواد د بیلو بیلو سیمو څخه ملایان کابل ته را وغوښتل شول چې امیر ته په شرعي او اولسي چاروکي مشوره ورکړي او د اړتیا به وخت کي

---

۱- داکتر اکرم عثمان، قرائت نوین از تحول اندیشه تاریخ، روزنامه ترقی، شماره کابل: ۴۴، ۱۴ ثور، ۱۳۸۵.

۲- بورتنی اثر.

۳- عبدالحی حبیبی، جنبش مشروطیت در افغانستان، کابل، دولتی مطبعه، ۱۳۶۳، صص ۵۰-۶۲.

کتابونه او رسالې ولیکې. دا کار ددې لپاره تر سره شو چې دولت د دوی د فشار او غوښتنو څخه ځان وساتي او په سیاسي چارو کې د دوی مداخله شنډه کړي، د املایان دوه ډلې وو: د لومړۍ ډلې دنده د احکامو استخراجول او د دوهمې ډلې کار د هغو ژباړل او کتابت وو. له دوی سره بیا د کار د اسانۍ د پاره سردار محمد عثمان خان، سردار نور علي کندهاري سید احمد شاه کنړي هندي مولوي نجف علي او ډاکتر عبدالغني هم مرسته کوله د دغو ملایانو لاس ته د ترکیې، ایران او عربي هیوادو څخه د ملت غوښتنې او مشروطې ځینې آثار لکه حبل المتین، عدالت صور اسرافیل او نوري جریدې ور رسیدلې دغه جریدې د امیر حبیب الله د کتابخانې او د ځینو مشهورو سردارانو په لاس لکه سردار عبدالقدوس خان اعتماد الدوله او دده زامنو ( جمعه خان او پاینده محمد فرخت) او د کتابخانې مدیر محمد ولي بدخشاني او دده د خور زامنو( میر زمان الدین او میر یاربیک ) پر دوستانو او روشنفکرانو ویشل کیدې او د هغو دلو ستلو څخه دغه کسان کرار کرار د مشروطیت او قانوني حکومت د چلولو په شیګنو پوه شول د همدغو سیاسي فعالیتونو له امله د مشروطي غوښتنې ټولنه جوړه شوه او د حبیبې مکتب یې د یوازنۍ ټاټو یې په توګه وګرزیدې.

دغه روشنفکره ډله چې د داخلي روشنفکرانو، درباري ملایانو هندي او ترکي ښوونکو او صلاحکارانو څخه جوړه شوې وه، د پروفیسور غلام محمد میمنګي په لاس کې د ( اخوان افغان) او د هندیانو په خبره ( جان نثاران ملت) په نامه د ګوند د جوړولو غوښتنپاڼه په جلال آباد کې په کال ۱۹۰۷ میلادي د امیر حضور ته وړاندې کړه چې متن یې دلته را نقلوو:

« په ځینو هیوادو کې خلک په جبر او قوت حکومت کوي تر څو اداري نظام د ملت د غوښتنو تابع وګرزوي چې د مشروطیت او قانوني شکل ورکړي، په ځینو کې روشنفکر پاچا پخپل ابتکار او خبر خواهانه نیت د مشروطیت قوانین او اصول په مملکت کې نافذ کوي.

څرنګه چې سراج الملة والدين عالم او ترقي غوښتونكي پاچا دي لكه چې حربي ښوونځي، د سراج الاخبار خپرېدل، د كتابونو خپرېدل، د مطبعي رواړل، د لارو او عمارتو جوړول او نور د هيواد د بيا جوړولو په لاركي د شاهانه لطف او توجه ښكارند وي دي، لذا توقع وړل كيږي چې د حكومت چارې هم د مشروطه قوانينو پراساس جاري كړي تر څو د خپل سره احكامو څخه مخنيوي وكړي او خلك د مشروطيت قانون او تسلط لاندي خپل ښه ژوند ته ورسيږي.(۱)

د مشروطيت راوستل د سياسي خپلواكي مستردول، د علم اوم مطبوعاتو د ټولنيز عدالت رامنځته كول د ملي شوري تاسيسول، د ملي وحدت رامنځته كول، د صنعت او حرفي ته مخه كول ددغي ډلي د مرام څخه ګڼل كيدلو.

د مشروطه غوښتني هره ډله يا حلقه په لسوتنو ويشل كيدله چې د موسسينو د ډلي څخه د يوه تن تر مشري لاندي يي كاركولو. د حلقو غړو يو بل نه پيژندل. ګوندي مجلسونه به دشپي له خوا په پټه د ميلمستيا او يا دوستانه ليدلو كتلو په نامه د كابل ښار په پس كو څو او د نظر څخه وتلي ځايونو كي جوړيدل، د مجلس د پيل څخه د مخه به په قرآن مجيد او توري باندي لوړه كوله او تر هغو چې به مجلس جريان درلوده قرآن مجيد او توره به د دوي په منځ كي د قضاوت او ويسا په څير پراته وو. دا غونډي به په ټاكلي وخت او كله د اړتيا په وخت كي جوړيدلي.

د دي سره چې د مشروطي غوښتني په نهضت كي د امير حبيب الله خان اراده شامله وه او دغه نهضت لومړي ځل د دربار د ديني عالمانو له خوا راپيل شوي وو خوځه وخت وروسته د ګوند راديكال او افراطي افراد د سياسي فعاليتونو واګي تر لاسته كوي او دهغه په مخالفت يي په جدي اقداماتولاس پوري كړي. امير حبيب الله خان په كال ۱۹۰۹م كي د ژمي په موسم كي د جلال آباد ښار په شاهي باغ كي

---

۱- محمد ولی، څلمی، ملی مبارزی، کابل، میوند مطبعه، ۱۳۸۲، ص ۸۸.

قدم واهه د نوموړي ډلي دو وتنو غړو چې د امير مخبرانوو د ټولو غړو لست او د هغه پلان د طرحي راپور امير ته ورکر چې په هغه کي د امير د وژلو پلان طرح شوي وو او دايي هم ورته څرګنده کړي وه چې د دغه اساسي مقصد د امير وژل او د مشروطيت راوستل دي.

امير حبيب الله خان د دغو کسانو د نيولو امر صادر کړ او د يو شمير څيړنو او بررسيو څخه وروسته يي پر نوموړو کسانو د اعدام اويا حبس امر صادر کړ: سيد جوهر شاه غوربندي د امير غلام بچه او لعل محمد غلام بچه دواړه د امير حبيب الله له خوا په توپانچه ووژل شول، محمد عثمان پرواني او محمد ايوب پوپلزي دواړه اعدام شول، يو شمير کسان لکه محمد سرور واصف سعدالله او ورورېي او داکازوي يي عبدالقيوم او اکايي عبدالرحمن د امير د امر سره سم د سردار نصر الله خان له خوا په توپ والوزول شول، نور زيات شمير کسان لکه کاکا سيد احمد لودين مولوي غلام محي الدين، عبدالجلال، محمد انور بسمل، غلام محمد ميمنګي محمد ولي بدخشاني ډاکټر عبدالغني او وروڼه يي ( مولوي نجف علي او محمد چراغ علي ) او ډير نور په حبس محکوم شول.

مرحوم علامه حبيبي د لومړي مشروطي د ګډون کوونکو د پيژند کلوي په باب وايي:

( له لغمان څخه مرحوم سيد قاسم خان، مولوي عبدالواسع اومولوي عبدالرب د عبدالروف کندهاري زامن، مولوي غلام محي الدين افغان او زوي يي عبدالجلال خان، پروفيسور غلام محمد ميمنګي، کاکا سيد احمد لودين، سردار عبدالرحمن خان د عبدالوهاب زوي او سردار عبدالحبيب خان د عبدالوهاب زوي، بابا عبدالعزيز الکوزي، محمد انور بسمل، تاج محمد بلوڅ پغماني محمد اکبر اسحق زي، شير عليخان بارکزي، مولوي محمد ظفر خان مرورت، نظام الدين ارغنديوال، حاجي عبدالعزيز، محمد اسلم سيغانې، صاحب زاده عبدالله مجددي، ملا فيض محمد کاتب امرالدين، محمد اکبر يوسفي، ميرزا محمد حسن،

احمد علي خان، عبدالوهاب خان، ميرزا غياث الدين ملا عبدالحق او مولان خان.[۱]

ځيني نور محققين بيا پدي عقيده دي چې د لومړي مشروطه غوښتني په باب هيڅ داسي سند لاس کي نه لرو چې د هغه استناد د لومړي مشروطيت په باب معلومات تر لاسه کړو. البته هغه څه چې واضح دي ټول پرهغه يوه خوله دي هغه دادي: کوم حرکت چې د امير حبيب الله خان د حاکميت په وخت کي را شروع شوي وو او زموږ د هيواد د روشنفکرانو په برخليک کې يې ډيري اغيزي لرلي دي، د دربا څخه د باندي نه بلکه د دربار په داخل کي شکل واخيست او د قدرت په لمن کي پيدا شو.

ښاغلي قسيم اخګر يدي اړه ځيني په زړه پوري اشاري لري:

« ... لومړي مشروطه روشنفکري غورځنګ له هغو ټولو لوړو ارمانو سره سره چې لرل يي زما په عقيده يوله هغو نيمګړتيا و څخه د اوو چې يداينښت يي د قدرت په لمن کي ده.

او وروسته له هغه څخه و قدرت ته مخه کوي او د هغه په سيوري کې کار کوي داد روشنفکر لپاره هر وخت جاذبه لري. يو دليل يي دادي چې زموږ روشنفکر د قدرت په لمن کي زيږيدلي داسي تصور کوي که چېري قدرت په لاس کي واخلي ټول کارونه به سم شي. دغه زموږ د روشنفکرانو د تفکر ميراث ده.[۲])

د لومړي مشروطيت به غورځنګ کي يو شمير روحانيونو ګډون لرلو چې هغوي په کوچنيو ديني مدرسو کي درس ويلو نوموړي مدرسي به دربار پوري تړلي وي او د دربار له خوا اعاشه کيدلي. دوي لومړنۍ کوچنۍ حلقي جوړي کړي د مشروطيت خبري پدي کي خلاصه کيدلي چې پاچا بايد مطلق العنان نه وي او کابينه بايد ولري. لکه چې ښاغلي اخګر ليکي:

---

۱- عبدالحی حبيبی، جنبش مشروطيت در افغانستان، کابل، دولتی مطبعه، 1363 صص ۲۳-۴۸.

۲- قسيم، اخگر، روشنفکران و جاذ به قدرت، خط سوم، شماره ۳ و ۴، تهران:۱۳۸۱، ص ۱۳۶.

(... ټولي خبري يي په همدغه حد كي خلاصه كيدلي چې پاچا نه بايد مطلق العنان وي... او كابينه ولري په همدغه حد كي يي مشاجري لرلي اوس ځيني اسناد چې مثلاً حبيبي او امثال يي د مشروطه غورځنګ به اړه ارائه كوي زه چندان پرهغو استناد نه كوم، (۱)

دوهم مشروطيت: د امير حبيب الله خان په وخت كي په دربار كې دوه جريانه صلاح طلب او محافظه كاره چې ځانته خاص مفهوم يي لرلو وجود لرلو. د محافظه كاره ډلي مشر سردار نصرالله خان د امير و رور وو او د افغانستان په انزوائي حالت يي تاكيد كولو، او د اصلاح غوښتونكو اړخ د امير ځوان زوي سردار عنايت الله خان وو چې د افغانستان اړيكي يي له بهر سره مخصوصاً انګلستان سره غوښتلي، امير حبيب الله خان و هند ته د سفر څخه مخكي د دغو دواړو جريانو ترمنځ موازنه ساتله او كله چې په كال (۱۹۰۷ ميلادي) كي و هند ته سفرو كولو د انګلستان د طرفدارانو يعني اصلاح غوښتونكو څخه يي ملاتړ كولو. او پدي ډول ديوه ګوند د تشكيل لپاره د (ملي سري جمعيت) په نامه زمينه مساعده شوه، د دغه جمعيت غړي د دربار او د دربار څخه بهر روشنفكرانو څخه جوړو و مرام يي د مطلق العنان رژيم تبديلول په يوه مشروطه حكومت، د افغانستان د استقلال حصول او په هيواد كي د نوي فرهنګ او تمدن خپرول وو.

د امير حبيب الله خان د وژل كيدو څخه وروسته اميرامان الله خان د قدرت واګي په لاس كي اخلي د اصلاح غوښتني دوهم موج په كال ۱۹۱۱ ميلادي چې د ۱۲۹۰ لمريز سره برابر ده د سراج الاخبار افغانيه د اخبار د بيا خپريدو سره پيل شو. دوهم مشروطيت د سراج الاخبار د جريدي د بيا خپريدو د محمود طرزي به مشر تا په منځته راغي چې اصلي مضمون يي ناسيوناليزم له پان اسلاميزم سره ګډ او د استعمار سره مجادله تشكيلو له، ناسيوناليزم د دوي په نظر ملي ګرايش او د وطندوستي په مانا وو نه د برتريت او تفوق طلبي په مانا. اصلاح غوښتونكي ټول د اميرامان الله خان په شا او خوا راټول شول او امان

---

۱- قسيم، اخګر، روشنفكران و جاذبه قدرت، خط سوم د شماره ۳ و ۴، تهران: 1381 ص ۱۲۲.

الله خان دیرژر د دربار د تجدید غوښتونکي حلقي په سرکي قرار ونیولو. امیر امان الله خان وکولاي شو د افغانستان سیاسي استقلال تر لاسه کړي چې د هغه په نتیجه کي له بیلابیلو هیوادو سره سیاسي، تجارتي او فرهنگي اړیکي ټینگي کړي. خو سره ددي چې د هیواد د روزاي د عصري افکارو او تکنیکو پرمخ خلاصي وي خوپوهني هو مره پر اختیا ونه موندله او هم یي د مشروطیت رښتني تحقق ته تن ورنه کړ.

محمود طرزي په سراج الاخبار کي یو مضمون خپورکړ چې عنوان ئي ( حي علي الفلاح) وو دغه مضمون د ۱۲۹۲ قمري کال د مرغومي د میاشتي په گڼه کي خپور شو او په نوموړي مضمون کي یي خلک د سیاسي استقلال حصول او عمومي پا څون ته را بللي وو. نوموړي مضمون د خپل تاریخي اهمیت له پلوه دلته را اخلو:

(... نوا را تلخ میزن، چون ذوق نغمه کم یابي، حدي را تیزتر مکن چو محمل را گران بیني بلي، بلي، هر څومره چې حیوان خپل غږ تریخ کوي هومره چې په ستوني کي ځائیږي، حد یي ډیر تیز کړه ځکه چې منزل ډیر اوږد ، ده او محمل په اندازه درنیږي، چې د حد کي غږونه د دووي د اوازونو سره هم غږي شوي دي. شرق او غرب یي په سامعه خراش اهتزار کي راوستلي دي. خو زرافسوس چې باروړونکي اوښان محمل یار او غمگسار له کسالت او عطالت څخه نه خلاصوي او گام ترگامه نه اخلي، سهار شو پورته سه دراستي جوړونکي ساز وغږوه. د حرمانو ماشام تر شادي، ځکه چې وخت له لاسه ولاړ نشي.

حي علي الفلاح! اي د افغان نجیب ملته! ملي شرافت او خپل دوامداره عظمت وساتي، استقلال او خپل دولتي حاکمیت وساتي، افغان چې په دیانت او دینداري ، میړانه او بهادري،په غیرت او ناموس داري ئي په ټوله نړۍ کي مشهور شوي دي ایا دغه پر خپل وجدان، ایمان، شرف او ناموس څرنگه ښه رنگین گولاي شي چې د اجنبي دولت، د پردي دین او ملت تر حمایت او تابعیت لاندي وي د تابعیت او حمایت صاف او صریح معنا دا ده چې یو دولت د بل دولت ته وائي چې پرته له ماڅخه بل څوک ونه پیژني.

پرته له ما څخه د بل دولت ته نه سفیر لیږه او نه سفیر قبول کړي، د استقلال او بشپړي آزادي صاف او صریح معني هم دا ده چې هر دولت په ټولو شیانو کي چې پورته وویل شول مستقل او ازاد وي... تر او سه هر څه چې وو وو هر څه چې وشول وشول، لیکن لدي وروسته افغان هغه افغان ندي چې له خپل حقوقو څخه سترګي پټي کړي.(۱)

د امیر امان الله خان پرتخت کشینا ستل د روشنفکرانو د مخکښ په توګه د ټولو مشروطه غوښتونکو روشنفکرانو د مرامو او غوښتنو د تحقق سبب و ګرزیدلو. نوي دولت د ټولو آزادي غوښتونکو او اصلاح طلبانو روشنفکرانو دارمانو د تحقق جایګاه او پایګاه شوه، ښاغلي فرهنګ لیکي:

«په هغه وخت کي په هیواد کي دوه مشخص سیاسي جریانونه (تحول غوښتونکي او محافظه کار) وجود لرلو چې په غیر رسمي ډول د لومړي ډلي مشري محمد ولي خان بدخشي کوله. او د دوهمي ډلي مشري په غیر رسمي قیادت د محمد نادر خان سره وه. باید د صدارت مقام یوله دغو دوتنو سره واي تر څو کابینه بې له خپلو همکارانو څخه جوړه کړي واي، خو سره د هغه هم د صدارا عظم د ټاکلو کار د څو کالو لپاره شاته وغورزیده او د لومړي پارلمان تر تاسیس پوري پاتي شو.)(۲)

که چېري همدغه سیاسي او روشنفکري حرکت په تاریخي لحاظ وڅېړل شي وبه لیدل شي چې په واقعیت کي د سیاسي ګوندونو د بنسټ ایښودلو په اړه لومړني ملموس حرکت د سردار شاه محمود خان د صدارت په وخت کي را پیل شو. په کال ۱۳۲۹ لمریز کي شورا د مطبوعاتو قانون تصویب کړ چې د نو موړي قانون سره سم یو شمیر آزاد و جریدو ته د محدود آزادیو سره د فعاللیت اجازه ورکړل شوه او ددي څخه لږ څه د مخه یو شمیر سیاسي حلقي د روشنفکرانو له خوا په کابل، کندهار او ننګرهار کي جوړي شوي د تاریخي قدامت له پلوه لو مړنی سیاسي جریان چې رامنځته شو هغه دویښ ځلمیانو

---

۱- عبدالحی، حبیبی، جنبش مشروطیت در افغانستان، کابل، دولتی مطبعه، ۱۳۶۳، ص ۱۲۱.

۲- میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخیر، پشاور، جلد اول، ص ۴۴۸.

غورځنګ وو، چې د نوموړي سياسي جريان په تاسيس کي عمدتاً پښتانه روشنفکران او يو شمير غير پښتانه روشنفکرانو ګډون لرلو. تره کي چې وروسته د خلق د دموکراتيک ګوند مشر شو هم يو له بنسټ ايښودونکو څخه وو.

« ويښ ځلميان» د سياسي جريان يا ګوند په توګه د را وروسته ګوندونو مخکښ ګڼل کيږي چې د هيواد په سياسي تاريخ کي د ټولو سياسي ګوندونو لپاره ډيره ښه تجربه شوه، او په هيواد کي د سياسي فعاليتونو د دود د رواجولو په لارکي لومړني ګام وو چې په راتلونکو فصلو کی به وڅيړل شي.

دوهم سياسي جريان چې د (ويښ ځلميانو) پسي رامنځته شو د (وطن) په نامه وو چې د (وطن) د جريدي پر محوريي شکل واخيست، دا سياسي جريان د مير غلام محمد غبار او مير محمد صديق فرهنګ او نورو په نوښت رامنځته شو. دريمه سياسي حلقه « نداي خلق» د جريدي پرشا او خوا د خلق په نامه د ډاکتر محمودي او نورو ملګرو له خوا جوړه شوه، د سياسي فلسفي له پلوه دري واړه سياسي ټولني په جوړښت او په عمل کي د شدت او ضعف له توپيرونو سره سره اصولاً يي له دموکراسي او شاهي مشروطه دولت څخه ملاتړ کولو.

به همدغه وخت کي يوه بله نيمه علني ټولنه د (پښتونستان د آزادي اتحاديه) ترنامه لاندي جوړه شوه چې دنوموړي اتحاد يي مشري غلام حيدر عدالت کوله او اصلي بنسټ ايښودونکي يي سردار محمد داوود وو او د هغه له خوا حمايه کيدله. ببرک کارمل هم د دغي اتحاديي له فعالينو څخه وو.

دغه ټول سياسي جريانونه تر کال ۱۳۳۲ لمريز پوري فعال وو به نوموړي کال چې کله سردار محمد داود د صدارت په څوکي کشيناست. يو ځل بيا سياسي فعاليتونه محدود شول، داود خان فکر کولو چې دموکراسي زموږ په وروسته پاتي هيواد کي د کاميابي چانس نه لري تر څو شرايط مساعد نه شي او ويل به يي

چې لومړي اقتصادي پرمختیا، بیا دموکراسي، دغه حالت تر ۱۳۴۳ لمریز پوري دوام درلوده یعني د دوهمي دموکراسي ترپیل پوري.

لومړني ګوندي هسته د هغه به کلاسیک مفهوم سره د ولسي جرګي اومشرانو جرګي د ټول ټاکنو پر محال په کال ۱۳۴۴ لمریز کي رامنځته شوه. په دغو ټاکنو کي له یوي خوا د لومړي ځل لپاره و کاندیدانو ته وخت ورکړل شو چې د راي ګیري د نیتې د رارسیدو څخه د مخه په خلکو کي پخپله ګټه تبلیغات وکړي او له بلي خوا سره له دي چې دګوندونو قانون لانه وو رامنځته شوي یو شمیر خلکو د سیاسي ګوندونو په جوړولو او سازمان ورکولو لاس پوري کړي وو او په نوموړي پارلماني تاکنو کي یي پخپله ګټه فعاله ونډه واخیستله.

نور محمد تره کي، ببرک کارمل او میر اکبر خیبر چې د ۱۳۴۳ لمریز کال په جریان کي یي یو شمیر ځوانان د مارکسیزم، لیننیزم ایډیالوژي په نامه و خپل ګوند ته جلب کړي وو هغوي د ۱۳۴۳ لمریز کال په ژمي کي د نور محمد تره کي په کورکي چې په څلومه کارته کي یي موقعیت لرلو د نوموړي ګوند بنسټ کښیښودلو او لومړنی کنګره یي جوړه کړه چې په نوموړي کنګره کي دګډون کوونکو شمیریي دیرش تنه ؤ. او دګوند نوم یې « د افغانستان د خلق دموکراتیک ګوند» کښیښودلو تقریباً په نوموړي وخت کي د انجنیر غلام محمد فرهاد، په (پاپا) د مشهور، په مشری یوه سیاسي ډله را میدان ته شوه چې بیا وروسته یي نوم«افغان سوسیال دموکرات» پیدا کړ او د « افغان ملت» په نامه یي یوه خپرونه درلوده. همدارنګه د دربار شاعر استاد خلیل الله «خلیلي» هم چې په هغه وخت کي د اعلیحضرت محمدظاهر د مشاوریت دنده په غاړه لرله د « وحدت ملي» په نامه یي یو ګوند جوړ چې په ( زرنګار) مشهور وو، د دغه ګوند مرام ډیر محافظه کارانه وو او اسلامي رنګ یي لرلو. د نوموړي ګوند غړي اطرافي ملا کان او د رسوخ خاوندان وو د استاد خلیلي ګوند چې د ملي او مذهبي تا تعریف او مبهمو مصالحو او ګټو پر اساس شکل اخیستي وو له نوموړي ګوند څخه د خلیلي په وتلو دیر ژر له منځه

ولاړ او د هغه غړي سره تيت شول خو د وو نورو ګوندونو و خپل فعاليت او پر اختياته انکشاف او پراختيا ورکړه. خصوصاً د خلق د موکراتيک ګوند چې بنسټ ايښودونکو يي مخکې يعني په کال ۱۳۴۳ لمريز کي د لړم د مياشتي د دريمي نيټي د محصلانو مظاهره سازماندهي کړه او پدي توګه يي يوه کاميابه سياسي ما نوره د خپلو سياسي کارنامو په تاريخ کي ثبت کړه. چې پايله يي د ډاکتر محمد يوسف صدراعظم استعفاوه.

نوموړي ګوند په کال ۱۳۴۶ لمريز کي په دوو برخو وويشل شو چې ديوي جناح مشري يي نور محمد تره کي کوله او دبلې جناح مشري يي ببرک کارمل کوله د دغه ګوند د انتخاب په وخت کي محمد هاشم ميوند وال چې د صدارت څوکۍ يي په لاس کي لرله هم يو ګوند تاسيس کړلو چې مترقي د موکرات ګوند نوميده.

د نور احمد اعتمادي د صدارت په دوره کي د ګوندونو قانون چې د شورا د دوارو مجلسو او مختلط کميسيون څخه پاس شوي وو او د توشيح لپاره تيار وو خود ځينو دلايلو له امله، له توشيح څخه پاتي شو.

همدارنګه په کال ۱۳۴۷ لمريز کي « نوي د موکراتيک ګوند» ديوي جريدي په خپرو لو سره د ( شعله جاويد ) په نامه د ډاکتر عبدالرحيم محمودي په امتياز خپل موجوديت د افغانستان به سياسي ډګر کي را څرګند کړ. دغه ګوند چې د پيکنګ ليکې مارکسيستي نظرياتو څخه يي پيروي کوله په شعله جاويد باندي مشهور او وپيژندل شو. د هغه له مشرانو څخه محمد عثمان په عثمان لنډي مشهور، محمد اکرم ياري او محمد صادق ياري يا دولاي شو.

يو بل سياسي جريان چې په دغه وخت کي رامنځته شو چې بيا وروسته په څو څانګوو ويشل شو د اسلام پلو جريان وو د دغه اسلامي نهضت تهداب چې ويل کيږي د لومړي ځل لپاره د ( حزب الله ) په نامه د قلمه بلند مولوي له خوا د شاه محمود خان د صدارت په

دوره کي اېښودل شوي وو.(۱) خود اسناد و پر اساس په کال ۱۳۴۳ کي د «جمعیت اسلامي» یا «حزب اسلامي» په نامه ګوند جوړ شو چې بنسټ اېښودونکي يي غلام محمد نیازي د هغه وخت د شرعیاتو د پوهنځي رئیس وو. نیازي لومړي د کابل پوهنتون په چاپریال کي د مارکسیستي ډلو پر خلاف په تبلیغاتو پیل وکاوه.

دغه دوره چې د دموکراسي د لسیزي په نامه یادیږي د افغانستان به معاصر سیاسي تاریخ کي ډیره ځلانده دوره ګڼل کیږي. په عمومي توګه ویلای شو چې په افغاني ټولنه کي د دموکراسي لسیزه یا دریم مشروطیت به نسبي توګه د فردي مصئونیت، قدرت او د احساس د پیدا کیدو دوره ګڼل کیږي. که څه هم بي تجربه ګي دا کثرو سیاسي فعالینو زیاتي ګډوډي او بي نظمي دهیواد په اداره کي ټول نتیجتاً د دي سبب شول چې د ۱۳۵۲ لمریز کال د داود خان د کودتا سبب شو. د دغي کودتا په سرته رسیدو سره (د خلق دموکراتیک ګوند) خصوصاً پرچمي اړخ زیات رول لرلو.

د دغي کودتا په سرته رسیدو سره د سیاسي ګوندونو فعالیتونه محدود شول او علناً بند شول خود دغه محدودیت دیر زیات فشار اسلامي ګوندونو ته متوجه وو. داسي فشار چې دوي يي بالاخره ودي ته مجبور کړل چې خشونت امیزه اعمالو ته متوصل شي په کال ۱۳۵۴ لمریز کي د دغو اسلامي ګوندونو ځیني مشرانو چې لایي بشپړ د سیاسي ګوند بڼه نه وه اخیستي د افغانستان په ځینو سیمو کي يي عملیاتي نقشي، د دولت خلاف، جوړي کړي او د عمومي پاځون د تحریک په خاطر يي تر لاس لاندي ونیولي. که څه هم دا هڅي ناکامي شوي خو غیر مستقیم يي مهمي نتیجي پرځاي پریښودلي.

یوه نتیجه يي دا وه چې اسلامي نهضت يي په څو ډلوو ویشلسو دوهمه نتیجه يي داوه چې دغه پاڅون په حاکم نظام کي هم ځیني بدلونونه

---

۱- واحدی، تقی، دیروز و امروز احزاب سیاسی افغانی، خط سوم، شماره ۳-۴، تهران: ۱۳۸۱، ص ۹۷.

رامنځته کړل. له يوې خوا داود خان بې دې ته مجبور کړلو چې پخپلو سياسي کړنو کې بدلون راولي او پخپلو چارو باندې تجديد نظر وکړي او له بلې خوا د خلق او پرچم جناحې يو ځل بيا د اتحاد په لوري سوق کړي، داود خان چې د ۱۳۵۵ لمريز کال د ژمي په موسم کې لويه جرګه جوړه کړه نوی اساسي قانون يې د ملت د نمايندګانو په وسيله تسويد کړ چې د دغه قانون پر اساس په افغانستان کې يو دولتي ګوند «د ملي انقلاب ګوند» په نامه چې په ( ملي غورځنګ) مشهور ووه د فعاليت اجازه لرله، او پدې توګه يو ګوندي سيستم يې رواج کړلو ترڅو پدې ترتيب د داود خان او د خلق د موکراتيک ګوند د مخامخ کېدو جريان په تدريجي ډول زور شو تر څو د مير اکبر خيبر و وژل شو او د داود خان د نظام پر خلاف يې د پاڅون د پاره د يوې انګيزې په توګه له هغه څخه ګټه واخيستله او د خلق دموکراتيک ګوند نور مشران لاس په کار شول او د ثور کودتايي کاميابه کړه او د داود خان اقتدار يې ختم کړ.

د خلق دموکراتيک ګوند مشرانو له دغه نظامي برياليتوب څخه وروسته د سياسي قدرت واګې په لاس کې واخلي. دوی د سياسي قدرت له اخيستلو وروسته له دغې اساسي سوال سره مخامخ شول چې آيا دوی دولت د مارکسيستي ايديولوژۍ سره سم چې ورته متعهد وو معرفي کړي او يا غير کمونيست دولت. نور محمد تره کي د دولت د رئيس په حيث دوه همه لاره غوره کړه او پخپل لومړني مطبوعاتي کنفرانس کې يې خپل انتساب له کمونيزم او ماسکو سره رد کړلو او ويې ويل چې په افغانستان کې د کمونيزم په نامه کوم ګوند نشته، خو د وخت په تيريدو سره ديو شمير فرا مينو په صادرو لو سره يې عملاً وښودله چې د ماسکو د ليکې پيرو دولت دی او ډيره ټينګه تګ لاره يې غوره کړه چې په دغه وخت کې يې ببرک کارمل او د پرچم اړخ نور کسان يې له قدرت څخه وشړل. يو شمير يې سفيران او يو شميريې په زندان کې واچول همدارنګه د نورو سياسي ګوندونو غړي، خانان، روحانيون او متنفذ اشخاص او هر هغه څوک چې يې د حکومت مخالف باله ګرفتار او زرندان ته يې وليږل او زيات شمير يې د مرګ کندې ته وروا چول، تر څو دغه سياست د دې سبب و ګرزيده چې د

خلکو د خلقیانو او د دوي د حکومت څخه کرکه وشي او د خلقي کلمي مفهوم له ډیرو بدنامو او منفورو مفاهیمو څخه د خلکو په ذهن کي ځاي ونیولو. دولت دا ډول شعار او کرنلاري غوره کړي چې خلکو ته په کلتوري لحاظ د زغم و ړنه وي د دولت داراکینو ډیر تند او له کیني څخه ډک برخوردونه ددي سبب شول چې خلک پر دولت خپل اعتماد له لاسه ورکړي. دا ووم او اتم نمبر فرامین د خلکو د کلتور او ګټو سره نیغ برخورد وو چې د هغو په پایله کي خلک بالفعل او بالقوه، د دولت د سیاست په مخالفت کي و دریږي هغه وو چې د هیواد په ډیرو برخو کي د رژیم په مقابل کي راوپاریدل، دلته او هلته له دولت سره په ګرمه جګړه اخته شول.

دغه ټول فعل او انفقالات ددي سبب شول چې د خلقي رژیم پر خلاف عمومي پاڅون پیل شي د خلکو دغه عمومي پاڅون د **۱۳۵۷** کال په پاي او د **۱۳۵۸** کال په لومړیو کي رامنځته شول.

د دولت برخلاف د جهادي ډلو جوړیدل او داخلي جګړو دوګړنیزو پاڅونو له منځ څخه تر سر راپور ته کړلو. د دغو سره موازي کوچنیي سیاسي ګروپونه چې د افغانستان څخه بهریي فعالیت لرلو د کور به هیواد په مرسته او د افغانستان د حالاتو څخه په ګټه اخیستلو او د امریکا د متحده ایالاتو څخه د مرستي اخیستلو د افغانستان په داخل کي یي ځانته د قدرت پایکاوي جوړي کړي، د غوټولو جهادي ډلو د اسلامي نظام غوښتني داعیه لرله او په عمومي توګه په دوو عمده ډلو محافظه کارو او بنسټ پالو باندي ویشل کیدلي. د غو ډلو په شپیته لیزه کي د محلي قدرت پر سر په رقابت کي ډیري بدي جګړي او جنجالونه سره وکړل چې د هغو نه جبرانیدونکي تاوانو نه تر او سه پوري د افغانانو پر ژوندانه اغیزي پري ایشي دي.

د خلقي نظام دغو سختو او تندو برخورد و معکوسه نتیجه ورکړه، د دوي د ادعا پر خلاف نه یوازي د ټولنیز عدالت په لوري کوم پر مختګ ونه شو بلکه بر عکس د روسانو د نظامي اشغال لپاره یي شرایط اماده کړل، روسان چې د غرب سره د ستراتیژیکو ګټو درقابت پر سر د خپلو اسلافو د تاریخي وصیتو سره سم و دغي تاریخي فرصت ته سترګي په لار وو دوخت

د شوروي اتحاد دکمونیست ګوند مشرانو پرېکړه وکړه چې پر افغانستان باندي نظامي پر غل وکړي چې د ۱۳۵۸ کال د مرغومي د میاشتي په شپږمه نیټه يې پر افغانستان نظامي يرغل وکړ او افغانستان يې عملاً اشغال کړ او خپل جوړ کړي خلقي نظام يې رنګ او پر ځاي يې ببرک کارمل او د ده ملګري د قدرت په ګدي کشينول او خپل لاسپوځي نظام يې جوړ کړ. د روسانو اشغال سره په افغانستان کي خپل ګوډاګي نظام مستقر کړلو.

د څو کالو په تيريدو سره ددغه سياست نا سموالي په قطعي توګه ثابت او څرګند شو او دا په داسي حالت کي چې خپله دکمونيزم ستني په ماسکو کي لړزيدلي وي په کال ۱۳۶۵ قمريز کي ببرک کارمل يې له قدرت څخه لري کړلو او ماسکو ته يې تبعيد کړلو. د ده پر ځاي يې ډاکتر نجيب الله د خاد پخواني رئيس د دولت په سر کي مقرر کړلو او نوموړي د ملي مصالحي سياست غوره او د ګوند نوم يې واړولو او د «وطن ګوند» نوم يې پري کښيښود.

په کال ۱۳۶۷ لمريز کال کي ديو شمير بين المللي جريانانو په نتيجه کي د شوروي اتحاد نظامي قوا وي له افغانستان څخه پرشا شوي. دغه حرکت جهادي ډلي چې تر دغه وخته له دولت سره په نظامي برخورد و اخته وي د خپلو غړو او پلويانو و سازماندهي ته متوجه شوي او د سياسي قدرت په فکر کي شوي. د هغه وخت مشهوري او مهي ډلي داوي: حزب اسلامي جمعيت اسلامي، وحدت اسلامي، اتحاد اسلامي او نور ډلي هم وي چې په خلکو کي يې ډير نفوذ لرلو خو د خپل جوړښت له پلوه ضعيف وو او له تشکيلاتي پلوه پر سياسي او نظامي تحولاتو يې کمه اغيزه لرله لکه مهاذ ملي، د يونس خالص حزب اسلامي، د مولوي محمد نبي د حرکت انقلاب اسلامي، د منصور حرکت اسلامي او د نجات ملي جبهه همدارنګه په ايران کي د اهل تشيع تقريباً نه جهادي ډلي جوړي شوي وي چې بيا وروسته تر يوه نامه لاندي د (وحدت اسلامي) په نامه سره يو ځاي شوي.

د دغو ټولو خبرو په پاي کي په کال ۱۳۷۱ کي د ثور د مياشتي په اتمه نيټه د ډاکټر نجيب الله حکومت سقوط وکړلو او ځاي يې د

مجاهدينو حکومت و نيولو. د مجاهدينو ډلو که څه هم په لومړي سره کي د پاکستان به راولپنډۍ کي د نواز شريف د مداخلي او اصرار له امله ماتيدونکي او ناپايداره تړون سره رامنځته کړلو چې د هغه تړون پر اساس حضرت صبغت الله مجددي دوه مياشتي د حکومت مشر او ورپسي به برهان الدين رباني د څلو رو مياشتو لپاره د حکومت چاري به لاس کي اخلي. او د ادوارو په ترتيب سره د حکومت چاري تر سره کړي. خو بيا و روسته د يوي منسجمي برنامي له مخي احمد شاه مسعود د سپيني کودتا تر سره کول او د اختلافاتو زياتيدل ټول ددي سبب شول چې يو شمير مسلح برخورد ونه، جنجا لونه او به ټول هيواد کي د ګډوډي رامنځته کيدلو سبب وګرزيدل. چې دغه حالت د طالبانو وراتګ ته لاره اواره کړه. په کال ۱۳۷۵ کي طالبانو پر پلازمينه کابل او ځينو نور و مهمو ښارونو باندي خپله سلطه تينګه کړ، د کابل د نيولو سره يي د دوي د ادعا سره سم د شريعي نظام د تينګولو لپاره ملا وتړ له دا ډله چې په ښکاره ډول د ټولو د موکراتيکو اصولو او د مدني اصولو له ټولو مظاهرو سره مخالفه وه او هم په نړيواله کچه ډيرو نړيوالو اصولو او مقرراتو ته چندان توجه نه کوله د خپلو ډيرو سختو اقداماتو په نتيجه کي ټول خلک له خپل ځان څخه نا رازه کړل او د افغانستان په معاصر تاريخ کي ډيره تياره دوره بلل کيږي.

د دسمبر د يولسمي څخه وروسته د امريکا متحده ايالاتو او لويديز متحدينو يي تصميم ونيولو چې د طالبانو رژيم ختم کړي. هغه وو چې د يوه نظامي يرغل په نتيجه کي يي د طالبانو رژيم رانسکور کړ او پر ځاي يي د پخوانيو مجاهدينو مليشو حکومت يو ځل بيا چې مخکي امريکا د طالبانو په وسيله له کابل څخه په زور ايستلي وو د کابل پر حکومت يي حاکم کړل چې تر اوسه دوام لري.

اوس به هغو آثارو په معرفي لاس پوري کړم چې « دويښ ځلميانو » د غورځنګ په اړه مستقيما او غير مستقيم ليکل شوي دي.

دويښ ځلميانو په اړوند د ځينو مهمو منابعو معرفي:

۱- « ویښ ځلیمانو» په اړند لومړني اثر چې په تاریخي لحاظ او هم د دغه سیاسي غورځنګ د رامنځته کیدلو د مقدمي په حیث ډیر ارزښت لري، هغه د « ویښ ځلمیانو» تر عنوان لاندي د هغو مقالو مجموعه ده چې په کال ۱۳۳۲ لمر یزکي د پښتو ټولني له خوا د کابل مجلي د ۲۱۱ او ۲۱۲ ګنو پرځاي د بینوا په نوښت خپره شوي ده. دغه ټولګه چې د بینوا په زیار چاپ شوي تقریباً د ځلویښتو په شا او خواکي د لیکوالو مقالي پکي چاپ شوي دي.
دغه اثر په حقیقت کي دویښ ځلمیانو لومړني پروګرام دي او په عین وخت کي دویښ ځلمیانو دغورځنګ سوژه بلل کیږي. دغه ټولګه ۱۹۴ مخونه لري چې پیل یي د استاد صلاح الدین سلجوقي په مضمون او پاي یي د أستاد بینوا په مضمون دي.
په هغه وخت کي یو شمیر بحثونه ګرم وو چې د نوموړو بحثو په نتیجه کي استاد بینوا دغه اثر خپور کړ. کله چې دغه ټولګه مطالعه کړونو له هغه ځخه دویښ ځلمیانو د افکارو توپیر لیدلاي شو. په عمومي توګه نوموړي اثر د محافظه کارو او ریفورمستانو د سازش محصول دي خو د ریفوریستانو افکار زیات پکي منعکس شوي دي.
دغه اثر د « ویښ ځلمیانو د غورځنګ» د پیژند لو لپاره دیر ښه لومړني ماخذ ګڼل کیږي.
۲- « نقش انجمن هاي ادبي در پروسه تشکیل ویښ ځلمیان» د هغه اثر نوم دي چې یوه الماني محقق ( توماس ګوتیک ) دویښ ځلمیانو په باره کي لیکلي دي. نوموړي الماني محقق خپل د ماستري تیزس په همدي موضوع لیکلي دي. نوموړي لیکوال ډیر ښه تحقیق کړي دي او د ډیر شمیر کسانو سره یي نیغ په نیغه مرکي کړي چې دویښ ځلمیانو د غورځنګ له بنسټ ایښودونکو ځخه ګڼل کیدل او په دغه وخت کي ژوندي وو. لکه استاد بینوا، پوهاند رشتین، عبدالهادي خان توخي، او داس نور، دویښ ځلمیانو غورځنګ یي په ډیره ښه توګه ځیړلي دي او ډیر شمیر واقعیتونه یي ددغه غورځنګ په باب راسپړلي دي. د محقق میتود مقایسوي دي تحلیل یي دقیق او

پر واقعیتو ولاړ دي. ټول هغه نظریات چې « دوېښ ځلمیانو» د غورځنګ د منځته راتلو سبب ګڼل کېږي یو په بل پسې یې څېړلي دي. زه پدې عقیده یم که څوک غواړي د « ویښ ځلمیانو» او یا د هغه وخت پر نورو سیاسي جریانونو باندې تحقیق وکړي د دغه اثر مطالعه ورته ډیره ګټوره بولم.

۳- یوبل اثر چې دویښ ځلمیانو د موضوع سره مرسته کوي او په همدې موضوع باندې لیکل شوي دي هغه د ( کارګون) اثر دی. نوموړي اثر چې ( د افغانستان د سیاسي جریانونو تاریخي څېړنه) نومیږي د سیاسي جریانونو د هغه ډلې څخه « دویښ ځلمیانو) سیاسي جریان یې څېړلي دي. نوموړي لیکوال د نورو مستشرقینو په څیر د افغاني ټولني له تاریخ، فرهنګ او سیاسي افکارو له جریان سره سرو کار لري. د دغه اثر مطالعه هم د افغانستان پیژندنې لپاره مرسته کوي.

۴- «تاریخچه مختصر ویښ ځلمیان» د هغه مونوګراف نوم دی چې د محمد ظاهر (نائب) له خوا د مونوګراف په شکل لیکل شوي دي او د کابل پوهنتون د افغانستان پیژني په څانګه کې خوندي دي. په نوموړي اثر کې دویښ ځلمیانو د سیاسي جریان را څېړل شوي دي او د دغې موضوع په باب ښه معلومات راټول شوي. لوستل یې ګټور دي او د بحث وړ موضوعات پکښې سته.

۵- (تاریخ مبارزات ویښ ځلمیان) د هغه اثر نوم دی چې ښاغلي شا محمود حصین د ماستري تیزس لپاره لیکلي دي. دغه اثر چې په کال ۱۳۶۷ لمریز کې لیکل شوي، تقریباً د او یا و مخو نو په حدودو کې دي او د کابل پوهنتون د افغانستان پیژندنې په څانګه کې خوندي دي، دغه اثر چې مخامخ دویښ ځلمیانو په سیاسي غورځنګ لیکل شوي دي پر نوموړي جریان باندې له خاصو زاویو څخه بحث کوي. لیکنه یې ډیره چپې ده ټول هغه مواد او مطالب چې پدې اړه راټول شوي هغه یې د خپل فکر سره سم قالبو کې اچولي دي او د هغو څخه یې د خپلو افکارو د شهرت لپاره کار اخیستي دي. د ده د خوښې او فکر سره برابر اشخاصو ته د دغه نهضت په

منځته راتګ او مبارزو کې زیات کرېدت ورکوي لوستل یې ګټور خو په انتقادي نظر باید ورته وکتل شي.

۶ (افغانستان در مسیر تاریخ) دوم ټوک د مرحوم میر غلام محمد غبار اثر دي، همدارنګه (افغانستان در پنج قرن اخیر) لومړی ټوک د میر محمد صدیق فرهنګ اثر (خاطرات سیاسي) او (تاریخ نهضت هاي سیاسي افغانستان) د سید قاسم رشتیا آثار، او ځیني مقالي چې په ورځپاڼو او جریدو کې خپرې شوي دي (دوېمې ځلمیانو غورځنګ) ته په ضمني توګه اشاري لري او لږ یا زیات پر همدي موضوع باندي خبري کوي. دا ټول آثار د موضوع د پوهېدو لپاره شه ګټور معلومات لري او د نومړو جریانو عیني شاهدان وو.

۷ (ویش ځلمیان) د محمد علم بڅرکي اثر دي چې نومړي لیکوال د ویښې ځلمیانو غړی وو او پخپل اثر کې تیت او پاشان خاطرات بیانوي. دا اثر د خامو موادو په حیث کیداي شري ورڅخه کار واخیستل شي، لوستل یې ګټور دي.

همدارنګه (ویښې ځلمیانو یا د استبداد عکس العمل) د ښاغلي غلام محي الدین زرملوال اثردي چې دي هم دوېمې ځلمیانو د غورځنګ غړي وو. د ده په اثر کې د غورځنګ حالات او د ځینو غړو رول تشریح شوي دي. لوستل یې بې ګټې ندي.

۸- (ملي مبارزي) د محترم محمد ولي ځلمي د اثر نوم دي چې د استبداد او مطلقیت په مقابل کې د ځینو افغانانو ملي مبارزه باندي لیکل شوي دي. دا چې خپله ځلمي صاحب ددغه غورځنګغړي وونو دده په لیکنو او خبرو پوره استناد کیداي شي.

۹- (افغانستان در قرن بیستم) د هغو رادیوئي مصاحبو راټولونه ده چې د ډاکتر ظاهر طنین به زیارتر سره شویده. دوېمې ځلمیانو په سیاسي جریان هم خبري لري لوستل یې ډیر ګټور کار دي.

# دوهم فصل

## د وینې ځلمیانو د پیدایښت عوامل

## د وينښ ځلميانو د پيدا ايښت عوامل
## د دغه سازمان د پيدا ايښت لپاره دري عامله عمده ګڼل ګيږي

لومړي عامل چې په کال ۱۳۴۶ ميلادي (۱۳۲۲ لمريز) د استاد بينوا چې په هغه وخت کي د پښتو تولني رئيس وو او د هغه وخت يو ادبي شخصيت وو، وکولاي شواي چې د داخلي شرايطو د بدلون له امله او د ليبرالو شرايطو څخه په ګټه اخيستلو د کابل مجلي نوی مسئوول مدير يار محمد نظامي سره يو ځاي بدلولونه را منځته کړل تر څو خپل هدف ته ورسيږي. د مثال په توګه د ده هدف د داسي ادبياتو رامنځته کول ووکوم چې د پراخو ولسونو د ژوندانه د ځيني شرايطو سره سمون ولري. نور يي نه غوښتل چې په ادبياتو کي هغي مضامين او اشعار خپاره شي چې په پخواني لاره روان وي او محتوي يي کلاسيکه وي. مثلاً په نومو ړي وخت کي د يوه شاعر د شعر محتوا ډيره ژوره وه خو په کلاسيک سبک ويل شوي وو. د استاد بينوا د نشراتي پاليسي سره سم د هيات تحرير د غړوله خوا هغه خپورنه شو او خپله استاد بينوا هم پر نوموړي شعر سخت انتقاد وکړلو او داسي فيصله يي وکړه چې نور دا ډول ادبياتو د خپريدوو وخت ندي. د هغه پر ځاي بايد نور داسي مضامين او اشعار خپاره شي چې ټولنيز او انتقادي روحيه ولري.

دو هم عامل د هغو روشنفکرانو د کميت زياتيدل دي چې په ټولنيز لحاظ په ښکته پوړيو پوري يي اړه درلوده او د دغه ډول وګړو مثالونه ډير دي چې د هغوي اکثريت د بزګرو او نورو ښکته طبقو پوري اړه در لوده. اوهم يو شمير نور روشنفکران چې په ښاري ټولنه کي يي استوګنه در لوده او هغوي هم په ټولنيز لحاظ په ښکته طبقو پوري اړه درلود، له هغوي سره يو ځاي داکثريتو پرګنو په ګټه په سياسي فعاليتونو پيل وکړلو.

دريم عامل چې مستقيماً د ويښ ځلميانو رامنځته کيدو پوري مربوطګڼل کيږي هغه داوو چې دحاکمي سياسي طبقي ځينو حلقو وخلکو ته د نسبي ازادي ورکولو له امله غوښتل چې دويښ ځلميانو سازمان تر خپل کنترول لاندي راولي او د خپلو دولتي مقاصدو لپاره ورڅخه کار واخلي په کال ۱۳۲۲ لمريز (۱۹۴۲ ميلادي) د هغه وخت د اقتصاد وزير مرحوم عبدالمجيد خان زابلي د نورو سازمانو سره همزمان يو سياسي سازمان د کلوپ ملي تر نامه لاندي جوړکړلو. د نوموړي سازمان ټول مالي مصارف د زابلي له طرفه ورکول کيدل. مرحوم زابلي غوښتل چې ځيني ريفورمستيک د موکرات روشنفکران په دغه سازمان کي سره را يوځاي کړي ترڅو ددغه سازمان له لاري له نوموړو څخه وغواړي چې د دولت د سياست په عملي پروګرامو کي مهم رول ولوبوي. د همدغه هدف لپاره زابلي يو شمير روشنفکران سره رايو ځاي کړل. همدا علمت وو چې د ښاغلي زابلي او د هغه وخت د دفاع وزير ښاغلي سردار محمد داود خان ترمنځ يو اتحاد منځته راغي. دواړو هڅه کوله چې روشنفکران او د پارلمان نماينده ګان د خپلو سازمانو ته را جذبکړي، هماغه وو چې زابلي شمس الدين مجروح د همدي هدف لپاره دعوت کړلو. مګر نوموړي داغو ښتنه ونه منله. په همدي ډول ګل پاچا الفت او قيام الدين خادم څخه يي چې په هغه وخت کي د اطلاعات مشرقي له اخبار سره همکاري لرله، هم بلنه وکړه. او هغوي هم نوموړي غوښتنه ونه منله. سره لدي بيا هم زابلي وکولاي شواي چې د پارلمان ځيني غړي

جذب کړي د مثال په ډول محمد صديق وزيري، نوموړي د کلوپ ملي په سازمان کي شامل او د هغه د اهدافو دتحقق لپاره يي کارکولو. مرحوم زابلي هغه کوله چې د کلوپ ملي غړي د هغه کلوپ ملي غړي د هغه کلوپ د غړو سره يو ځاي کړي کوم چې په دربار پوري مربوط ګڼل کيدل، د نوموړي کلوپ مشر د هغه وخت د کورنيوچار وزير سردار غلام فاروق عثمان د سردار محمد داود خورور سره وه، وو او نوموري د دربار خپل سړي وو.

دا ټول شرايط او حالات چې ذکر شول هغه عوامل وو چې زموږ روشنفکران په خاص ډول او د دريمي نړي روشنفکران په عام ډول له هغه سره مخامخ ول. اوس په راشو هغه نور اقتصادي، سياسي او ټولنيز عوامل چې دويښ ځلميانو د منځته راتګ سبب ګرزيدلي او هر يو به په پخپل وار سره وڅيړو.

لومړي سياسي عوامل:

ويښ ځلميانو چې په افغانستان کي د سياسي استبداد او ټولنيزو بي عداليتو سره د مخالفت يوه سياسي اخلاقي او ادبي ټولنه وه چې زموږ د خلکو د عدالت غوښونکو، آزادي غوښتونکو او د ملي نواميسو د ساتلو د خدماتو ښکارندوي ده، دغه ټولنه تر هر څه د مخه ادبي بڼه او هويت لرلو چې بيا وروسته يي سياسي، اخلاقي او ملي هويت او رنګ پيدا کړلو او بيا دوخت د غوښتنو او شرايطو سره سم يي د سياسي او ملي نهضت بڼه غوره کړه.

د هغه وخت د سياسي او اقتصادي حالاتو سره سم او د سخت اقتصادي فشار او د عمومي انتقاد له امله د سردار محمد هاشم خان صدراعظم د مستبد حکومت له کبله سياسي حاکمه طبقه و دي ته مجبوره شوه چې په کال ۱۹۴۶ ميلادي کال کي (۱۳۲۶ لمريز) کي نوي حکومت منځته راوړي. په کال ۱۹۴۶ ميلادي کي د ثور په مياشت کي (د ثور ۱۲ نيټه) کابل راديو د سردار محمد هاشم خان د استعفا خبر د صدارت له دندي څخه خپور کړ او د ده پرځاي يي دده ورور او دهغه

وخت د دفاع وزير يعني د پاچا بل اکا سردار شاه محمود خان د صدراعظم په توګه مقرر شو. دا خبر اکثرو خلکو ته غير مترقبه وو، ځکه په تيرو اولس کالو کې د سردار محمد هاشم خان نوم د خلکو په اذهانو کې د قدرت او مطلقه حاکميت له مفهوم سره اخشل شوي وو.

د داخلي فشار په څنګ کې په نړيواله سطح ځينو شرايطو د منځته راتګ له امله حاکمه سياسي طبقه ودې ته مجبوره شوه تر څو د خپل دولت داري شکل ته بدلون ورکړي او د خپل حاکميت د چلولو په طريقه کې يو څه نرموالي راولي. چې يو له نو موړو عواملو څخه د ملګرو ملتو د سازمان منځته رادتګ او جوړيدل وو. د دغه نوي تشکيل شوي سازمان د منځته راتګ څخه دوي تشويش درلوده او يا يې پيش بيني کوله که څه هم افغانستان په دغه وخت کې د نوموړي سازمان غړيتوب نه وو ترلاسه کړي يو ازي غوښتنليک يې د غړيتوب لپاره و نومړي موسسي ته سپارلي وو. خو په واشنګټن کې د افغانستان سفير عبدالحسين عزيز له خوا چې کوم را پورونه مرکز ته استول کيدل مرکز ته دا خبره تلقين کيدله چې په نوموړي موسسه کې غړيتوب پدې پوري اړه لري چې يو دولت د ملګرو ملتونو د منشور احکام او د بشر د حقوقو اصولو ته احترام او رعايت بې محترم وګڼي. بل عامل چې په داخلي عوامل پوري مربوط ګڼل کيږي هغه د پاچا په وضع کې د بدلون د رامنځته کيدل وو. پدې مانا په دغه وخت کې د پاچا عمر له دير شو کالو څه اوښتني وو ده فکر کولو چې نور ددې وخت را رسيدلي دې چې نور د هيواد د چارو په اداره کې له پخوا څخه فعال او برخمن واوسي. خو دا کار د سردار محمد هاشم خان د حکومت تر سلطي لاندې شوني نه وو. ده اراده وکړه چې دا کار د ده د بل اکا چې له سردار محمد هاشم خان څخه پرده زيات مهربان وو، تر سره او عملي کړي. په دربار کې د ننه هم د شاهي کورني ډيرو غړو دا احساس لرلو او ښه يې بلله چې د سردار محمد هاشم خان د صدارت دوره نوره بايد پاي ته ورسيږي. تر څو د دوي وارهم ژر راورسيږي. که څه هم دا کار يعني د صدارت تسليميدل په ساده ګي سره تر سره نه شو

بلکه د استعفا کار په داسي حالت کي پر سردار محمدهاشم خان باندي تحميل شو چې دا ردو افراد د صدارت ماڼي چار چار پيره راتاوشوي وو او هغه يي کلا بند کړي وو. کله چې د استفعا ليک د مير عبدالعزيز (د پاچا خصوصي رئيس) له خوا د نيمي شپي څخه وروسته د صدارت ته يوړل شو او نوموړي ليک و سردار محمد هاشم خان ته ورکړل شو نوموړي د ليک له اخيستلو څخه ډ ډه وکړه خو کله چې د موضوع حساسيت ورته د مير عبدالعزيز له خوا وويل شو او د اردو د افرادو له شته والي څخه خبر شو، ليک يي واخيست وروسته د ليک له لوستلو څخه يي مير عبدالعزيز ته وويل چې اعلحضرت ته عرض وکړي چې د دوي امر اطاعت کيږي. له دغي واقعي څخه وروسته د دابلي ورځي په ماښام د نوموړي خبر اعلان له راديو څخه خپور شو او د ده پر ځاي شاه محمود خان د صدارت پر څوکۍ مقرر شو.(۱)

د سياست فعالي صحني ته د سردار شاده محمود خان راتګ په اداره کي يو شمير بدلولونه را څرګند شول نوي صدارعظم په لومړي قدم کي د سياسي بنديانو په خلاصو لو لاس پوري کړ. په دغه وخت کي د کابل په زندانو کي ډير شمير کسان سياسي بنديان موجود وو، او د نوموړو بنديانو څخه يي يو شمير يي چه له زندانه خلاص شول، په دولتي دندو وګمارل شول. د مثال په توګه کاکا عبدالعزيز د کندهار پخواني وکيل ياد ولاي شو، نوموړي ته دا موقع ورکړل شوه، تر څو کندهار ته ولاړشي او د ښاروالي په ټولټاکنو کي برخه واخلي او خپل ځان د ښاروالي و څوکۍ ته کانديد کړي. د دغه ټاکنو په نتيجه کي کاکا عبدالعزيز د کندهار ښار د ښاروال په حيث وټاکل شو. همدارنګه محمد انور بسمل د مرستون د رئيس په توګه او عبدالهادي خان داوي د پاچا د سرمنشي به حيث مقرر شول.

د نوي صدراعظم منځته راتګ په حقيقت کي د دموکراسي لوري ته د حرکت پيل وو. په دغه وخت کي پاچا او صدراعظم دواړ و پخپلو بيانيو کي له دموکراسي څخه خبري کولي او د دموکراسي په

---

۱- مير محمد صديق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخير، دوهم ټوک، پشاور، ۱۳۷۳، ص۷۲۱.

لاره کي يي و خلکو ته د اصلاحاتو وعدي ورکولي په کال ۱۳۲۷ لمريز کي د ښاروالي نوي قانون تصويب شو چې دا د دموکراسي په لوري لومړني عملي ګام ګڼل کيدلو، په دغه قانون کي د بلديي لپاره تاکني پيش بيني شوي وي. د دغه قانون سره سم نومو‌ړي ټاکني په سري، آزاد، مستقيم او کتبي ډول بايد تر سر شي، چي يو کال وروسته په کابل او د هيواد په لويو ښاروکي عملاً دا قانون پلي او ټاکني تر سره شوي. په کابل کي انجنير غلام محمد فرهاد ښار د ښاروال په توګه و ټاکل شو.

ښاغلي انجنير غلام محمد فرهاد يو مستقل سياسي شخصيت وو چې د وطن پالني او سو کارو د تر سره کولو په نسبت په خلکو کي ډير محبوبيت لرلو. د خپلو د ندو په تر سره کولو کي ډير صادق، پاک او راستکار، انسان وو، د بي وزلو سره يي هر وخت مرسته کوله د کابل ښاروالي د دندي دا اجراء په وخت کي يي د کابل په ښارکي يو شمير مثبت بدلولونه رامنځته کړل چې د هغو له ډلي څخه د څلورمي او نورو کارتو جوړول د ميوند او نادر پشتون جادي ياد ولاي شو.

د دموکراسي د پلي کيدو په لاره کي يو بل مهم سياسي ګام چې پورته شو هغه د پوهني په برخه کي د تدريس مساله وه چې په هيواد کي تدريس په دوو ژبو يعني پښتو او دري ژبو تر سره شي. داسي تصميم ونيول شو چې په هغو سيمو کي چې دري ژبي خلک او سيږي په ښوونځيو کي تدريس په دري ژبه وشي او په هغو سيمو کي چې پښتانه خلک او سيږي په ښوونځيو کي تدريس په پښتو ژبه تر سره شي.

سره ددي ټولو کارو بيا هم د حاکمي سياسي طبقي په ټولنيز جوړښت کي کوم عمده بدلون رامنځته نه شو. بيا هم د قبيلوي ارستو کراتسي او داخلي سو داګري د پانګي ترمنځ اتحاد او يووالي پر خپل ځاي پائي وو. که څه هم په سياسي لحاظ د عملي سياست په ډګر کي د دوي رول لږ ضعيف شو.

په دغي سیاسي فضا او حالاتو کي په افغانستان کي دو ینښ ځلمیانو په غورځنګ کي تر ټولو زیات د افغانستان د ملي ځواکونو رادیکال تمایلات وجود لرلو. د دغه غورځنګ برخه وال وطنپال منصبداران دولتي کارکوونکي، لیبرال ځمکه وال، سیمه ایز سو داګروو. لدي چې تیر شو د دغه غور ځنګ د لیبرالو ناسیو نالستانو له یوي نسبتاً محدودي ټولني څخه جوړه شوي وه د دوي په اصلاحي پروګرام د خپلواکۍ او اصلاح غوښتني طرحي ځاي کړل شوي وي.

د افغانستان سیاسي اوضاع د (۱۹۲۸) (۱۳۰۷ لمریز) کلو کي په ډیر بد حالت کي قرار لرلو. او د هري ورځي په تیریدو سره د خرابي په لوري روانه وه. د هیواد په بیلابیلو سیمو کي مسلح ګروپونه منځته راغلل سره لدي چې د هغوي فعالیتونو مشخص سیاسي اړخ نه لرلو خود ټولنیز حالت د ناسمو شرایطو ښکار ندوي وه. دلته دوه حالته د تفکیک وړ دي: یو خارجي عامل چې د دغي پیبنود رامنځته کیدو اصل عامل ګڼل کیږي. بل هغه داخلي عوامل چې د خارجي عناصرو لپاره امکانات مساعد وي او د هیواد په سرنوښت کي ټاکونکي نقش لري.

زموږ په هیواد کي قاعدتاً د خلکو د سیاسي درک، ذهنیت او د عیني شرایطو او عیني جریان ترمنځ یو ډول توپیر موجود دي. قاعدتاً عیني شرایط د ذهني شرایطو څخه په افغانستان کي مخته وي. په همدي اساس د همدغه فکري وروسته پاتي والي څخه بهرنیان د خپلو ستراتیژیکو اهدافو د تحقق لپاره ګټه پورته کوي. په اماني دوره کي د دولت په بهرنیو اړیکو کي یو ډول بي موازنګي رامنځته شوه پدي مانا چې د ځوان دولت اړیکي له نوي رامنځته شوي دولت په روسیه کي نسبت و لویدیز ته ډیري وي او د شوراګانو ځوان دولت سره یي ډیري نژدي اړیکي ټینګي کړي. دا ډول حرکات د لویدیز والو د توجه وړ وګرزیدي او په ځیرکي سره یي هغه څارلي. تر څو د هغو په نتیجه کي غرب و دغي نتیجې ته

ورسیدلو چې د اماني دولت باید ناکام کړي. د دغه هدف لپاره یې مشخص سیاسي او نظامي پلان جوړ کړلو.

د دغه پلان سره سم یې د خلکو د ذهنیت سره سم یې اماني دولت په کفر متهم کړلو او پر دغه یې تورن کړ چې دا یو داسې دولت دی چې د اسلام د دین پر خلاف د کفري مسایلو لپاره کار کوي. چې د اماني دولت د کفري غږ د هیواد له ډیرو لیرو سیمو څخه راپورته شو لکه د شینوارو له خوا او د جنوب له نورو قبایلو له خوا همدا اواز راپورته شو او په نتیجه کې ئې د دغه دولت پر خلاف جهاد فرض و ګڼلو. زموږ د خلکو د ذهن د وروسته پاتې والي په نسبت خلکو خپلې ګټې او د غرب ګټې نه شواي کولای تشخیص او د هغوي د عملي کیدو لپاره تینګه ملاوتړي. خو د یو شمیر خود غرضو عمالو په وسیله د عامه خلکو د پاکو او سپیڅلو افکارو څخه د بهرنیانو په ګټه کار اخیستل کیدلو. انګریزان چې د زموږ د خلکو له کلتور او طرز تفکر سره آشنا و او له هغو څخه بشپړ دقیق درک لرلو، د هغو په پام کې نیولو سره یې د کفر په نامه یې قبایل د اماني دولت پر خلاف راو پارول. مثلاً په مشرقي کې د شینوارو د قوم په نظر کې ونیسو، دوي د اماني دولت پرخلاف راپورته شول او اماني دولت یې تکفیر کړلو او جهاد یې د هغه پر خلاف فرض وګڼلو. که چیري همدغه حرکت ته په انتقادي توګه ولیدل شي، انسان ته دا یو ښتنه په ذهن کې پیداکیږي چې د اماني دولت د کفریت مساله و کابل ته نژدې سیمو کې ولې نه وه محسوسه نسبت و دې ته چې شینواري یې د دیورند کرښې ته نژدې هغه درک کړي. آیا د دوي د زیات سیاسي شعور څخه نمایندګي کوي او که د بهرنیانو زیات نفوذ په شینوارو کې. د دې ډول پوستنو ځواب روښانه دي. یعني قبایل و سرحدي پولې ته نژدې پراته دي د خپلو یو شمیر عمالو د روحانیونو په جامه کې داخل کړي او د هغوي په وسیله یې د اماني دولت پر خلاف تخریبي حرکات را پیل کړل. انګریزانو غوښتل چې د روسانو د نفوذ د مخنیوي په خاطر خلک د اماني دولت پر خلاف راوپاروي.

د دغو حرکاتو په نتیجه کي اماني دولت له ماتي سره مخامخ کړلو او د هغه پر ځاي يي د حبيب الله کلکاني دولت رامنځته کړلو. ديوه کال څخه دکمي مودي په تيريدو سره انګريزانو خپله پروژه تطبيق کړله او نادرخان يي و قدرت ته ورساوه. د نادرخان د حکومت د استقرار څخه وروسته په افغانستان کي سياسي مبارزي هم کرار کرار پيل شوي. حکومت چي د هيواد نوي ټولنيزو شرايط او نوي نړيوال شرايط خصوصاً له دوهمي نړيوالي جګړي څخه وروسته درک کول او يو هيده چې د نومړو سياسي جنبشونو او ګوندونو جوړيدل حتمي کار دی نو حکومت مصمم شو چې په دغه لارکي هم نوښت پخپل لاس کي واخلي او د خپلو ګټو د ترلاسه کولو په خاطر يي د کارنو ښت پخپل لاس کي وساتي او د هغه شمير ګوندونو د تشکيل څخه مخنوي وکړي چې په دوي پوري په مستقيم او غير مستيم ډول تړلي نه وي. د هغه پر ځاي د ټولو سياسي فعاليتونو رهبري، که سي ډوله او که کينې ډوله ګوندونو وو، د خپل نماينده په وسيله تر ممکن حده د خپل هدف لپاره تر خپل نفوذ لاندي وساتي.

حکومت مخکي لدي څخه چې رسماً د موکراسي اعلان کړي او دموکراتيک قوانين وضع کړي يوه امتحاني دوره يي پيل کړه او د ښاروالیو او ملي شورا د ټاکنو د ازادي اعلان ئي وکړلو. نوي صدارا عظم د سياسي آزاديو او د موکراسي په وخت کي د روشنفکرانو حالت ته متوجه اوناظر وو او دغه ټکي ته يي پام لرلو چې وګوري روشنفکران د دموکراسي اعلان څخه وروسته د نظام په مقابل کي څه ډول موقف غوره کوي. آيا دوي په دغه سياسي آزادي او دموکراتيک شرايط د دربار بخشش ګڼي؟ همدارنګه دوي به د دغو ټولو نا خوالو سره سره چي په تيرو وختو کي د سياسي حاکمي طبقي له خوا پر دوي راغلي وو بيا هم د حکومت رهبري ته به د پخوا په څيرغاړه کيږدي او نه؟ آيا روشنفکران به پخپلو سياسي فعاليتونو کي د حاکمي سياسي طبقي او نظام ګټي به د ټولني ترګټو پورته وګڼي او يا بر خلاف؟ آلبته د اخرګندوه چې حکومت په لومړي شکل

کي د سياسي جنبشونو څخه پخپله ګټه کارو اخلي او له هغو څخه په د همدغه هدف لپاره ملاتړ وکړي. خو په دوهم صورت کي چې د حاکمي طبقي د ګټواو قدرت ته خطر ورپيښ کړي هغه غورځنګونه به وټکوي او منحرف به يې کړي.

خو د حکومت د دغو ټولو وړاندوينو سره سره کله چې انتخابي شورا ګاني جوړي او سياسي ګوندونه او ګوندي اخبارونه را ووتل د هغوي پايلي هغه څه وي چې حکومت هغه نه غوښتل اونه يې انتظار لرلو. ځکه دغو سياسي جريانونو د تشکيلاتي تنوع او د موسساتو د تعدد په شته والي په نسبت عملاً د حکومت په مقابل کي د يوي متحدي جبهي په څيرصف و درولو او د دموکراتيک نظام د آزادي او عمومي مساوات د تعميم او د سياسي حاکمي طبقي د سياسي او اقتصادي انحصار او امتياز پرخلاف مبارزه وکړله همدا سبب و و چي حکومت بيا وروسته ټول دغه سياسي نهضتونه و ټکول او هغه يي خفه کړل. سره لدي هم ګوندونه او سياسي حلقي او ګوندي اخبارو تر هغه وخته دومره کار کړي وو چې د هغو اغيزي د خلکو په عامه ذهن کي محسوسي وي. نو حکومت د دغو سياسي غورځنګونو د اغيزو دله منځه وړلو په خاطر د اختناق يو ولس کلنه دوره پيل کړه. د شورا او د ښارواليو د انتخاباتو آزادي دحکومت څرګندو مداخلو له امله له منځه ولاړي. سياسي ګوندونه او ګوندي جريدي له منځه ولاړي او د هيواد د سياست په ډګر کي د وطنپرستو مبارزينو دتبارز فرصت له منځه ولاړ.(۱)

دلته ددي خبري يا دول ضروري ښکاري چې د اماني دولت د سقوط او د حبيب الله کلکاني را منځته کيدل او بيا وروسته د يوي خاصي سياسي فضا رامنځته کيدل ددي سبب شو تر څو ديوه وخت لپاره سياسي فعاليتونه چې په فکري او سياسي ټولنو متکي وو وشاته دغور ځول شي، ترڅو په کال **۱۳۲۷** لمريز کي داسي

---

۱- ميرغلام محمد، غبار، افغانستان در مسير تاريخ، جلد دوم، پشاور، ۱۳۸۰، صص۲۳۷- ۲۳۹.

تجویزونیول شو چې د ښاروالي لپاره انتخابات تر سره شي. پدغه وخت کي یو شمیر منور ځوانان چې ښه احساس یې د وطنپرستي لرلو او دپاک زړه خاوندان وو سره راغونډ شول او غوښتل یې چې د ښاروالي د ټاکلو لپاره چې د یوه سیاسي ګوند د تشکیل لپاره ګام کیږدي

د یادوني وړ ده چې د امیر امان الله خان په زمانه کي د وطنپرستو روشنفکرانو په منځ کي یوه ډله مرموز عناصر په مصنوعي توګه یې ځانونه روشنفکران معرفي، نفوذ کړي وو چې په هغه کي په اصطلاح د « نقابدار ګوند» په نامه یا دیدل. دغو عناصرو د هیواد په مرکز او ختیځ کي د خلکو د تیرایستلو او تشخیص په خاطر په ظاهره انقلابي او روشنفکرانه خبري او شعار ورکول او له جمهوریت څخه به یې خبري کولي. خو په حقیقت کي د حاکم قدرت سره په تړ او د هغو څخه د مستقیم دستور په اخیستلو سره د دربار او د هغو د قدرت واکو لپاره یې کلر کولو. په حقیقت کي د دموکراسي جمهوریت او پرمختګ مخالف وو چې په هغو کي د اولسونو د موکراتیکي آزادي تامینیدلي او یا یې په ژوند کي سو کالي رامنځته کیدله. په حقیقت کي د حاکمي سیاسي طبقي په خدمت او چوپړ کي وو.

مشهور مورخ میر غلام محمد غبار پخپل اثر کي د امیر حبیب الله خان د زماني د دربار «د سري ګوند» څخه خبري کوي چې یو شمیر لیبرال درباریان د امان الله خان په ګډون یې و دغه ګوند ته را جلب کړل دغه حلقه ډیره متجدده وه. امان الله خان وکولاي شواي چې خپل نائب السلطنه یې د دغه سري انجمن د رئیس په توګه وټاکلو او پدي وسیله یې نوموړي د کودتا په نقشه کي شامل کړي چې دهغي په عملي کیدو سره امیر باید په لغمان کي ووژل شي او پر ځاي یې نائب السلطنه کښینوي.(۱)

پوهاند علامه حبیبي د همدي موضوع په اړه لیکي:

« د دربار سري ګوند اغلباً د دربار هغه شمیر رجال او غلام بچه ګان او شهزاده امان الله خان وو»(۲)

---

۱- میر غلام محمد، غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد دوم، پشاور، ۱۳۸۰، صص ۲۳۷- ۲۳۹.
۲- عبدالحي، حبیبي، جنبش مشروطیت در افغانستان، کابل دولتي مطبعه، ۱۳۲۳، ص ۱۲۷.

امان الله خان هڅه کو له تر څو په هره وسیله چې وي د خپلو اصلاحاتو د سمبالښت لپاره یو کلک سیاس بنسټ پیدا کړي. د همدغه هدف لپاره يي په کال (۱۳۲۸ هـ ، ق) د استقلال او تجدد د حزب د تاسیس لپاره هڅه وکړه ترڅویدي وسیله ( د جوانان افغان) سیاسي ګوند رامنځته کړي وي.(*)

خپله امان الله خان هم د دا ډول ګوند د تاسیس اړتیا پدي توګه اعلان وکړ:

«د هیواد د چارو د ښه پرمختګ لپاره ښه او اساسي وسیله داده چې هغه شمیر اشخاص چې مملکت اداره کوي باید د ملت ټول وګړي له ده سره هماهنګ وي. نو دا مساله هغه وخت صورت موند لاي شسي چې د یوه هیواد دوګړو تر منځ ډله ایز یووالي پیدا شي، نو باید یوه داسي متحده ډله سر په کار شي... د زیات ملي یووالي لپاره چې لومړي د عادت او وروسته د دین په نامه داخل شوي وي، ومې غوښتل یوه ډله تشکیل کرم. د دغي ډلي نوم د استقلال او تجدد ډله ده... او په دغه نظامنامه باندي باید اکتفا وشي. البته کله چې ګوند تشکیل شو په دغه قانون کي به بدلون رامنځته شي»(۱)

همدارنګه میر غلام محمد غبار د دغو سیاسي آزادیو په باب چې د امیر امان الله خان د دوره څخه وروسته د شاه محمود خان د صدارت په وخت کي رامنځته شوي، لیکي:

«د دوهمي نړیوالي جګړي څخه وروسته په کال ۱۳۲۵ لمریز کي کابل رادیو نا څا په اعلان وکولو چې محمد هاشم خان صدارعظم استعفا وکړه او دده پرځاي دده، وروسردار شاه محمد خان صدراعظم و ټاکل شو... وروسته له دي څخه چې شاه محمود خان د صدارت پر چوکۍ کشیناست، یو شمیر کارونه يي تر لاسه لاندي

---

*- د زیاتو معلوماتو لپاره وګوري: کارګون، افغانستان در دهه بیستم وسی ام قرن بیستم، ترجمه جلال الدین صدیقي، چاپ ګستسنر پوهنتون کابل، صص ۲۳-۲۷.

۱- امان افغان، کابل، شنبه، ۱۴ میزان، مطبعه عمومي، ۱۳۰۷، ص ۳.

ونیول، د مثال په توګه: د سیاسي بندیانو پرمخ د زندان د روازي خلاصون، چې د هغو شمیر زرګونو تنو ته رسیدلو او د هغه په نتیجه کي یو شمیر آزادي غوښتونکي لکه کاکا عبدالعزیز کندهاري، عبدالهادي داوي، سرور جویا او عبدالقیوم غفوري څخه نیولي بیا ترځینو ادیبانو او فاضلانو لکه انور بسمل محمد ابراهیم صفا او نور دا ټول یې له زندانه آزاد کړل همدارنګه بلدیه یې ملي کړه او د هغې اداره یې د خلکو وکیلانو ته وسپارله چې د دموکراسي نظام د اصولو سم په سري او تحریري را یو په وسیله انتخاب شویوو. له ټولو څخه مهمه خبره داده چې د پخوانیو کارو په څنګ کي د شورا د او ومي دوري په انتخاباتو کي یې مداخله و نکړه، چې په نتیجه کي یو شمیر مهم او آزادي غوښتنونکي شخصیتونو لکه عبدالحي حبیبي، ګل پاچا الفت، میر غلام محمد غبار، ډاکټر عبدالرحمن محمودي، محمد کریم نزیهي، نظر محمد نوا، سید محمد دهقان، عبدالاول قریشي او نور چې ملي شورا ته یې لاره وموندله او د لومړي ځل لپاره یې د حکومت په مقابل کي یې پارلماني اپوزیسیون مخالفه جبهه جوړه کړه، وروسته معلومه شوه چې دغه پیښنه تر یو حده د دولت درویي عیارول د ملل متحد د منشور او د بشری حقونو د نړیوالي اعلامي سره غوره شوي وه، د دغو اقداماتو له امله، چې پاچا او صدراعظم پخپل منځ کي ذات البیني موافقه هم سره لرله، د هیواد سیاسي حالت بدلون و موندلو او نوي سیستم منځته راغي»(۱)

که چیري دموکراسي یوازي د مفهوم په مانا بشپړه نه وه، مطلق استبداد هم نه ورته ویل کیدلو لکه چې د محمد هاشم خان د صدارت په دوران کي په سیاسي فضا باندي حاکم و، او دغه امتعه په باالقوه توګه په هغه کي پرته وه چې شخصي حکومت یې په تدریجي ډول په مشروطه نظام واړو لو. مګر وروسته داسي وضع رامنځته شوه چې د نوموړي وضعي پر بنسټ دوه ډوله تدابیر وینول شول: لومړي په کابینه کي د بنیادي بدلون واردول، د صدراعظم د صلاحیت محدودولو پر اساس او

---

۱- میر غلام صدیق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخیر، دوهم چاپ، پشاور، ۱۳۷۳، ص ۷۲۵.

د هغه انتقال و يو شمير خلکو ته د قومي او سياسي ډلو د مشرانو په نامه چې د سوپروزير ما هيت يې لرلو.

دوهم دا چې: د دولتي واحد ګوند تاسيس د ملي د موکرات ګوند په نامه چې د هغه رهبري هيات بيا هم د ګروپونو مشرانو تشکيلولو او د کلوپ ملي د هغه د تشکيل په لاره کې لومړني ګام ګڼل کيږي.(۱)

ښاغلي جلال الدين صديقي د دغو دموکراتيکو ټاکنو په باب چې د ښاروالي لپاره تر سره شوي ليکي:

« د ۱۳۲۹ المريز کال د پسرلي په لومړيو کې وو چې زموږ د ګران هېواد افغانستان د مرکز په اسمان کې د کرامت وريځې را پيدا سوي او د بيده عالم پر مخ چې په مايوسي سره يې له کلونو کلونو راهيسې يې د ازادۍ او دموکراسي خوب ليدلو، خپل ځاځکي قربان کړل او داسې قرار او اراده يې ونيوله چې د کابل ښار بلديه له دغې نېټې څخه وروسته په انتخابي ډول تاسيس او د دموکراسي په طرز چې د اوسني عصر او د نړۍ په اکثرو برخو کې رواج ده اداره کيږي.(۲)

په دغه وخت کې ازادي غوښتونکي بيدار ځوانان او قلم په لاس تکړه ليکوالان ټول يو ځل بيا د خپلې ټولنې په فکر او د هماهنګي د رامنځته کولو د پاره سره نږدې کول، متاسفانه زموږ په ښار کې په هغه وخت کې دا ډول کسان ډېر کم وو که چېرې د هغوي کميت په نسبي ډول ډېر واي نو د نور جهان د مروجه اصولو سره سم به پس د بلديې په ټاکنو کې په ښه ترتيب اغيزي واردي کړي واي، په لهذا په لومړي سر کې غلام حسن صافي د بانک ملي په کلوپ کې غونډه جوړه کړه او يو شمېر ښاري روشنفکران يې د دغسې غونډې ته د ګډون لپاره را بللي وو دغه مجلس ته رابلل سوي کسان

---

۱. يا حق جريده، اجراي کلوپ ملي و چند مطلب ديګر از تاريخ معاصر، اول حمل، شماره ۴ و ۵ مطبعه دولتي ۱۳۲۳.

۲. جلال الدين صديقي، غرجستان، کابل، سال دوم، شماره اول، دلو و حوت، مطبعه دولتي، ۱۳۲۷، ص ۲۱.

عبارت وو له يو شمېر هغسې دوستانو څخه چې د تجدد او ليکوالي شهرت يې لرلو او له ده سره همکار او شناخته وو. همدارنګه د حقوقو د فاکولتي يو شمېر تکړه محصلين او د ښوونځيو زده کونکي وو چې د پوهنې وزارت په اجازه يې د انتخاباتو په اداره کې د خدمت او مجاهدت په خاطر په دواطلبانه توګه اماده ګي څرګنده کړې وه.

ددې غونډې د جوړېدو څخه هدف دا وو چې موږ څنګه خپل ځان په يوه منطقه کې د وکالت لپاره کانديد کړو او څرنګه د وخت په تېرېدو سره د ښار له تکړه اشخاصو څخه يو تن پيدا کړو تر څو د خپل دواطلب وکيلانو شمر زيات کړو، تر څو ددغو کارو په نتيجه کې په راتلونکي کې يو د بل همکار واوسو او د پوهنې زده کوونکي څه ډول او په کومه لار له ښو خلکو سره ملګرتيا پيدا کړي او له هغو خلکو سره چې د وکالت وړتيا نه لري او يا د خپلو خپلوانو په ګټه د خپل صلاحيت او نفوذ څخه ناوړه ګټه اخلي، د هغوي پر خلاف مجادله وکړو.

ددغسې غونډې په اړه سرور جويا ليکي:

«که څه هم زموږ خبرې ټولې مقدماتي وې، ولې ښه په ياد لرم چې د غونډې ګډون کوونکي په دې اندازه د وطن پرستي او ملت دوستي د احساساتو تر اغېزو لاندې راغلل چې د انتخاباتو موضوع بالکل پاتې سوه په لهذا ځينې ملګري محافظه کار سول او ددې بيره را پيدا سوه چې د دولت په نسبت بې ځايه انتقادونه ونه شي او له موضوع څخه ونه وزي او په خپل مقصد او هدف کې ناکام نشي

دا يې ښه وګڼله چې مجلس منحل او بل وخت ته يې واړوي».(۱)

همدارنګه زياتوي:

« انصافاً په دغه ټکي باندې بايد اعتراف وکړو چې محترم غلام حسن خان صافي په داسې حال کې چې يو رييس وو ... په زيات افراطي زيات ذوق او

۱ـ جلال الدين صديقي، غرجستان، کابل، سال دوم، شماره اول، دلو و حوت، مطبعه دولتي، ۱۳۴۷، ص ۳۲.

۲ـهمدا اثر، همدا مخ.

شوق سره چې ډېر ژر بې د پام وړ وګرزاوه په دغه لاره کې بې په فعاليت پيل وکړلو.(۲)

ښاغلي جويا د ډاکټر عبدالرحمن محمودي بياني ته داسې اشاره کوي:

« د چنداولو په عمومي تکيه خانه کې په ډېر هيجاني ډول بيانيه ورکړه د محمودي بيانيه په حقيقت کې د ځوانانو د أهدافو ځخه چې عبارت وو د مطلق العنان حاکمه محافل ضعيفول او د سرمايداري نظام تقبيح او داسې نورشيان وو.(۱)

ښاغلي مير محمد صديقي فرهنګ د کلوپ ملي او د ملي دموکرات ګوند او نوري ټولي هغه کړنې چې د وروستيو ګوندونو او سياسي فعاليتونو سبب سول ټول د دولت له خوا بولي او د دولت د ملاتړ لپاره سازمان ورکول کېدل، دي ليکي:

د کلوپ ملي دغه نقشه په ظاهره د اجراييه قوي د تقويت په خاطر ترسره شوه ... خو په واقعيت کې داسې يو ګام وو چې د شورا څخه و ګوند ته د صلاحيتونو لېږدول وو.

او په مشخص ډول د مشرانو او د پارلماني اپوزيسيون خنثي کول وو. په دې توګه د ګوند د بنسټ اېښودونکو پام په لومړي سر کې د مستقلو او روشنفکرو وکيلانو ته متوجه وو. او هڅه يې وکړه چې د هغو جلب او جذب و ګوند ته د عمل آزادي له هغو څخه واخلي ... خو روشنفکره وکيلانو دغه پلان درک کړ، د زيات فشارو سره سره دوي له ګډون څخه ډډه وکړه او جناب برات علي تاج، عبدالحي عزيز، ډاکتر ابوبکر، ډاکتر قيوم رسول او غلام حيدر مختار زاده د يو شمېر نورو روشنفکرانو سره يو ځاي د احتجاج په توګه له مجلس څخه ووتل».(۲)

---

۱. جلال الدين صديقي، غرجستان، کابل، سال دوم، شماره اول، دلو و حوت، مطبعه دولتي، ۱۳۶۷، ص ۳۲.

۲. مير محمد صديق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخير، پشاور، دوهم چاپ، ۱۳۷۳، ص ۶۲۷.

که څه هم کلوپ ملي له دغه پېښې څخه وروسته هم خپل کار ته دوام ورکړلو او ډېر وخت د فاروق عثمان په کور کې چې د همدغه هدف لپاره په کرایه نیول سوي وو د چاي او قهوي مجلسونه به جوړېدل خو د هغه رنګ او خوند د روشنفکرانو په نزد خوندور نه وو او نورو غړو هم یو په بل پسې هغه پرېښود، په پاي کې د هغه برخورد له امله چې د ښاغلي زابلي او شاه محمود خان صدراعظم ترمنځ د وزیرانو په مجلس کې پېښ سو د اقتصادي چارو د ګروپ رییس په دې دلیل چې ملګرو د ګوند ې همبستګي ورته ثابت نه کړلو خپلې مالي مرستې پرې ودرولې.

پوهاند علامه عبدالحي حبیبي د سیاسي فعالیتونو او دګوند د تاسیس او څرنګوالي په اړه په تفصیل سره خبرې کوي او دا ټول کارونه د حکومت له خوا یوه دسیسه ګڼي او داسې لیکي:

« په کال ۱۳۲۸ المریز کې د حکومت چارواکي د یوي نوي دسیسې په فکر کې شول وئي غوښتل چې د خپلو مقاصدو د پر مخ بیولو لپاره د یوې ټولنې د جوړېدو څخه ګټه واخلي.

که چېرې نور ملتونه د نړۍ حقوقي محافل و پوشتي چې په افغانستان کې ګوند نه شته، دوي به هغوي ته وو ايي چې همدا حق مو ملت ته ورکړي دي. هغه وو چې درې تنه لو يان لکه عبدالمجید خان زابلي، علي محمد خان او فیض محمد خان د دواد خان په مشرتابه په کال ۱۳۲۸ المریز د میزان په لومړي نېټه یوه عریضه د اعلیحضرت حضور ته وړاندې کړه چې په افغانستان کې د ملي دموکرات ګوند تاسیسول غواړي. نوموړو د پاچا څخه د یوه فرمان په ترڅ کې چې په ۱۴ د میزان کال ۱۳۲۸ هـ ش صادر سوي وو د نوموړي ګوند د تاسیس اجازه ترلاسه کړه.(۱)

د دغه ګوند د تاسیس څخه وروسته د نوموړي ګوند ته د جلب او جذب وروسته پروسه پېل سوه. حکومت هڅه کوله چې نوموړي ګوند

۱ـ عبدالحي، حبیبي، جنبش مشروطیت در افغانستان، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۳، ص ۱۲۵.
۲ـ همدا اثر، ص ۱۳۳.

ته ځوانانو او دولتي مامورين را جلب کړي او ددغه هدف لپاره يې له بېلا بېلو تکتيکو څخه کار اخيستلو علامه حبيبي ليکي:

«... د ملت ځوانانو يې په زور، حيله او دسيسه سره د خپل يوه ګوند و لور ته راوبلل ځيني يې تهديد کړل يو شمېر يې د ماموريت او منصب په وسيله وغولول او لوړه يې وکړه چې راستکاره، دموکرات او د ملت ګټو ته په وفادار وي... ازادي غوښتونکي ځوانانو وليدل چې دا مرام د دموکراسي مبادي ته ګټور نه دي، په قران چې يې لوړه کړې وه هغه نه مراعاتوي او دګوند په منځ کې هم هغه استبداد او هغه شخصيت پرستي شته، خپل انفکاک يې د نوموړي ګوند څخه اعلان کړلو او ورڅخه ووتل ددغې ډلې څخه دغه اشخاص د دوکتور محمودي، عبدالحي حبيبي، ميرغلام محمد غبار، دوکتور قيوم او محمد هاشم مجددي او نور زيات شمېر ځوانان په هماغه لومړي ورځ ووتل.(۲)

د پوهاند حبيبي په قول کله چې دا اقدام ناکام سو فيض محمد خان چې په هغه وخت کې د پوهنې وزير و. د ګوند او کابينې څخه استعفا وکړه او د يو بل ګوند لپاره يې « د اتحاد او ترقي» تر نامه لاندې هلې ځلې وکړي څو مياشتې هرې خواته وګرځېده خو کوم کار يې ونسواي کولای او په خپل عزم کې ناکام سو.

خو وطنپرستو ځوانانو د يو ګوند د جوړېدو او تاسيس لپاره ټول اقدامات ترسره کړل خود پوهاند حبيبي په قول د دوي غوښتنو ته هيچا غوږ ونه نيولو او اقداماتو يې هېڅ نتيجه ورنکړه. په دغه هکله دوه ځلې د ځوانانو له خوا خپله د پاچا حضور ته عريضه وړاندې سوه او په نوموړي غوښتنپاڼې کې د يو ګوند د تاسيس اجازه غوښتل سوي وه. لومړي ځل د ويښ ځلميانو له خوا او دوهم ځل د وطن ګوند له خوا د برات علي تاج، مير غلام محمد غبار او عبدالحي عزيز له خوا ورکړل سوي، خو ددغو دواړو ګوندو ته د سياسي فعاليت اجازه ور نکړل سوه.(۱)

---

۱ـ جريده ازاد افغانستان، ازادي اجتماع و تشکل حزب، پشاور، شماره ۲۵، سال اول ۱۴ اسد، ۱۳۳۱، ص اول.

که څه هم نيمه مطلقه او نيمه شخصي حکومت له جذر او مد سره پر مخ روان وو د هغو په ترڅ کې ازادي جريدي لکه «انګار» ، «وطن» ، «نداي خلق» او «ولس» خپري سوي او د «ويښ ځلميانو» ، «وطن» او «خلق» ګوندونو بنسټ کيښودل سو.

اما زموږ د هېواد وطندوسته ځوانانو د غورځنګونو د جوړېدو لړۍ ژوندي وساتله او د هغوي په ترڅ کې مرحوم عبدالحي حبيبي د «ازاد افغانستان» په نامه يو اخبار را ايستلو ، که څه هم حبيبي صاحب د «ګوند» ادعا کوي او وايي چې نوموړي ګوند يوه مفصله اساسنامه برنامه په منسجم او منظم شکل لرله او د ګوند نشراتي ارګان يې «ازاد افغانستان» نومېدلو. دا اخبار په اونۍ کې يو ځل خپريده او د نوموړي خپروني په لومړي ګڼه کې «د ازاد افغانستان غږ» تر سرليک لاندې داسې ليکي:

«بلې داسې انقلاب هڅول، بدلول او جنبش چې د هېواد اوضاع بل ډول کړي، زموږ هدف نه دي، موږ داسې يو انقلاب غواړو او داسې تحول ته هر کلي وايو چې د افغانستان ملت د شخصي حکومت له ظلم او ذلت څخه وژغورو او د ټولنې د ازادي او نيکمرغي معراج او وحدت د عصر ترقيو ته ورسوي»(۱)

ښاغلي جلال الدين صديقي د علامه حبيبي د نوموړي ګوند د مرامنامې کې دا مطلب ځاي کړي دي:

«د استقلال ساتنه، د مځکي تماميت، د يوه ملي ازاد حکومت د تاسيس لپاره هڅې، ملي وحدت، مدني ژوند ، عرفاني او اقتصادي پرمختياوې د عامه روغتيا ساتنه، د غير حقوقي امتيازاتو له منځه وړل، د بشر د حقوقو او ملګرو ملتونو د منشور او مقرراتو سره سم د

---

۱.جريده ازاد افغانستان، ازادي اجتماع و تشکل حزب، پشاور، شماره ۲۵، سال اول ۱۴ اسد ، ۱۳۳۱، ص اول.

۲. جلال الدين صديقي، غرجستان، کابل، مطبعه دولتي، سال دوم، شماره اول، د لو و حوت، ۱۳۲۷، ص ۳۲.

مناشرو سره ځان عیارولو د مساوات د اصولو خپرول او ټینګول، د ملت د ټولو افرادو او طبقاتو د ازادي د ناروا تکلیفونو له منځه وړل د غیر قانوني مالي لغو کول چې له عدالت او انصاف څخه لرې وي او د بشر د حقوقو خلاف وي، د ربښتیني هوساینې او مدني ژوند د تأمین لپاره ټینګه مبارزه، د حقوقي او قضایي راوستل او داسې نور.(۲)

## دوهم: اقتصادي عوامل:

د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته زمور د هیواد په ښارونو کې د نسبي بورژوازي تولیدي مناسباتو سره سره بیا هم یو له وروسته پاتې هېواد څخه وو چې په فیودالي او ما قبل فیودالي مناسباتو کې را ګیر وو. ټولې حاصل خیزې ځمکې د اوبو رسولو ټولې اسانتیاوې عمده څرځایونه او د څارویو لوئې لوئې ګلې عمدتاً د لویو مځکه والو او مالدارو او معتبرو دولتي اراکینو سره وي

په دغسې حالاتو کې د صنعتي تولید پروسه او بورژوازي مناسبات په ډېره کندي سره حرکت کولو، په داسې حال کې چې د هېواد اقتصادي وده د یوه رهبري سوي او پلان سوي اقتصادي انکشاف څخه غیر عملي بریښېده په دغو اقتصادي شرایطو کې د صنعتي کارګرانو شمېر ډېر لږ وو. د غیر صنعتي کالیو پراخ سیل واردیدل، د لیلامي مالونو بې ساري راوړل، د کوچنیو تولیدو کوونکو کسبه کارانو ایستل د تولید له پروسې څخه او د وزګارو په ډلو باندې ور زیاتېدل همدارنګه په کلیو او باندو کې د خصوصي سرمایې بې له کوم پلان څخه د زراعتي مځکو د تصاحب او د صنعتي بوټو د انحصار په لورې مخه وکړه. اخېستل سوي مځکي عمدتاً په اجاره ورکړل کېدلې څرنګه چې د تولید سطح د وروسته پاتې عنعنوي کرهنې او کرنیز سامان الاتو په خاطر او د عصري او پلان زراعتي اسانتیاوې د نشتوالي له امله ډېره په ټیټه کچه کې قرار لرلو د نوموړو ځمکو اکثریت برخه د یوه او یا دوو کالو په تېریدو سره له کمښت

څخه پاتې کېدلې ځو په نتیجه کې په یوه مخروبه او لامزروع ځمکو باندې بدلیدلې.(۱)

دوهمې نړیوالې جګړې هم په خپل وار زموږ د هېواد په بازار او اقتصادي حالت باندې خپلې ناوړې اغېزې اچولې وې، یو اثر یې دا وو چې د پېسو په اصطلاح تور بازار یې ډیر ګرم کړلو. د افغانستان بانک اکثریت ذخیره سوي پېسې د امریکایي بانکو په لوري کش کړل سوي، بله اغیزه یې دا وه چې د دوهمې نړیوالې جګړې له امله په غرب کې ټولې فابریکې بمبارد سوي وي او یا د عدم فعالیت له امله یې د تولید بهیر په ټپه ولاړ وو کوم هغه تولیدات او یا خام مواد چې د افغانستان و بازار ته را رسیدل هغه بند سول نو د افغانستان په بازار کې د نوموړو شیانو شمېر لږ او خام مواد و ځینو فابریکو او کوچنیو لاسي کارخانو لپاره نه پېدا کېدل او که پېدا هم په ډېره لوړه بیه پیدا کېدل چې په نتیجه کې ټولنه د یوه اقتصادي بحران سره مخامخ سوه او د وخت دولت هم د دغسې بحران سره د مقابلې لپاره آماده ګي نه لرله

عبدالمجید خان زابلي د هغو وخت د اقتصاد وزیر وو په داسې بحراني حالت کې یو مضمون ولیکلو او هغه یې خپور کړلو چې د هغه عنوان وو « زموږ اقتصادي ستونزې او د هغو سره مجادله» نوموړي ددغه بحران سره د مجادلې لارې چارې په دې ډول بیان کړي دي:

« ... ددغه ډول مشکلاتو د حل لپاره د یوه ملي جنبش او روح او له خپل ځان تیریدنه، د حاکمي طبقې او منورینو د اعمالو او افکارو یووالي او د یوه اساسي دوامداره پروګرام جوړول، بله چاره او علاج نه سو پیدا کولای، تر څو لومړي بحران مشخص کړو او بیا هغه له منځه یو سو».(۱)

---

۱ـ سالنامه کابل مطبعه عمومي، ۱۳۲۴ و ۱۳۲۵.

۱ـ عبدالمجید زابلي، مشکلات اقتصادي ما، کابل مطبعه عمومي، ۱۳۲۲، ص۵.

۲ـ ویښ ځلمیان، کابل مجله، مطبعه عمومي، ۱۳۲۲، ص۱۸۲.

د اقتصاد وزیر ښاغلي عبدالمجید خان زابلي د یوه اقتصادي بحران څخه خبرې کوي. داسې بحران چې د افغانستان ملي جنبش په خطر کې اچولي وو او دا په هېواد کې د ځینو ګډوډو افکارو محصول دي، ځینې خلک د مذهب څخه اوښتي او په ظاهري شیانو یې ځانونه مصروف کړي دي. دا ډول افکار ددي سبب ګرځېدلي دي چې یوه طبقه خلک یي د بلې طبقې څخه جلا کړي دي. د زابلي له نظره دا ډول افکار افغاني منشأ نه لري بلکه په وروسته پاتې هېوادو کې د بهرنیانو له خوا په یوه نامریي او غیر محسوس توګه خپرېږي متاسفانه دغه د دا ډول افکارو د هضم وړتیا نه لري.

د زابلي دغه ډول افکار د تجارتي سرمایدارانو او د حاکمي سیاسي طبقې د قدرت د ټینګښت لپاره مرسته کوله. دي وایي:

« ځوانان باید وپوهېږي چې اوس د ایدیولوژي او د طبقاتي مبارزې لپاره شرایط مساعد نه دي. دوي اول باید خپل هېواد ته نجات ورکړي دوي مجبور دي چې د مقدسو ملي افکارو تر بیرغ لاندې سره ټول سي»(۲)

ښاغلي زابلي په دغه مقاله کې له یوې خوا د اقتصادي بحران څخه څرګندونې کوي خو له بلې خوا د نوموړي بحران علتونه شرح کوي او بالاخره ددغه بحران څخه د وتلو لارې چارې هم په ډېر مهارت سره د حاکمه طبقې سره د سازش له لارې او د خصوصي شرکتونو سره د سازش له لاري او د خصوصي شرکتونو د اغیزمن رول په وسیله بیانوي. لیکوال د یوه شدید اقتصادي بحران چې د ۱۳۲۰ کلونو څخه وروسته رامنځته سوي وو اعتراف کوي او په زیرکي سره هڅه کوي داسې وښیي چې دا اقتصادي بحران د یوه تصادف نتیجه نه ده بلکې د پېړیو پېړیو وروسته پاتې والي محصول دي.

ښاغلي زابلي همدارنګه له یوه خوا د خصوصي شرکتونو پر اغېزه منسوب او خصوصي انفرادي سرمایه ګذاریو په دفاع کې د ربړي خو له بلې خوا مشکلاتو د حل لپاره او چاره په ملي غورځنګ له

خپل ځان څخه تېرېدنه د حاکمه طبقې او منورینو د اعمالو او افکارو په یووالي کې ښیي.

د یو منل سوي اصل دي چې هره پدیده، هر نظام خپل مثبت او منفي اړخونه لري. د یو ټولنیز او اقتصادي حالت څخه د بل حالت ته تېرېدنه د مخکني حالت مثبت شیان ساتل کېږي نوره وده ورکول کېږي او زیاتې بریاوې پر ورزیاتوي، او ټول منفي شیان د پخواني حالت پرېږدي او دهغو د له منځه وړلو لپاره پرله پسې مبارزه کېږي. ما هغه وخت چې د « ویښ ځلمیانو» غورځنګ رامنځته کېدلو خراب اقتصادي حالت او نورې ناخوالي یادي کړې. د شاعر په قول :« عیب اش جمله بگفتي، هنرش را نیز بگو» اوس به هغه اقتصادي پروژې چې په هغه وخت کې د دولت له خوا اقتصادي پرمختګ لپآره عملاً جوړې او عملي سوي دي، یادي کړو.

په کال ۱۳۳۱المریز (۱۹۵۲میلادي) کې د دموکراسي د ښه پیاده کولو لپاره د ملي شورا د وکیلانو د ټاکنو اصولنامه نافذه، کړه. همدارنګه په ملل متحد او دهغه په اختصاصي سازمانو کې افغانستان خپل غړیتوب ترلاسه کړلو او د بشر حقوقو نړیوالې اعلامیې و ارزښتونو ته یې د صحت ټکي کېښود او په دې ډول سردار شاه محمد خان د دموکراسي د پلار لقب وګټلو، ددغو کارو په څنګ کې د غلو او دانو دا ماده کولو لپاره یې د تعارفي دیپو ریاست تاسیس کړ، د صنایعو د ښه تشویق لپاره اصولنامه جوړه او حمل او نقل عمومي شرکت تاسیس سو. د اقتصاد په څانګه کې یو شمېر ځوانان د لوړو زده کړو دپاره اروپا او امریکا ته واستول شول په ګمرکي محصولاتو باندې د غیر قانوني د اعانې بندیزونه له منځه یوړل د پطرولو د تفحصاتو اداري په فعالیت پېل وکړ، د هلمند د اوبو لګولو پر پروژې باندې کار له پخوا څخه زیات پېل شو. د پارلماني مبارزو او ملي دموکراتیکو د غورځنګونو د را څرګندیدو لپاره شرایط اماده سول په دغه وخت کې قبیلوي او فیودالي شرایط د ملي سرمایداري د پرمختګ یوازینې خنډ ګڼل کېدلو.

که څه هم د هېواد د کمزوري ملي صنايعو د ټولنې د ۱۵ سلنه اړتياوې نه سواي پوره کولاي د هېواد د برېښنا شبکو ظرفيت له ۲۲ زرو کيلواټو څخه نه زياتېدلو. د ډبرو سکرو له ۲۰ زره ټنو څخه زيات نه استخراجيدلای. د بهرني پانګې د نفوذ او د خارجي نويو او زړو کاليو د بې قيد او شرط را واردول د لاسي صنايعو او نورو کسبو خاوندان له ماتې سره مخامخ کړل او طبيعي اقتصاد په ځينو برخو کې له منځه ولاړ د لاسي صنايعو ډېر کارګران، کم ځمکې او بې ځمکې بزګران ټول د ښارونو او صناعتي ځايو په لوري را کډه شول يا مهاجر شول. د ښارونو او د کابل ښار اکثريت ښه باغونه او حاصليزې ځمکې د اشرافو فيودالانو او د سرمايي خاوندانو او بيرو کراتانو په لاس کې ولويدلې. د ارتزاقي موادو قيمتونه لوړ سول د زراعتي توليداتو د محصول سطح ټيټه وه، د هېواد ښځې له ټولو انساني او بشري حقوقو څخه محرومې وې.

د افغانستان خلک له ستنې څخه نيولي تر کفن پورې هر څه ته اړ وو چې له بهر څخه يې را وارد کړي او ددغو ټولو ضروري شيانو ۹۰ په سلو کې له بهر څخه واردېدل. ددغو ټولو تضادونو اوناخوالو په نتيجه کې بېلا بېل تضادونه رامنځته شول : د خلکو تضاد د سرمايداري سره، د بزګرانو تضاد له فيودالانو سره د خلکو تضاد له فاسدو بيروکراتانو سره. ددغو ټولو تضادونو پر بنسټ د ملي شورا د اوومې دورې او دموکراتيک غورځنګ د محصلانو د دموکراتيک حرکتونه ، د ويښ ځلميانو ملي او دموکراتيک غورځنګ، د وطن او خلق سياسي حرکتونه په هېواد کې را زرغونه سول. د ملي او ټولنيزو مبارزو شدت ددې سبب سول چې په هېواد کې د بېلا بېلو حقوقو او سياسي عقايدو او نظرياتو د رامنځته کېدو او د ملي افکارو د بيدار کېدلو سبب ورګرځېدلو، چې له دغه څخه وروسته د هېواد د اقتصادي او فرهنګي ودې لپاره د عمده او اساسي پوښتنې په توګه په ټولو مترقي او محافظه کارو فيودالانو او حاکمه سياسي طبقې سره مطرح سوه.

ښاغلي دستګير پنجشيري دد غسې وضعې په اړه ليکي:

« کله چې په کال ۱۳۳۲ المريز کې داود خان صدراعظم سو په دغه وخت کې د سرمايداري دودي لپاره ملي او نړيوال شرايط د بل هر وخت څخه ښه برابر سوي وو. ټولنه عمدتاً په دوو طبقو فيودالانو او بزګرانو باندې وېشل شوي وه. د دولت اجراييوي، قضايي او ديپلوماتيکي قواوي د دربار او فيودالي اشرافو په انحصار کې وې».(۱)

نوموړي د بېلګې په توګه ځيني ارقام يادوي:

« د ۲۱ تنو وزير مختار او په بهر کې هستوګن قونسلونه ۱۴ تنه يې په اشرافي کورنيو او نږدې خپلوانو پورې تړاو درلودلو»،(۲)

افغانستان په زراعتي لحاظ ډېر بد شرايط لرلو، کرهڼه په عنعنوي بڼه دوام لرلو، د اوبو لګولو عصري سيستم وجود نه درلود او وروسته پاتې عنعنوي زراعتي سيستم له امله د هېواد دوه برخې مځکې لامزروع پاتې وې، څو سره ددې هم په ځينو برخو کې د کار کيفيت او کميت ښه وو لکه د شکري په برخه کې کلني توليد تر شپيته زره ټنو پورې رسيدلو د هېواد ټولو صادراتو څخه ۳۰ تر ۳۵ په سلو کې يوازې وچه او تازه ميوه جوړوله د غاليو اوبدلو په برخه کې د وړيو کلني توليد زرو ټنو ته رسيدلو.(۳)

په دغه وخت کې تقريباً يو ميليون قره قل پسونه روزل کېدل، د هېواد د ټولو ځارويو څخه په کال کې دريمه برخه د ناروغيو له امله مړه کېدل. د هېواد په سلو کې ۷۰ ملي عوايد د کرهنيزو توليداتو څخه لاسته راتلل ماشيني صنايعو خپل لومړنې مراحل ترسره کول و محلي

---

۱. غلام دستګير پنجشيري، ظهور و زوال حزب دموکراتيک خلق افغانستان، چاپ اول، پشاور، ۱۳۷۷، ص ۱۰۸، ۱۰۹.

۲. پورتني اثر، پورتني مخ

۳. نوموړي اثر، نوموړي مخ

بازار ته د تجارتي اموالو د انتقال ترانسپورت د مواصلاتي لارو د نشتوالي او با خرابوالي له امله ډېر خراب او بد حالت لرلو.
او اکثراً د حېواناتو په وسیله ترسره کېدل. مالي او حسابي حالت ډېر خراب او د ژورو اصلاحاتو غوښتونکي وو. د ملي اقتصاد د ودې لپاره هم د علمأ تنظیم سوي نقشي له مخي نه وو پلان شوي. د ډېرو سکرو استخراجېدل په ډېره ابتدایي تخنیک سره عملي کېدلو. د کارګرانو لپاره د بې خطره فني تخنیک او د هغوي لپاره د کار خوندي شرایط نه وو برابر او د طبیعي منابعو د کندلو او استخراج لپاره داسې ګټور اقدام نه وو ترسره سوي.
د بریښنا انرژۍ د نفوس د حداقل اړتیاو ته ځواب نه سو ویلای. مصارف په ډېره ټېټه او ابتدایي کچه او وروسته پاتې حالت کې قرار لرلو په ټول هېواد کې د لیسو او منځنیو ښوونځیو شمیر تقریباً یوویشت بابو ته رسیدلو او د ټول هېواد د ثانوي ښوونځیو د شاګردانو شمېر اتلس زرو ته رسیدلو چې د هغو له ډلې څخه لس زره تنه شاګردان د کابل په لیسو کې په تعلیم بوخت وو. همدارنګه د افغانستان په ټولو ابتدایي ښوونځیو کې نه اویا زره اته سو دري اتیا (۷۹۸۸۳) تنو شاګردان په تعلیم بوخت وو. (۳) د کوچیانو او قبایلو د سرګردانو کورنیو لپاره یوازې یو سیار ښوونځي وجود لرلو. د سردار محمد داودخان د صدارت دورې په پېل کې د لیلیه زده کوونکو شمېر (۲۲۵۴) تنه وو. د ټولو ابتدایي او ثانوي ښوونځیو د ښوونکو شمېر (د ښځینه او نارینه) تقریباً شپږ سوه (۶۰۰) تنو ته رسیدلو.
د سردار محمد داود خان په دغه لس کلنه دوره کې د حکومت مخالفین سخت وټکول سول. د سیاسي فعالیتونو غیر قانوني وګڼل سول غیر حکومتي جریدي بندې سوي. دولتي مطبوعات په شدت سره سانسوریدل، په عمومي توګه یوه اختناق آوره فضا وه. د داود خان د دغسې سیاسي فضا په موجودیت کې په پراخو مالي اقتصادي او اداري اصلاحاتو لاس پورې کړ.

په دغه دوره کې حکومت د پانګو اساسنامه جوړه کړه. د پانګوالو صلاحيتونه يې مهار کړل، په عايداتو باندې د مالياتو قانون جوړ کړ. د هېواد اقتصادي او ټولنيز عمومي پلان دپاره يې موثر تدابير ونيول. د مالي او حسابي کدرونو روزنې ته يې زياته پاملرنه واړوله. د ترانسپورت او مواصلاتي خطوطو د وضعې د ښه والي لپاره، د مخابراتو او نويو قوانينو د طرح او تقويت لپاره مقدماتي څېړنې پيل سوې.

صناعتي بانک، کليوالي صنايع، پښتني تجارتي بانک، د لاسي صنايعو تجارت او داسې نورو کارونه ترسره سول او د کرهنې او تعميراتي بانک د جوړېدو چارې په پراخه پيمانه پيل شوې. په کابل او کندهار کې د ميوو د صادرولو شرکتونه تاسيس شول د حمل او نقل د پروسې د چټکتيا او د سوداګرۍ د اسانتيا لپاره د بارچالاني شرکت تاسيس شو. ملي مطبعې په کار پيل وکولو ، لنډه دا چې د داود خان په لس کلنه دوره کې تقريباً يو سلو پنځه اتيا ( ۱۸۵) موسسې او پانګوالي ټولنې او نولس سوه (۱۹۰۰) سوداګرو د تجارت په بېلا بېلو ساحو کې مصروف وو. د صادراتو او وارداتو او ترانسپورت په برخو کې نوموړي سوداګر، مشغول وو. د اريانا افغان هوايي شرکت، زيمنس صنعتي شرکت، د فرانکلن مطبعه د انديسمار کمپنې، د شاکرد چينې جوړولو فابريکه دا ټول دهغو شرکتو څخه ګڼل کېدل چې په مستقل يا مختلط شکل يې د سوداګرۍ په بېلا بېلو ساحو کې په فعاليتونو پيل کړي وو.

د سردار محمد داود خان اقتصادي سياست د کورني او بهرني سرمايه ګذاريو په برخه کې ډېر ملي او مترقي خصلت لرلو. دخصوصي سکتور په برخه کې سرمايه ګذاري د حکومت تر مستقيمي لارښووني لاندې صورت وموندلو. سوداګرو تر هغه ځايه ازادي لرله چې د دوي تشبشاتو د هېواد د پرمختيايي پلان سره سمون لرلو. په دغه وخت کې د دولت اقتصادي حالت ډېره وده وکړه. افغانستان ته بهرني اقتصادي او تخنيکي مرستې را جلب شوې. د

هېواد د اقتصادي انکشافي پلانونه تطبيق او د ملل متحد تخنيکي مرستې را جلب شوي.

د هغه وخت د اقتصادي شرايطو د تحليل په برخه کې د نتيجې په توګه ويلای شو چې په اقتصادي برخه کې د سردار شاه محمود خان حکومت او د پخواني حکومت سردار محمد هاشم خان تر منځ کوم کيفي توپير نه لرلو که څه هم دغه نوي حکومت هڅه کوله چې په شرکتونو يو ځای سوي تجارتي سرمايې محدودې کړي او لومړی ګام يې دا وو چې يوه ملي تجارتي ديپو چې په کال (۱۴۴۲) ۱۳۲۲را منځته کړي وه په يوازيتوب سره يې د توليداتو د رانيولو او د پيرودلو صلاحيت درلودلو. وروسته بيا و دغې ته د ځينو شرکتونو د انحصار حق ورکړل سو. دمثال په توګه په کال ۱۹۵۱ميلادي کې د قره قل او پستې د انحصار حق و همدغسې ديپو ته ورکړل سو. همدارنګه د فابريکو قانون چې په ۱۹۴۴څخه تر ۱۹۵۰ کلونو په جهان کې د دولت له خوا منځته راغلي وو او په هغه کې د شخصي سرمايې دپاره لوي لوي محدوديتونه وضع کړل سوي وو هغه په ديپو پورې وتړل سول. خو بيا يې هم ونه شوای کولای چې د لويو شرکتونو د انحصار قدرت بيخي له منځه يوسي.

په همدې ډول د خلکو د ژوند د ښه کولو لپاره ځينې اقدامات وسول لکه په بيه د غنمو جبري اخېستل او ځينو نورو شيانو رانيول چې زيات تضادونه يې رامنځته کړل. همدارنګه د نوي مالياتي سيستم پلان په پارلمان کې د فيودال خانانو او تجارتي سرمايدارانو د نمايندګانو د ويتو (Vito) په وسيله رد سوه. او هم يې د داخلي بودجې د زياتوالي اود خارجي سوداګري د کمښت پر اساس د شاه محمد خان حکومت مجبور سو تر څو د بهرنيو پانګو لپاره په خپل هېواد کې د سرمايه ګذاري شرايط تيار کړي. په دې ډول خارجي انحصاري کمپنيو وکولای سوای چې د افغانستان د ضعيفي اقتصادي وضعې څخه په خپله ګټه استفاده وکړي. چې دهغه ډېر ښه مثال د امريکايي، سويسي کمپنې چې موريسن کنوتسن نومېده

دغې کمپنۍ چې په کال ۱۹۴۶ميلادي کال يې د هغې پروژې ته، دوام ورکړلو چې د دوهمې نړيوالې جګړې څخه پخوا پېل شوي و، دغه پروژه د هلمند او ارغنداب د سيندونو څخه د يوې لويې د اوبو لګولو زراعتي پروژه وه. همدارنګه نوموړي کمپنۍ د کانونو پيدا کول د سړکونو جوړول او د افغاني کورونيو روزل هم کول. څرنګه چې د هلمند او ارغنداب د اوبو لګولو د پروژې تخمين شوي مصارفو څخه بشپړه نه کړ له نو د پروژې د بشپړېدو لپاره نورو پيسو ته اړتيا پيدا سوه او په دې توګه يې د پروژې وورستي تمام شد بيه دوچنده له بيې څخه ډېره زياته شو.

نو دولت مجبور سو چې خارجي پورته ته لاس واچوي. د همدې هدف لپاره يې د امريکا د صادراتو او وارداتو له بانک څخه د پور غوښتنه وکړه او په همدې ډول يې دهغه وخت غربي المان څخه هم د پور غوښتنه وکړه دغه شيان ددې سبب شول چې افغانستان د نورو اقتصادي ستونزو تر څنګ دخارجي هېواد و پور هم پر زيات سو.

## دريم ټولنيز شرايط:

لکه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه چې د دوهمې نړيوالې جګړې څخه وروسته پر ټول جهان منفي اغيزې پرې ايښې وې هغه اقتصادي بحران چې د نوموړې جګړې څخه‌را پيدا سوي وو دهېواد داخلي بازارو ته يې ډېر زيان رسولي وو او ډېر زيات يې له رکود سره مخامخ کړي وو او د فردي او کورني استبداد ددې سبب سو چې محروم اقشار او طبقات خپل د اعتراض غږ پورته نشي کړاي چې په نتيجه کې د ټولنيزو بې عدالتيو لمن لا ډېره کړه.

د ټولنې بېلا بېل طبقات په يوه شديد تضاد کې ژوند کولو. هغه تضادونه چې د بزګرانو او فيودالانو، د کارګرانو او اهل کسبه اودنوي تشکيل سوي بورژوازي کمپرادور او سوداګرو ترمنځ وجود لرلو او دا ټول ددې سبب شول چې ټولنيزه شيرازه يې له منځه يوړوله. دغې ټولنيزې

وضعي ټولنې روشنفکره افرادو عکس العمل ته هڅول. دغه عکس العمل د ګوند او سیاسي ټولنو د تشکیل ضرورت رامنځته کړلو په دغې ټولنیز حالت کې چې ټولنیز تضادونه مخ په زیاتېدو او تشدیدو وو.

د افغانستان په ټولنیز ترکیب کې مځکه وال، بزګران، سرمایداران، کارګران او اهل کسبه، منځني شهري افراد، روحانیون او روشنفکران وجود لرلو، په نوموړي وخت کې یعنې د دوهمې نړیوالې جکړې په وخت کې په افغانستان کې فیودالي او نیمه فیودالي مناسبات حاکم وو که څه هم ځینې بورژوازي مناسبات په ښارو کې په زرغونیدو وو خو مسلط نظام هماغه فیودالي نظام وو.

د افغانستان اکثریت نفوس په کرهڼه بوخت وو چې له هغې ډلې څخه تقریباً اتیا په سلو کې (۸۰٪) په ساکن او کلیوالي شکل په کرهڼه مصروف وو او شل په سلو کې (۲۰٪) په څرځایو کې په مالداري بوخت وو. په نوموړي وخت کې دافغانستان د ټولنې ټولنیز طبقات عمدتاً بزګران او مځکه وال تشکیلولو.

د یوه عمومي تحلیل په ترڅ کې ویلاي سو چې د افغانستان اکثریت ټولنې په کوچنیو متجانسو نسبتاً مساوي ټولنو کې ژوند کولو.

خو ځینې خلک په داسې کوچنیو ټولنو کې ژوند کولو چې دهغوي طبقاتي اختلاف څرګند وو لکه د هزاره، نورستان او بلوڅو وړي ټولنې.

د پورتنې خبرې څخه مقصد، چې په نسبتاً مساوي ټولنو کې یې ژوند کولو، دا نه دي چې وویل سي چې په افغانستان کې ټولې ډلې مالکان، بزګران، همسایګان، سوداګر او نور ټول په یوه مساوي کچه کې قرار لرلو بلکې، طبقاتي توپیر او د جنس، حرفي، اقتصادي او ټولنیز موقف او نابرابري په څرګند ډول وجود لرلو، خو په دغه ټکي باید تاکید وسي هغه دادي چې په افغانستان کې د مالکانو ډېره برخه خرده ملاکان تشکیلوي اودا حقیقت ددغه هېواد و ټولو کوچنیو ټولنو ته د بزګري خصوصیت ورکاوه او خلک یې په عمومي صورت

په يوه ټاکلي ځاي کې ژوند کولو او د هغوي ملکيت ټاکلي او تقسيم وو.

له دغو کلياتو څخه مقصد دا نه دي چې په نويو ټولنو کې افراد په اقتصادي لحاظ سره مساوي وو بلکې مقصد دادي چې افراد په عين ټولنيزې طبقې کې همپايه دي او طبقاتي توپير يې ډېر شديد نه وو. د افغانستان په کوچني زراعتي ټولنه کې په ځمکه باندې ملکيت تر ډېره حده د افرادو د کورنيو او طايفو موقف ټاکلو. څرنګه چې په افغانستان کې ځمکه د لويد يځو ټولو هېوادو پرتله په نسبتاً مساوي ډول ويشل شوي وو. دا کار ددې سبب شوي وو چې د افغانستان کوچني متجانس ټولنې نسبتاً مساوي وي. دا چې ډېر مالکان کم ځمکه وال وو او په دغه هېواد کې د پراخو ملکيتونو پر ځمکه ولاړه ارستوکراسي وده ونه کړله ځينې دلايل اوعلتونه وجود لري:

لومړي: د اسلام دين د شرعي احکامو سره سم د ځمکې ويش د وارثينو په منځ کې صورت وموندلو دا کار ددې سبب شوي چې ځمکه له درې نسله څخه وروسته قطعه قطعه سي.

دوهم دا چې: تردې لا ددې مهمې خبرې يادول ضروري ده چې د افغانستان په ځينو سيمو کې ځمکې د کورنيو او خپلو ترمنځ په مساوي ډول ويشل شوي وه، د مثال په توګه شايد دکندهار دوه ثلثه ځمکي (له قلات څخه تر هرات پورې) د ټول په اقطاع يا فيف (Fief) په توګه د دراني طايفو په منځ کې دامتياز په توګه په هغه ځاي کې د مسکن کېدو په وخت کې پرې وېشل شوي وي. په بله وينا په کندهار کې د ځمکو ډېره برخه د کورنيو پر اساس وېشل شوي دي. په داسې حال کې د ځمکو پاتې برخې د پخوانيو خاوندانو په لاس کې پاتې سوي.

او د هغو زياته برخه د خالصه ځمکو يا سرکاري ځمکو په توګه بدلي سوي البته د (۱۹) نولسمې پيړۍ تر وروستيو پورې په کندهار کې لوي ځمکه وال را پيدا سول، خو سره ددې هم اکثريت ځمکې بيا هم د کوچنيو مالکانو په لاس کې وي.

یو بل علت چې د پراخو ملکیتو د را پیدا کېدو سبب سو هغه د سوداګري نه پراختیا مخصوصاً دخارجي تجارت وو. ددې دلیل دادي چې د هند د تجارت انحراف د اروپا په لوري وو. دا یو لوي اوعمده مانع وو چې د خارجي تجارت د پرمختګ په برخه کې، ددغه تجارتي انحراف یعني له هغه وخته را پیل سو چې انګریزان و ډهلي ته راورسیدل او د شرقي هند شرکت د ځینو اقلامو انحصار عملاً په لاس کې واخیست د وریښمو لویه لاره چې له افغانستان څخه تېریدله له دې وروسته د سوداګري لویه لاره نه وه.

دغو ټولو عواملو په اقتصادي ساحه کې د سرمایې دتمرکز لوي خنډ وو او پر ځمکه باندې یې فشار زیاتولو.

د حاکمه سیاسي کورنیو بدلونو او دومداراه داخلي جنګونو رامنځته کېدل چې معمولاً د حکمرانانو د مرګ څخه وروسته صورت نیولو دا هم د پراخو ثروتو د تشکیل خنډ شولو. یو بل اضافي عامل د امیر عبدالرحمن خان د سلطنت په وخت کې د پراخو ملکیتو مصادره او دهغوي وېشل په بې ځمکو خلکو باندې وو. شاید د همدغو عواملو د اغېزو له امله وو چې په افغانستان کې پر ځمکه ولاړه مستقله ارستوکراسي منځته نه ده راغلي په افغانستان کې د خورده ملاکي او منځنیو ملکیتو سیاسي اغیزې پوره واضح وي. د مثال په توګه د لویي دوپري دا خبرې:

« ... عبدالرحمن خان شخصاً خپله دنده داسې بیانوي: لازمه ده چې په سلګونو محلي قدرتونه او محلي زمامداران او قطاألطریق تر نظم لاندې راسي. دا وظیفه دا ایجابوي چې فیودالیزم، قبیلوي سیستم او د یوې داسې ټولنې منځته راوړل چې تر قانون او نظم لاندې وي ... د هر عمده اغتشاش پسې عمومي کشتار او تبعیدونه واقع کېدل».(۱)

همدارنګه یو بل ټولنیز واقعیت چې باید هغه زیاد کړو دادي چې د مځکې والو او بزګرانو ترمنځ اختلافات چې دوي دهغه په نسبت یو له بل

---

۱ـ لویس دوپري، امیر عبدالرحمن خان و شروع افغانستان جدید ، پشاور، فصل ۱۸، ۱۹۹۵م، ۴۱۷.

سره بیګانه وي، دومره فاحش نه وو. دغه وضع برخلاف د فارس د حالت ښخه دی. یعنی په فارس کې ملاک دیوي طبقي په حیث او بزګر ترمنځ ژور درز وجود لرلو. په افغانستان کې بزګر او مزدور توپیر لري.

بزګر د مزدور په حیث نه شمېرل کېږي، د بزګر وظیفه یوازې داده چې پر ځمکه کار وکړي او خپل د ځمکې خاوند ته له همدي لارې ګټه ورسوي. په هندوستان کې هم د بزګر وضع د افغانستان دوضعي خلاف ده. په هندوستانکې د کاست (Cast) سیستم قبلول د ټولنې د بنسټ په توګه دا پایله لرلي چې ټولنه په څلورو یا پنځو ټولنیزو طبقو وویشي.

په افغانستان کې د نولسمې (۱۹) پیړۍ په پای کې درې ډوله عمده اشکال د ځمکې لیدل کېدل.

لومړي: ځمکه د شخصي ملکیت په حیث چې په دغه کتګورۍ کې پراخ ملکیتونه او لږ ملکیتونه شامل وو.

دوهم: دا چې بل ډول ملکیت د لومړي ملکیت په څېر هغه وو چې دولت یوه ټوټه ځمکه د عسکري خدمت یا د معاش په حیث و انفرادي اشخاصو ته بخشش کوله دا ډول اشخاص معمولاً د دربار اهل لوي کار داران او خوانین وو. دا ډول امتیازات په دوو ساحو کې عمدتاً لیدل کېدل:

یو ـ د دولتي څوکیو امتیاز – چې مستقیماً یو سیاسي امتیاز دي.

بل ـ دشخصي مادي امتیاز –چې د مالیاتو او ځمکو د وېش په ساحه کې رامنځته کېدلو، و کوم ټکي چې باید ورته اشاره وشي هغه داده چې دا د ټول افغانستان عمومي ټولنیز جوړښت وو چې ورته لنډه اشاره وسوه، خود افغانستان په ځینو سیمو کې ځینې استثنایي حالت هم وجود لرلو چې د هغو یادول هم ضروري ده:

یو شمېر لوي ځمکه وال وو چې خپل ځمکې یې و بزګر ته د کمښت لپاره ورکولي. بزګر معمولاً په افغانستان کې ازادي لرله او په ځمکي پورې تړلي نه وو کوم چې د غرب په فیودالي سیستم کې په تیوري کې آزاد

کشتګر وو چې له ځمکې والو سره يې د بزګرۍ اړيکې تاسيسولې مګر په واقعيت کې هغوي دې ته حاضر نه وو چې د ملاک پيشنهاد د ځمکې د کمښت لپاره رد کړي. مګر په ځينو ځايو کې د بزګرانو وضع د اروپا د منځنيو پيړيو د سرف (Serf) په څېر وه، په افغانستان کې د ځمکې په ارتباط درې ډوله اړيکې ليدل کېږي: لومړي – ملکيت دوهم – بزګري ( د ځمکې په حلاصلاتو کې د بزګر برخه او دريېم – په اجوره يا مزدورکاري د ځمکې کرل.

بزګري نسبتاً په هوارو سيمو کې رواج لرلو چې د پراخو ځمکو ملکيتونه هلته وجود لرلو. په دغو برخو کې بزګرانو دنورو سيمو په نسبت کم ازاد وو. علت يې داو چې ددغو سيمو ځمکه وال د ځمکې د ملکيت څخه پرته نور شيان هم لکه ژرنده، د زراعت وسايل، باور ورنکي ښاروي هم په خپل واک کې لرل. دغې وضعې د زميندارانو ته دا موقع په لاس ورکوله چې په بزګرانو باندې هميشه فشار وارد کړي او ډېر سخت او ټينګ د سپلين پر هغوي تحميل کړي. دهغوي د ټولنې ټولنيز نظم د دموکراتيکو ټولنو د ټولنيز نظم په نسبت ډېر ټينګ او د سلسله مراتب او د درجو لرونکي وو. سربېره پر هغه دا ډول ځمکه وال چې منځنۍ مسايل چې د افرادو ترمنځ په خپله حل او فصل کړي بې له دې چې جرګې ته راجع شي دليل يې دا وو چې نوموړي ځمکې وال مسلح افراد لرل او خپل قدرت يې او خپله فيصله يې د مسلحو نوکرانو په وسيله تحميل کوله د سيستان بلوڅ خانان اود دايزنګي هزاره ميران د دا ډول ځمکه والو ډېر ښه او څرګند مثالونه دي.

بزګري په زراعتي حاصلاتو کې د برخې په مفهوم په ځينو دريا بې درو او په ځينو اوارو سيمو کې ليدل کېدل. په شرقي افغانستان کې او هم په جنوبي سيمو کې په زراعتي حاصلاتو کې برخه وال بزګر او په غربي افغانستان کې د کشتمند په نامه يادېدل.

په افغانستان کې د نورو هېوادو په څېر بزګران د ځمکې د توليد ډېره برخه د مسلطي سياسي او اقتصادي ډلې ته لېږدولو. په دې توګه دغې ډلې هم خپلې اړتياوې پرې پوره کولې او هم يې د هغه يوه برخه د

ټولنې و نورو ډلو ته بخشش کولي. چې خپله په تولیدي کار کې نه وو بوخت، لکه روحانیون، خانان او ملاکان.

ددې حالت په نظر کې نیولو سره د هیواد اکثریت خلک یعني بزرګران، شپانه اوحرفي والا د هر وخت په څېر دمالیاتو فشار لاندې وو دا فشار د دولت د غلو دانو د حواله جاتو، فیودالانو، اربابانو، مستاجرانو او تحصیلدارانو له خوا پر دوي باندې نازل وو. ټولو لویو دولتي مامورینو خپل ټول مایحتاج د حواله خریداري په نامه په ډېره کمه بیه جبراً له دغو محرومو خلکو څخه اخیستلو ملاک د بزګر څخه حداعظمي ګټه اخیستله دولت د فیودالانو او د ځمکې دتمامیت څخه دفاع حال کې چې د استقلال په وخت کې د همدغو بزګرانو او د ټولنې د محرومو اقشارو په غاړه وه، په عادي حالت کې یې خپل اولاد د عسکري خدمت لپاره حاضرول او دجنګ اودفاع په وخت کې خپله شخصاً تر ټوپک لاندې دریدي.

## الف: د ویښ ځلمیانو ټولنیز او طبقاتي ترکیب:

د اقتصاد وزیر عبدالمجید خان زابلي هغه هڅي چې افغاني روشنفکرانو ته یې سیاسي سازمان ورکړي په عمل کې داسې نتیجه ورکړه چې یو داسې حرکت رامنځته کړلو چې په دولت پورې مربوط نه ګڼل کېده د ویښ ځلمیانو د سازمان تاسیس (۱۹۴۷میلادي) — ۱۳۲۶المریز په داسې وخت کې کېږي چې عبدالروف بینوا، الفت او نور سره را یو ځاي سول او نوموړي سازمان یې تاسیس کړلو ( دا د هندوستان د ازادي نېټه ده).

ددغه سازمان لومړي غونډه په دارالامان کې د تره کي په کور کې جوړه سوه نور محمد تره کي په دغه وخت کې له زابلي سره د ناظر په توګه کار کولو د زابلي په یوه کور کې اوسیده دغه غونډه په کال ۱۳۲۶المریز د ثور په میاشت کې په داسې وخت کې جوړه سوه چې د ګډون کوونکو شمېر یې د ېرش تنو ته رسېدلو.

دوهمه غونډه د مير محمد صديق فرهنګ په کور کې جوړه شوه چې فرهنګ اوغبار دواړه د دغه ګوند مرامنامه لاسليک کړه او دريمه غونډه په پغمان کې جوړه سوه چې د غلام حسن خان صافي له خوا د هغه په کور کې ترسره شوه. په دغه غونډه کې يو شمېر کسانو لکه مير غلام محمد غبار او مير محمد صديق فرهنګ په کې ګډون ونه کړلو.

دوي په دې نسبت په دې غونډه کې ګډون ونه کړلو چې ښاغلي فرهنګ ويل چې د ويښ ځلميانو غورځنګ يو فاشيستي غورځنګ چې يوازې اکثريت پښتانه په کې را يو ځاي شوي دي. قوم پرستي او فاشيسم دوه بېلا بېل شيان دي. فاشيسم يو خاصه سياسي مفکوره ده خو متأسفانه د فرهنګ په څېر ډير داسې کسان ددغو دوو حالتو په توپير نه پوهېږي. همدارنګه د ښاغلي عبدالحي حبيبي او سيد شمس الدين مجروح څخه هم د ګډون غوښتنه شوي وه او غونډې ته رابلل شوي وو خو هغوي رسماً معذرت وغوښتاو دا کار يې د خپلې سويې څخه ښکتنه بللو. په لومړۍ او دوهمې غونډو کې يو شمېر نوروکسانو هم ګډون کړي وو چې په ټولنيز لحاظ په بېلا بېلو ژبو او قومونو پورې يې اړه لرله لکه مير غلام محمد غبار، ډاکټر عبدالرحمن محمودي ، مير محمد صديق فرهنګ او د هزاره مليت څخه مير علي اصغر شعاع او ابوالحسن چې داستاد بينوا ملګري وو او په راډيو کې يې کار کولو ګډون لرلو.(*)

د ويښ ځلميانو ګوند کوم ثابت کرکتر نه لرلو ځکه چې د دغه جريان ګډون کوونکي د بېلا بېلو ټولنيزو افکارو او احساساتو څخه نماينده ګي کوله. ددغه جريان په ترکيب کې له يوې خوا د ټولنې د ښکته ټولنيزو پوړيو او طبقاتو روشنفکران، دموکرات روشنفکران ول او له بلې خوا قبيلوي ارستوکاتانو په کې ګډون لرلو. همدارنګه په دغه سياسي جريان کې ځينې مذهبي کسان او لوړ رتبه دولتي کسان

---

* ـدا جريان ټول محترم ځلمي صاحب راته ويلي دي چې په نوموړي وخت کې يې په مجلس کې ګډون درلود.

هم شامل وو. نومړو دولتي کسانو کوشش کاوه. چې په دغه سياسي جريان کې د دولت د افکارو نماينده ګي تمثيل وکړي چې ښاغلي ارسلان سليمي، غلام حسن خان صافي او استاد عبدالروف بېنوا د دغې ډلې څخه وو.

په نومړي لومړي جلسې کې د غونډې ګډون کوونکو د خپل راتلونکي سازمان د نامه په باب بحث وکړلو د پښتنو څخه ځينو کسانو وويل چې دا سازمان بايد د پښتون پټان په نامه يا د پښتون په نامه ياد شي. له دې څخه دا څرګنديدلو چې دوي لږ د افغانستان د وحدت په باب فکر کولو بر عکس زيات فکر يې د پښتونستان په هکله چې ټولې پښتنی سيمې يې په بر کې نيولې په پام کې لرلي بالاخره د بحثونو څخه وروسته په دې ټکي سره سلا شول چې د ويښ ځمليانو نوم يې پرې کېښود. چې په درې ژبه کې په ( جوانان بيدار) باندې ژباړل کېږي. البته په همدې بحث کې هغه ګروپ کامياب شو کوم چې د غير پښتني کسانو سره يې د اړيکو شليدل نه غوښتل.

« د ويښ ځلميانو» څخه مطلب دنامه ظاهري مانانده بلکه د هغه څخه مطلب دهغو اصلي محتوي يعني هغه سياسي حرکت وو، « د ويښ ځلميانو» په نامه باندې بحثونه په بېلا بېلو اخبارو او مجلو کې نشر سول. له همدې امله ښاغلي استاد عبدالروف بېنوا چې د پښتو ټولنې مشر وو تصميم ونيولو چې يو شمېر مقالې چې په نومړو مجلو او اخبارونو کې خپرې شوي وي، سره را ټولې کړي او په يوه مجموعه کې يې نشر کړي. له دغه حرکت څخه دده هدف دا وو چې له يوې خوا خلک وپوهېږي چې ځوانان کومه روحيه لري او له بلې خوا دا وښيي چې ځوانان په راتلونکي کې دچا په خدمت کې خپله انرژي مصرفه کړي. له همدې امله يې ټول همفکران ده سره راوبلل چې په دغه مورد کې خپل نظريات او مضامين و کابل مجلې ته ولېږدوي.

په عمومي توګه ويلاي سو چې د ويښ ځلميانو ټولنيز او طبقاتي ترکيب نابرابر اوغير متجانس وو په دې مانا چې نومړي ترکيب د بېلا بېلو ټولنيزو طبقاتو او اقشارو څخه جوړ وو. په

نوموړي وخت کې چې نوموړي غورځنګ تشکل اخيستلو، افغاني ټولنې دخپل ټولنيز جوړښت له اړخه دومره روښانه او حاد طبقاتي څيره نه درلوده.

ډېر شمېر ليکوالان او روشنفکران چې په هغه وخت کې په دغه ډول روشنفکران حلقو کې فعاليت کاوه هر وخت يې د دولتي استبداد څخه سرټکاوه او پر ټولنيزو بې عدالتي يې انتقاد کولو دوي ددغو بې عدالتيو عمده او اصلي علتونه نه څېړل بلکې دوي د دا ډول حالت عوامل عمدتاً د اشخاصو په فردي اخلاقو کې پلټلو.

« د ويښ ځلميانو» دکندهار د ډلې يو تن غړي ښاغلي عبدالهادي خان توخي نوموړي غورځنګ يو اخلاقي غورځنګ بولي او داسې وايي:

« د ويښ ځلميانو غورځنګ مخکي له دې څخه چې يو سياسي ګوند وي يو داسي ګوند وو چې ژور بنسټونه يې پر اخلاقي مسايلو ولاړ و له همدې امله وو چې وګوند ته د ټولنې بد اخلاقو او ناسالمو افرادو ته د داخليدو اجازه نه ورکول کېدله».(۱)

لکه چې اشاره وشوه د نوموړي سياسي جريان ټولنيز ترکيب يو شانته نه وو او د ټولنې بېلا بېل ټولنيز اقشار او طبقات پکښي راټول سوي وو او دوي له بېلا بېلو پروګرامونو څخه نماينده ګي کوله.

د مثال په توګه استاد عبدالروف بېنوا په اقتصادي لحاظ د ريفورستيک پروګرام نماينده ګي کوله، ځکه بېنوا په اقتصادي لحاظ او انتقادي برخه کي د منځنيو طبقاتو او اقشارو او زيار ايستونکو د ګټو نماينده ګي کوله او ويل به يې چې ملي شتمنۍ بايد د دولت شمتني او د هغوي د ګټو لپاره په کار واچول شي. همدارنګه قيام الدين (خادم) د مذهبي ګروپ نماينده ګي کوله او خلکو هوسا ينې يې په مذهبي مسايلو کې پلټله.

---

۱.شاه محمود حصين، تاريخ مبارزات ويښ ځلميان، اثر تايپي مونوګراف، پوهنتون کابل، ۱۳۴۷، ص ۳۷.

کله چې استاد بېنوا وغوښتل چې د ويښ ځلميانو نظريات او افکار د ويښ ځلميانو تر عنوان لاندې په يوه مجموعه کې خپاره کړي په دغه مجموعه کې د خپاره شوي مضامينو له محتوي څخه د ويښ ځلميانو د افکارو اختلاف په ښه توګه څرګنديدلو. که څه هم دغه اثر د ويښ ځلميانو د غورځنګ لومړني پروګرام ګڼل کيږي خو له بلې خوا د دوي د افکارو اختلاف هم په کې منعکس شوي دي.

دغه پروګرام که له يوې خوا د ريفورمستانو او محافظه کارانو دګډ سازش محصول دي خو له بلې خوا ليدل کيږي چې د ريفورمستانو افکار په دغه پروګرام کې زيات انعکاس موندلي دي. لکه چې ورته اشاره وشوه له اقتصادي پلوه بېنوا په خپل پروګرام کې د منځنيو اقشارو او خواريکښو انسانانو دګټو نماينده ګي او پلوي کوله. بېنوا په خپل اثر کې دغه دِغ پورته کړ چې ملي شتمنۍ بايد د ملت د سوکالۍ اوهغوي ته د ګټې رسولو لپاره استعمال شي په ايډيالوژيکي برخه کې استاد بېنوا دخلکو د افکارو د روښانه کولو لپاره کار کولو. د مذهب په برخه کې يې هيڅ ډول يادونه نه ده کړي. البته دا خبره د استاد بېنوا د مذهب سره د ضديت نماينده ګي نه کوي او نه دغورځنګ د نظر نماينده ګي کوي په حقيقت کې دا د يو تنقيدي نظر په توګه و هغو فوند مينستال روحانيونو ته متوجه وو، چې هغوي د ځينو مسايلو پر سر ټينګ حساسيت ښکاره کولو لکه د ښځو د حقوقو په برخه کې.

په سياسي لحاظ دغه پروګرام يو محافظه کار پروګرام وو ځکه دغه پروګرام د حکومت او شاهي سيستم او موسسه يي تر سوال لاندې نه وه راوستلي، د ويښ ځلميانو په دغه سازشي پروګرام کې د لومړي ځل لپاره په ويښ ځلميانو کې انشعاب راوستلو. پخوا له دې چې دغه پروګرام عملي شوي واي په دوي کې دا درز را پيدا شو که څه هم استاد بېنوا د ريفورمستانو له خوا د مباحثي لپاره آماده وو خو دده اتنيکي اړيکو د پښتنو دقبيلوي ارستوکراسي سره تړلي وي چې دوي په عنعنوي ډول د دولت سره ولاړ وو او په دغه پروګرام کې د

پښتني روشنفکرانو افکار منعکس کېدل. دغه کسان په پښتو ټولنه کې راټول وو او خپل افکار يې د مضامينو په شکل په کابل مجله کې خپرول.

د ويښ ځلميانو په سياسي پروګرام کې د ټولنې د اقشارو او طبقاتو نماينده ګانو موجوديت لرلو. د طبقاتي تضادونو بېلا بېلو ذهنيتونو او دولتي کسانو د مداخلي او فشارونو له کبله يې مرام ځرنګه چې ښائي د عامه خلکو په ګټه نه شو عملي کولاي او د غړو سياسي پيوستون يې چې د څه مودې لپاره موجود وو هغه کرار کرار له منځه تللو، چې په پاي کې د زيات فشار او سياسي نا ارامیو له کبله خپله ښېنوا د دغه ګوند له غړيتوب څخه استعفا وکړه.(۱)

## ب: د ويښ ځلميانو نړۍ ليد، مرام او غوښتني:

د استاد بېنوا دمقالو د را غونډولو او بيا وروسته خپرولو څخه نتيجه داوه، چې تقريباً د څلور څلويښت په حدودو کې مقالې د بېلا بېلو ليکوالانو له خوا د کابل مجلي اداري ته د خپريدو لپاره وسپارل شوي چې د هغوي له ډلې څخه څلور تنه ښځې ليکوالي او مهم دولتي کسان لکه د اقتصاد وزير زابلي د مطبوعاتو مسؤول صلاح الدين سلجوقي د ښوونې او روزنې وزير او نور شامل وو.

په نوموړو مقالو کې د ليکوالو ايډيالوژيکي موضعګيري له ورايه ځرګندېږي. البته په دغو مقالو کې يوازې نثر نه وو بلکې داسې مقالې هم په کې وي چې په شعري قالب کې يې خپل مطلب افاده کړي وو لکه د عبدالهادي داوي او د خوشحال خان ختک د دستارنامې اشعارو چاپول يادولاي شو.

ددغې مجموعې په سريزه کې کوم چې د ښېنوا اوخادم په قلم ليکل شوي ده په ويښ ځلميانو کې دوه اړخيزه يا دوه ګروپه پروګرام

---

۱ـ جريده ياحق، اجراي کلوپ ملي و چند مطلب ديگر از تاريخ معاصر، حمل، شماره ۴ و ۵، دولتي مطبعه، سال ۱۳۲۴.

څرګندېږي. د لومړي ګروپ نوم ریفورمستان وو او دوي غوښتل چې په ځوانانو کې ملي احساس پیدا کړي او ځوانان و دغه اصل ته متوجه کړي چې خپل حالات او چاپېریال په ښه صورت وپېژني. ددغې مجموعې د خپرولو څخه د بېنوا او د پښتو ټولنې مطلب دا وو چې ځوانانو ته یو داسې سند په لاس کې ورکړي تر څو دوي وکولاي شي د خپلو امیدونه او ارزوګانې په راتلونکي کې منعکس کړي.

استاد بېنوا په خپلو لیکنو او خبرو کې یوازې په پښتنو ځوانانو تکیه کوله. که څه هم په دې بحث کوونکو کې اکثریت پښتانه وو.

د ویښ ځلمیانو د دوهم ګروپ نماینده قیام الدین خادم وو غوښتل یې چې د اصلاحاتو د ښه عملي کولو لپاره و اخلاقي اړخ ته زیاته پاملرنه وکړي او هغو ته ارزښت ورکړي.

دده تعبیر دا وو چې کله روح د اخلاقي فسادو او ګناهونو څخه پاکه سي، بیا نو خداي (ج) خلکو ته مستقیماً او سمه لاره وښیي کومه لاره چې د حق، ازادي، عدل او مساوات لاره ده. په کومه لاره چې زموږ ټولنه د ناپوهې غربت او تفرقي څخه خلاصوي تر څو قومونه او ملتونه رښتیني خوشبختي او نیکمرغي ته ورسېږي نومړي ډله ډېره مذهبي وه.

د نومړې مجموعې مقالې اکثریت د هېواد د داخلي حالت او دخلکو د ژوند په هلکه تحقیقاتي مقالې وې او زیاتره په دغو مقالو کې دي ټکي ته زیات پام اړول شوی دی چې زموږ خلک د نړۍ د نورو هېوادو په مقایسه ډېر وروسته پاتې هېواد دی چې د علم، تخنیک، صنعت، سوداګري او کرهڼې په برخو کې د ګاونډیو هېوادو سره باید سیالي وکړي. که څه هم دغربي تمدن اثار اوعلایم په ښارونو کې لیدل کېدل یو شمېر کسبه کاران رامنځته کړي وو او ځینې خلکو بیا په تیز رفتاره موټرانو کې سپریدل او اروپایي جامې یې اغوستلې، برخلاف په کلیو او بانډو کې د منځنیو پیړیو حالت جریان درلوده. یو زیات شمېر ځوانانو دولتي څوکي ترلاسه کړې. په نتیجه کې د اکثریت پر ګنو حقوق تر پښو لاندې کېدل، سؤ استفاده به یې کوله رشوتونه به یې خوړل، دروغ به یې ویل او د هېواد د

راتلونکي په باب يې بې تفاوتي اختيار کړي وه او په دولت، خانانو او ملکانو باندې يې تکيه درلوده دغې وضع وينښ ځلميانو دې ته مجبور کړل چې ټول سره يو موټي شي او دغه ناوړه حالت ته بدلون ورکړي.

د هېواد او خلکو د وروسته پاتې کېدو دعلتونو په پلټلو کې ډېرو ليکوالو د ملت مفهوم استعمال کړلو. ډېرو ليکوالو په دې ترڅ کې د خپل ملت مفهوم چې په هغه پورې مربوط وو او پر هغه يې وياړل، استعمال کړ. مثلاً پوهاند صديق الله رښتين دا مفهوم په کار يوړلو رښتين د پښتنو د تاريخي رول چې د جنوبي د جګړې څخه چې د يوناني سکندر په مقابل کې يې کړي وي، د هغو له ياد څخه شروع بيا د ميرويس خان نيکه او د لوي احمد شاه بابا پورې پر هغوي وياړل.
په همدې ډول پوهاند عبدالحي حبيبي هم ورته دلايل وړاندې کوي او بالاخره يې دا پوښتنه مطرح کړي ده چې څرنګه يو ملت چې په سلو کې يې يو تن يې ليک اولوست نه شي کولاي د هغوي نورو ملتونو سره چې د اتوم په پېړۍ کې ژوند کوي، سيالي وکړي. نو په داسې حالاتو کې به دوي څرنګه وکولاي شي چې د مولانا روم اوابوالفتح بستي په اشارو باندې ځانونه پوه کړي؟ که چېرې موجوده حالت خراب او تياره وي نو راتلونکي به څرنګه ښه او روښانه وي؟

سيد شمس الدين مجروح ليکي : « انسان بايد خپل ځان په ورځنۍ جارې ژوند کې وموميږ».

په دې ډول شمس الدين مجروح او عبدالحي حبيبي د شلمې پېړۍ په شرايطو کې يو عنعنوي پروګرام وړاندې کړلو دغه دوه شکلي کرکتر کوم چې د پښتني اتنوسنتريزم پر محور بنا شوي وو ځينو ليکوالو لکه مجروح، همدرد ، الفت، لطيفي، فدايي او نورو په ليکنو کې ښه له ورايه څرګند يدلو.

وينښ ځلميانو داسې فکر کولو چې هر څوک چې په دغه جغرافيايي ساحه کې اوسېږي افغان نوميداي شي. او ټول مساوي حقوق لري، ځکه د هر مليت اخلاقو د خپلې خاروې د ازادې او پرمختګ لپاره کار کړي زيار يې ګاللي دي.او دا له کوهستان څخه بيا

تر خيبر پورې يو نوم لري. يعنې افغانستان چې ډاکتر عبدالرحمن محمودي، محمدحسين طالب، مير غلام محمد غبار او د کابل مجلې مسؤول يار محمد نظامي ددې ډلې څخه وو.

که څه هم د ويښ ځلميانو د اکثريت غړو په باره کې دا پوښتنه يوه ايډيالوژيکي مساله ده نه يوه اقتصادي مساله لکه چې مجروح وايي:

« زما په فکر زموږ اقتصادي ضعف دومره ډېر نه دي لکه زموږ اخلاقي ضعف. د مادي ژوند په نسبت اخلاقي ژوند ډېرې گټې لري. اخلاق او ښه سلوک د انسانانو په ژوند کې ښه رول لوبوي». (۱)

همدارنگه محمد هاشم مجددي ليکي چې:

« ددغو رنځونو جوړېدل يوازې مذهب ته رجوع کول دي. او د اسلام اساساتو او د اسلام د دين حقايقو مراعات کول ځوانانو ته توصيه کوم». (۲)

ښاغلي فدايي بيا ليکي:

« ځوانان بايد لومړي اصلاحات له خپل ځان څخه پېل کړي، پخوا تردې چې د ملت وضع اصلاح کړي. په همدې اساس دويښ ځلميانو لومړني دنده داده چې د ټول ملت او د ټولو طبقاتو يو موټي کار زموږ د ځوان پاچا تر مشرتابه او اعتماد لاندې او بالاخره د لوي خداي (ج) تر مهرباني لاندې د يوه ملي هدف ترسره کولو لپاره ترسره کړو». (۳)

دلته وينو چې د اقتصادي ريفورمونو څخه هيڅ يادونه نه ده شوي ددغو ټولو ليکوالو عمومي نظر د ويښ ځلميانو په اړه ښاغلي غلام حسن صافي په دې ډول خلاصه کړي دي:

---

۱.سيد شمس الدين مجروح، د ځلميانو حيثيت او وظيفه، کابل مجله، دولتي مطبعه، ۱۳۲۲، مخ ۳۹

۲.محمد هاشم مجددي، ځوانان او د ستونزو حل، کابل مجله، دولتي مطبعه، ۱۳۲۲، مخ ۱۲۵.

۳.نيک محمد فدايي، ويښ ځلميان څوک دي؟، کابل مجله دولتي مطبعه، ۱۳۲۲، مخ ۱۱۴.

« ويښ ځليمان بايد صداقت، اعتماد، صبر او حوصله ولري او شخصي ګټو پسې ونه ګرځي. چاپلوسي او غوړ مالي پرېږدي. دروغ ونه وايي هيچا ته بد الفاظ استعمال نه کړي. مذهب، وطن، ملت او حکومت سره مينه او علاقه ولري. اجتماعي ګټو ته د شخصي ګټو په نسبت برتري ورکړي، حق او قانون ته تن کېږدي. رشوت خور او ظالم نه وي د مقام اوچوکۍ په اختيارولو کې د ولس په خدمت کي وي، نه د پيسو او دولت په فکر او يا چوکۍ ساتلو په فکر کې.

... ددې هدف لپاره د وحدت ټينګول او په ټولنه کې دعدل او مساوات راوستل وي يو ويښ ځلمي چې دا ډول صفات ولري بايد په راسخ او اعتماد سره لاندنې اهداف تعقيب کړي:

- د تعليم په برخه کې د خلکو اذهان روښانه کول
- د رشوت، ظلم او نورو شيانو سره مبارزه کول
- د حقوقو او قوانينو رعايت کول
- د يوه ملي وحدت جوړول د دولتي ارګانو تر سيوري لاندې ).(۱)

دده له نظره که چيرې يو ويښ ځلمي په همدغو موادو عمل وکړي هم په دولت اوهم به روحانيت ورسره مرسته وکړي.

په دې صورت کې د ويښ ځلميانو محافظه کاره ګروپ د شاهي او د دربار له افکارو او نظرياتو څخه فاصله پيدا کړي. لکه په خپل وخت کې د بانک ملي ګروپ د تجارتي سرمايدارانو څخه ځان بيل کړ. په عمومي صورت کولاي سو ووايو چې د ويښ ځلميانو د يوه واحد غورځنګ په صفت په خپل پروګرام کې په عمومي توګه ځان د شاهي د افکارو او د بانک ملي د تجارتي سرمايدارانو څخه ځان بيل نه شواي کړاي. خو دوي وکولاي شواي چې په ډېر مواردو کې نسبتاً ملي او دموکراتيک اهداف

---

۱.غلام حسن صافي، مسؤليت ويښ ځلميان، کابل مجله دولتي مطبعه، ۱۳۲۲، مخ۹۲.

تعاقیب کړي چې ددغو افکارو نماینده ګي عبدالحي حبیبي او استاد رشاد کوله.

په کابل مجله کې د استاد بېنوا د مقالو مجموعه خپره شوه او د لیکوالو د فکر او نظر اختلاف یې له ورایه څرګند شو د بېنوا د مقالې عنوان وو « مونږ ویښ ځلمیان غواړو». په دغه مقاله کې د ویښ ځلمیانو دغورځنګ لومړنی پروګرام نشر شو. که څه هم دغه پروګرام د دواړو اړخو یعني اصلاح غوښتونکو او محافظه کارو د سازش محصول وو. خو سره د هغه هم د اصلاح طلبانو افکار په دې پروګرام کې زیات منعکس شوي دي. همدارنګه د ویښ ځلمیانو نشراتي ارګان ( د انګار جریده) په خپلو بېلا بېلو ګڼو کې د ویښ ځلمیانو اهداف او مرامونه په تیت او پراګنده ډول بیان کړي دي. په دغو ټولو مقالو او تبصرو کې چې د بېلا بېلو لیکوالانو له خوا لیکل شوي وو په اغلب ګومان یې د اکثریتو لیکوالانو شخصي نظریات هم له ځان سره لرل او په عمومي توګه د کلي خطوطو په پام کې نیولو سره ځینې مختلف نظریات یې منعکس کړي دي. او له بلې خوا دا خبره چې انګار په یوه وار د ویښ ځملیانو مرام په بشپړه ډول خپور نه کړ یو دلیل یې هم احتیاط وو چې د لازمي سیاسي هوښیاري څخه نماینده ګي کوي.

سره ددې ټولو اختلافاتو بیا هم ځینو مهمو شخصیتونو د ویښ ځلمیانو مرام په دې ډول ترتیب کړي وو:

۱ـ مشروطیت او دهغه غوښتنه و شاهي مقام ته احترام.
۲ـ د استقلال او د ځمکې د تمامیت څخه دفاع.
۳ـ دهېواد ملي نوامیسو او افتخاراتو احترام.
۴ـ د بیان، عقیدې، ګوندونو او مطبوعاتو د ازادیو تامین.
۵ـ د هېواد د درې ګون قوا و تفکیک.
۶ـ د ملي وحدت تأمین د تبعیض له ډولو سره د مبارزې له لارې.
۷ـ د پښتو د ملي ژبې تقویه او پرمختګ.
۸ـ د پښتونستان د وړونو خلکو له غوښتنو څخه په رښتیني توګه ملاتړ.

۹ـ د ښځو حقوقو تأمین او هغوي ته احترام
۱۰ـ له ظلم، رشوت، قاچاق او نورو ټولنیزو مفاسدو سره مبارزه.
۱۱ـ د اقتصادي اصلاحاتو په حدودو کې د خانخاني امتیازاتو له منځه وړل.
۱۲ـ دعلم او عرفان انکشاف او پراختیا اودجهل او بیسوادي پر خلاف مبارزه.
۱۳ـ د حکومت او ملت ترمنځ د اغېزمنو اړیکو ټېنګول د موثري مفاهمي له لارې.(*)

کله چې د ویښ ځلمیانو موسسه کنګره افتتاح شوه دغه مواد د کنګرې دغړو ته د پیشنهاد په توګه وړاندې شول:

۱ـ دمشروطیت د استحکام په لاره کې مبارزه او د ولت د درې ګونو قواو تفکیک.
۲ـ په هېواد کې د پوهنې تعمیم او دعامو خلکو د اذهانو د روښانه کولو د مطبوعاتو د آزادي له لارې.
۳ـ د فیودالانو، خانانو، سردارانو او نورو د نفوذ له منځه وړل له رسمي دولتي ادارو او اقتصادي چارو څخه او د ظلم او رشوت او قاچاقو پر خلاف مبارزه.
۴ـ د ټولنیز عدالت د تأمین په خاطر د هېواد د طبیعي زیرمو څخه د شخصي ګټو اخېستل او د انحصاري سرمایي د مقرراتو له منځه وړل.
۵ـ داستعمار سره مبارزه اود پښتونستاني ورونو د خود ارادیت دحقوقو تامین.

دغه مواد او مطالب چې پورته ذکر شول دموسسي کنګرې په جریان کې او وروسته هم همیشه د دوي ترمنځ دجر او بحث لاندې وه او کله به قبول او کله به رد شول له همدې امله وو چې مرحوم صدیق الله رښتین د قلمي یادداښتو سره سم اصل مرامنامه په پنځو مادو کې په ۲۳ د سنبلې ۱۳۲۶لمریز کې په لاندې ډول تصویب شوه:

* ـ د پورتینو ۱۳ګونو موادو د لست یادداشت محترم ځلمي صاحب زما په واک کې راکړی دي.

۱ـ د ملي وحدت ټينګول: په دې مانا د قومي، منطقوي او قبيلوي امتيازاتو او توپيرونو له منځه وړل، د پښتو او دري ژبو د وحدت او پر هغو باندې مساوي خبرې کول. له وطن، ملت او ملي حکومت سره مينه لرل او همکاري کول.

۲ـ د هېواد علمي – صحي او اقتصادي معيار جګول يعنې ناپوهې ناروغي او لوږه له منځه وړل.

۳ـ د ديني اجتماعي او ملي اخلاقو تقويت او ترويجول يعنې له ظلم، رشوت، خيانت، چاپلوسي، دروغ ويل او نامناسبو عاداتو او ځوانانو سره مبارزه کول. ټولنيز، همدردې لرل، پر شخصي ګټو باندې ملي او قومي ګټې لوړ ګڼل. ددينې فرايضو او احکامو محترم ګڼل دمليت ساتل د سالمو علمأوو او لويانو احترام لرل او هېڅ يوه مذهب ته بې احترامي نه کول.

۴ـ د پښتونستان ايجادول: يعنې د نشراتو او تبليغاتو په لاره اچول او هم د پښتونستان سره مالي او ځانې مرسته – د پښتونستان سره د اړيکو تأمين او په دغه لاره کې د زياتو هڅو ترسره کول.

۵ـ پښتو ژبه د دري ژبې درجې ته رسول او هغې ته د مساوې حق ورکول، يعنې د پښتو کتابونو او اثارو ليکل او چاپول او پښتنو ته په پښتو ژبه تعليم ورکول اود پښتو ژبې د علمي کولو لپاره کوشش کول.

دوينې ځلميانو يو شمېر غړو داخلي حاصلاتو ته زيات ارزښت ورکولو دوي ويل چې ملي سرمايه بايد په خپل وخت کې په کار ولوېږي. داخلي فابريکي بايد حمايه شي او مرسته ورسره وشي لکه چې ارسلان سليمي په همدې اړه ليکي:

« هغه شيان چې موږ هغه د بهر څه را وارد کړي دي هغه شيان بايد نور په داخل کې توليد کړو».(۱)

---

۱ـارسلان، سليمي، وينې ځلمي، کابل مجله، دولتي مطبعه، ۱۳۲۲،م۱۰۰.

که چېرې دغو نظرياتو ته له اقتصادي پلوه نظر واچوو وبه ليدل شي چې د امير امان الله خان اقتصادي پروګرام د دوي په افکارو کې انعکاس موندلي دي.

په دې ډول دوي وکولای شواي چې د خپل اقتصادي پلان پر اساس د اساسي بدلونونو غوښتنې هم پروګرامو کې ځاي کړي.

لکه چې يار محمد نظامي په خپل يوه مضمون کې چې عنوان يې وو : (واقعي ځوانانو) داسې ليکي:

« واقعي ځوانان غواړي چې د خپل ګران هېواد لپاره يو مترقي حکومت جوړ کړي. چې په دې ترتيب سره به وکولای شي چې خپل ملي شتمني خوندي کړي.

دا بايد د اسلام په چوکاټ کې او د افغان تر بيرغ لاندې سرته ورسېږي، ددغه هدف ته د رسېدو لپاره د روشنفکرانو او منورينو د مرستې څخه پرته نشي ممکن کيداي، چې د ټولنې خاليګاوې ډکې شي او ملت په يوه مترقي لاره باندې سم کړي».(۲)

## ج: د ويښ ځلميانو په مقابل کې د دولت يا حاکمي سياسي طبقې دريځ:

« د ويښ ځلميانو» تر عنوان لاندې د يو شمېر ليکوالو او مقالو له مجموعې د مطالعې څخه و دې نتيجې ته رسېږو چې د ټولو ليکوالو دريځ د حاکم سياسي طبقې يا دولت په مقابل کې يو شانته نه وو بيا هم د افغاني ټولنې د يو شمېر دموکراتيکو روشنفکرانو مقالو د حاکم قشر په مقابل انتقادي دريځ لرلو او د دوي نظرياتو تقريباً د مجموعې افکارو نماينده ګي کوله او دا هم بايد ووايو چې ځينې مضامين د پاليسي سره د ټکر په نسبت اصلاً له خپريدو څخه پاتې شول چې د هغوي محتوي دنورو هغو مضامينو له محتوي څخه ډېره تنده او اوچته وه کوم چې نشر شوي دي.همدارنګه د دولت دريځ هم د نومړو

---

۲.يار محمد نظامي، واقعي ځوانانو، کابل مجله، دولتي مطبعه، ۱۳۴۲، مخ ۱۱۲

ليکوالانو په مقابل کې بېل بېل وو، مخکې له دې څخه چې په دغه موضوع باندې بحث ته داخل شو باید ووايو چې د وينښ ځلميانو غورځنګ دریځ د اصلاحي پروګرامونو له حيثيته خپل موجوديت د يوه سياسي غورځنګ په توګه ثابت کړلو. لکه چې د وينښ ځلميانو د مقالو د مجموعې له محتوي څخه هم څرګندېږي چې يو شمېر مقالو چې محتوي لرله له همدې امله دولت د دغه اړخ ته زيات ملتفت وو. او هڅه يې کوله چې نوموړي جنبش د دولت د سياست او سياسي اهدافو لپاره وګمارل شي نه چپې خواته.

د اقتصاد وزير عبدالمجيد خان زابلي هڅه کوله چې خپل اقتصادي ريفورمونه د اسلامي شريعت له لارې او دهغه په چوکاټ کې عملي کړي. چې البته د وينښ ځلميانو په پروګرام کې همدغه ريفورمونه موجود وو چې زابلي يې دعملي کولو هڅه لرله دوي هڅه کوله چې له همدغو تاکتيک څخه د خپلو پروګرامونو د عملي کولو لپاره ډېر ښه ګټه واخلي. لکه هغه شيان چې په اسلام کې ناروا ګڼل شوي دي. مثلاً غلا، رشوت، اختلاس، خيانت، وطن ته خيانت او داسې نور موارد چې دا ټول شيان په اسلام کې ناروا بلل شوي دي چې ددغو مواردو سره مبارزه د دولت په اصلاحي پروګرامونو کې شامل وو.

په همدغه وخت کې زابلي چې د اقتصاد وزير وو د يوه اقتصادي بحران څخه خبرې کولې او هڅه يې کوله چې د نوموړي بحران سره مجادله وکړي. دا ځکه چې هغه داسې بحران وو چې د افغانستان ملي هستي يې له خطر سره مخامخ کړې وه زابلي دا حالت په هېواد کې د ځينو ګډوډو افکارو محصول بللو.

په دې مانا چې ځينو خلکو له مذهب څخه مخ اړولي دي او په ځينو ظاهري شيانو يې ځانونه مصروف کړي دي. دا ډول افکار ددې سبب ګرځېدلي دي چې يوه طبقه يې د بلې طبقې څخه بېله کړې ده.

دده له نظره دغه افکار افغاني مبدأ نه لري بلکې په وروسته پاتې هېوادو کې دخارجيانو له خوا په يوه نامريي ډول خپرېږي متأسفانه دا سيمې ددغسې افکارو د هضم قابليت نه لري.(۱)

د زابلي ددغو ډول خبرو او افکارو لپاره د تجارتي سرمايدارانو او د حاکمي طبقې د قدرت د ټېنګښت سره مرسته کوله: لکه چې زابلي وايي:

« ځوانان بايد وپوهېږي چې نن د ايديولوژيکي او طبقاتي مبارزې لپاره شرايط مساعد نه دي. لومړي بايد خپل هېواد ته نجات ورکړي دوي مجبور دي چې د مقدسې ملي مفکورې تر بيرغ لاندې سره راټول شي».(۲)

د زابلي ددغو خبرو لپاره ښه به داوه چې د ګاندي د افکارو څخه ګټه اخيستې واي. ګاندي د مثبت مقاومت له لارې ډېر شيان لاسته راوړل دغه نظريات د لويس دوپري دغه نظر تاييدوي چې نوموړي د وينې ځلميانو په باب کې ورکړي وو هغه ويلي وو چې:

« دولت د وينې ځلميانو په اصلاحاتو هېڅ ډول اعتقاد نه لرلو، دا ځکه چې دوي غواړي چې د دولت د راپرزولو لپاره کار وکړي».(۳)

ښاغلي غبار ليکي:

« په کال ۱۳۲۲لمريز کې عبدالروف خان بېنوا د « وينې ځلميانو» په نامه يو کتاب چې د يو شمېر ګوندي او غير ګوندي اشخاصو له مقالو څخه مرکب وو او د پښتنو ټولنې د رياست په وسيله چاپ شوي وو، په دغه کتاب کې هم ملي روشنفکرانو او هم د دولت نماينده ګانو مثلاً عبدالمجيد خان زابلي د وخت د

---

۱.عبدالمجيد، زابلي، خطاب به جوانان افغان، کابل مجله، دولتي مطبعه، ۱۳۲۲، مخ۱۷۲.
۲.پورتني اثر، همدا مخ
۳.لويس دوپري، امير عبدالرحمن خان و شروع افغانستان جديد، پشاور، فصل ۱۸، ۱۹۹۵، ص۴۱۵.

اقتصاد وزير، خپلې ليکنې وراستولي وي ... د ويښ ځلميانو مرامنامه په دې ډول وه:

« د افکارو تنوير او دمعارف تعميم، دوهم د ظلم اوخيانت سره مجادله، دريم د بدو اعمالو، عاداتو او خرافاتو اصلاح ځلورم، د حق او حقانيت سره يو والي، پنځم د ملي وحدت رامنځته کول».(۱)

همدارنګه ښاغلي غبار ددغې خپرې شوي مرامنامې په څنګ کې يوه ځانګړې تشريحي مواد د ګوند له خوا (د ويښ ځلمي څوک دي؟ ) تر نامه لاندې خپره کړې او لاندنيې مواد يې لرل:

« ...۱ـ څوک په خير او صلاح بشپړ ايمان لري. ۲ـ خونسرد او با حوصله وي. ۳ـ و هيچاته د خپل شخصي اغراضو په علت د حسد او کينې په نظر نه ګوري. ۴ـ دروغ نه وايي. ۵ـ تملق او چاپلوسي نه کوي او د هغه طمع له بل چا څخه هم ونه کړي. ۶ـ شر او نزاع ته تن نه ورکوي. ۷ـ د تخريب څخه و اعمار ته ډېر مايل وي. ۸ـ له دين، ملت وطن او حکومت سره محبت لري. ۹ـ ټولنيزې ګټې د شخصي ګټو څخه مقدس بولي. ۱۰ـ دحق په لاره کې ويره نه لري. ۱۱ـ له حق او حقانيت سره ملګري وي. ۱۲ـ که چيري ماموروي، رشوت او ظلم نه کوي. ۱۳ـ دملي وحدت په لاره کې زحمت باسي».(۲)

ويښ ځلميان ددغسې برنامي په لرلو سره و سياسي فعاليتوته ور ګډ شول او د څو کالو په تېريدو سره د غړو شمېر يې زيات سو دده له قوله ددغې ډلې برخورد د نورو سياسي حلقو او ګوندونو سره دوستانه وو.

عبيدالله صافي چې د هغه وخت د ستري محکمې د يوه ديوان مشر وو ويښ ځلميانو ته داسې اخطار ورکړلو چې دځينو کارو

۱ـ ميرغلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ، کابل دولتي مطبعه، جلد اول، ۱۳۵۷، ص۲۴.

۲ـ پورتني اثر.

څخه ډډه وکړي او د ويښ ځلميانو يو شمېر نور غړي يې وغندل چې نوموړي کسان غير مذهبي افکار لري او مذهب يوه زړه پديده بولي او د هغه پر ځاي نوي افکار چې غير مذهبي دي هغه خپروي.

که د استاد بېنوا مقاله او يا د نورو کسانو مقالې چې په نوموړي مجموعه کې خپرې سوي دي ولوستل شي و به ليدل سي چې د مذهب په مورد کې هېڅ ډول څرګنده يادونه نه ده کړې، يوازې د بېنوا له خوا يو شمېر تنقيدي نظريات د بنسټ پالو پر خلاف کېدلو چې د هغو په نتيجه کې پر نوموړي همدغه الزام واردولو چې مذهب سره ضديت لري په داسې حال کې چې خپله استاد بېنوا او نه هم د ويښ ځلميانو د نهضت نور غړي په مجموع کې داسې شي نه دي وړاندې کړي چې د مذهب سره مخالفت ذکر په کې شوي وي.

د همدغسې اړيکو له امله وو چې د ويښ ځلميانو په سازمان کې انشعاب را پيدا سو. هغه اساسي انشعاب چې ددغه دوه ګونې غبرګون څخه مخکې د ويښ ځلميانو په سازمان کې رامنځته شو هغه د يو شمېر روشنفکراانو وتل وو چې په غير پښتني قبيلې پورې تړلي وو، نوموړي د رز چې د ويښ ځلميانو په ګوند کې رامنځته شوي وو هغه دنوموړي انشعاب سبب شو نوموړي انشعاب د دولت تر ملاتړ لاندې ترسره شو. په دغه انشعاب کې برسېره پر نورو خلکو يو شمېر هزاره او قزلباش هم شامل وو چې يو مذهبي اقليت وو.

دوي فکر کولو چې تر سياسي او ټولنيز فشار لاندې دي. دوي به مثال راوړلو چې موږ ته په دولت کې لوړې څوکې نه دي راکړل سوي او نه هم ورته د معارف په برخه کې د زده کړې زمينه مساعده شوي نوموړي کسان د ويښ ځمليانو د غورځنګ څخه په کلي توګه انشعاب وکولو.

ددغه انشعاب په دوام په کال ۱۹۴۷ميلادي ۱۳۲۷ لمريز کې کله چې د هند د تجزيې څخه وروسته د پاکستان په نامه يو دولت رامنځته شو. په دغه وخت کې په کابل مجله کې د پښتونستان د مسالې په باب بحثونه را شروع شول. پښتنو غوښتل چې د مجلې زياتره برخه همدې موضوع ته وقف کړي. خو د يو شمېر کسانو له خوا چې عمدتاً پارسي ژبې وو، د منفي

عکس العمل سره مخامخ سو ، د هغو له ډلې څخه میر غلام محمد غبار او میر محمد صدیق فرهنگ یادولای شو چې په کال ۱۳۲۷المریز کې د ویښ ځلمیانو څخه ووتل، او ځانته یې علیحده ګوند جوړ کړلو.

ښاغلي غبار بیا د یو بل انفکاک او بیلتون یادونه کوي او لیکي :(۱)

« همدارنګه د ۱۳۳۰المریز کال (۱۹۵۱م) د سنبلې په میاشت کې د کندهار د ویښ ځلمیانو خپل انفکاک د ویښ ځلمیانو څخه اعلان کړلو او د نوي برنامې سره یې د «اخوت» په نامه ګوند یې جوړ کړلو. اود نوموړې کال دمیزان په میاشت کې د « اخوت» ګوند مالي، تحریراتو، عمومي بررسي تبلیغاتو او نشراتو د کمېټو په تشکیل لاس پورې کړ. خو د کابل د ویښ ځلمیانو دکندهار د ویښ ځلمیانو دغه انفکاک ونه منلو او د پخلاینې لاره یې له سره راونیوله».

د افغانستان په بېلا بېلو ښارو کې د ویښ ځلمیانو فعالیت پراختیا پیدا کړه. د جلال آباد په ښار کې ګل پاچا الفت په کندهار کې عبدالروف بېنوا ، په فراه کې دردمند د دوي په شااوخوا سره راغونډ سول دوي سره ددي چې منظمې غونډې لرلې، خو بیا یې هم یو واحد سازماني جوړښت رامنځته نه سواي کړای. په دې مانا چې د رهبرې د ټاکلو لپاره یې کوم مشخص اقدام ونه کړ، دوي د داخلي موضوعاتو په باره کې خپل فعالیتونو ته دوام ورکړلو چې د هغو په نتیجه کې یوه چپه جناح را پیدا سو چې د هغو له ډلې څخه نورمحمد تره کي، عبدالهادي توخي او نور یادولای شو.

## د : تاکتیکي او ستراتیژیکي اهداف:

د استراتیژي او تاکتیک مفاهیم د سیاسي ساحې څخه پرته په نورو ساحو کې هم په کار وړل کېږي، مثلاً په نظامي برخه کې با دیپلوماتیکو ساحو کې او یا په اقتصادي چارو کې.

---

۱ـ میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول و دوم، پشاور، ۱۳۸۱، ص۲۴۱.

ستراتيژي عبارت ده له هغه رهبري کوونکي علم څخه چې د اهدافو د ترسره کولو لپاره لارې او چارې تشخيصوي. يا په بله وينا ستراتيژي و اهدافو ته د رسيدو لپاره د اصلي جهتونو ټاکل، د ضروري نقشو تيارول، د ټولو ضروري ذخايرو څخه د ګټې اخيستلو په منظور، ستراتيژي د يوه ګوند په ټولو مرحلو کې اساساً او عملاً نه بدليدونکي پاتېږي. لنډه دا چې ستراتيژي په هره ساحه کې د ليرې اهدافو لپاره نقشې جوړول دي.

تاکتيک بيا د ستراتيژي يوه برخه او يوه حصه تشکيلوي او کاملاً د استراتيژيکو دندو تابع ده په يوه ټاکلي مرحله کې تاکتيک د يوې ستراتيژيکي مرحلې په داخل کې يوه لنډه دوره ده مشخص نږدې او محدود اهداف په نظر کې لري. د کار او مبارزې مشخص اشکال په مشخصو شرايطو پورې تړلي دي او په دغه يا هغه سنګر کې خپل هدف لاسته راوړل دي.

ستراتيژي او تاکتيک مفاهيمو ترمنځ قانونمند، ډيالکتيکي پيوند يا اړيکه وجود لري. همدارنګه د ستراتيژيکو اهدافو او تاکتيکي عمده شعارونو ترمنځ ډيالکتيکي قانونمندي اړيکې وجود لري. په لنډه توګه ويلاي سو چې ستراتيژي او تاکيتک د يوه غورځنګ د عيني او ذهني شرايطو دقيقه مطالعه ده د هېواد او نړۍ د تاريخي وضع مشخص تحليل.

د دا ډول مشخص تحليل په پام کې نيولو سره د ويښ ځلميانو کوم داسې بيان لنډ مهاله او دراز مدت اهداف په کې څرګند شي نشته.

د ويښ ځلميانو ټولنيز او سياسي ګوند په لومړي سر کې د يوه ادبي ټولنې په څېر را څرګند سو مثلاً عبدالروف بېنوا د هغو وخت د داخلي سياست بد ليدونکو ليبرالو شرايطو پر اساس داسې ادبيات رامنځته کړي څو وکولاي سي له دغې لارې څخه خپل اصلاحي پروګرامونه عملي کړي. په دغو ادبياتو کې داسې موضوعات مطرح سول چې د فراخو ولسونو او په طبقاتي لحاظ د ټولنيزو طبقاتو د غريبانو او بې وزلو حالات

په کې منعکس سوي وو او داسې ادبیات چې ددغو خلکو له عیني ژوند سره سمون لرلو.

د وخت په تېرېدو سره د یوه سیاسي سازمان فکر ددغو با درده روشنفکره ځوانانو په سر کې پیدا سو او د همیشنې ارزوګانو امیدونه یې عملي اړخ ترلاسه کولو او دغه ادبي انجمن سیاسي رنګ واخیست او ددغه هدف لپاره یې لومړي ځوانان د اخلاقي ریفورمونو له لارې د وطن جوړولو او د اصلاحاتو د سه علمي کولو لپاره رابلل له بلې خوا د دا ډول سیاسي حرکت را پیدا کېدل که له یوې خوا د وطن لیبرالو شرایطو په نتیجه کې رامنځته سو، خو له بلې خوا حاکمه سیاسي طبقي هم غوښتل چې په هېواد کې د نسبي ازادیو په چوکاټ کې داسې سیاسي حرکتونه تر خپل کنترول لاندې ولري او د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره دوي د دولت په سیاست کې مهم رول ولوبوي. ددغه هدف لپاره دولت وغوښتل یو شمېر ریفورمسیتک دموکرات روشنفکران د دولت د نمایده په توګه را جلب کړي.

عبدالمجید خان زابلي په دغه برخه کې ډېرې هڅې وکړې تر څو په دغو سازمانونو کې د دولت په ګټه کار وکړي. او ددغه هدف لپاره یو شمېر دموکرات لیبرال روشنفکران را جذب کړل، تر څو له دې لارې د افغاني روشنفکرانو ته په سیاسي لحاظ سازمان ورکړي خو په عمل کې د زابلي دغه تاکتیک موثر واقع نه سو او کوم هدف چې ده په پام کې نیولي وو هغه ترلاسه نه سو.

او کوم تاکتیک چې د ویښ ځلمیانو له خوا ټاکل سوي وو هغه کامیابه را ووت او په نتیجه کې داسې یو سیاسي سازمان رامنځته سو چې په دولت پورې مربوط نه وو.

په لومړي مرحله کې د ویښ ځلمیانو سازمان کوم ثابت سازماني کرکتر نه درلود تر څو د هغه پر اساس یې خپل ستراتیژیک اهداف مشخص کړي واي او بیا د هغه د تحقیق لپاره یې مشخص تاکتیک ترلاسه لاندې نیولاي واي. ځکه دوي ترکیب د فکر په لحاظ د بېلا بېلو ټولنیزو افکارو او احساساتو څخه نماینده ګي کوله. دهغه په

ترکيب کې له يوې خوا د ښکتنه طبقاتو او اقشارو نمايندهګانو او دموکرات روشنفکران ګډون لرلو خو له بلې خوا د پښتني قبيلي ارستوکراتان په کې شامل وو. همدارنګه ځيني مذهبي او لوړ رتبه دولتي رجال هم په کې ګډون لرلو چې دوي د دولت افکارو تمثيل کولو.

ددغې ټولنيز ترکيب په نظر کې نيولو سره ويلاي سو چې دوي د دموکراتيکو اهدافو او په دولت کې د ځينو اصلاحاتو راوستلو لپاره (چې ستراتيژيک اهداف ګڼل کېدل) کوم منظم او واحد تاکتيک نه سواي وضع کولاي د دوي ترکيب او اهداف سره بېل وو.

په ټولنه کې د دموکراتيکو شرايطو رامنځته کولو په خاطر او د ټولنې د ښکته طبقاتو په ګټه ځيني اصلاحات رامنځته کړل د وطن د پرمختګ لپاره يو بل تاکتيک د پارلماني فعاليتونو لاره وه د بورژوا دموکراتيک اپوزيسيون پارلماني فعاليت په ترڅ کې ملي جبهه رامنځته کړه.

د هغه قانون پر اساس چې په کال ۱۳۲۸ المريز کې چې د هغه پر بنسټ د هېواد په لويو ښارونو کې بايد انتخابات ترسره سي. دغه انتخابات د بورژوا دموکراتيک قوانينو پر اساس د افغانستان په تاريخ کې لومړني انتخابات وو. که څه هم د ويښ ځلميانو د فعاليت نتيجې په دغو انتخاباتو کې منعکس نه سوې يوازې په کندهار کې د ښاروالي په ټاکنو کې استاد عبدالشکور رشاد د ويښ ځلميانو له ډلې څخه د مرستيال په توګه بريالي شو.

په دغه پارلماني انتخاباتو کې د ويښ ځلميانو ځيني غړو او يو شمېر مينه والو ګډون وکولو چې له نوموړو ټول ټاکنو په پايله کې يو کم شمېر پارلمان ته لاره پيدا کړه. هغه هم په ځينو ښارونو کې، کله چې دوي د پارلمان ته لاره وموندله دوي د ملي جبهې په تشکيل سره په پارلمان کې د اپوزيسيون حالت ځانته غوره کړلو.

دغه پارلماني اپوزيسيون تاکتيک ډېر موثر وو په پارلمان کې مترقي نمايندهګان عبارت وو له: ډاکټر محمودي، مير غلام محمد

غبار، ګل پاچا الفت، عبدالحي حبیبي او محمد کریم نزیهي. دغو نماینده ګانو په پارلمان کې د ایران د ډاکتر مصدق د پارلماني اپوزیسیون په څېر په پارلمان یوه مخالفه جبهه جوړه کړه چې ځان ته یې ملي جبهه ویله. دغه پرکسیون غوښتل چې د ویښ ځلمیانو او نورو ګروپو پلانو څخه په پارلمان کې نماینده ګي وکړي چې شمیر ئي له ریفورستي ځلویستو څخه تر پنځوسو پورې رسیدلو. دا د پارلمان اوومه دوره وه. د پارلمان نور نماینده ګان دملي جبهې سره یو ځای شول د نورو روشنفکرانو په پارلمان کې خپل اصلي هدف د ټولنیزو تحولاتو راوستل وټاکلو. دوي وکولاي سول چې ددغو فعالیتونو لپاره یو ګډ پروګرام (پلاتفورم) منځته راوړي او علناً یې خپور کړي. په دغه وخت کې ملي جبهې مطلق د اپوزیسیون حالت ځانته غوره کړي وو او همیشه یې په پارلمان کې د خلکو د حقوقو څخه دفاع کوله او ویل به یې چې خلک باید د پارلمان په غونډو کې د اوریدونکو په څېر ګډون وکړي چې دا خبره د دولت له خوا همیشه تر سوال لاندې وه.

د ملي جبهې د نماینده ګانو اصلاحي غوښتني دا وي:

دوي د ملي جبهې په نماینده ګي د ۱۹۴۹-۱۹۵۲پارلماني دورې کې و پارلمان ته ځینې دموکراتیک قوانین د پیشنهاد په توګه وړاندې کړل چې محتواي یې لاندې درې ټکې وو:

۱ـ د پارلمان رول باید بدلون ومومي.

۲ـ دولتي موسسې باید بدلون ومومي او

۳ـ د خلکو ژوند باید ښه شي

د دوي د غوښتنو پراخه ساحه د دولت او حکومت ځینې وزیران وو چې د هغوي له خوا به هر وخت قانون شکني کوله د پارلمان نماینده ګانو د دولت څخه غوښتل چې چې کابینه باید د پارلمان په دغسې مواردو کې و پارلمان ته مثبت ځوابونه ارایه کړي. یعنې دوي خپل ځان د پارلمان په نسبت مسؤول احساس کړي. دوهمه موضوع د اجباري کار بندولو ته اشاره وه، کوم چې د قانون سره په ټکر کې وه. یعنې په قانون کې اجباري کار منع سوي وو. خو بیا هم عملاً لیدل

کېدلو. همدارنګه ډېرې داسې فيصلې چې په پارلمان کې داکثريت رايو پر اساس پاس سوې وې د دولت له خوا چندان يا هيڅ توجه ورته نه کېدله.

همدارنګه ځينې نوي پيشنهادونو ته هېڅ توجه ورته ونسوه لکه دموکراتيک مالياتي قانون، د بانک قانون او دولتي دستګاه د بودجې د تثبيتولو قانون، په همدې توګه د دولتي انحصار او د عايداتو د مترقي ماليې په رواجولو کې توجه ونه شوه. عبدالهادي داوي په دغه وخت کې د پارلمان رييس وو.

د ټول پاکنو د نوي قانون په اړه د ملي جبهې پيشنهاد چې په ۱۹۵۲ (۱۳۳۱لمريز) کال لپاره وړاندوينه سوې وه دومره وځنډاوه چې هېڅ وخت راي ګېري ته وړاندې نه سو. په همدې ډول د ملي جبهې غوښتنې هغو وزيرانو ته متوجه وو چې په دولتي فابريکو کې او تجارتي موسسو کې ونډه لرله، بايد هغوي محاکمې ته را کښ کړل سي چې دا موضوع هم د پارلمان د اکثريت محافظه کارو نمايندګانو له خوا رد شوه او په همدې ډول د پارلمان بل پيشنهاد د حکومت په اړه د عدم اعتماد موضوع وه ، چې هغه هم رد شوه.

د همدغه تاکتيکي هدف په ارتباط دستګير پنجشيري ليکي:

« ... د ۱۹۴۶ميلادي څخه تر ۱۹۶۳پورې ( ۱۳۲۵- ۱۳۴۲) لمريز کلونو ترمنځ په جهان او هېواد کې ټولنيز – اقتصادي تحولاتو د ځوان نسل په ملي او ټولنيز شعور باندې فعال او ښکاره اغېزې اچولې. د هېواد ملي او دموکراتيک غورځنګونه د ملي او ټولنيزه پوهه و نوي مرحلې ته او چته سوه. په دغه مرحله کې د ملي ودې افکار په کراره کراره په فيودالي او محافظه کارو افکارو محتاطانه ګوزارونه پېل کړل... چې ددغو ډلو څخه د ويښ ځلميانو غورځنګ را زرغون سو. او يو متشکل او ټولنيز جريان باندې بدل سو. دغه جريان د رامنځته کېدو سره د تحول غوښتونکو او محافظه کارو ډلو ترمنځ مبارزه ډېره په سيستماتيک ډول پېل سوه.

د ويښ ځلميانو د فيوداليزم اواستعمار ضد مفکوره د استعماري او استبدادي شرايطو له منځه او د کابل ادبي انجمن له لمنې او د سرکاري مطبوعاتو له منځه را پېل شوه. دغه افکار تقريباً په دوه لسيزه کې وده وکړه شکل يې واخيست او تقريباً د پنځوسو تنو شاعرانو او ليکوالانو په وسيله په يوه مشهوره رساله کې د ويښ ځلميانو تر نامه لاندې رسماً انعکاس وموندلو او د همکفرانو او ځوانانو د سياسي تشکل ضرورت يې را څرګند کړ.

دغه رساله د کابل مجلسي د مدير مرحوم استاد عبدالروف بېنوا په زيار را غونډه او چاپ شوه. د ويښ ځلميانو د غورځنګ په ترکيب کې د سياسي ايديولوژيک وحدت په پام کې نيولو څخه پرته له داسې افرادو او عناصرو څخه چې د ټولنې په تحول غوښتونکي اقشارو او طبقاتو پورې تړلي وو، جوړه وه. او دا ډول ليکني يې د يوه تاکتيکي حرکت په توګه د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره ګټه اخيستله ددغه ټولنيز او فکري غورځنګ په صفونو کې هغه روشنفکران چې د ټولنې په بېلا بېلو پوړيو پورې ارتباط لرلو ګډون لرلو».(۱)

---

۱ـ دستګير پنجشيري، ظهرو و زوال حزب دموکراتيک خلق افغانستان، پشاور، ۱۳۷۷، ص ص ۱۱۳-۱۱۴.

# دريم فصل

## د وينښځلميانو لارښود مركزي سازمان

## د ویښ ځلمیانو لارښود مرکزي سازمان

د ویښ ځلمیانو د ګوند او دهغه د رهبري بنسټ ایښودونکو او طراحانو په یاره کي مختلفي نظریي وجود لري. ددغو ټولو نظریاتو او دهغه وخت د اسنادو او شواهدو په پام کي نیولو سره داخبره واضح کیږي چې استبداد ، ظلم او ټولنیزي بي عدالتي چې په هیواد کي وجود لرلو د ښو شرایطو په برابریدو سره له یوي خوا په نړیوالو شرایطو کې بدلولو نه رامنځته شول او له بلي خوا د هغو نړیوالو شرایطو په پام کي نیولو سره په داخل کي د دولت له خوا دموکراتیک شرایط د شاه محمود خان د حکومت د رامنځته کیدو سره برابر شول.

که څه هم د ویښ ځلمیانو ټولنیز ترکیب یو شانته نه وو او د ټولني د بیلابیلو طبقاتو او اقشارو څخه په دغه ترکیب کي غړیتوب در لود لو، او هم کله چې دغه غورځنګ په هغه وخت کي شکل اخیست خپله افغاني ټولني څرګند او پیژندل شوي طبقاتي حدود نه وو پیژندل شوي. ځینو روشنفکرانو چې بیا وروسته دویښ ځلمیانو فعال غړي هم شول، د هیواد په مطبوعاتو کي یې پخپلو لیکنو کي داسي څرګند وني کړي دي چې پرټولنه مسلط ټولنیزو بي عدالیتو، ظلم او فشار د احساس سره سره د دغو مظالمو له طبقاتي عواملو

څخه لازمه پوهه نه لرله د استبداد او ټولنیز فساد عوامل یې عمدتاً په فردي اخلاقو کې لټول. له همدي امله وو چې دوي ځوانان د طبقاتي وابستګیو پربنسټ نه بلکي د ټولنیزو اخلاقو پربنسټ کټګوري کول او د دوي رسالت یې د دوي د اخلاقي د ندو په تر سره کولو کې توضیح کولو.

په ویښ ځلمیانو کې د شاملو روشنفکرانو طبقاتي او قشري وابستګي په عمده توګه تصنیف دا څرګندوي چې دښار او کلي د خرده بورژوا روشنفکر قشر، ملي بورژوا، د ښاراو کلي بورژواوزي، د حاکمو بوروکراتانو زامن او حتي منور فئودالان د ټولني د همدغو طبقاتو او اقشارو ملي او مذهبي اقلیتونه پکښي را ټولو شوي وو. له همدي امله وو چې د دوي په سیاسي افکارو کې لازم فکري یووالي نه لیدل کیدلو. د دوي اړیکي او یووالي له عامه خلکو سره نه وي پیدا شوي. دا چې دوخت دولت نشواي کولاي د دغه سیاسي جریان په مقابل کې بي تفاوته پاته شي نوئي ځیني نمایندګان پکښي داخل کړل.

لکه چې وویل شول په همدغه وخت کې د افغانستان په ځینو ښاروکي بورژوازي مناسباتو یو څه وده کړي وه، د هغو سره همزمان په نوموړو ښارو نو کې بیلابیل سیاسي فعالیتونه هم پیل شول. لکه په کابل، کندهار، هرات، ننګرهار او مزارشریف، دغه دودي په حال کې سیاسي حرکتونه د هیواد په سطح سراسري خصلت نه لرلو. ویلاي شو چې تر ټولو اساسي او عمده سیاسي فعالیتونه نسبتاً په پراخه پیمانه په کابل کې دویښ ځلمیانو په همت پیل شوي وو. د هرات دا د بي انجمن حلقه، په کندهار کې د طلوع افغان پر شاه او خوا را ټول شوي روشنفکران، د اتحاد مشرقي بیدار او داسي نور خپل ټاکلي رول لرلي دي خو په کابل کې د هر وخت لپاره را بیدارونکي روشنفکرانه فعالیتونه ډیره غښتلي ساحه وه. بناً کابل د هیواد د پلازمیني په توګه چې په هغه وخت کې د پراخوبو روژوازي تولیدي مناسباتو له امله د لومړنیو سیاسي او ټولنیزو سازمانو لومړنۍ مبارزي پیل او د امتیازیي خپل کړ او دویښ ځلمیانو موسسه کنګره په همدغه ښار کې په دارالامان کې جوړه شوه.

په دي هکله چې کابل د دويښ ځلماينو د رامنځته کيدو لومړني اساسي مرکز دي بايد وويل شي چې د ځوتنو غړو څخه پرته چې په موسسه کنګره کي يي ګډون درلوده، نور ټول د کابل په ښارکي اوسيدل او په رسمي دولتي دندو مصروف وو.

که څه هم شاه محمود حسين بيا ليکي:

« پدي باب چې کابل دويښ ځلميانو د پيدايښت لومړنۍ او اساسي مرکز دي کولاي شو د محمد ولي ځلمي د قلمي يادداشتو پر اساس ووايو په کومو کلونو کي چې دغه جنبش شکل اخيست نور محمد تره کي دويښ ځلميانو يو له بنسټ ايښودونکو ويښ ځلميانو، په جوي شمير کي د جرنيل محمد رفيق خان په کورکي کرائي کشيناست دغه کور د روشنفکرانو دليدلو او کتلو ځاي وو او په همدغو محافلو او کوچنيو او پټو ناستو کي د سياسي ګوند منسجم فعاليت د پيدايښت په څرنګوالي د افکارو تبادل صورت موندلو. په هغه وخت کي د ګوندي مرام څخه تر او سه کوم خبرنه وو»(۱)

هغه څه چې د واقعيتو سره په مطابقت کي دي هغه دا دي چې دويښ ځلميانو د موسسي کنګري لومړنۍ غونډه په دارالامان کي د نور محمد تره کي په کورکي جوړه شوه، پخپله عبدالمجيد خان زابلي ديوه لوي سرمايدار په توګه هميشه په ډيرو مواردو کي د دا ډول روشنفکرانه غور ځنګونو پلوي کړي او هغو ته يي د ودي امکانات برابر کړي دي. حتي داسي خبري هم وي چې ده په دغه غورځنګو کي د دولت په ګټه کار کولو. پدي کي شک نسته چې زابلي چې د هرچا په ګټه کار کولو هغه يي هميشه د ملت د خير او سو کالي لپاره کول. پخپله زابلي دير با درده روشنفکر او وطنپرست انسان وو. د روشنفکري نهضت ډيرپلوي او د هيواد د پرمختک او سمسورتيا ډير زيات غوښتنونکي وو اوپدي لاره کي يي عملاً

---

۱- شاه محمود حصين، تاريخ مبارزات ويښ ځلميان، کابل، مونوګراف تاپيي پوهنتون کابل، ۱۳۶۲، ص۳۹.

عملي ګامونه پورته کړي دي. د روشنفکرانو د تشویق لپاره یې د ډیرو کلو لپاره د بانک ملي له خوا نغدي جایزي د زابلي د مشخصي سرمایې څخه ورکول کیدلي.

خو ښاغلي میر محمد صدیق فرهنګ د ویښ ځلمیانو د سیاسي جوړښت په باب لیکي:

« د نوموړو آزادو جریدو دتاسیس سره سم یا یوڅه مخکې یو شمیر سیاسي کړۍ د ګوندونو د هستي په شکل دیو شمیر روشنفکرانو به وسیله د هیواد په بیلوبیلو سیمو کي مخصوصاً په کابل، مشرقي او کندهار کي رامنځته شوي. د تاریخي قدامت له مخي لومړنۍ حلقه چې منځته راغله، هغه ویښ ځلمیان وو چې د هغه په تأسیس کي عمدتاً پښتو ژبي لیکوالان لکه ګل پاچا الفت، قیام الدین خادم، بینوا، فیض محمد انګار، غلام حسن صافي، نور محمد تره کي او محمد انور اڅکزي برخه لرله»(۱)

په لومړي او دوهمه غونډه کي فرهنګ او غبار د نوموړي سازمان غړیتوب لرلو او اسناد یې لاسلیک کړي وو خو په دریمه غونډه کي چې په پغمان کي جوړه شوه په هغې کي دوي ګډون ونه کړ او دایې ویل چې له دغه سازمان څخه فاشیستي بوي راځي. دوي ځانته بیا وروسته بله سیاسي ډله جوړه کړه چې په نوموړي وخت کي د ویښ ځلمیانو څخه دا نشعاب په توګه (د وطن) په نامه جوړه کړله چې په نوموړي ډلي کي میر غلام محمد غبار، سرور جویا برات علي تاج، عبدالحي عزیز، فتح محمد خان، نور الحق او میر محمد صدیق فرهنګ وو. چې د نشراتي ارګان نوم یې هم «وطن» وو. چې د امتیاز خاوند یې غبار وو او مسئوول مدیریې لومړي علي محمد خروش او بیا وروسته فرهنګ وو. د ویښ ځلمیانو نشراتي ارګان « انګار» او وریسي « اولس» وو. چې د «انګار» د جریدي مسئوول مدیر فیض محمد انګار وو او دولس د اخبار مسئول مدیر ګل پاچا الفت وو.

یوه بله ډله هم د ډاکتر عبد الرحمن محمودي په مشر تا به جوړه شوه او « د ندای خلق» په نامه یې یوه جریده خپروله چې د نوموړي

---

۱- میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخیر، پشاور، چاپ دوم، ۱۳۷۳، صص ۲۲۳-۲۲۴.

سیاسي ډلي نشراتي ارګان وو د امتیاز خاوند یي محمودي وو او مسئوول مدیریي عبدالحمید «مبارز» وو. د فرهنګ په قول دغو دري واړه سیاسي ډلو د سیاسي فلسفي په چوکاټ کي د مشروطه شاهي دولت څخه ملاتړ کولو. خو د تبلیغ له پلوه یي یو له بل سره څرګند توپیر لرلو. د مثال په ډول « دولس» او « وطن» د جریدو مضامین معتدل وو خود نداي خلق د جریدي استدلال او طرز بیان ډیر جذباتي اوتند وو. په داسي حال کي د «انګار» د جریدي خاص اسلوب نه درلوده. دي وائي چې د انګار د جریدي د مضامینو ژبه له یوه لیکوال څخه وبل لیکوال ته ډیر توپیر درلود. نور محمد تره کي هم په نوموړي جریدي کي خپل مضامین خپرول خو د مقالو محتوي او مضمون یي مارکیستي نه وو. او یا دا چې عمداً یي خپله وابستګي د نوموړي ایدئولوژي سره پټ ساتلو.

ښاغلي فرهنګ« ویښ ځلمیان» یو دولتي سیاسي جریان بولي اوپدي اړه داسي لیکلي:

«ویښ ځلیمان» ځیني غړي دحاکمه قوي سره د مناسباتو له حبثه له محمد داود سره تړاو لرلو. په داسي حال کي چې دوه نور جمعیتونه له دغي ناحیي څخه مستقل وو»(۱)

د دغو نهضتونو په څنګ کي یو بل نیم علني او نیم سري جمعیت د « پښتونستان د آزادي اتحادیه» ترنامه لاندي هم رامنځته شو او طرح یي جوړه شوه. ددغه جمعیت مشري ظاهراً د غلام حیدر عدالت په غاړه وه. خو رښتیني بنسټ ایښودونکي او مشریي محمد داود خان وو. او د حقوقو د فاکولتي محصل ببرک هم پکښي شامل وو او ډیر فعالیت یي کولو. چې وروسته د روسانو د نظامي یرغل سره و قدرت ته ورسیدلو او په ببرک کارمل مشهورو و. فرهنګ په دي نظر دي چې نوموړي جمعیت په ظاهره د پښتونستان د داعیي په نامه فعالیت کولو خو په حقیقت کي د داود خان و قدرت ته رسیدو لپاره یي کارکولو په نوموړي کال (۱۹۵۱میلادي) کي د نوموړي جمعیت یو

---

۱- میر محمد صدیق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخیر، پشاور، چاپ دوم، ۱۳۷۳، ص ۲۲۵.

بل غړي حسن شرق داکتر غوښتل محمودي د هغې بیاني له امله چې په شوراکې یې د داود خان پر خلاف ورکړې وه، اختطاف کړي او هغه له منځه یوسي. خو شرق پدغه کار کې موفق نه شو او محمودي نجات وموندلو.

په پوهنتون کې ( د محصلانو ټولنه) او د کابل ښار دعالي مکاتبو څه شاګردانو څخه جوړه شوي اتحادیه هم جوړه او تاسیس شوه. د نوموړو اتحادیو له خوا پر دولت فشار راوړل کیدلو تر څو د دوي اتحادیي په رسمیت وپیژندل شي. په نوموړو اتحادیو کې داسې محصلانو او شاګردانوګډون لرلو چې بیل بیل نظریات او سیاسي تمایلات یې لرل. او د ټولنې له مختلفو طبقاتو او اقشارو څخه وو او د نوموړو اتحادیو غړو په هغو کنفرانسو کې چې ګډون پکښې آزاد وو برخه اخیستله. نوموړي کنفرانسونه د پوهني وزارت او د حکومت له بیلابیلو ادارو تر انتقاد او بررسي لاندي نیول کیدل. دا د سیاسي ګوندونو موضوع په ځانګړي فصل کې څیړل کیږي.

کله چې ویښ ځلمیان رامنځته شو د لږ وخت په تیریدو سره د دوي ترمنځ ژور اختلافات رامنځته شول، که څه هم د دغه انشعاب عوامل په تحریري آثارو کې ندي بیان شوي. یو عامل یې څرګندوو چې کوم کسان یعني د ویښ ځلمیانو څخه یې ځان جلا کړلو او ځانته یې ځانګړي سیاسي ډلي جوړي کړي هغه غیر پښتني کسان وو چې په اتنیکي لحاظ پښتانه نه وو.

د دغو انشعابو په نتیجه کې د ویښ ځلمیانو غورځنګ سیاسي مخکښ ماهیت له لاسه ورکړ. لکه چې مخکې هم ورته اشاره وشوه په کال **۱۹۵۴** ملادي کې کله چې د شورا انتخابات را نژدي شول حکومت د داسې مداخلې څخه مخنیوي وکړلو لکه چې د پخواني صدراعظم سردار محمد هاشم خان په وخت کې معمول وو او په کابل کې دسید قاسم رښتیا په وړاند یز چې په هغه وخت کې د مطبوعاتو مستقل رئیس وو د بلدیي ریاست ته یې دنده ورو سپار له ترڅو د شورا لپاره دد ووتنو وکیلانو کاندیدل په کتبي او سري ډول د ښاروالي د نمونه یې انتخاباتو په توګه تر سره کړي. د خلکو په منځ

کي د دغه خبر خپریدل خصوصاً د ځوان نسل او روشنفکرانو له خوا زیات استقبال شو ځکه چې د زیات اختناق څخه ډیر په تنګ وو او دا ډول تحول ته سترګي په لاري وو. چې زیات هیجان او شوق یي په خلکو او ځوانانو کي را پیدا کړلو. پدغه وخت کي ډاکتر محمودي چې یو تندرو آزادیخوا روشنفکر وو یوه ډیره تنده انقلابي بیانیه د انتخاباتو په ارتباط ورکړه. او دولت هغه په ځیر سره تعقیبو له. محمودي د همدغي بیاني له امله یو څه موده زنداني شو. خو له انتخاباتو څخه مخکي بیر ته آزاد شو. او د غبار سره یو ځاي په پارلماني انتخاباتو کي ځان کاندید کړ او دواړه بریالي شول. د ولایاتو څخه هم یو شمیر روشنفکران د آزاد ورایو له لاري و پارلمان ته لاره پیدا کړه لکه ګل پاچا الفت، محمد کریم نزیمي، صلاح الدین سلجوقي، عبدالحي حبیبي، سید محمد د هقان، عبدالاول قریشي، خال محمد خسته نظر محمد نوا او داسي نور، تر دغه وخته پوري د حکومت او خلکو تر منځ کار د اعتماد په فضا کي پرمخ تللو خود دي لپاره چې دولت خپل حاکمیت له لاسه نه وي ورکړي، عبدلهادي داوي یي په ډیره بیړه په ده سبز کي کاندید کړ او له هغه ځایه یي وکالت ته کامیاب کړ. داوي په داسي حال کي چې د پاچا د سرمنشي په حیث کار کولو د شورا د ریاست ته یي کاندید کړ. دغه حرکت د حکومت او د شورا دوکیلانو ترمنځ د نسبي رامنځته شوي اعتماد کمزوري کړ.

په شورا کي ډیر ژر ډلي جوړي شوي: لومړي ډله د ډیر شوتنو په حدودو کي وو غوښتل یي چې شورا باید خپلي دندي دیوه مشروطه پارلمان په توګه ترسره کړي. او حکومت باید و پارلمان ته مسئوول وي. پدي مانا که چیري حکومت د قانون خلاف کار ونه تر سره کړي باید هغه تر پوښتني لاندي ونیسي او پارلمان به د استیضاح حق لري. همدارنګه نوموړو وکیلا یو حکومت د غیر قانوني چلند شپږ فقري یاداشت کړي وي.

دو همه ډله دوکیلانو هغه محافظه کاران وو چې اکثراء هغوي د حکومت د هدایت سره سم رفتار کولو.

دريمه ډله چې په کمي لحاظ ډير لږ خو ډير فعال وو او هغه د دولت له پخوا نيو مامورينو څخه جوړه وه. نوموړي ډله که څه هم د شاه محمود خان د حکومت سره يې ښې اړيکې نه لرلې خود نورو آزادي غوښتونکو روشنفکرانو او ځيني بيرو کراتانو سره هم غږي وو نوموړي ډلې غوښتل چې د شاه محمود خان حکومت ضعيف کړي او د داود خان لپاره لاره اواره کړي. د دغې ډلې مشر تا به په شوراکې د مطبوعاتو رئيس صلاح الدين سلجوقي او دکندهار پخواني نائب الحکومه محمد صديق وزيري کوله که څه هم د شورا اکثريت وخت د همدغو دريو ډلو په بحث او جنجال تيريده خو بيا هم شورا پردي کاميابه شوه چې په کال ۱۹۵۰ ميلادي (۱۳۲۹ لمريز) کې د مطبوعاتو قانون پاس کړي. د نوموړي قانون پر اساس و غير دولتي جريدو ته د خپريدو محمدودي آزادي ورکړل شوي وي. حکومت يې ودې ته مجبور کړلو چې بيګار کم کړي او د غلې حواله په تدريجي ډول له منځه يو سي. د مطبوعاتو د قانون د نافذيدو څخه وروسته څو غير دولتي جريدې لکه «انکار» « وطن» « نداي خلق» نيلاب ولس او آئينه په کابل کې او « د اتوم» په نامه جريده په ميمنه کې د مطبوعاتو قانون پر بنسټ تاسيس اونشر شوې.

د حزب رامنځته کيدل:

د ويښ ځليمانو غورځنګ د زمان په تيريدو سره سازماني شکل غوره کړلو. د ويښ ځلميانو د ګوند د طرح کونکو رهبري او بنسټ اېښودونکو په اړه مختلف نظريات وجود لري. عبدالهادي خان توخي او محمد ابراهيم خوا خوږي او نورويدي ټکي تاکيد کولو چې د ويښ ځلميانو مقدماتي هسته په کندهار کې کشيشودل شوه. او موسين بي عبارت وو له:

محمد رسول خان پشتون، کاکا محمد انور خان اڅکزي، قاضي بهرام خان اڅکزي، غلام جيلاني الکوزي، عبدالهادي خان توخي، عبدالصمد خان کاکړ او عبدالخاق خان واسعي.(۱) بناغلي

۱- شاه محمود حصين، تاريخ مبارزات ويښ ځلميان، کابل پوهنتون، تايپي مونوګراف، ۱۳۲۷ع ص ۳۸.

عبدالاحد عارض بيا په کندهار کې د دغه جمعيت بنسټ اينښودونکي (۱۳۲۰-۱۳۲۵) لمريز دغه کسان بولي: ۱- محمد رسول پشتون، غلام جيلاني خان الکوزئي، عبدالهادي توخي، عبدالشکور رشاد، محمد ابراهيم خواخوږي، محمد ولي ځلمي، محمد رسول مسلم، محمد علم بځرکی. فضل محمد خان ترافيک، محمد علي خان، غلام دستګير پوپل، نور محمد خان پوپل، قاضي عبدالصمد، قاضي بهرام اڅکزي او عبدالاحد عارض.

هغه څه چې واضح او څرګند دي چې د نوموړي ګوند هسته په پلازميني کابل کې د دارالامان په سيمه کې جوړه او طراحان يي هم په کابل کې اوسيدل او په دندو مصروف وو. له همدي امله کابل، کندهار، هرات، ننګرهار او مزار شريف د سياسي غورځنګونو د رامنځته کيدو مرکزونه ګڼل کيږي خو دغو سياسي حرکاتو د هيواد په سطح سر تاسري خصلت ونه موندلو. يوازي د کابل ښار چې د سياسي فعاليتونو د اساسي او سمت ورکونکي په توګه دويښ ځلميانو په هغه کې ښه رول ولو باوه. او دغو سياسي فعاليتونو چې د کابل په ښار کي پيل شوي وو، نسبتاً پراخ شکل غوره کړ. د هرات ادبي انجمن کړۍ، پر طلوع افغان باندي را ټول شوي روشنفکران، د مشرقي اتحاد او نورو کولاي شي خپل ټاکلي نقش په دغو سياسي جريانونو کي ولري.

خو کابل د روشنفکري فعاليت په برخه کي هميشه مخکښ رول لرلي او دغه ډول سياسي جريانونه په کابل کي ډير زورلرلو. بنا پردي کابل د هيواد پلازميني په توګه لومړني سازماني ټولنيزي مبارزي د بورژوازي د پراخو توليدي مناسباتو په اساس په دغه ښارکي پيل او ديو ډول دود په توګه يي خپل ارزښت ساتلي دي. او دغه امتياز د کابل په برخه دي چې د ويښ ځلميانو موسسه کنګره په همدغه ښارکي جوړه شوه.

په موسسه کنګره کي د شاملو کسانو شمير (۲۱) يو ويست تنو ته رسيدلو. چې د هغو له ډلي څخه څلور تنه يي د مديره هيات غړي وو او نور پاتي کسان د نوموړي غونډې ګډون کوونکي غړي وو، ديوه

تصويب شوي سند سره سم د ويښ ځلميانو ګوند رئيس او منشي نه درلود. يوازې د مديره هيات له خوا چې د کنګري له خوا ټاکل شوي وو، رهبري کيدلو.

د نومو ړي سند له مخې چې مرحوم استاد محمد ابراهيم عطائي سره خوندي وو زما په واک کې راکړلو او هغه سند له هغه لومړي سند سره چې د ويښ ځلميانو د ګوند د تاسيس په وخت کې پري موافقه شوي وه، او له فيض محمد انګار سره هغه اصلي سند موجود وو، سره په مطابقت کې ده هغه دلته رانقلوم:

## د ويښ ځلميانو مرامنامه:

۱- د ملي وحدت استحکام ( د منطقوي امتيازاتو او قومي اختلافاتو رفع کول او د ملي توحيد لپاره هڅې کول. په پارسي او پښتو ژبو باندي په مساوي توګه محاوره کول، د خپل مشبوع ملي حکومت او هيواد سره محبت او همکاري کول.

۲- د هيواد د علمي، اقتصادي او صحي معيارو پورته وړل (آزادي، ناتند روستي ناروغي او د فقر او فاقه رفع کول.)

۳- د ټولنيزو او ملي اخلاقو تحکيمول او د هغو رواجول ( له ظلم، خيانت، تملق، رشوت، درواغو مزخرفو مراسمو او خرافاتو سره مجادله کول، ټولنيزه همدردي لرل. پر شخصي ګټو باندي د ملي او قومي ګټي لوړي بلل، ديني فرايض او احکام محترم ګڼل، د ملي مراسمو ساتل او پالل، له علما و او مشرانو سره صحيح احترام لرل او له هر يوه اسماني مذهب سره بي حرمتي نه کول).

۴- د پښتونستان آزادول او تشکيل ( د پښتونستان لپاره خپروني او تبليغات کول او په دغه لارکي ايثار او قرباني ورکول اوله پښتونسان سره اړيکي او مناسبات ټينګول او په دغه مرام کي ډيره مجاهده کول).

۵- پښتو ژبه د پارسي ژبي درجي ته رسول او د هغو حقوقو ته په يوه ډول قائليدل (پښتو آثار او په هغي کتابونه ليکل او چاپول، و ټولو افغانانو ته د پښتو ژبي تعليم ورکول او د پښتو ژبي د علمي کولو او احيا لپاره هڅي کول.

د ويښ ځلميانو پورتنۍ مرامنامه په پنځو موادو کي د هغه له تفسير اوتشريح سره د خصوصي عاليه کميټي له خوا ترتيب او د عمومي شورا له خوا انتخاب او تصويب شوه.

مورخه ۲۳/سنبله ۱۳۲۹
/۱۴/ /۱۹۵۰

اوس ددي وخت را رسيدلي دي چې دويښ ځلميانو د ګوند هغه مرامنامه تشکيلات او مقررات چې د موسسي کنګري له خوا په بيلابيلو غونډو کي جوړ او بيا د عمومي مجلس په ترڅ کي هغه تصويب شول هغه يو په بل پسي دلته را نقل کړو:

۱- د ويښ ځلميانو د ګوند شرايط، دندي، تشکيلات او مقررات:

الف:- حزبيت شرايط:

۱- په وفاداري او صداقت سره د ګوند مرام ته لوړه (حلف) پرځاي کول.

۲- د کاله يوځل اقلاء پنځوس افغاني يا په هره مياشت کي پنځه افغاني د ګوند خزاني ته ورکول.

( نوت: کميټي د بي بضاعتو غړو له خوا هم له دغه مبلغ څخه کم منلاي شي).

۳- داتلسو کالو څخه د زيات عمر لرل.

۴- د افغاني مليت لرونکي وي.

۵- په نورو ګوندونو کي ګډون نه لرل.

۶- د ګوند د اسرارو ساتل.

ب:- دندي:

۱- د ګوند دغړو او ملګرو زياتول.

۲- د ګوند د اصولو تبليغ کول.

۳- د خپلو ملګرو او هم مسلکانو سره د اړتيا په وخت کي هر ډول مرسته کول.

۴- په کابل کي هرکال د وږي په لومړي نیټه، چې د عمومي جلسي ټولنه به دائریږي، ګډون کول، پر مافیه او راتلونکي مسایلو باندي بحث کول.

۵- په تدبیر او سنجش او مناسبه طریقه یي سره د خپل مرام پرمخ بیول.

۶- د کمیټي په مابین کي مراوده او ارتباط ټینګول.

۷- له ملګرو سره محبت او صداقت لرل.

ج: تشکیلات:

۱- هر ولایت د یوي اجرائیه کمیټي لرونکي وي چې په هغي کي تریولسو تنو پوري غړي شاملیداي شي.

۲- هره کمیټه د غړو له ډلي څخه به دیوه کال لپاره د اکثریت اراو له لاري په انتخاب کیږي.

۳- په کابل کي یوه مرکزي عالي کمیټه موجوده وي چې په هغه کي به له هر ولایت دري تنه منتخب نماینده ګان شامل کیږي.

د: مقررات:

۱- د عمومي شورا فیصلي باید د ټولو کمیټو تر اجرااتو لاندي ونیول شي.

۲- فیصلي او تصویبو نه د هغو د صلاحیتو په حدودوکي (چي د کوچني اسامبلي حکم لري د کمیټو له خوا تر اجراء لاندي به ونیول شي).

۳- ولایتي کمیټي د دغي لایحي د موادو سره سم به جریان ولري.

۴- هره ولایتي کمیټه خپل پروګرام او اجراات به مرکزي کمیټي ته به لیږدوي.

۵- هره کمیټه د خپل چاپیریال د غوښتنو او ایجاباتو سره سم اجراات کولاي شي. پدي شرط چې د مرامنامي له اصولو سره مخالفت ونلري.

۶- نوي غړی د نوموړي محل د اجرائي کمیټو د اعتماد او تصویب پر اساس ګوند ته داخلیږي.

۷- د خزاني پیسي د هغه محل د اجرائیه کمیټي په تصویب د مرام د پرمخ بیولو او ترقي په لاره کي مصرف کیداي شي.

۸- که چيري پر يوه تن غړي د ګوند د مرام خلاف مسئوليت او الزام وارد شي د کميټي د تحقيقي او فيصلي څخه وروسته له ګوند څخه خارجيږي او که چيري د اخطار وړوو ورته به اخطار ورکول کيږي او مرکزي کميټي ته به اطلاع ورکوي.

په پورتني ډول شرايط په شپږو (۶) مادو د ګوند د ندي به اوو (۷) مادو او تشکيلات په دريو(۳) مادو او مقررات په اتو(۸) مادوکي د مرکزي کميټي د عالي کميټي له خوا په ۲۷/ ميزان ۱۳۲۹ لمريز نيټه په کابل کي تصويب شول. همدارنګه د ويښ ځلميانو د ګوند نوي مرامنامه په لومړنۍ جلسه کي چې په۲۳/سنبلي/۱۳۲۹ نيټه د عمومي شورا له خوا تصويب شوي وه د مرکزي عالي کميټي په جلسه کي تائيد او تصويب شوه.

۲۷/ميزان/۱۳۲۹

۱۹/ /۱۲۵۰

د کابل د مرکزي عالي کميټي او اجرائيه کميټي د غړو ټاکل

د عمومي شورا غړو په ۱۴ د عقرب ۱۳۲۹ تاريخ په کابل کي غونډه وکړه او لاندني تصويبونه يي وکړل او د کميټي غړي يي مجدداً وټاکل:

الف:- د مرکزي عالي کميټي غړو ټاکل:

۱- د کابل ولايت له خوا: نور محمد تره کي، غلام حسن خان صافي صديق الله رښتين.

۲- د کندهار ولايت له خوا: عبدالروف بينوا، فيض محمد انګار او غلام دستګير خان.

۳- د مشرقي ولايت له خوا: ګل پاچا خان الفت، قيام الدين خادم.

۴- د جنوبي ولايت له خوا: نيک محمد خان او غلام محي الدين زرموال (روشان).

ب:- د کابل اجرائيه کميټه:

نور محمد خان تره کي، غلام حسن خان صافي، ګل پاچا خان الفت، عبدالروف خان بینوا، صدیق الله رښتین، فیض محمد خان انګار، شاه مرد خان ملیا، نیک محمد خان پکتیاني، عبدالرزاق خان فراهي او محمد موسی شفیق.

د کابل د اجرائیه کمیټي له خوا نور محمد خان تره کي د رئیس په توګه او عبدالروف خان بینوا د منشي په توګه او شاه مرد خان ملیا د خزاندار په توګه د کابل په کمیټي کي مقررشول.

۱۴/عقرب/۱۳۲۹ کابل
۵/ /۱۹۵۰

یادداشت:

د انګار جریده چي دویښ ځلمیانو دګوند د نشراتي ارګان په توګه په کابل کي نشرید له د ویښ ځلمیانو د ګوند د مرامنامي سره سم نشرات کول. د ویښ ځلمیانو ګوند اصلاً له ۱۳۲۶ لمریز کال څخه چي د ۱۹۴۷ میلادي کال سره سمون خوري، په فعالیت پیل کړي وو او د دریو کالو څخه وروسته د موسسینو د تماسونو او فعالیتونو په نتیجه کي وکولاي شواي مرامنانه، تشکیلات او مقررات تصویب کړي.

۱۳۲۶ لمریز کال (۱۹۴۷ میلادي) د هند دویش او ازادي ورځ ده او دغه پیښه دویښ ځلمیانو د ګوند د رامنځته کیدوکي و پاکستان د برتانوي هند پشتون نشین سیمي ورکول، یو له عمده عواملو څخه ګڼل کیږي.

دویښ ځلمیانو د ګوند مرامنامه، شرایطو، دندو، تشکیلاتو او مقرراتو او د مرکزي کمیټي د فیصلو نقل د انګار جریدي د ارشیف له اصلي کاپي څخه اخیستل شوي دي چي وروسته د فیض محمد انګار د انګار د جریدي مسئوول مدیر د مرکزي کمیټي غړي او د کابل د اجرائیه کمیټي غړي وو.

بل یادداشت:

د ۱۳۲۹ لمریز کال د لړم ۱۴ څخه مخکي مرکزي عالي کمیټه ټاکل شوي وه د هغي بشپړ تائید په خاطر یو ځل بیا د نوموړي کال د

لړم د میاشتي په ۱۴ نیټه د عمومي شورا په غونډه کي تائید شوه او هم د کابل اجرائیه کمیټه و ټاکل شوه.

(محمد ابراهیم عطائي)

خو ډاکتر عبدالرحمن اتمر بیا د ویښ ځلمیانو د ګوند د مرامنامي په باب د زیات بحث او خبرو څخه وروسته وائي چي د ویښ ځلمیانو د مرامناي دوه مسودي جوړي شوي وي چي یوه یي نور محمد تره کي او بله ئي قیام الدین خادم لیکلي وه، دغه دواړه مسودي تر بحث لاندي ونیول شولي ځیني مادي یي حذف او ځیني پري زیاتي شوي چي په نتیجه کي له دواړو مسودو څخه یوه مسوده جوړه شوه، او پر هغو یي توافق وکاوه او د ویښ ځلمیانو مرام یي په دي ډول تصویب کړ:

۱- اسلام او یا چاته درناوي درلودل.

۲- د افغانستان د خاوري تمامیت او استقلال ساتل.

۳- ملي نوامیسو او افتخاراتو ته احترام کول.

۴- دا اجتماعي ټولنو او مطبوعاتو د ازادي تامینول.

۵- د اجرائیه، تقنینه او قضائیه قوا و بیلیدل.

۶- د ملي وحدت او قومي شیګڼو ساتل او هر ډول تبعیضونه محکومول.

۷- د ملي ژبي تقویه او انکشاف.

۸- د پښتونستان او د پښتنو ملي خود ارادیت تامینول.

۹- د ښځو حقوقو او مقام ته درناوي کول.

۱۰- د ظلم، رشوت، غلا، قاچاقو او اخلاقي مفاسدو سره مبارزه.

۱۱- د اقتصادي اصلاحاتو پلوه د خانخاني سره مبارزه کول.

۱۲- د علمي او مطبوعاتي موسسو پر اخول د جهل او بیسوادي او مزخوفاتو سره نه پخلا کیدل.

۱۳- د حکومت او ملت په منځ کي د سوء تفاهماتو لومړي کول او په ګټورو چارو کي ورسره مرسته کول.

د غړیتوب شرطونه:

۱- د ګوند سره د وفاداري صادقانه لوړه
۲- په هره میاشت کې د پنځو افغانیو د غړیتوب ورنډه
۳- واتلسو کالو ته سن رسیدل
۴- د افغاني ملت تبعه

دندي يې:

۱- د ټولني د غړو زیاتول
۲- د ټولني د مرام او اصولو خپرول
۳- د ضرورت په وخت کې د ټولني د غړو سره مرسته کول
۴- په کال کې یو ځل د سنبلي په میاشت کې د عمومي جلسي د ایرول

مقررات:

- د عمومي اسامبلي ټولي فیصلي د کمیټو له خوا د اجراء وړ دي
- ایالتي کمیټه خپل د اجرااتو مشخص پروګرام اجرایوي کمیټي ته سپاري
- هره کمیټه د خپل اقتصادي توان له مخي د مرامنامي سره سم اجراات کوي
- ټول غړي د اجرائیه کمیټو په تصویب په ټولنه کي شاملید اي شي
- د اجرائیه کمیټي په تصویب پیسي د ټولني د پر اختیا د پاره مصرف کیدا ي شي
- که د ټولني له خوا ځوک ملزم وګڼل شي د اجرائیه کمیټو په پیشنهاد اخطار، تعلیق او د عمومي ټولني له خوا له غړیتوب ځخه ایستل کیږي

وینښ ځلمیانو په هرو پنځلسو ورځو کې یو ځل غونډه کوله او پنځه افغاني یې حق العضویت وو. عمومي خزاندار او اداري چاري یې د ارسلان سلیمي وردګ په غاړه وي.([1])

د ښاغلي اتمر په قول نوموړي ټولني د شپږو میاشتو په موده کي ځانته د افغانستان په یو شمیرلو یو ښارو کي لکه کندهار، ننګرهار او مزارشریف کي اجرائیه کمیټي پرانستلي چې د هري کمیټي غړي پنځلسو تنو ته رسیدلو.

---

۱- ډاکتر عبدالرحمن، اتمر، دوینښ ځلمیانو ټولنه، یا حق جریده دوهمه دوره، دوهم کال ، دولتي مطبعه، ګڼه ، ۱۳۲۸.

د دي د پاره چي ګوندي فعاليتونه يي تقويه او پراختيا و مومي ددغه کال (۱۳۲۹ لمريز) د سنبلي په مياشت کي د پوهاند عبدالحي حبيبي او سيد شمس الدين مجروح ته هم د ګوند د غړيتوب لپاره بلنه ورکړل شوي وه، خو دوي دواړو د ځينو سياسي او ټولنيزو ملاحظاتو له امله د ګوند د غړيتوب څخه معذرت وغوښت، خو خپله رو اداري او همکاري يي د ګوند د مهمو او موسسو غړو سره تر پايه جاري و ساتله ټولو کميټو هري يوي ځانته يو رئيس، منشي او خزاندار لرلو. چې ديوه کال لپاره ټاکل کيدل.

په کابل کي يوه مرکزي کميټه وه چې دهر ولايت يو يو نماينده پکي غړيتوب لرلو. په کابل ۱۳۲۹ لمريز کي د کابل اجرائيه کميټه کي دغه کسان شامل وو: غلام حسن صافي، ګل پاچا الفت عبدالروف بينوا، فيض محمد انګار، نور محمد تره کي، شاه مرد مليا صافي، نيک محمد پکتياني، عبدالرزاق فراهي، محمد موسي شفيق او غلام محي الدين زرملو ال روشان.

ويښ ځلميانو تر کال ۱۳۳۰ لمريز پوري زياته ترقي وکړه. په کابل، ننګرهار او ځينو نورو سيمو کي داسي لږ ځوانان او روشنفکران پيدا کيدل چې د دغي ټولني غړيتوب يي نه درلودلو.

څرنګه چې د ويښ ځليمانو په دغه ټولنه کي د هر قشر او طبقي نمايندګان موجود وو د طبقاتي تضادونو بيلا بيلو ذهنيتو او دولتي ګمارل شوي کسانو دمداخلو او فشارونو له امله يي مرام لکه څرنګه چې ښايي د عامه خلکو په ګټه نه شو عملي کولاي او د غړو سياسي پيوستون يي چې د څه مودي لپاره موجود وو، هغه کرار کرار ضعيف کيدلو. ترڅو په اخر کي د زيات فشار او سياسي ناارامېو له امله خپله بينوا ددغه ګوند له غړيتوب څخه استعفا وکړه. خود منظوري لپاره يي حتي د ګوندي جلسي د جوړيدو مجال پاتي نه شو.

## الف: د مرکزي سازمان اهداف:

د ويښ ځلميانو د مرامي اهدافو په باره کي بيلا بيل نظريات وجود لري د ويښ ځليمانو نشراتي ارګان « انګار» پخپلو مقالو او ليکنو کي د ويښ ځلميانو مرام او اهداف په تيت ډول خپاره کړي دي.

ددغو ليکنو او تبصيرو له مجموعي څخه د ځينو ګډو ټکو په نظر کي نيولو سره ځيني بيلابيل نظريات منعکس کيږي، دا چې د انګار جريدي د ويښ ځلميانو مرام د سياسي احتياط او هوښياري له امله په يو وارندي خپور کړي د همدي علت له امله وو. د ويښ ځلميانو د مرام بيل بيل ليکوالو او شخصيتونو له خوا اکثراً د اشخاصو نظريات او طرز تفکر هم له ځان سره لرلو. مثلاً د انګار جريدي په لومړي ګڼه کي د نور محمد تره کي يوه مقاله چې عنوان يي وو: ( موږ څه غواړو؟) خپره شوي وه. ددغي مقاله محتوي او ژبه په د نورو مقالو سره پرتله توپير لري. همدارنګه په بله ګڼه کي غلام حسن ساپي مقاله د (ويښ ځلميانو څه غواري؟) تر عنوان لاندي خپره شوه چې دا مقاله هم د نورو مقالو سره فرق لرلو. خو د غلام حسن صافي مقاله د محتوي له نظره د صديق الله رښتين، ارسلان سليمي وردګ او قيام الدين خادم له مقالو سره ډير ورته والی لري. لدي څخه په مجموعي توګه د ټولو ليکوالو د مقالو ترمنځ ځيني ګډ ټکي هم وجود لرلو. په ټولو ليکنو کي د چپ او هم د ښي اړخ تمايلات معلوميږي. لنډه دا چې د ويښ ځلميانو مرام د هغه وخت د ځينو شخصيتونو له خوا داسي کتګوري شوي دي:

۱- مشروطيت او د هغه له مخي وشاهي مقام ته احترام.

۲- د استقلال او ځمکني تماميت څخه دفاع.

۳- د هيواد ملي نواميسو او افتخاراتو ته احترام.

۴- د بيان، عقيدي، احزابو او د مطبوعاتو د آزاديو تامين.

۵- د هيواد دري ګونو قواو تفکيک.

۶- د هر ډول تبعيض سره د مبارزي له لاري د ملي وحدت تامينول.

۷- د پښتو د ملي ژبي تقويه او پرمختګ.

۸- د پښتنو ورونو خلکو د غوښتنو څخه رښتني حمايه او ملاتړ.

۹- دښځو د حقوقو تامين او هغو ته احترام.

۱۰- د ظلم، رشوت او قاچاقو او نورو ټولنيزو مفاسد و سره مبارزه.

۱۱- د اقتصادي اصلاحاتو په چوکات کي د خانخاني امتيازاتو لغوه کول.

۱۲- د علم او عرفان انکشاف د جهل او بيسوادي پر خلاف مبارزه.

۱۳- د موثري مفاهمي له لاري د حکومت او ملت ترمنځ د اړيکو تامين.

خو ښاغلي استاد پوهاند صديق الله رښتين د قلمي يادداشت له مخي اصل مرامنامه په پنځو مادوکي د ۱۳۲۹ کال د سنبلي د مياشتي د ډيرويشتمي نيټي، خلاصه کوي چې د پورتني ذکر شوي موادو سره په تناقص کي ندي:

د پورتنو ليکنو او مطالبو په پام کي نيولو سره کولاي شو ووايو چې د ويښ ځلميانو مرامي اصول چې له ۱۳۲۲ لمريز کال څخه پيل بياتر ۱۳۲۹ لمريز کال پوري په پر له پسي ډول د ټاکلو بدلولونو لرونکي وو، د امرامي اصول په لومړي سرکي د بيدارو ځوانانو په وسيله د ځينو مقالو او رسالو د ليکلو په وسيله تيت او په نامنظم ډول انعکاس موندلي چې بيا وروسته په کال ۱۳۲۹ لمريز کي په منظم ډول ترتيب او تنظيم شو. په دغه زماني فاصله کي دويښ ځلميانو د افکارو انعکاس جوت دي. په دغو اصولو کي د چپ او راست بيلابيلي ارزوګاني او تمايلات په څرګند ډول معلوميږي. که چيري پورتنۍ مرامنامه د ويښ ځلميانو د اصلي مرام په توګه ومنونو ويلاي شو چې پورتني مرام د محتوي او بډايني له حيثه د لومړي مشروطه غوښتني څخه چندان پرمخ تللي او مترقي نه ګڼل کيږي. که څه هم د لومړي مشروطه غوښتني او د ويښ ځلميانو د منځته راتګ ترمنځ زماني فاصله تقريباً د نيمي پيړي په حدودوکي ده چې داد دريمي نړۍ هيوادو د ټولنيز اقتصادي تحرک او دفکري حرکت د چټکتيا اټکل کيداي شي.

که چيري د لومړي مشروطه غوښتني، مرام د ويښ ځلميانو سره په پرتله شي د مشروطيت د مرام ژبه ډيره جدي ده. دلته دوه عامله دياد ولو وړ

دي: لومړي دا چې د محمد هاشم خان د صدارت د دوران استبداد او وحشيانه ظلم د خلکو او روشنفکرانو افکار او اراده دو مره سخته ځپلي وه چې هغوي د شاه محمود خان د دوري پر دموکراسي باندي اعتماد نه کولو او هغي ته يي هم د شک په سترګه کتل. دوهم دا چې دويښ ځلميانو په غورځنګ کي د حاکمي سياسي طبقي نمايندګانو او محافظه کارو عناصرو د موجوديت او د هغوي دنفوذ له امله د ويښ ځلميانو مرامنامه او اهداف د مشروطي غوښتني په نسبت ډير محافظه کاره ماهيت ولري.

د ويښ ځلميانو غورځنګ کوم مشخص مشر نه درلود. چې پدي اړه د ښاغلي دستګير پنجشيري ليکنه زموږ پام ځانته وراړوي:

« د ويښ ځلميانو جريان ارشيف او پيژندل شوي مشر نه لرلو. د دغه جريان د مرامي او تشکيلاتي اصولو په باب لومړي لاس اسناد د معاصرو مورخينو په لاس کي نشته او که اسناد هم لاسته راغلي وي اغلباً د ګډون کوونکو له شخصي او قلمي يادداشتونو او رواياتو څخه دي. دغه يادداشتونه په هيڅ ډول د ويښ ځلميانو د غورځنګ ټول فعاليتونه نه شي منعکس کولای»(۱)

نوموړي زياتوي:

« د دغه ټولنيز او سياسي غورځنګ صفوف د بيلابيلو افکارو او طرزو نو څخه برخمن وو په دغه صفوفو کي داسي عناصر ګډ وو چې د بيلابيلو او حتي مخالفو او متضادو افکارو خاوندان وو. د دغه سازمان د غړو شناخت د ټولني د تکامل له قوانين څخه په عام ډول ډير سطحي او ضعيف وو اغلباً اخلاقي رنګ يي لرلو، او د دوي يووالي بي ثباته وو»(۲)

ډاکتر اشرف غني په همدي اړه ليکي:

« د دموکراسي غورځنګ د نوي نسل د روشنفکرانو او د دربار د نويو اړيکو نتيجه ده»(۳)

---

۱- دستګير پنجشيري، ظهور و زوال حزب دموکراتيک خلق افغانستان، پشاور مرکز نشراتي فضل، ۱۳۷۷، ص ۱۱۴.

۲- پورتني اثر، مخ ۱۱۴.

۳- ظاهر طنين، افغانستان در قرن بيستم، تهران، کتابخانه ملي ايران، ۱۳۸۳، ص ۸۲.

ښاغلي زرموال: چې دويښ ځلميانو د مرکزي اجرائيوي کميټې غړي وو پخپل اثر کي ددغه غورځنګ په اړه ليکي:

« د ويښ ځلميانو د غورځنګ او تحريک مبتکر يو سړي نه وو هر څوک چې د فرد په حيث خپل ځان د ويښ ځلميانو د غورځنګ او تحريک مبتکر بولي هغه پخپل ځان تهمت وائي. د ويښ ځلميانو غورځنګ يو ډله ايز تحريک وو چې... د ملي ارمانونو د تحقق او مشروطه نظام د استقرار د پاره يې دهيواد په تاريخ کي د لومړي ځل لپاره ملي مسالمت اميزه سياسي مبارزه پيل کړه».(۱)

## ب: د ويښ ځلميانو د سازمان ميتود او فعاليت:

د ويښ ځلميانو غورځنګ فعاليتونه او د هغه ميتود په دري لاندنيو برخو کي عمدتاً جريان لرلو:

- د بورژوا د موکراتيک اپوزيسيون پارلماني فعاليت.
- د ملي جبهې پيدا ينښت.
- د سياسي فعاليتونو ساحه.

د ويښ ځلميانو غورځنګ که څه هم له منظم او پايداره تشکل، کلک انضباط، سياسي او ايدئولوژيک وحدت څخه برخمن نه وو او د هغه په صفوفو کي ډول ډول او مخالف عناصر سره رايو ځاي شوي وو، سره له هغه هم د دغه سازمان سياسي فعاليتونه مختلف جهتونه په برکي نيول، په کابل او کندهار کي د بلدئي په ټاکنو کي ګډون دغه سياسي سازمان ته دا چانس ورکړلو چې نه يوازي خپل نمايندګان او سمپاتيزران د ښاروالي درياست څو کي ته انتخاب کړي، بلکه له همدي لاري او په همدي وسيله يې په ښارونو کي خپل سازمان ته خلک جذبول او د ګوند د غړو شميريې زياتولو. د ښاروالي د رياست څوکي ته رسيدل په نومړي وخت کي د ډير ارزښت څخه ډک وو. همدغه مبارزه د دي سبب شوه چې کاکا عبدالعزيز په کندهار کي د

---

۱- غلام محي الدين زرموال، د ويښ ځلميانو مبارزه او د استبداد عکس العمل، پشاور، ۱۳۸۵، ص۳۰.

ښاروال په توګه و ټاکل شو. کاکا عبدالعزیز د مشروطه غوښتني مشهور مبارز او وطندوست انسان وو. ده د وطنپرستي په لاره کي ډیر زندان تیر کړي او داختناق په بدو شرایطو کي یې ډیر وخت په زندان کي بندي وو.

کله چې په کال ۱۹۴۸ میلادي کي د افغانستان په ټولو لویو ښارونو کي چې د تخمین له مخي لس زره نفوس یې لرلو د هغه قانون پر اساس چې په کال ۱۹۴۷ کي وضع او نافذ شوي وو انتخابات تر سره شول، دغه انتخابات د بورژوا د موکراتیکو قوانینو پر اساس د افغانستان په تاریخ کي لومړني انتخابات وو. په دغو انتخاباتو کي د ویښ ځلمیانو د فعالیت ښې نتیجې منعکسي نه شوې.

همدارنګه په کال ۱۹۴۹ میلادي کي په پارلماني انتخاباتو کي د ویښ ځلمیانو ځینو غړو او علاقمندانو ګډون وکړ. که څه هم په دغه وخت کي په افغانستان کي، په اوسني مانا ګوند موجود نه وو.(*) د ویښ ځلمیانو غړو او خوشبینانو هم په پارلماني انتخاباتو کي ګډون وکړلو. د هغو په نتیجه کي یو کم شمیر کسان مخصوصاً په لویو ښارونو کي و پارلمان ته لاره و موندله که څه هم درایو ورکونکو فیصدي هیڅ معلومه نه وه خو بیا هم دا کوچنۍ کامیابي یو تعجب آورشي ښکاره کیدلو. که چیري د انتخاباتو د ګډون کوونکو شمیر له ۵٪ څخه تر ۲۰٪ پوري تخمین کړو نو لدي څخه دا له ورایه شابتېږي چې په لوپو ښارونو کي د روشنفکرانو شمیر نسبت و اطراف ته زیات وو. بر عکس په اطرافو کي لکه چې «د انګار» جریدي پخپل یوه مضمون کي ولیکل چې د انتخاباتو په حوزه کي څو کاله پخوا قبیلوي مشران چې د پارلمان لپاره ټاکل شوي وو، کابل ته ولیږ دول شول، درای ورکوونکو شمیر هیڅ معلوم نه وو.

عبدالهادي خان توخي له قوله د ویښ ځلمیانو نفوذ د شورا په اوومه دوره کي ددي سبب وګرزیدلو چې په پارلمان کي د لومړي ځل لپاره کیڼ اړخي جبهه جوړه شي. په دغه جبهه کي میر غلام محمد

---

*- د دغه تکي څخه مطلب د ګوند اوسني تعریف دي چې ودا ډول سیاسي جریانو ته ورکول کیږي.

غبار، عبدالرحمن محمودي، عبدالروف بينوا او نورو ګډون کړي وو. دغي جبهي په پارلمان کي يوا پوزيسيون ګروپ جوړ کړلو لکه په ايران کي د ډاکتر مصدق چې جوړکړي وو. د دغي پارلماني جبهي ځانته « ملي جبهه» ويله دغه پرکسيون غوښتل چې د ويښ ځلميانو او نورو سياسي ډلو ريفورميستي پلانونو نمايندګي په پارلمان کي وکړي چې شمير يي تر څلويښتو (۴۰) تنوپوري رسيدلو.

د ملي جبهي سره د پارلمان ځيني نور نمايندګان لکه سيد محمد دهقان د فيض آباد عبدالله وال قريشي د تالقانو څخه محمد انور بره کي د بګراميو نور علم د ميدان، خيال محمد خسته د مزار، نظر محمد نوا د ميمني، عبدالله بيګ مظلوم د درواز، سخي امين د دوشي، محمد يونس د کټواز، محمد طاهر د غزني د جغتو او مير حاتم د ځدرانو څخه ورسره يو ځاي شول.

دغو روشنفکرانو په پارلمان کي خپل اصلي هدف دټولنيزو تحولاتو راوستل و ټاکلو. دوي وکولاي شول چې ددغو فعاليتو لپاره يو ګډ پروګرام (فلاتفورم) منځته راوړي، او علناً يي خپور کړي په دغه وخت کي ملي جبهي مطلق د اپوزيسيون حالت ځانته غوره کړ. چې هميشه يي په پارلمان کي د خلکو د حقوقو څخه ملاتړ کولو. اوويل به يي چې خلک بايد د پارلمان په غونډو کي د اوريدونکو په څير ګډون ولري چې دا خبره د دولت له خوا هميشه تر سوال لاندي وه.

ښاغلي غبار ليکي:

« د ويښ ځلميانو ګوند د افغانستان د ملي شورا په او ومه دوره کي يو دوه نفري فرکسيون لرلو چې دواړه تنه يي يعني ګل پاچا الفت د ننګرهار وکيل، او نور محمد خان د کندهار د پنجوائي وکيل، د دولت مخالف، جبهه (ملي جبهه) کي ودريدل. همدارنګه په کندهار کي ويښ ځلميانو د ملي شورا په انتخاباتي مبارزه کي ګډون وکولو او يو تن د خپلو غړو څخه ښاغلي عبدالشکور خان رشاد وکالت ته کانديد کړ.« البته د ملي شورا و اتمي دوري ته. خو حکومت د قوي په اعمال سره د نوموړي کانديد پر ځاي يي عبدالغفور خروټي يي و وکالت ته کاميات اوتحميل يي کړ. له

همدي سببه په کال ۱۳۳۱ لمريز د کندهار د ويښ ځلميانو يو شمير مشران د کابل او کندهار په محابسو کي بنديان شول. لکه: محمد انور خان اڅکزي، عبدالهادي خان توخي غلام جيلاني خان الکوزي، قاضي بهرام خان، قاضي عبدالصمد خان او محمد يوسف مجددي د کابل په محبس کي، فيض محمد خان انگار، محمد علم خان اڅکزي او حاجي محمد حسين هوتکي د کندهار په محبسکي، محمد رسول خان پښتون هم د بغلان ولايت ته تبعيد شو او محمد عزيز خان توخي جلابندي شو. يو تن له دغو څخه خدايدوست د خپل حبس په اتم کال د کابل په محبس کي مړ شو. عبدالهادي خان توخي، قاضي بهرام خان او عزيز خان توخي تقريباً دولس کاله په زندان کي پاتي شول.. د دوي په تعقيب د ويښ ځلميانو گوند د سردار محمد داود خان د صدارت په دوره کي(۱۷۵۳ ميلادي) عملاً د سياست له ډگر څخه خارج شو، او يوازي ځيني کوچني گروپونه د پخوانيو گوندي ملگرو په څير پاتي شول»[1]

البته د اخبره دتامل وړ ده چې د اکسان چې د کندهار څخه وو د خدايدوست په قضيه کي بنديان شول. البته پر خدايدوست يو شمير اسناد پيدا شوي وو چې د هغو پر اساس يي دده رابطه له پاکستان سره تابتوله. دولت د دغو اسناد و ترلاسه کولو څخه وروسته د نورو ټولو کسانو چې د خدايدوست سره سياسي اړيکي لرلي، د گرفتاري امر صادر کړ.[2] البته د اخبره ماته محترم محمد ولي ځلمي وکړه او ځيني شواهد يي هم پدي اړه ماته راکړل.

همدارنگه د ملي جبهي نمايندگانو ځيني ريفورمستي د موکراتيک قوانين د (۱۹۴۹-۱۹۵۲) دوي پارلمان ته پيشنهاد کړل. چې دلته يي را اخلو:

۱- دغير قانوني ماليو د تکليفونو له منځه وړل.
۲- د عسکري د جلب له امله د ستونزو ليري کول.

---

۱- مير غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ، دوهم توک، پشاور، ۱۳۸۰، ص۲۴۱.
۲- محمد ولي ځلمي، ملي مبارزي، کابل، د ميوند نشراتي موسسه، ۱۳۸۲، ص ۱۸۲.

۳- د خلکو د ځمکو د ضبط او مصادري څخه مخنيوي.

۴- د تعاوني ديپو د لغوه کولو څخه مخنيوي او د توربازار د سوداګرانو د لاس لنډول.

۵- د بيکاري څخه مخنيوي چې مختلف ابعاد او ډولونه يي لرل.

۶- د ځارويو دمحصولاتو له زياتو لو څخه مخنيوي. دغه محصولات د ۱۳۱۳ څخه تر ۱۳۲۰ لمريز پوري اوه (۷) برابره زيات شوي وو.

۷- د صکوکو د محصول د صعود مخنيوي.(۱)

ددغو ټولو مواد و محتوي چې اقتصادي بڼه يي لرله، په دري ټکو کي لنډيد اي شي:

۱- د پارلمان رول بايد بدلون ومومي. او

۲- دولتي موسسي بايد بدلون ومومي. او

۳- د خلکو ژوند بايد ښه شي.

د دي سره پر دولت باندي د سياسي فشار واردولو لپاره شه وسيله ګڼل کيدله. ددغي جبهي فعاليتونو ونډه د قانونګذاري په پروسه کي د فعالي ونډي اخيستل هم په سياسي لحاظ د خاص اهميت وړ وه. دغه مقاومتونه ددي سبب شول چې په مياشتو مياشتو بحثونه دوام وکړي او يو قانوني سند تصويب نه شو. او دغو بحثونو د پارلمان غړي په ترقيخواه او محافظه کاره ډلو ويشلي وو او دا جريان ټول د وطن په جريده او نو رو ورځپاڼو کي خپريدلو.

## ج:- ويښ ځلميانو ميتود او اهداف په تنويري او تبليغاتي فعاليتونو په ساحه کي:

د ويښ ځلميانو روشنفکرانه تنويري او تبليغاتي فعاليتونه مخکي لدي څخه چې د هغوي سازمان تشکل ومومي، په کابل مجلسه طلوع افغان، اتحاد مشرقي او نورو ورځپاڼو کي تر سره کيدل.

---

۱- عبدالحي حبيبي، آزاد افغانستان، پشاور، ۱۳۲۶، سنبله، ۲۹.

روشنفکرانو خپل تحول غوښتونکي افکار له همدي لاري د لومړنيو ازموينو څخه تير کړل دويښ ځلميانو تنويري فعاليتونه له ۱۹۵۰ کال څخه تر ۱۹۵۱ پوري زياته پراختيا وموندله په دغه زماني شيبو کي ځيني قوانين او اصولنامي نافذي شوي د مطبوعاتو د آزادو اخبارو د خپريدو اجازه وکړل شو، او غير دولتي (ملي جريدي) جرايدو د خپريدو حق تر لاسه کړ.

لومړني جريدي چي د آزادو مطبوعاتو په اسمان و ځليده، د «انګار» جريده وه چي فيض محمد انکار يي د امتياز خاوند او مسئوول مدير وو. د ۱۳۲۹ لمريز کال د کب د مياشتي له نهمي نيټي څخه په خپرونو پيل وکړلو او د هغه وخت روشنفکرانو خپل روشنفکرانه نظريات د دغي جريدي له لاري خپل غږ د ټولني ټولو روشنفکرانو ته رسولو. د غو بيدارو ځوانانو هر يوه خپل ټاکلي تولنيز افکار او ارمانونو پخپلو اثارو کي منعکس کول، د انکار جريدي د روشنفکرانو د راويشولو په ساحه کي ډير ښه سازمان ورکونکي رول و لوباو، او غير کي يي ډير روشنفکر، او تحول غوښتونکي روشنفکران يي وزول. نوموړي جريده هغه وخت بنده شوله چي پخپله وروستي ګڼه کي يي د محصلينو د منحل شوي اتحاد يي څخه په غو څه توګه دفاع وکړه او يو شمير نورو اقتصادي مضامينو د خپرولو په نسبت وتړل شوه.

په کندهار کي دو رور ږغ په نامه مجله، د کندهار د ويښ ځلميانو له خوا د نشر اجازه تر لاسه کړله دعبدالهادي خان توخي په قول دا مجله د حقيقت د جريدي پر ځاي نشراتي حق تر لاسه کړلو، دو رور ږغ مجله هم د وخت د مطبوعاتو له خوا د دوهمي ګڼي له خپريدو څخه وروسته بنده شوه.

د «انګار» د جريدي د بنديدو څخه وروسته ويښ ځلميانو هڅه وکړ له تر ځو تر بل نامه لاندي يونشراتي ارګان ولري. د دغو هڅو په نتيجه کي په کال ۱۳۳۰ لمريز کي د جوزا د مياشتي په اته ويشتمه نيټه (۱۹۵۱) د (اولس) په نامه يوه جريده راوايستله مسئوول مديريي ګل پاچا الفت وو. د دغي جريدي مشهور ليکوالان ګل پاچا

الفت، قيام الدين خادمَ عبدالرحمن محمودي، احسان خمار او نور وو.
بايد وويل شي کوم شورا و شوق چې د انکار جريدي د خپل فعاليت په وخت کي درلوده، دولس جريدي نه لرلو. ځکه د (انکار) جريدي وکولاي شواي يو شمير زيات روشنفکران او ويښ ځوانان د ټولنيزو اغيزمنو مقالو او مضامينو ليکنو ته و هڅوي په دغه وخت کي ډير محدود شول او د « ولس» جريده هم د څوګڼو له خپريدو څخه وروسته د ويښ ځلميانو د مشر تابه له اجازي څخه پرته د نامعلومو د لايلو له امله د مسئوول مدير له خوا وتړل شوه.

لنډه دا چې د ويښ ځلميانو نمايندګانو د يو شمير نورو روشنفکرانو او مترقي پارلماني وکيلانو سره ګډ ريفورمستي غوښتني د پارلمان له لاري د سياسي فشار د وسيلي په توګه کار اخيستلو. د دغو غوښتنو پراخه ساحه د دولت او ځينو وزيرانو د قانون ماتولو په باره کي وو. دوي د دولت څخه غوښتل چې حکومت بايد و پارلمان ته په دغه موارد کي مثبت ځوابونه ارائه کړي. لکه د اجباري کاربندول اجباري کار قانوناً بندوو خو په عمل کي موجود وو چې دا د قانون څخه څرګنده تخطي وه. بيا هم هغه فيصلي چې په پارلمان کي د اکثريت دارا و په وسيله پاس شوي وي. د دولت له خوا هيڅ توجه ورته ونه شوه.

په همدي ډول د دوي يو شمير پيشنهادونه لکه د ماليي نوي قانون چې په دموکراتيک ډول جوړ شوي وو، د بانک د نوي سيستم قانون د دولتي دستګاه د بودجي د تثبيتولو قانون او داسي نورو ته هيڅ توجه ونه شوه. په همدي ډول د دولتي انحصاراتو او دعابداتو د مترقي ماليي په رواجولو کي کوم پام ورته ونه شو. عبدالهادي داوي چې په دغه وخت کي د پارلمان رئيس وو د ملي جبهي پيشنهاد د انتخاباتو د نوي قانون په باب چې د۱۹۵۲ ميلادي کال لپاره پيش بيني شوي وو دومره و ځنډاو، چې هيڅ رايو ته وړاندي نه شو. په همدي ډول د ملي جبهي هغه غوښتني چې د هغي پر اساس بايد يو شمير وزيران چې په ځينو دولتي تاسيساتو کي ونډه وال وو ترپوښتني لاندي ونيسي. او داسي نور موضوعات چې د پارلمان

محافظه کارو ډلو د دولت سره په تفاهم کې د هغو په مخنوي کې کلک رول ولوباوه.

# څلورم فصل

## د ۱۳۲۶ لمريز او ۱۳۲۹ کلونو ترمنځ د سياسي فعاليتونو مشخصات

## د ۱۳۲۲ لمریز او ۱۳۲۹ کلونو ترمنځ د سیاسي فعالتونو مشخصات

د سردار شاه محمود خان د حکومت په پیل کې داودخان او ورور یې محمد نعیم خان دواړو یو په بل پسې وطن پرېښود.

دوي دواړو چې د شاه محمود خان د حکومت د تګ لارې سره موافق نه وو. په لندن کې وزیر مختار او بل په پاریس کې مقرر شول او هلته ولاړل او تر ۱۳۲۸کال پورې هلته پاتې سول، په دغه وخت کې عبدالمجید خان زابلي چې د اقتصاد وزیر و و نوموړي هم د حکومت اقدامات د دموکراسي په لوري په خپله ګټه ونه بلل او د شاه محمود خان سره د لفظي برخورد په نتیجه کې وطن پرېښود او خارج ته یې سفر وکړ او په دغه وخت کې یې له دواد خان او نعیم خان سره وکتل. کله چې زابلي وطن ته راستون شو، له هغه وروسته دواړه ورونه هم په ده پسې وطن ته راستانه شول او د زابلي سره یو ځای یې یو شمېر سیاسي فعالیتونه ترلاس لاندې ونیول د دوي هدف دا وو چې لومړي باید پاچا د شاه محمود خان له ملاتړ څخه منصرف کړي. په دوهمه مرحله کې صدراعظم و استعفا ته مجبور کړي و دغو اهدافو ته د رسیدو لپاره دوي دا ډول استدلال کولو چې شاه محمود خان نسبي نرمي رويي د وطن امنیت ته خطر پیش کړي دي نو ددغه خطر د مخنیوي په خاطر دا ایجابوي چې داسې یو ټینګ او کلک نظام رامنځته سي چې دا امنیت تأمین سي.

د شاه محمود خان حکومت دا ډول خطر سره مخامخ دي. د دوي دا ډول تبلیغات د یو شمېر خلکو په مغزو کې حتي د پاچا په ذهن کې اغېزمن واقع

شول که څه هم پاچا ودې کارته حاضر نه سو او يا نه وو آماده چې ډېر ژر د شاه محمود خان لاس د حکومت د چارو څخه لنډ کړي او د هغه پر ځاي داود خان د حکومت پر کرسۍ کښېنوي خو دا موافقه يې وکړه چې دواړه وروڼه به بېرته و کابينې ته راوستل سي او زيات شمېر اختيارات به و دوي ته ورکړل سي.

عبدالمجيد خان زابلي چې ددغې چارو د ترسره کولو او اجرا لپاره فوق العاده استعداد څخه برخمن وو، سمدلاسه لاس په کارسو او داسې نقشه يې طرح کړه چې د دولتي ګوند پر جوړېدو او د وزيرانو په ترکيب کې د تعديلاتو واردول او د صدراعظم او د غړو پر صلاحيتو جوړ سوي وو، د همدې طرح په اساس چې پاچا هغه په خوښۍ سره او صدراعظم په اکراً سره هغه ومانه او دغه حرکت وزيران په څو بېلا بېلو ګروپو ووېشل او د هر ګروپ په سر کې يو تن د سر ګروپ په نامه چې د وزير څخه يې ډېر صلاحيت لرلو، قرار نيولو، د ګروپونو مشران عبارت وو له:

علي محمد پوپل، محمد داود خان، عبدالمجيد خان زابلي او فيض محمد ذکريا په عين وخت کې د يو دولتي ګوند په تاسيس کې د « ملي دموکراتيک ګوند » تصميم ونيولو، چې په لومړي مرحله کې « د کلوپ ملي» په نامه تشکيل کړو. د دوي له دغه ابتکار څخه مقصد دا وو چې له يوې خوا صدراعظم يې بې صلاحيته کړي او له بلې خوا هغه حرکت په نطفه کې خنثي کړي چې د حکومت ضد ازادو ټولنو او ګوندونو له لوري د روشنفکرانو په جذبولو او په شورا کې د وکيلانو جذبول روان وو. د دا ډول لوبو په نتيجه کې د هېواد په سياسي ډګر کې يو درې ګونه کشمکش را څرګند شو:

لومړي کشمکش د ګروپونو د رييسانو او ددوي د طرفدارانو ترمنځ چې له تعليم يافته و او نورو کسانو څخه عبارت وو هڅه يې کوله چې له همدې لارې د قدرت واګې په لاس کې واخلي. دوهم کشمکش د هغو آزادي غوښتونکو وکيلانو او محافظه کارو عناصرو ترمنځ وو چې دموکراتو وکيلانو غوښتل او هڅه يې کوله چې د استبدادي نظام د بېرته راتګ څخه مخنيوي وکړي. دريم کشمکش چې دواړو کشمکشو ترمنځ خپله صدراعظم وو چې له دواړو خواوو څخه په بېره کې وو او غوښتل يې چې خپل مقام وساتي.

ملي کلوپ د روشنفکرانو د جلب په کار کې مخصوصاً د شورا د آزادي غوښتونکو غړو په را جذبولو کې ناکام سو، ځکه دوي په هغه کې د ګډون څخه ډډه وکړه.

په همدې وخت کې يو شمېر دولتي مامورين له هغې ډلې څخه چې عبدالحي عزيز د ګروپ د نقشي جوړېدل يې د قانون خلاف بلل، له خپلو دندو څخه يې استعفا وکړه او په کلوپ ملي کې يې د ګډون څخه ډډه وکړه او هغه بلنه يې رد کړه. له بلې خوا خپله شاه محمود خان صدراعظم هم له منفي لارې د کلوپ ملي د کار په مقابل کې ستونزې رامنځته کولې. تر څو په پاې کې په کال (۱۹۵۰ميلادي) کې د وزيرانو په مجلس کې د يوې جزيي موضوع پر سر د صدراعظم او زابلي ترمنځ يو برخورد رامنځته سو چې په نتيجه کې يې د اقتصاد وزير زابلي استعفا وکړه.

داسې توقع کېدله چې دده نور ملګري به هم مخصوصاً داود خان او نعيم خان به هم دا وکار وکړي، مګر هغوي دا کارونه کړ. زابلي کلوپ ملي هم پرېښود او د يوې زياتې مودې لپاره و خارج ته ولاړ. د کابينې دغړو څخه يوازې امير الدين شنسب چې د کرهنې مستقل رييس وو او د زابلي په وړانديز و حکومت ته داخل سوي وو، هغه هم استعفاً وکړه او په خارج کې د زابلي سره يو ځاي شو.

د کلوپ ملي څخه د زابلي وتل چې عمدتاً دده په شخصي سرمايه چليده وروسته له مالي فقر سره مخامخ شو او په تدريجي توګه له منځه ولاړ. خو سردار محمد داود خان او دهغه ملګري چې ځينې يې په لوړو دولتي چوکيو کې مقرر وو، دهغوي نفوذ لا زيات سو او شاه محمد خان يې مجبور کړ، چې د دموکراسي له داعي څخه لاس په سر شي او د شخصي اداري حکومت لارې ته بيا را وګرځي خو دا چې شاه محمود خان د محافظه کارو عناصرو په منځ کې چې عمدتاً د محمد هاشم خان د پاتې شويو څخه وو، چندان طرفداران نه لرل او صدراعظم د يوه سياسي تجريد په حالت کې واقع وو.

## الف: د ويښ ځلميانو د مبارزې د پراختيا لپاره د زمينې مساعد کول:

دا يو ښکاره حقيقت دي چې ويښ ځلميانو په افغانستان کې د مستبد رژيم او ټولنيزو بې عدالتيو سره د مخالفت يوه ټولنيزه اخلاقي او ادبي ټولنه ده، نوموړي ټولنه تر هر څه د مخه ادبي او اخلاقي اړخ او هويت لرلو. په کندهار، کابل او ننګرهار کې يو شمېر ليکوالان او شاعران خپل ملي افکار او غوښتني د خپلو سيمو د ورځپانو جريدو او کنفرانسونو له لارې څرګندولې ځرنګه چې د دوي څخه يو شمېر دولتي مامورين او متنفذ وکړيو منسوبين وو او دولت د خوش بيني او همکاري له نظره هم نه وه لويدلي،

دغه مطبوعاتي او عرفاني محفلونو کرار کرار د وخت د غوښتنو او د ژوند د شرایطو اوښتلو په نړۍ کې د ملي نهضتونو او حکومتونو د رامنځته کېدو له امله په سیاسي او ټولنیزو ډلو باندې بدلېدل او د ملي غورځنګ بڼه یې غوره کوله.

د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته چې په آسیا، افریقا او لاتیني امریکا کې استعمار ځپلو ملتونو د ښکېلاک زړغ څخه د سیاسي او نسبي اقتصادي ازادیو په لاس راوړلو لپاره زمینه مساعده کړې او د ملي او دموکراتیکو حکومتونو د جوړولو لپاره لاره اواره او خلاصه سوه نو کابل هم چې د افغانستان پلازمېنه وو د سیاسي او فرهنګي مرکز هم وو او د ټول هېواد ډېر تکړه او نومیالي مبارز روشنفکران او مشاهیر په رسمي او غیر رسمي دندو بوخت وو، ویې غوښتل چې د هېواد پرمختګ او دموکراسي دپاره مبارزې پېل کړي. حکومت هم غوښتل چې د ملي او دموکراسي په لوري تګ پېل کړي او د ا حرکت په حاکمه سیاسي طبقه کې د هغو بدلونونو له امله چې په نړیواله کچه رامنځته سوي وو، را پیدا سوي وو. مخصوصاً د بین المللي ټولنې او نورو نړیوالو سازمانو د رامنځته کېدو په نتیجه کې د افغانستان په حاکم نظام کې ددې اړتیا محسوسېدله چې په خپل سیاست او عملي چارو کې بدلون راولي تر څو په نوموړو سازمانو کې د غړیتوب حق ترلاسه کړي. تر څو دهمدغسې موسسې له لارې د پرمخ تللو هېوادو مرستې د اقتصادي – ټولنیز پرمختګ لپاره راجلب کړي: او د سیمې هېوادو په کچه خپل سیاسي او نړیوال برخلیک څرګند کړي، نو د وخت د مطبوعاتو د مستقل ریاست یو شمېر لیکوالانو او روشنفکران را یو ځای شول او ددغې سیاسي ټولنې د رامنځته کېدو لپآره یې عملي ګامونه اوچت کړل.

په همدې ارتباط ښاغلي اتمر په خپل یوه مضمون کې لیکي:

« د مطبوعاتو د مستقل ریاست یو شمېر روشنفکراه لیکوالان د دارالامان په افشارو کې په یوه کور کې چې هلته نور محمد تره کي په کې اوسیدې او د څنګ سره یې دعبدالمجید خان زابلي شانداره تعمیر موقعیت لرلو، نورمحمد تره کي په دغه وخت کې د زابلي د تعمیر سر پرست ناظر وو ... د ویښ ځلمیانو لپاره یې یوه ټولنه جوړه کړه، په دغه ټولنه کې د ویښ ځلمیانو، مرامنامه او تشکیلات جوړ او په سر کې یې یوه اجراییه کمېټه چې غړي یې قیام الدین خادم، نور محمد تره کي او عبدالروف بینوا قرار لرلو ... د ویښ ځلمیانو د ټولنې په موسسې کنګرې کې دغه کسان شامل وو: عبدالروف بینوا، قیام الدین خادم، نور محمد تره کي، فیض

محمد انګار، محد ارسلان سلیمي، صدیق الله رشتین، نیک محمد پکتیاني، محمد ولي ځلمي، ګلشاه، صافي، لعل محمد احمدي، غلام رحمن جرار، عبدالقدوس پرهیز، شاه مردملیاصافي، عبدالهادي خوږمن، ابوالحسن افشار، غلام محي الدین روشان زرملوآل، محمد طاهر نایب، پاینده محمد روهیلي، نور محمد پوهنده او ګل پاچا الفت».(۱)

که څه هم د ویښ ځلیمانو د سیاسي حرکت په منځته راتګ کې دولت ډېر نقش لرلو څو کله چې یې په عملي کارو پېل وکړلو د دولت له اداري څخه ووتله دا ځکه چې ددغې سیاسي ټولنې په ترکیب کې غیر متجانس افراد کېن لاسي، او ښي لاسي را یو ځاي سوي وو چې په دې صورت کې هغو کسانو چې چپ افکار یې لرل د دولت پرکړنویې او هم یې په ځینو مهمو دولتي اشخاصو او شخصیتونو باندې تنقیدونه کول او د کابل ښار د نورو کېن لاس سره یې په همدې برخه کې همنوایي او ملګرتیا ښکاره کوله. نو له همدې امله د شورا د اتمې دورې د ټول ټاکنو څخه وروسته یې دنوموړو انتخاباتو سره په مخالفت کې په کابل کې یوه مظاهره جوړه کړه چې په پایله کې یې د بې امنیتي خطر پیدا شو. دولت ټولي سیاسي ټولنې او ورځپاڼې منع اعلان کړې. او د مظاهرې لوي او مهم محرکین لکه میر غلام محمدغبار، میر محمد صدیق فرهنګ، ډاکتر عبدالرحمن محمودي، برات علي تاج، عبدالحي عزیز، قیوم رسول، ببرک کارمل او نور بندیان کړل. په دغه سلسله کې د کندهار یو شمېر مخور ویښ ځلمیان د خداي دوست په قضیه کې په همدغه وخت کې بندیان کړل لکه عبدالهادي توخي، غلام جیلاني الکوزي، محمد انور خان اڅکزي، قاضي بهرام اڅکزي د کندهار په محبس کې بندیان شول او وروسته یې کابل ته ولېږدول. محمد علم بڅرکي او فیض محمد انګار هم په نوموړې قضیه او پېښه کې د کندهار په عسکري قشله کې تر نظارت لاندې ونیول شول.

محمد رسول پښتون هم چې د بغلان په انحصاراتو کې یې کار کاوه هغه یې هم هملته ونیول سو او محبس ته یې واچاوه، محمد انور اڅکزي د یو نیم کال زندان څخه وروسته د محمد ایوب خان اڅکزي په سپارښتنه له زندان څخه خلاص سو. خو نور ملګري یې تر اوو او اتو کلونو پورې په زندان

---

۱ـ ډاکتر عبدالرحمن محمودي، د ویښ ځلمیانو ټولنه، د یاحق جریده، دوهمه دوره، دوهم کال، ۷ګڼه، دولتي مطبعه، ۱۳۲۸.

کې په ډېر خوار او بد حالت کې پراته وو. ددغې مودې بند شخه وروسته د دهمزنګ له زندان څخه په ډېر بد حالت راووتل.

کله چې دغه کسان له زندان څخه راووتل د پخوا په څېر يې خپله ملګرتيا سره پاله، خو په سياسي فعاليتونو کې يې ډېر احتياط کولو. د ۱۳۴۳لمريز کال د دموکراسي د لسيزې په پېل سره او د اساسي قانون د نافذيدو سره دوي ته دا موقع يو ځل بيا په لاس ورغله چې په سياسي کارو کې ګډون وکړي. دوي د محمد هاشم خان ميوند وال د دموکرات مترقي په ګوند کې ځانونه تنظيم کړل او له همدې امله د دوي څخه يو شمېر کسان د وزارت تر څوکۍ پورې ورسيدل.

هغه وخت چې د دولت د ادارې پر تګلارې او سياسي افکارو باندې د ميوندوال او د شاهي کورنۍ د ځينو مهمو غړو ترمنځ اړيکې خرابې سوې، او يو د بل پر خلاف د مخالفت په چوکاټ کې په تبليغاتو او تحريکاتو پېل وکړو. د ويښ ځلميانو دغه پرکسيون په ډېرې زيرکي سره د دولت په استشاره، د هغوي سره د وفادارې په خاطر د دولت په خوا کې ودريدل او د لاندې اعلاميې په خپرولو سره يې د دموکرات مترقي ګوند سره د دوي د انفکاک او بېلتون د هېواد په رسمي او غير رسمي جريدو او ورځپانو کې همدا خبر خپور او اعلان کړ. چې دلته د روزګار په جريدې کې د نومو ړې خپرې سوي اعلاميې متن کټ مټ رانقلوم:

(خبرتيا )

« دا خبره په خورا درناوي د ښاغلو وطندارانو غوږو ته رسوو چې د ويښ ځلميانو يوې ډلې څو کاله دمخه د مترقي دموکرات له ډلې سره ګډون کړي وو. مګر اوس له دغې ډلې څخه خپل بيلتون اعلانوي:

پوهاند عبدالحي حبيبي، عبدالروف بېنوا، پوهنوال عبدالشکور رشاد، عبدالهادي هادي توخي، فيض محمد انګار، محمد ابراهيم خواخوږی، نور محمد قاضي خيل، غلام جيلاني الکوزي، عبدالصمد ويسا، محمد عثمان هوتک او نور ملګري يې چې د بېلوالي په پاڼه کې يې لاسليک کړي دي.

۲۴/ ۳/ ۱۳۵۱ ( * )

د ويښ ځلميانو سياسي ګوند په جوړښت کې د ټولني د بېلا بېلو افکارو، طبقاتو او ټولنيزو پوړيو افرادو ګډون لرلو، نو د طبقاتي بېلا بېلو

---

* -روزګار جريده، کابل، دولتي مطبعه، څلورم کال، جوزا ۲۴- ۱۳۵۱.

ذهنیتونو څخه په ګټه اخیستلو د دولت نماینده ګانو د پټو او ښکاره توطیو له امله یو شمېر کسان د دولت تر فشار لاندې راغلل ځکه دغو دولتي کسانو په د هغو کسانو راپور و دولت ته ورکولو چې هغوي به د دولت سره په ښکاره مخالفت کاوه او د دولت اوامرو ته یې چندان توجه نه کوله. ددغه فشار او ناآرامیو له امله ځینې فعال او محوري غړي لکه بېنوا او یو شمېر نور ددغې ټولنې له غړیتوب څخه په رسمي توګه معافي وغوښتله، او په کابل مجلې کې یې د یوه مضمون په خپرولو سره همدغه د بیلتون خبر اعلان کړ. خو په پای کې د دولت د سیاسي فشار او اختناق له امله ټولې سیاسي ټولنې په یوه او بل نامه له منځه ولاړې.

## ب: د ویښ ځلمیانو د تاریخي ارزښت درک:

سردار محمد هاشم خان د صدارت د اوولس کلنې د استبداد دورې ټولنه له فعال او ژوندي تحرک څخه ساتلې وه او د هر اعتراض کوونکي غړ په مرګ او یا بند باندې محکوم کیدلو، خو د دوهمې نړیوالې جګړې څخه وروسته په نړیواله کچه داسې تحولات رامنځته سول چې د هغو په نتیجه کې دا ډول استبدادي سیاسي حاکمیت دوام تر سوال لاندې راتللو. ددغو نړیوالو بدلونونو سره د دولت د سیاسي یاد عمومي پالیسي او حالاتو په هم غړي کولو لپاره په خپل سیاسي تګ لارو کې لازم مثبت بدلونونه رامنځته کړي. چې د هغو په نتیجه کې د دموکراتیکو او ازادي غوښتونکي جریانونو پراخ تحرک رامنځته سو.

زمونږ ټولنه هم ددغو نړیوالو شرایطو له امله د دا ډول فردي او استبدادي حکومتو او د ډېرې پخوانۍ او زوړ طرز د اداري او حکومت داري څخه قسماً د باندې ووتله او د ځینو بورژوایي او دموکراتیکو آزادیو د تر لاسه کولو لپاره د هېواد په روشنفکرانو کې قوت ومونده لو، چې تقریباً ځوان نسل او یو شمېر خلک یې په ځان پسې کش کړل. سره له دې چې د میلیونو وګړو سره د وطنپرست او ترقي غوښتونکي روشنفکران ژور پیوستون له شتوالي سره سره د هېواد د بېدارو ځوانانو خپل غږ تر هغه ځایه چې د خلکو غوږو ته رسیدلو، ویې رسولو. د ولسونو اعتماد یې حاصل او باالمقابل د دوي د بریالیتوب امکانات یې هم برابر کړل. د کار په هغه لومړنیو شیبو کې چې لا تر اوسه پورې مخالف او موافق افکار او نظریات یو د بل تر څنګ جریان لرلو. د ویښ ځلمیانو دغورځنګ سیاسي او سازماني یووالي په هغه وخت کې په خپل ډول کې د ډېرو ښو بریاوو

جوړونکي وو. مثلاً د ښاروالیو په ټول ټاکنو کې، د پارلمان په ټول ټاکنو کې، ترقي غوښتونکو افکار د تعمیم جریان د محافلو او مطبوعاتو له لارې ټولې هغه برياوې دي چې ددغه جریان په نصب شوي وي. په همدغو لومړنيو شیبو کې چې دموکراسي او دموکراتيک سياسي حرکتونو په خوځښت راغلي وو، د ويښ ځلميانو د ګوند د جلب او جذب لمنه د هېواد لويو ښارو ته وغزځېدله په دغسې حالاتو کې چې يو شمېر روشنفکران د ټولنې د عمومي وروسته پاتې والي او تعليمي او فرهنګي غربت له امله ډېر لږ وو، ددغه غورځنګ تقريباً يو زر تنو روشنفکرانو ته يې په فعاله ډول سازماندهي ورکړه او د هدفمندي مبارزې لپاره يې وګمارل.

د ويښ ځليمانو د لومړنيو برياوو څخه دا هم ګڼل کېږي چې سلطنت، بورژوا کمپر ادور عمال او ځيني عقب ګرا عناصر په ويره کې واچول. د همدغې ويرې په نتيجه کې د سلطنت د غوصي او عکس العمل سره مخامخ شول. ويښ ځلميان د خپل موجوديت لومړنۍ شيبې لا نه وي تيرې او په ولسونو کې يې لا هومره نفوذ نه و کړی، د ولس سره د ټينګو او پايدارو اړيکو د نشتوالي له امله او دهغو د غړو فکر او نظر اختلاف، د څرګندې او روښانه برنامې نشتوالي له امله خصوصاً د ټولنې د اقتصادي غوښتنو او اړتياوو په ساحه کې د روشنفکري جنبش د طبقاتي او قشري نا برابرو اړيکو، په نړۍ او سيمه کې د دموکراتيکو قوتونو سره د اغېزمنو اړيکو نشتوالي او بالاخره و نړيوالو مسايلو ته کمه توجه کول، ټول هغه عوامل وو چې د ويښ ځلميانو غورځنګ يې سختې ماتې سره مخامخ کړلو. د شورا د اوومې دورې په وخت کې يو شمېر روشنفکران او د ويښ ځلميانو ځينې غړي په کابل او کندهار کې تر تعقيب لاندې ونيول شول او د هغو يو شمېر کسان يې بنديان کړل. همدارنګه په کابل کې هم د ويښ ځلميانو يو شمېر غړي د دولتي مامورينو په پلمه له هېواد څخه بهر ته رسمي تبعيد په توګه ولاړل. لکه عبدالروف بېنوا په دهلي کې، غلام حسن صافي په پېښور کې او نور محمد تره کي په امريکا کې په رسمي دندو وګمارل شول.

ددغو پېښو سره همزمان د ملي شورا داتمې د ورې د ټاکنو په پېل کې د هېواد نور سياسي جريانونه او روشنفکران هم د دولت له فشارونو څخه خوندي پاتې نه شول. مثلاً مير غلام محمد غبار او داکتر عبدالرحمن محمودي چې د کابل ښار په روشنفکرانو او کابل ښاريانو کې زيات نفوذ لرلو او د «وطن» او د «خلق» په سياسي جريانونو پورې يې اړه لرله. دواړه

بندیان سول او د دوي څخه یې دکاندیدیدلو حق سلب کړلو د محمودي سره دده ورونه هم زندان ته واچول سول.

د کابل پوهنتون محصلانو او د کابل ښاریانو د دوي څخه د دفاع پر ټول ټاکنو باندې د محدودیتونو د وضع کولو په نسبت په کوڅو کې مظاهرې وکړي. او د دولت ددغو کړنو څخه یې خپله کرکه څرګنده کړه. دغه حرکت د هغه وخت د نظام له خوا سخت وټکول سو. او ددغې مظاهرې عاملین یې زندان ته واچول. چې د هغو په ډله کې میر محمد صدیق فرهنګ، منشي ابوبکر، عبدالحي عزیز، سلطان د لوي نایب لمسي، براتعلي تاج، ببرک کارمل علي احمد نعیمي، نعیم شایان، علي اصغر شعاع، داد محمد کندکمشر، غلام فاروق اعتمادي، فتح محمد خان فرقه مشر هزاره او یو شمېر نور بندیان سول. نوموړي بندیان ځیني د پنځو میاشتو څخه نیولي بیا تر یو نیم کاله پوري په زندان کې پاتې سول. تقریباً پنځه دیرش تنه یې د لویې جرګې په ویاړ له بند څخه خلاص شول. چې د هغو له ډلي څخه عبدالهادي خان توخي، قاضي بهرام اخکزي او خدایدوست د ډېر وخت لپاره په زندان کې پاتې سول. ډاکتر عبدالرحمن محمودي په زندان کې وفات سو او میر غلام محمد غبار ډېر وروسته له زندان څخه خلاص سو.

که څه هم د ویښ ځلمیانو عمر ډېر لنډ وو خو ښه وځلید له هغوي د استبداد سره په مبارزه کې د لومړي مشروطیت او جوانان افغان د وخت د غوښتنو سره په مطابقت کې دا مبارزه ښه وساتله د ویښ ځلمیانو جریان د مرامي اهدافو د لرلو په نسبت د ګوند په داخلي ژوند کې تدوین شوي موازین د ګوندې فعالیتونو تنظیم باالنسبه ښې تجربې و راتلونکو ته په میراث پرېښودلې.

د ویښ ځلمیانو د مطبوعاتو او د سیاسي افکارو همدارنګه د تنویري افکارو د فعالیتونو په برخه کې د غیر دولتي مطبوعاتو بنسټ کېښود او د « انګار» او «اولس» د جریدو په خپرېدو سره یې په دغه لار کې ډېر ښه ګام کېښود. د ویښ ځلمیانو، وطن، او خلق د جریانونو ماتې او بریاوې د ورستیو مبارزو د ښه بډاینې او پیاوړتیا لپاره ښې تجربې له ځان څخه په میراث پرېښودلې. ددغو جریانونو دخپل منځي د نظر، فکر، قشر او طبقاتي اختلافونو سره سره د خویشتن داري، اخلاقي، انعطاف پذیري، متقابل ګذشت او محوري سازماني اوصاف یې لرل. دا ټول هغه لوي سیاسي او ټولنیز درسونه دي چې د هغسې دورې مبارزو سیاسي او روشنفکري شخصیتونو و راتلونکي نسلونه ور زده کړل.

دا خبره په جرأت سره ویلای سم چې د هغو ټولو نیمګړتیاو سره سره چې ځینې یې طبیعي هم وو او د ټولنې د فکري او ټولنیزې خامي څخه منشأ اخېستله،

د ويښ ځلميانو جريان يوله هغو سياسي جريانو څخه ګڼل کېږي چې د استعمار او داخلي استبداد سره په مخالفت مبارزو کې ډېر ښه رول لوبولي دي.

د ويښ ځلميانو د سياسي جريان مبارزو وښودله چې که چېرې د هېواد روشنفکران د ولس سره په تړاو کې ټېنګې اړيکې ولري پرته له دې څخه چې خاصو قومي، ژبني او محلي علايقو ته په پام لرلو سره په پټو سترګو را غونډ سوي وي دوي د يوه ملي، وطني اوهېواد پالنې په روحيې سره را يو ځاي شوي وو او ډېري ښې او چټکې برياوي يې لرلې چې هغه ډېرې روښانه او پايداره پايلې لرلې.

خو کله چې د ملي يووالي شيرازه د قومي، ژبني، محلي او کوچنيو محورو باندې او د روشنفکري ذهني ګرانه برخورد و له امله سره وپاشل سوه. دا ډول غورځنګونه يوازې سخته ماتې وخوړله، بلکې د قطعې سرکوب تر سرحد پورې نتيجې پر ځاي پريښودلې. که د ويښ ځلميانو د يو ډلو محدوديتو څخه ځان خلاص کړي واي او دهغه پر ځاي يې ډېرې پراخې اړيکې د هېواد په کچه او ددې په څنګ کې يې نړيوالې اړيکې برقرار کړي واي. دا به دامکان څخه لرې نه وه چې دغه جنبش به د خپل ځان او د خپل موجوديت څخه د دفاع قدرت موندلي وو. او خپل ژوند ته به يې د لا زياتو برياليتوبونو په خاطر دوام ورکړي واي. د ويښ ځلميانو ډله منځه تلل او يا په بله وينا ماتې يوازې په پورتنيو دلايلو کې نه سو خلاصه کولاي، بلکې د ټولنې عمومي وروسته پاتې والي چې جنبش خپله د همدغې ټولنې په وروسته پاتې شرايطو کې را پيدا سوي وو نو ښکاره خبره ده چې د هغې اغېزې به په کې حتمي له ځان سره لرې.

د پوهو او تکړه روشنفکرانو د شمېر د کميت لږوالي، د سازمان سياسي کادر لازمو تجربو نشتوالي، د بېلا بېلو سياسي نظريات موجوديت د دولتي عمالو نفوذ په غورځنګ کې، ټول هغه عوامل دي چې ددغه جنبش ژوند يې ډېر ژر پاي ته ورساوه.

د يوې نتيجې په توګه کولاي سو ووايو چې د ويښ ځلميانو د سياسي حرکت او جريان د مؤقتو برياوو څخه چې ورڅخه پاتې دي، د ستر تاريخي ارزښت لرونکي دي. د ښاروالي په ټاکنو کې ګډون او په هغو کې د يو شمېر برياليتوبونو ترلاسه کول، په پارلماني ټاکنو کې ګډون او پارلماني مبارزه کې ونډه لرل او په پارلمان کې د يوې متحدې جبهې جوړول او د ټولو سياسي جريانونو د غړو برخه اخېستل د قوانينو د تسويد او تصويب په باره کې ټول د اهميت وړ ګڼل کېږي. د « انګار» ، « ولس» ، « نداي خلق» ، «وطن» ،

« وروړ غږ» نشرول او ځينو مجلو، ورځپاڼو او جريدو څخه لکه کابل مجله، اتحاد مشرقي طلوع افغان، بيدار، هېواد او داسې نورو څخه د خپلو نظريانو، اهدافو او غوښتنو لپاره له هغو څخه ګټه اخيستله او د ځوانانو او خلکو د اذهانو د روښانه کولو او دهغوي د را بيدارولو په برخه کې ورڅخه ګټه پورته کوله او دا ټولي د ويښ ځلميانو د برياليتوبونو څخه ګڼل کېږي. هغه څه چې د دغه غورځنګ د پرمختګ په اوج کې له شاه څخه ناځوانمردانه وار پر وکولو، هغه د يو شمېر داسې غړو عمل وو چې هغوي يا د نيمې لارې ملګري او يا هم د دولت عمال وو او د دوي په وسيله ټول روشنفکران سره تيت او يا يې تقسيم او طبقه بندي کړل.

## ج: په هېواد کې د نورو جنبشونو سره د ويښ ځلميانو اړيکې:

لومړي: دموکرات ملي. (دولتي ګوند)

حکومت مخکې له دې څخه چې رسماً دموکراسي اعلان او دموکراتيک قوانين وضع کړي، يوه امتحاني دوره يې پېل او د ښاروالیو او ملي شورا لپاره د آزادو ټاکنو اعلان وکړلو. شاه محمود خان د روشنفکره قشر د سياسي آزاديو په باب د انتظار حالت ځانته نيولي وو. څو وکولای شي دا ويني چې د دموکراسي شفاهي اعلان څخه وروسته روشنفکران د نظام په مقابل کې څه موقف ځانته غوره کوي. ايا د دوي به ددغه سياسي آزاديو څخه څه ډول ګټه واخلي؟ آيا دوي به دغه سياسي آزاديوي د حاکم نظام هديه وګڼي او دحکومت رهبري به ومني او که نه؟ که چېرې دوي د حکومت رهبري ومنله په هغه صورت کې به حکومت له نوموړو سياسي غورځنګو څخه په خپله ګټه کار واخلي، او په برعکس حالت کې به دغه سياسي حرکتونه وټکوي او له منځه يوسي.

دولت د داسې امتحاني پلان د لرلو سره سره د يوه واحدي سياسي جبهې له تشکيل څخه بيره لرله. په لهذا د روشنفکرو حلقو په ټوټه ټوټه ساتلو کې يې په جديت سره هڅه وکړه او هم يې د احزابو د تشکيل په وخت کې خپل نماينده ګان د هغو په منځ کې ځاي پر ځاي کړل تر څو خپل اهداف د هغو په وسيله ترلاسه کړي. ددغو کارو په څنګ کې دولت د يوه ګوند دتشکيل په فکر کې سو او د (دموکرات ملي) په نامه د يوه ګوند د جوړېدو ابتکار په لاس کې واخيست.

د حکومت د دغو ټولو احتیاطي تدابیرو سره سره کله چې انتخابي شورا تاسیس او سیاسي ګوندونه تشکیل او ګوندي جریدي نشر سوي دهغوي پایلې هغه څه وي چې دولت هغه نه غوښتل. ځکه دغه سیاسي جریانونه د تشکیلاتي تنوع او موسساتي تعدد سره سره عملاً د حکومت په برابر کې د یوې متحدې جبهې په توګه ودریدل او دموکراتیک نظام د تاسیس لپاره د آزادي او برابریو د تعمیم له پاه او د امتیاز خلاف او د حاکمې طبقي د سیاسي او اقتصادي انحصار پر خلاف یې مبارزه وکړله. کله چې دا ډول حرکات یې د دموکراتیکو شرایطو او آزادیو په نتیجه کې ولیدل نو حکومت وروسته ټول دغه سیاسي غورځنګونه وټکول او د پخواني اختناق پالیسي یې له سره پیل کړه.

سره له دې هم تردې وخته پورې دغو سیاسي ګوندونو د تبلیغي او سیاسي کار له امله او هم یې د خپلو ګوندو جرایدو له لارې په خلکو کې دومره کار کړي وو چې د هغو اغېزې د خلکو په عمومي اذهانو کې محسوسې وې. حکومت هم د دغو سیاسي غورځنګونو د اغېزو د له منځه وړلو په خاطر یو لس کلنه د اختناق سیاسي دوره رامنځته کړه. د ښاروالیو او ملي شورا د ټاکنو آزادي د حکومت د څرګندو مداخلو له امله له منځه یوړل سوه. سیاسي ګوندونه او حزبي جریدي وتړل سوې.

## خو «دموکرات ملي ګوند» څنګه او ولې تشکیل شو؟ ددې پوښتني په ځواب کې باید ووایم:

کله چې حکومت د روشنفکرانو نوي سیاسي ګوندو ته، په پارلمان کې متحد، جبهه د اپوزیسیون، سیاسي ډلو او د محصلینو اتحادیه ولیدله، د هغوي د کمزوري کولو او د هغوي د ودې او پرمختګ څخه د مخنیوي په خاطر یې غوښتل دغه سیاسي نوښت په خپل لاس کې واخلي نو یې د یوه دولتي سیاسي ګوند په تشکیل لاس پورې کړ او د «ملي دموکرات» په نامه یې یو ګوند په کال ۱۹۵۰میلادي کې جوړ کړلو.

نوموړي ګوند مستقیماً د پاچا په کتبي اجازه د فعالیت حق ترلاسه کړي وو. دا پشنهاد د سردار محمد داود خان، عبدالمجید خان زابلي، سردار فیض محمد خان ذکریا، د پوهنې وزیر علي محمد خان بدخشي او د صدراعظم مرستیال له خوا سوي وو. او د دوی له خوا تاسیس سو. ښاغلي غبار د نوموړي ګوند په هکله لیکي:

«... د دغه متنفذ او متمول ګوند غړي مرکب وو له څو تنو محمدزي سردارنو او د اردو جنرالانو، سوداګرو او لوي ملاکان یو شمېر وزیران، عالیرتبه مامورین او په وروستي زینه کې یو شمېر سازشکاره روشنفکران».(۱)

همدارنګه د نومورې دولتي ګوند مرامنامې د نورو ګوندونو سره د مقایسي په خاطر ښاغلي غبار را اخیستي ده چې دلته یې را نقلوم د دغه مرامنامه په یوولس فقرو کې ترتیب شوې وه په دې ډول:

۱. د ګوند غړي باید د اسلام په مبین دین مشرف وي او د افغانستان تابعیت ولري.

۲. د ګوند غړي باید د افغانستان مشروطه سلطنت مقام ته مطلق تعهد او وفاداري ولري.

۳. د ګوند غړي باید خپله بقا د افغانستان د ملت په استقلال کې د هغه په ټول شکل سره پرته له هر ډول حد او قید او د خاورې په تمامیت پورې مربوط وګڼي او د هېواد او ملت د نیکمرغۍ ټول مدارج په هغه پورې منحصر وپېژني.

۴. د دموکراسي پر اصولو (د ملت حاکمیت) د اسلام د مبین دین د تعلیماتو پر اساس او هغه نتیجې چې د مترقي عالم مللو له پورتنیو اصولو څخه اخیستې وي، باید راسخه عقیده ولري.

۵. د ګوند غړي د نسب، کورنۍ، شتو او شخصي رسوخ د رعایت څخه پرته باید د قانون په مقابل کې د بشپړ تساوي څخه برخمن وي.

۶. د ګوند غړي باید د لوړو اخلاقو لرونکي وي.

۷. د ګوند غړي باید د ملي ګټو د رجحان پر شخصي ګټو په مفهوم باندي راسخ اعتقاد ولري او عملاً له هغه څخه پیروي وکړي.

۸. د ګوند غړي باید عدالت د ټولنې د خوشبختي او د استقرار اساسي وګڼي او په مملکت کې د هغه تأمین لپاره هلې ځلې خپله ایماني او ملي دنده وبولي.

۹. د ګوند غړي باید د افغانستان ملت د مادي او معنوي قوت تهداب ملي وحدت وبولي او د قومي تفرقي د رفع لپاره هر ډول مجاهدت وکړي.

۱۰. د ګوند غړي باید په دې متقد وي چې په دولتي او عمومي موسساتو کې فساد و پراګندګي د ملت د خسارې سبب ده او د قانون اصولو په تأمین سره له هر ډول ګډوډې (انارشي) څخه مخنیوی وسي.

---

۱. میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، پشاور، دوهم ټوک، ۱۳۸۰ هـ، ص ۲۴۲.

۱۱ـ دولتي او عامه کارونه بايد دنسب، مکنت او شخصي رسوخ څخه پرته و صلاحيت لرونکي اشخاصو ته وسپارل شي او د دولتي او ملي مبالغو له حيف او ميل څخه شديداً مخنيوي وسي.(۱)

نوموړي دولتي ګوند سربېره په پورتنۍ مرامنامې يوه تعهدنامه هم لرله چې د ګوند هر غړي مکلفيت لرلو چې هغه لاسليک کړي او نوموړي مرامنامې ته خپل پايندي دګوند قاضي په حضور کې په داسې حالت کې چې ولاړ به وو، په قرآن عظيم الشان په بې لوړه پر ځاي کوله

د نوموړي ګوند په نوي ښار کې دفتر د غلام فاروق خان عثمان په کور کې وو او نوموړي ګوند بيا وروسته د « کلوپ ملي) نوم واخيست. د نوموړي ګوند مصارف عبدالمجيد خان زابلي له شخصي بودجې څخه ورکول کېدلو د نوموړي ګوند منشي ډاکتر عبدالغني خان لغماني وو او وروسته د صدارت مرستيال وو نوموړي ګوند کومه خاصه نشريه نه لرله او په کال **۱۹۵۳**ميلادي کې له منځه ولاړ.

که د ګوند مرامنامې ته په انتقادي نظر وليدل شي ليدل کېږي چې د موادو محتوي ډېره عالي ده او کوم مواد چې په کې ځاي شوي دي د وطن اوخلکو د مصالحو سره سم دي او د ټولنيز عدالت او وطن پرستي په لاره کې ډېر ښه ارزښتناکه عملي وړاند ويني کړي دي. البته ټولو روشنفکرانو د دولت هر ډول پروګرام ته ولو که ډېر ګټور او عملي هم وي د شک په سترګه کتل. ددي اصل پر اساس ددغه ګوند ټولو پروګرامونو ته هم د شک اوترديد په سترګه کتل کېدل او د همکاري څخه يې ډډه کوله نو ناکام سو.

که څه هم« د کلوپ ملي» په تاسيس او رامنځته کېدو کې د دربار دننه هم يو شمېر خبري وي ، چې ځينې د هغه د رامنځته کېدو سره مخالف وو. د دربار د داخلي تضادونو او د خرده بورژوازي او منځنيو طبقو د موقف په نظر کې نيولو سره په دربار کې يو شمېر مخالفتونه رامنځته شوي وو ، چې د دربار سره په مخالف اړخ کې ولاړ وو. د دغې ټولنې ملاتړ او مشرتابه سردار محمد داود خان کوله او « د کلوپ ملي» بنياد يې کېښېښود.

داود خان غوښتل چې ټولنه د پرمختګ پر لورې وهڅوي، ددې لپاره چې خلک د روشنفکري په لوري حرکت وکړي اواقتصادي

---

۱ـ پورتني اثر، ص ص ۲۴۲ - ۲۴۳.

مناسبات وده وکړي، باید تعلیم عام سي تر څو د خلکو وروسته پاتې عنعنوي او قبیلوي ذهنیت تغیر وکړي او له دغو کوچنیو او تنګو چوکاټو څخه راووځي، نو باید دا ډول مناسبات له بنیاده بدلون ومومي داود خان ددې هدف لپاره د ښار له اشرافو کورنیو د ځوانو تحصیل کرده افرادو سره له پخوا اړیکې ټېنګې کړې وې او ددې لپاره یې د کلوپ ملي په جوړولو لاس پورې کړ او د عبدالمجید خان زابلي په نوښت او مالي ملاتړ هغه جوړ کړه.

عبدالمجید خان زابلي د هغه وخت له مشهورو روشنفکرانو او سرمایدارانو څخه وو او د روشنفکري په بسیج کولو او تشویقولو په لاره کې د بل هر چا په نسبت ډېر ښه مثبت رول لرلو. زابلي د یوه پیاوړي وطندوست په توګه له پخوا څخه د «ملي کلوپ» د ټولنې د پرمختګ لپاره همدارنګه د بانکي سیستم د رامنځته کېدو لپاره اراده لرله د شرأیطو د مساعدت سره سم یې په کال ۱۳۲۵ لمریز کې یوه اندازه پیسې د کلوپ ملي د تشکیل لپاره تخصیص کړې وې.(۱)

همدارنګه داود خان هڅه کوله چې د ځینو وطنپرستو جریانونو برجسته غړي له ځان سره ملګري کړي، ددغه جریان مشرتابه او فعالینو ډېر وطنپرستانه فعالیت کولو او نور هر ډول حرکات یې د وطنپرستي خلاف او انارشیم بللو.

که څه هم کلوپ ملي د ټولو سیاسي غورځنګونو او ګوندي فعالیتونو د مخکښ حیثیت لرلو خو د نورو سیاسي جریانونو د رامنځته کېدو څخه وروسته یې چندان برياوي ترلاسه نه کړې. دا چې د کلوپ په تاسیس کې زیات شمېر دولتي کسان برخمن وو. ډېرو کسانو د کلوپ ملي سره د همکاري څخه ډډه وکړه او د هغه په پیروي یې ځانته سیاسي جریانونه را وایستل د کلوپ ملي د دوام په نتیجه کې د پښتونستان په نامه یو جریان رامنځته کړ چې د هغه مشر غلام حید ر عدالت وو او ببرک یې منشي وو او بیا وروسته همدغه نوم د پښتونخوا په نامه شکل واخیست او زیات دوام یې ونه کړ.(۲)

## دوهم: د وطن ګوند:

وروسته له دې چې د کلوپ ملي پروګرام له منځه ولاړو او ګډوډ سو یو شمېر روشنفکرانو له دې وجهې څخه د ویښ ځلمیانو پروګرام د دوي د فکر او سیاسي

---

۱. توماس ګوتیک، نقش انجمن هاي ادبي در پروسه تشکیل ویښ ځلمیان، کابل، مونوګراف، تاسیس، ۱۳۲۴، مخ ۵۲۰.

۲. شاه محمود حصین، تاریخ مبارزات ویښ ځلمیان، کابل پوهنتون، مونو ګراف، تایپی، ۱۳۲۷، مخ ۲۰.

طرز العمل سره موافق نه وو. نو دوي له ویښ ځلمیانو څخه وو تل او هرې ډلې د خپل طرز فکر او سیاسي تګلارې سره سم د «وطن» او «ندای خلق» په نامه ګوندونه جوړ کړل په دغه سیاسي کار او باره کې میر غلام محمد غبار هم ددې وخت پیدا کړ چې د ۱۳۲۹المریز کال د جدي د میاشتې په شپاړلسمه نېټه د «وطن» په نامه یو ګوند جوړ کړ. د نوموړي ګوند په جوړېدو کې دغو کسانو برخه لرله: سرور جویا، فتح محمد هزاره بهسودي، میر محمد صدیق فرهنګ، عبدالحي عزیز، نور الحق سلیمانخیل او برات علي تاج لکه چې خپله ښاغلي غبار هم په دې اړه لیکي:

«په کال ۱۳۲۹المریز (۱۹۵۰میلادي) د جدي په شپاړلسمه نېټه د کابل په ښار کې د وطن ګوند تشکیل سو. څرنګه چې د ګوندونو قانون وجود نه لرلو، د هغه وخت د تعامل سره سم د ګوند د تشکیل له مرامنامې سره یو ځای د پاچا حضور ته تقدیم سو ... د ګوند بنسټ اېښودونکي دا کسان وو: میر غلام محمد غبار، سرور خان جویا، میر محمد صدیق فرهنګ، فتح محمد خان میرزاد، نورالحق خان هیرمند، برات علیخان تاج او عبدالحي عزیز).(۱)

د ویښ ځلمیانو د سازمان وړکونکو فعالیتونو په جریان کې او د هغه د صفوفو د ورځ په ورځ د زیاتېدو په وخت کې د هېواد هغه شمېر روشنفکران چې ځینې یې پخوا د ویښ ځلمیانو دغورځنګ غړي وو، ولیدل چې په نوموړي سازمان کې ډېر زیات پښتانه سره راټول سوي دي ویې غوښتل چې ځانته یو مستقل ګوند راوباسي. ددغه ګوند د تاسیس څخه وروسته یو نشراتي ارګان د «وطن» په نامه خپروله چې د امتیاز خاوند یې غبار او مسؤول مدیر یې علي محمد خروش وو.

دغه مفکوره یعنې د ګوند د جوړېدلو، د ویښ ځلمیانو د سازمان د جریدو له لومړي کال څخه وروسته یعنې د ۱۳۲۷المریز کال څخه شکل پیدا کړي وو. خو په کال ۱۳۲۹کې یې د یوه مشخص او ټاکلي ګوند شکل غوره کړلو. ددغه ګوند د ۱۳۳۰ کال د حمل د میاشتې له لومړنې نېټې څخه وروسته په خپرونو پېل وکړلو.

کنګوفلسکي او سکومرسیل «د تاریخ نوین افغانستان» مؤلفین په دې اړه لیکي:

۱. پورتني اثر، ص۴۴۴.

«د وطن جريان د ويښ ځلميانو د جريان سره همرنګه او همسان وو. يوازې په دې توپير چې د وطن جريان ټولنيز، اقتصادي او سياسي شعار بې واضح او پراخ وو. د دغه جريان هدف عمدتاً د مشروطه حکومت په شرايطو کې د دموکراسي د اساساتو ترويجول د ژوند په ټولو برخو کې يعنې د بورژاوزي مدني آزديو تبليغ، د جريانونو او سياسي ګوندونو جوړول، د شغل او کار آزاد انتخابول، د هستوګنځي د ځاي د انتخاب ازادي، د فردي آزاديو تامين، د ملي او مذهبي حقوقو تأمين، د لويو خصوصي شرکتونو د اقتصادي برتريو او تفوق محدودول او نور).(۱)

«وطن» سياسي جريان د ويښ ځلميانو له جريان څخه بېل سياسي ګوند وو. خو د مرامي اصولو او د ټولنې د اقتصادي او ټولنيزو اساسي مسايلو سره د برخورد له اړخه د ګډو ټکو لرلو سره سره توپيرونه بې هم لرل، خو دا توپيرونه دومره بارز نه وو. د دوي تر منځ اړيکې ډېري دوستانه او د ملګرتيا وې د دوي د نشراتو له مطالعې او د سياسي بحثونو له مخې کوم داسې ځرګند مخالفت چې د يادولو وړ وي، په نظر نه دي راغلي.

که څه هم د وطن سياسي جريان د منځني تجاري بورژوازي او شهري خرده بورژوا مدافع ګڼل کېدلو.(۲) خو د وطن د جريدې په يوه مقاله کې چې د مير محمد صديق فرهنګ په قلم ليکل شوي وه، داسې لولو، ددې مقالې عنوان وو: (تجديد سخن در مرام وطن):

«لاله مخکې څخه د وطن مرام د څو مقالو په ترڅ کې په تفصيل سره بيان سو په هغه پراخ او جامع مرام کې چې له استقلال څخه نه نيولې بيا د افغانستان تماميت، د اقتصادي او ټولنيز عدالت تر تأمين پورې د دموکراسي له تعميم څخه بيا د پوهنې د پلانونو تر وضع پورې، حفظ الصحه او اقتصاد، داوهامو سره د صلح او امنيت تر مجادله پورې او نور زيات لوي کارونه په هغه کې پراته وو. د دغه مرام د تطبيق لپاره د يوه بشپړ مشروطه نظام ټينګول چې د افغانستان د خلکو د ژوند په ټولو اړخو کې د هر ډول استبداد څخه خلاص وي، ممکن نه دي»(۱)

---

۱. يوريد کنګوفشن، سکو مرسيل، تاريخ نوين افغانستان، ترجمه جمشيد خبرداد، چاپ ګستسنر پوهنتون کابل، ۱۳۶۴، ص ۳۲.

۲. مخکني اثر، ص ۳۳.

۱. ګوتيک، نقش انجمن هاي ادبي در پروسه تشکيل ويښ ځلميان، مونو ګراف، تاسيس ۱۳۶۴، ص ۴۵.

۲. مير محمد صديق فرهنګ، تجديد سخن بر مرام وطن، شماره سوم، جريده وطن، مطبعه انګار، ۱۳۳۰.

د « وطن» ګوند اداري اصلاحات تر اقتصادي او ټولنيزو پرمختګونو څخه مقدم ګڼي، همدغه تحولات دي چې مورږ د مشروطيت تر عنوان لاندې د ټولو اصلاحاتو په سر کې او د ټولو پرمختګونو باندې مقدم بللي او د هغو تطبيق غوښتنه يې پر زړ کوو.(۲)

د هېواد د استقلال ساتنه او دخاورې په مشروطيت باندې تکيه کول، د هېواد معارف اصلاح کول، د اقتصادي او ټولنيز عدالت رامنځته کول د دموکراتيکو ازاديو رامنځته کول، د اداري فساد سره مبارزه او داسې نور هغه مسايل او اهداف وو چې د ويښ ځلميانو جريان او د وطن جريان سره نږدې کوي او دوي ته يې همدغو ګډو ټکو پيوند ورکاوه. ګډ اهداف د اړيکو سبب ګرځي د ويښ ځلميانو ځينې غړي بيا (د وطن) په سياسي جريان څخه بېل نه بللو، بلکې هغه د ويښ ځلميانو يوه څانګه بولي او د هغه خپرونې د بيدارو ځوانانو يا ويښ ځلميانو دافکارو ادامه بولي.

ښاغلي غبار« د وطن» د سياسي جريان په اړه مفصلې خبرې کوي او د هغه ټول تشکيلات، مرامنامه، مرکزي شورا او د ګوند انضباطي اصول يې په تفصيل سره را اخيستي دي دا مرامنامې په اړه ليکي:

۱.د افغانستان د خاورې او استقلال د تماميت ساتنه

۲.د هېواد په ټولو ټولنيزو برخو کې د دموکراسي د اصولو تعميم

۳.په افغانستان کې د ملي وحدت تقويه

۴.د افغانستان عمومي معارف د پرمختګ د عمومي حفظ الصحي او عمومي اقتصاد لپاره هلې ځلې کول

۵.د ټولنيز عدالت تأمين او دحقوقو او عامه ګټو وقايه

۶.د ټولنيزو مفاسدو ليرې کول

۷.د نړيوال عمومي صلح او سلاميتا ته احترام او پابندي.(۱)

دغه مرامنامه که د ويښ ځلميانو د ګوند مرامنامې سره پرتله سي. ليدل کېږي چې په ماهوي لحاظ کوم داسې توپير نه لري چې هغه د يادولو وړ وي. همدارنګه د وطن ګوند مرکزي رهبري په اړه ليکي:

« دګوند مرکزي عامل هييات لس تنه وو چې عبارت وو له: مير محمد صديق خان فرهنګ، برات علي خان تاج، عبدالحي عزيز، محمد اکبر خان پامير، علي احمد خان نعيمي، حاجي عبدالخالق خان، عبدالحکيم خان عاکفي، مير

۱.مير غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ، جلد دوم، پشاور، ۱۳۸۰، ص ۲۴۴.

۲.پورتنې اثر، ص ۲۴۹.

علي احمد خان شامل او علي احمدخان خروش)، زه میر غلام محمد غبار د مرکزي عامل هییات له خوا د رییس اوعمومي منشي به حیث وټاکل شوم. خزاندار براتعلي تاج او په ملي شورا کې د ګوند نماینده ګان څلور تنه (میر غلام محمد غبار، سید محمد دهقان، سخي امین خان دوشي او محمد طاهر خان غزنوي او څو تنه یعنې سرور خان جویا، محمد آصف خان آهنګ، شیر محمد خان آسیابان، میر محمد صدیق فرهنګ، براتعلي خان تاج او محمد حسین خان نهضت د کابل ښاروالي په انتخابي انجمن کې شامل وو.(۲)

د دوي په قول د ګوند مصارف د ګوند د غړو د آزادو مرستو، حق العضویت د وطن د جریدې د خرڅلاو څخه او د هغو پیسو څخه چې د ګوند مطبعې لپاره ټولې سوې وي. کیدل، د وطن ګوند غړي د حکومت د هر ډول تهدید په برابر کې له خپل موقف اوموضع څخه نه تېریده، نو دهغه په نسبت د وطن جریده وقتاً فوقتاً دحکومت له خوا حملو لاندې راتلله. مثلاً د مطبوعاتو د ریاست له خوا د وطن جریده په پرله پسې توګه جریمه کېدله تر څو یې بیخې بنده کړه هر ډول مشکلات او جنجالونه ( د دوي په قول) چې یې له لاسه کېدل، هغه یې وکړل. دګوند تابلو او د وطن جریدې سر لوحه یې دکابل د امنیي قوماندان له خوا له دیوال څخه وشکولو. د وطن ګوند غړي یې په جاسوسي متهم کول. بالاخره د وطن د جریدې خپروني بندي سوي او څوارلس تنه رهبري هییات فعال غړي او څلور تنه غړي یې ټول زندان ته واچول. له هغې ډلې څخه پنځه تنه ډاکتران، ابوبکر، داکتر عبدالقیوم، داکتر غلام فاروق اعتمادي، عبدالحي عزیز او سلطان احمد خان) د یوه کال لپاره په زندان کې محبوس وساتل. دري تنه نور هر یو فتح محمد خان میرزاد هزاره، سرور خان جویا او برات علي تاج له لسو کالو څخه زیات عمر په زندان کې پاتې سول. او سرور جویا د زندان په نهم کال په محبس کې مړ شو بیا وروسته څلور تنه دګوند غړي هر یو حاجي عبدالخالق، میر علي احمد شامل، محمد آصف آهنګ او نادر شاه هاروني له ۱۳۳۲ څخه تر ۱۳۴۱ لمریز کال پورې په زندان کې پاتې سول.

ښاغلي غبار د دغو افرادو د بند په مورد کې لیکي:

« کله چې حکومت د وطن ګوند او د نداي خلق ګوند ځینې غړي زندان ته ولېږل له هغه وروسته یې د کابل راډیو او دولتي جرایدو لکه اصلاح او انیس (۱۳۳۱ لمریز) کې دغه اعلامیه خپره کړه: ( له څه

موديږ را په دې خوا يو شمېر ماجرا جو عناصر د امنيت د اخلال لپاره د مملکت او د دښمنانو په ګټه توطيي او تخريبي فعاليتونه ترسره کوي او ځرنګه چې پوليس د اوضاع مراقب وو، بالاخره د هېواد امنيت او مصالحو د ساتلو په خاطر دغه هنګامه غوښتونکي ډله ونيوله او بنديان يې کړل. د هغوي نومونه په لاندې ډول دي:

مير غلام محمد غبار، عبدالرحمن محمودي، عبدالحي عزيز، مير محمد صديق فرهنګ، براتعالي تاج، غلام سرور جويا، عبدالقيوم رسول، علي محمد خروش، فتح محمد، سلطان احمد پسر والي علي احمد خان، نصرالله يوسفي، غلام فاروق اعتمادي، امان الله محمودي، ابوبکر، عبدالحليم عاطفي، علي احمد نعيمي او محمد رحيم محمودي).(۱)

ددغو بنديانو له ډلې څخه څلور تنه د خلق د ګوند غړي وو. چې هغه ډاکتر عبدالرحمن محمودي او ورونه يې محمد امان، محمودي اونصرالله يوسفي او نور پاتې د وطن د ګوند غړي وو.

## دريم:- د خلق ګوند:

د خلق ګوند په کال ۱۳۲۹المريز (۱۹۵۰ميلادي) کې د کابل په ښار کې تاسيس سو. داکتر عبدالرحمن محمودي د نوموړي ګوند مشر او بنسټ ايښودونکو څخه وو. ددغه ګوند په ترکيب کې عمدتاً دموکرات قشرونه لکه روشنفکران، ښکته رتبه مامورين، اهل کسبه او د دوکاندارانو په کې برخه لرله.

داکتر عبدالرحمن محمودي د کابل پوهنتون د طب پوهنځي څخه فارغ التحصيل سوي وو. د خلکو سره يې د ډېرې ښې وضع، ښه کړه وړه او صادقانه همدردې له کبله د کابل ښار په خلکو کې يې ډېر ژر ښه شهرت پيدا کړو. په خپلو خبرو کې ډېر صريح اللهجه وو، او ددغه صفت له امله يې په خلکو کې د نوموړي ټولنيز هويت را څرګند سو.

کله چې محمودي په کال ۱۳۲۷المريز کې د ښاروالي په ټاکنو کې بريالي شو او عملاً د سياست ډګر ته داخل شو او په ځينو عامو غونډو کې يې ويناوې وکړې ددغو بيانيو محتوي ډېره تنده او انتقادي اړخ لرلو. او د کابل ښاريانو له خوا ډېر استقباليدلو. د همدغو ويناو له امله د وخت

---

۱.مير غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ، جلد دوهم، پشاور، ۱۳۸۰، ص۲۵۴.

حکومت له خوا نوموړي د څو اونیو لپاره زندان ته واچولو او بېرته خلاص شو همدارنګه محمودي د ملي شورا د اوومې دورې لپاره د کابل ښار دخلکو له خوا د نماینده په ډول انتخاب سو.

ښاغلي غبار د خلق ګوند ځینې مهم غړي په دې ډول را پېژني:

« د خلق ګوند د ځینو مشاهرو له ډلې څخه دغه کسان دي : ډاکتر عبدالرحمن محمودي، ( د ګوند مشر) محمد نعیم شایان د ګوند منشي مولوي خان محمد خسته، مولوي فضل ربي، عبدالحمید مبارز، داکتر عبدالله واحدي، محمد یوسف آیینه، نور علم خان مظلوم یار، غلام احمد رحماني، محمد طاهر محسني، عبدالرحیم غفوري، محمد یونس مهدي زاده، ډاکتر نصر الله یوسفي، سید احمد هاشمي، محمد ابراهیم، حفیظ الله عبدالرحیم زاده، ډاکتر عبدالاحد رشیدي، داکتر عبدالله رشیدي او ځینې نور کسان».(۱)

دخلق د ګوند نشراتي ارګان نداي خلق وو چې « د انګار» او «وطن» د جریدو څخه وروسته یې په خپلو نشراتو پېل وکولو. ددغې جریدې مسؤول مدیر انجینر ولي محمد عطایي او بیا وروسته عبدالحمید مبارز امتیاز خاوند یې داکتر عبدالرحمن محمودي وو. دخلق د جریان مرامنامه د ۱۳۳۰لمریز کال د چنګاښ د میاشتې په پنځلسمې نېټې څلورمه کارته کې د داکتر محمودي په کور کې دده د ورونو، محمدعظیم محمودي، محمد امان محمودي او محمد رحیم محمودي، نعیم شایان، انجینر ولي محمد عطایي، یوسف آیینه او عبدالحمید مبارز په شتون کې د شپې له خوا جوړه او تدوین شوه.

په نوموړي غونډه کې پریکړه وسوه چې مرامنامه به د شپې له خوا چاپ او سهار وختې به یې ویشو ددغې پریکړې سره سم مرامنامه د افکار جریدې په چاپخانه کې د شپې له خوا په یوولسو بجو د اووسوو (۷۰۰) نسخو په تېراژ چاپ او سهار وختي توزیع ته وسپارل شوه. کله چې دولت پرې خبر سو د نداي خلق د جریدې دفتر یې وتړلو او داکتر عبدالرحمن محمودي، ورونه او محمد نعیم شایان یې و زندان ته ولېږدول او د خلق جریان یې فعالیته دغورزاوه.

ډاکتر عبدالرحمن محمودي نه یوازې د نوموړي جریدې د امتیاز خاوند وو بلکې د نوموړي جریدې پیاوړي لیکوال هم وو. د خلق د جریدې د لومړي ګڼې په

---

۱ـ میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد دوم، پشاور، ۱۳۸۰، ۲۵۵.

سرمقاله کې به د خپل ګوند معرفي کړي، او د هغه په ترڅ کې به د خدمتګار او د خلکو رهبر، د خلکو د حقوقو مبارز، خلکو ته به د ولس دولت د جوړولو لارې چارې ښودلې. همدارنګه به و خلکو ته دا ورښودل چې دا ډول حکومت د خلکو له خوا د خلکو لپاره جوړېږي د نداي خلق د جريدې د مقالې محتوياتو داسې يو پراخ او روښانه سياسي او فکري جريان منعکس کولو چې د وضع د درک سره سم به يې ټاکلي ښکته او پورته نظريات ارايه کړي دي په دې مانا چې کله به يې ډېر تند او تيز شعار ورکول چې ډېر تحريک کوونکي وو او کله د استعمار او وروسته پاتې والي پر خلاف به يې تنده او څرګنده خبرې کولي او کله کله به يې بيا د احتياط او سياسي هوښياري له وجهې به يې په نرمه او پسته ژبه خبرې کولي او داسې به يې ليکل:

« ... موږ يوازې فکري انقلاب غواړو، ارزو لرو چې هره طبقه و حق ته ميلان وښيي او د قوم د خلاصون لپاره د بدبختيو څخه د خلاصون او د نيکمرغۍ او رستګارۍ لارې وسنجوي د خلکو لومړنۍ فرض د هغوي خبرول په خپلو حقوقو دي».(۱)

د دموکراسي د تأمين او د ټولنيزو برابريو لپاره مبارزه د دموکراتيکو انتخاباتو له لارې د آزاد پارلمان د تاسيس غوښتنه، د مطبوعاتو او عقايدو ازادي د افرادو د خونديتوب تأمين، د ټولنيزو مصايبو سره مبارزه د دولت په اداري فساد باندې انتقاد، رشوت محکومول، اختلاس، د اجباري کار له منځه تللو، بيروکراسي پر خلاف مبارزه او د تعليم او تربيې د پراخوالي ضرورت او د سواد تعميم ټول هغه مسايل وو چې د خلق ګوند د هغو لپاره مبارزه کوله او د نداي خلق جريدې په خورا اجرآت سره د هغو په نشر او توضيح باندې لاس پورې کولو.

په عمومي توګه د غه اهداف د ويښ ځلميانو په هدافو او دندو کې راغلي دي او د ويښ ځلميانو او ندايخلق ترمنځ يې ګډ ټکي جوړول خو توپير يې په دې کې وو چې د خلق د جريان موضوع د ويښ ځلميانو په نسبت ډېره ژور، تحريک کوونکې، روښانه او د کين اړخ لرونکي وه.

د نداي خلق جريدې هم د بېلا بېلو ژورنالستيکي ژانرونو په کارولو سره او د مطالبو د محتوياتو د دقيق پرورښت په برخه کې ډېر ښه رول لرلو. چې کولای سو ووايو چې د نداي خلق جريدې کار « دانګار» د جريدې په

---

۱ـ داکتر عبدالرحمن محمودي، دوره حصول دموکراسي، نداي خلق، دوشنبه، ۱۲ حمل، مطبعه انګار، ۱۳۳.

نسبت یو ګام پر مخ ګڼل کېږي. د ندای خلق جریدې د ارقامو او اعدادو څخه په ګټه اخېستلو سره د لویو خصوصي انحصاري شرکتونو پر خلاف مبارزه وکړه او د خلکو د بې وزلي علت یې په دې کې بللو چې سرمایه او ځمکه د یو کم شمېر شتمنو په لاس کې تمرکز موندلی ده، د خلق ګوند و نړیوالو مسایلو ته هم پام لرلو او په داسې شرایطو کې یې چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې او برخوردونه ډېر تریخ وو. د خپل هېواد د اقتصادي او ټولنیز استقلال پر تحکیم یې خبرې کولې او پاکستان یې محکومولو.

ښاغلي غبار دغه ګوند و ورستني شیبې داسې بیانوي:

« ... په هر حال کله چې حکومت د سیاسي ګوندونو د له منځه وړلو لپاره لاس په کار سو د خلق پر ګوند باندې یې هم حمله وکړه او د خلق ګوند یو شمېر غړي یې د ډاکتر عبدالرحمن محمودي په ګډون په کال ۱۳۳۱ لمریز کې په سیاسي زندان کې واچول. په داسې حال کې چې د نوموړي ګوند دوه تنه غړي عبدالحمید مبارز او محمود یوسف آیینه د مظاهرې څخه درې ورځې مخکې بندیان سوي وو، د خلق ګوند محبوسین عبارت وو له: داکتر عبدالرحمن محمودي او یوولس تنه نور ملګري یې... یو شمېر کسان د وخت په تېریدو سره له بنده خلاص سول او یو شمېر نور د ډاکتر محمودي په ګډون تر نهو کالو (۹) پورې په زندان کې پاتې سول. ( ۱۳۳۱- ۱۳۴۰لمریز) محمودي په زندان کې بېلا بېلو ناروغیو له پسو وغورزاوه او د هغه وخت حکومت خپل کور ته واستاوه. او په پای کې دوه میاشتې وروسته د ۱۳۴۰کال د تلې په میاشت کې د ډېرو ربړونو او رنځ څخه وروسته سترګې له دغه جهان څخه پټې کړې. په دې توګه د خلق ګوند هېواد د نورو ګوند په لیکه کې له منځه ولاړ».(۱)

## څلورم: د محصلانو اتحادیه:

دا اتحادیه د کابل پوهنتون د روشنفکرانو محصلینو لومړنې اتحادیه وه چې په ترکیب کې یې د کابل پوهنتون باخبره روشنفکران او دهغه څخه د باندې پوهه او باخبره روشنفکران په کې شامل وو. نوموړې اتحادیه په کال ۱۳۲۲لمریز د غوایي میاشت ( ۱۹۵۰میلادي) کې تاسیس سو، ددغې اتحادیې په تاسیس کې د نوموړې وخت د سیاسي جریانونو روشنفکران او شخصیتونه او په دولت \ پورې تړلې عناصر په کې برخه لرله د کابل د

---

۱ـ میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، دوهم ټوک، پشاور، ۱۳۸۰،ص ۲۵۸.

پوهنې د ليسو د لوړو صنفونو زده کوونکي، ټول مبارز روشنفکران او سياسي حلقي او معلمين ددغې اتحاديې طرفداران وو. اتحاديې ځانته ځانګړې برنامه، پروګرام او مرکزي ارتباطي کميټې لرلې ددغې اتحاديې په اړه ښاغلي غبار ليکي:

« دا اتحاديه د اجراييه کميټې غړي دا کسان وو: مير علي احمد شامل ... محمد يونس سرخابي، سيد محمد ميوند، محمد نعيم کندهاري، اسعد احسان غبار، محمد عارف غوثي، ببرک، محمد حسن شرق (ببرک او حسن شرق د داود خان له ډلې څخه وو)، محمد يحيي ابوي، حبيب دل، عبدالواحد وزيري، محمد اسحق عثمان هدايت، محمد ابراهيم او ځينې نور».(۱)

د محصلانو اتحاديې د روشنفکرانو او ځوانانو په سياسي بيداري کې ډېر ښه ارزښتناکه رول ولوباوه دنوموړي اتحاديې د استقلال د جشن د تجليل په وخت کې ډېر ښه تنويري کنفرانسونه جوړول، ټولنيز، اخلاقي او انتباهي نمايشات به يې اجرا کول ددغو فعاليتونو په نتيجه کې ډېر ژر مشهوره شول او په خلکو کې يې نفوذ پيدا کړو او ډېر مينه وال يې راجذب کړل ددغه روشنفکرانه فعاليتونو په نتيجه کې دغې اتحاديې ډېر ښه سياسي اعتبار ترلاسه کړلو د اتحاديې غړو مجلسونه، کنفرانسونه دايرول، او د استقلال ليسې د تياتر په تالار کې يې انتقادي او انتباهي ډرامې جوړولي او د طبقاتي ټولنې ټول ناخوالې يې د نوموړو ډرامو له لارې خلکو ته بيانولې.

همدارنګه په نوموړو ډرامو کې د دولت پر بيوروکراتيک اداري فساد باندې هم انتقاد کولو چې په نتيجه کې يې د حکومت پام ځانته را جلب کړلو.

او هم نوموړي اتحاديې په کيڼ او ښي اړخو باندې ووېشل سوه. په نتيجه کې د دولت د نوموړي اتحاديې فعاليت بند کړ او د اوو مياشتو په تېريدو سره يې هم ممنوع اعلان کړه. ددغې اتحاديې په ملاتړ کې مير غلام محمد غبار او ډاکتر عبدالرحمن محمودي ډېرې ګلکې انتقادي وينااوې وکړې او هم د ويښ ځلميانو د جريان نشراتي ارګان (انګار) ددغې اتحاديې څخه په دفاع کې وليکل:

---

۱ـ مير غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ، دوهم ټوک، پشاور، ۱۳۸۰، ص ۲۲۱.

«د محصلینو اتحادیه څو میاشتې په ډېر ښه صورت غونډې وکړې د کنفرانسونو په وسیله یې د خلکو په ویښولو او د خپلو حقوقو څخه خبرولو لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې څو نوموړې کنفرانسونه د لږ د میاشتې په مابین کې ناڅاپه له بستګي سره مخامخ شول ... په وروستیو کې داسې واوریدل سول چې اتحادیې له سیاست سره تماس کولو د هغې له غونډو څخه مخنیوي وسو. دغه هېواد چې له څېرې څخه یې څرګندېږي ډېرو فلاکتونو او بدبختیو هغه احاطه کړې دي ... موږ د محصلینو د پخوانې اتحادیې څخه غوښتنه کوو، تر څو د غونډو او د ګټورو کنفرانسونو ورکول سر له نوي پېل کړي او په ډېره ښه توګه د عامه په راویښولو کې هڅې وکړي».(۱)

د انګار جریده، د ویښ ځلمیانو د سیاسي ټولنې د نظریاتو او سیاسي فعالیتونو ممثله جریده وه،. نو دلته ضرورت احساسېږي چې یو څه پردغې جریدې ولیکل سي. د انګار جریده په کال ۱۳۲۹لمریز کال د کب د میاشتې په نهمه نېټه د چهارشنبې په ورځ د ښاغلي فیض محمد انګار په مسؤلیت او مدیریت خپره سوه، نوموړې جریده په اونۍ کې دوه ځلې د یکشنبې او چهار شنبې په ورځو په دوو ژبو له چاپه راوتله.

دغه جریده یوه ملي، ادبي، ټولنیز او سیاسي اخبار وو چې د هغه وخت د مطبوعاتو د قانون څخه په ګټه اخېستنه په خپلو خپرونو پېل وکړو. لومړې ګڼه یې په ساده کاغذ پر یوه تخته چې ۴۲/۲۷ سانتي مترو کچه یې لرله، په څلورو مخو کې چې هر مخ یې دوه ستونه لرل او د فیض محمد انګار په خپله خاني کستتنري مطبعه کې چې په میوند وات کې موقعیت لرلو، له چاپه راوتله.

ددغې جریدې مرام په لومړې ګڼه کې لومړي مخ دوو ستونو کې چاپ او داسې پېل کېږي:

بنام خداي بزرګ: (همتم بدرقه راه کن اي طایر قدس - که درازاست ره مقصد و من نوسفرم).

مرام این نامه: خود رابختیار و مسعود میدانم که براي اولین مرتبه از قانون مطبوعات استفاده کرده با نیت پاک و دل پر ارزو این نامه کوچک

---

۱. فیض محمد انګار، د محصلینو اتحادیه، انګار جریده، کابل، انګار مطبعه، حمل، ۱۳۳۰.

ملي مي پردازم. گرچه نامه نسبت به ارزوهاي من خيلي کوچک و ناچيز است.

ولي با اينهم مرام بزرگ و مقدس داردوان عبارت است از خدمت به ملت افغان. ما از اين حقيقت چشم پوشي نميتوانم که مليت ما نسبت به تمام ملل عالم به صد ها سال عقب مانده وأکنون به کوچکترين خدمت کوچک ترين افراد احتياج شديد دارد. چون بنده نيز يکي از افراد با اروزي اين ملت هستم، ميخواهم به نوبه خود خدمتيکه در خور توان من باشد به اين ملت بيچاره بکنم. به عقيده من درد مهم که داريم همانا اين است که درد خود را نميدانيم و اين وظيفه چيز نويسان و دانايان افغان است، که د رتنوير اذهان عامه بکوشند. علل و اسبابيکه باعث عقب مانده اين ملت مظلوم گرديده، روش سازند. و هم راه حل براي رفع آن علل سنجيده عوام را رهنمايي کنند.

مرام اين نامه نيز مبني به همين اساس است تا به کمک نويسنده گان حساس و جوانان بيدار مملکت بتوانند ، خدمت کوچکي در راه تنوير اذهان عامه کرده باشد. البته خدمت به ملت افغان منحصر به اين نامه کوچک نيست، شايد اشخاص هم باشند ، و يا پيدا شوند ، که عملاً در راه خدمت به ملت داخل ميدان کردند. پس اين نامه مويد و معاون هر فرد يا موسسه اجتماعي است که به ملت عقب مانده افغان صادقانه خدمت ميکند و هميشه انها را پشتيباني خواهد کرد. ولي باالعکس رسوا کننده اشخاص با موسسه و با جماعتي است که به ضرر ملت ميکوشند و مفاد ملت را قرباني شخصي کرده و يا خود را با دارو ديگران را غلام تصور کند. بعبارت ديگر اين نامه زبان، دست و قوت خدام صادق ملت بوده که با خاينين و ظالمين سخت مجادله خواهد کرد. اين نامه به تمام قوت در وحدت ملي افغان بدون امتياز نژاد ، قوم، قبيله، خانواده و زبان خواهد کوشيد و هم اين نامه با دروغ، تملق، چاپلوسي، ظلم، خيانت، رشوت، رسوم و مزخرفات داخل مجادله خواهد شد. و بالآخره از هر آنچه به نفع ملت باشد ، طرفداري کرده، و آنچه به ضرر ملت باشد ، سخت نکوهش و تنقيد خواهد کرد. اينکه مرام متذکره به نشر اين نامه کوچک ( انگار ) يعني ( خوريج آتش ) اقدام ميکنم و از خداي بزرگ در راه خدمت به ملت توفيق ميطلبم و هم از نويسنده گان حساس فارسي و پشتو تمنا دارم که درين خدمت مقدس با اين نامه کمک نمايند.

(ومن الله التوفيق)

د انګار د جریدې د لومړي ګڼې لیکوالان عبارت وو له: عبدالروف بېنوا، ګل پاچا الفت، نور محمد تره کي، داوري او ضیا قاري زاده، د انګارجریده د مطبوعاتو د قانون د ۲۴ مادي پر بنسټ د ۱۳۳۱کال د عمومي امنیت د اخلال په اتهام مصادره سوه.

# پنځم فصل

## (د وېښ ځلميانو د لارښوونکو غړو شمېر)

## (د ویښ ځلمیانو د لارښوونکو غړو شمېر)

د ویښ ځلمیانو د جریان او د هغو د لارښوونکو او بنسټ ایښودونکو او طراحانو په اړه بېلا بېل نظریې وجود لري. ددغو ټولو نظریاتو او د هغه وخت د اسنادو او شواهد و په پام کې نیولو سره دا خبره واضح کېږي چې د ویښ ځلمیانو د غورځنګ ټولنیز ترکیب غیر متجانس وو او د ټولنې د بېلا بېلو طبقاتو او اقشارو له عناصرو څخه تشکیل شوي وو.

په ویښ ځلمیانو کې د شاملو روشنفکرانو طبقاتي او قشري وابستګي په عمده توګه تصنیف دا څرګندوي چې د ښار او کلي، خرده بورژوا روشنفکر، قشرو د ښار او کلي بورژوازي ملي بورژوا او د حاکمو بوروکراتانو زامن او حتي ځیني مشهور فیودالان د ټولنې د همدغو طبقاتو او اقشارو ملي او مذهبي اقلیتونه په کې شامل او راټول شوي وو. له همدې امله وو چې دوي د سیاسي افکارو په وړاندې کولو کې توپیر موجود وو او هم په وړاندې شوي پروګرام کې لازم فکري ورته والي او یووالي نه لیدل کېده دا حرکت چې د هېواد په کچه یوازې په ځینو لویو ښارونو کې را شروع شو. دغه دودي په حال کې سیاسي حرکت سراسر خصلت نه لرلو ویلای شو یوازې او تر ټولو اساسي اوعمده سیاسي فعالیتونه نسبتاً په پراخه پیمانه د کابل په ښار کې د ویښ ځلمیانو په همت پېل شو.

ددغه سياسي جريان په موسسه کنګره کې د شاملو کسانو شمېر يوويشت(۲۱) تنو ته رسيدلو، چې دهغو له ډلې څخه څلور تنه د مديره هييات غړي وو او نور پاتې کسان د نومو ړي غونډې ګډون کوونکي غړي وو. د يوه تصويب شوي سند له مخې د ويښ ځلميانو د ګوند رييس او يا منشي نه درلودلو يو ازې د مديره هييات له خوا چې د کنګرې له خوا ټاکل شوي وو رهبري کيدلو.

په کال ۱۳۲۹المريز کال د لړم د مياشتې په څوارلسمه (۱۴) نېټه د مرکزي عالمي کمېټې او د کابل د اجراييه کمېټې غړي وټاکل شول او د کمېټې غړي يې دوباره وټاکل:

الف: د مرکزي عالي کمېټه د غړو ټاکل:

۱ـ د کابل ولايت له خوا: نور محمد تره کي، غلام حسن صافي، صديق الله رشتين

۲ـ د کندهار ولايت له خوا: عبدالروف بېنوا، فيض محمد انګار او غلام دستګير.

۳ـ د مشرقي ولايت له خوا: ګل پاچا الفت، قيام الدين خادم

۴ـ د جنوبي ولايت له خوا: نيک محمد پکتيايي، غلام محي الدين زرملوال روشان

۵ـ عمومي خزاندار او اداري مسؤل محمد ارسلان سليمي وو.

ب: د کابل اجراييه کمېټه:

عبدالروف بېنوا، نور محمد تره کي، غلام حسن صافي ګل پاچا الفت، صديق الله رشتين، فيض محمد انګار، شاه مرد خان مليا، نيک محمد خان پکتياني، عبدالرزاق خان فراهي او محمد موسي شفيق، د نوموړي کمېټې له خوا نور محمد تره کي د رييس په توګه، عبدالروف بېنوا د منشي په توګه او شاه مردمليا د کابل د کمېټې د خزاندار په توګه انتخاب شول (۱۳۲۹/۷/۱۴، د ۱۹۵۰ نومبر ۵).

دا بايد ووايم چې هر ولايت بيا ځانته اجراييوي کمېټه لرله چې په هغې کې تر يوولس تنو غړو پورې په کې شامليداي شواي هرې کمېټې يو رييس يو منشي او يو خزاندار لرلو، چې د غړو له ډلې څخه به د يو کال لپاره د رايو له لارې ټاکل کېدلو. همدارنګه په کابلکې يوه مرکزي عالمي کمېټه موجوده وه

چې په هغې کې به له هره ولايت څخه درې تنه منتخب نماينده ګان شامل وو.

د ويښ ځلميانو د ټولنې په موسسه کنګره کې دغه کسان شامل وو:

عبدالروف بېنوا، قيام الدين خادم، نورمحمد تره کي، فيض محمد انګار، محمد ارسلان سليمي، صديق الله رشتين، نيک محمد پکتياني، محمد ولي ځلمي، ګل شاه صافي، لعل محمد احمدي، غلام رحمن جرار، عبدالقدوس پرهيز، شاه مرد مليا صافي عبدالهادي خوږمن، ابوالحسن افشار، غلام محي الدين روشان، محمد طاهر نايب، پاينده محمد روهيلي، نور محمد پوهنده، ګل پاچا الفت، ښاغلي الفت په ننګرهار کې رسمي دنده لرله. نوموړي له هغه ځاي څخه خپله د شموليت پاڼه د يوه ليک په وسيله رالېږلې وه او محترم بېنوا هغه په مجلس کې ولوستله.

دغې ټولنې د شپږو مياشتو په موده کې د افغانستان په يو شمېر سيمو لويو ښارونو کې اجراييوي کمېټې پرانستلې او په جلب او جذب کې ډېر پياوړي شوه. ددې لپاره چې ګوندي فعاليتونه پياوړي شي د نوموړي کال د سنبلې په مياشت کې عبدالحي حبيبي او شمس الدين مجروح خپله همکاري او رواداري تر پايه ورسره وساتله.

څرنګه چې د ويښ ځلميانو په ټولنه کې د هرې طبقې او پوړ يو نماينده ګانو ګډون لرلو نو د طبقاتي تضادونو بېلا بېلو ذهنيتونو سره سره يو شمېر دولتي ګمارل شوي کسان هم شامل وو چې د پټو او ښکاره د سيشو سره يې د هغو کسانو افشا ګيرې کوله چې د دولت سره يې په ښکاره مخالف کاوه او د دولت پر کړنو يې انتقاد او دولتي لارښوونو ته يې چندان توجه اوعتنانه لرله. په اخر کې د دولت د ډېرو سياسي فشارو او نارامیو له کبله ځينې فعال او مخور غړي لکه عبدالروف بېنوا د نوموړي ټولنې له غړيتوب څخه په رسمي توګه معذرت وغوښتلو او د

کابل په مجله کې يې د يوه مضمون په خپرولو سره يې دا مساله اعلان کړه. خو په پاي کې د دولت د سياسي اختناق له کبله ټولې سياسي ټولنې په يوه او بل نامه له منځه ولاړې. (۱)

د مديره هييات پريکړې به د منشي له خوا او لوړو غړو ته اعلاميدلي د مديره هييات غونډه د هرې مياشتې په پيل او يا په پاي کې جوړيدلي او په هغه کې د ګوند د پرمختګ څرنګوالي، د نويو غړو د جلب او جذب باندې تصميم نيول کېده، څرنګه چې ددغه سند د لاسليک يو وخت په ولاياتو کې د اجراييوي هييات ځانګې نه وي په لهذا داسې پريکړه وشوه چې د ۱۳۲۷المريز کال په ترڅ کې او ۱۳۲۸کال په پېل کې د موسسې کنګرې غړي په ولاياتو کې د خپلو نماينده ګانو په ټاکلو کې ګام پورته کړي.

د ويښ ځلميانو د ټولنې مرکز د کابل ښار ټاکل شوي وو د ګوند عادي غونډې په هرو پنځلشو ورځو کې جوړيدلي د ګوند عمومي غونډه په کال کې يو ځل د سنبلې په مياشت کې جوړيدله د هر ولايت په اجراييوي کمېټه کې تر پنځلس تنو (۱۵) پورې شامليداي شواي. نوموړو کمېټو يو رييس، يو منشي او يو خزاندار لرلو. چې د يوه کال لپاره د غړو له خوا د اکثريت د رايو پر بنسټ ټاکل کېدلو.

د عمومي اسامبلۍ پريکړه د ټولو ولايتي کمېټو لپاره د اجرأ وړ وو. ټولې ولايتي کمېټې به خپل اجرأت او پروګرامونه و مرکزي اجراييوي کمېټې ته استول.

## الف: د ويښ ځلميانو د ځينو مشاهرو بيوګرافي:

### اول: استاد عبدالروف بېنوا:

مرحوم استاد عبدالروف بېنوا د مفتي عبدالله زوي او د عبدالخالق عليزي لمسي او د سربيشي اوسيدونکي وو، چې په کال ۱۲۹۳المريز کال کې د اوسني هلمند د باغران په سيمه کې د سربيشي

---

۱. توماس ګوتيک، نقش انجمن هاي ادبي در پروسه تشکيل ويښ ځلميان، کابل، مونوګراف، تاسيس، ۱۳۲۴، ص۵۵.

په کلي کې زېږېدلی دی. ابتدايي زده کړې يې د خپلې کورنۍ د غړو مخصوصاً د خپل مشر ورور عبدالکريم حقاني چې د هېواد د جيدو ديني علماوو څخه وو، د خپل وخت د متداولو علومو استاد کل ګڼل کېده، څخه زده کړې وې.

استاد بېنوا د شعر او ادب سره مينه لرله او په دغو برخو کې يې پوره مطالعه وکړه او ځان يې د استادي درجې ته ورساوه او د هېواد په مطبوعاتو کې يې د ادبي پارچو او اشعارو په ليکلو سره ځان د يوه خوږ ژبي شاعر او د ټولنيز با درده دردمند انسان په څېر ځان په خلکو و پېژنده. له همدې امله وو چې بېنوا د افغانستان په اوسنيو ليکوالو او شاعرانو کې ډېر منلي او نومیالي اديب وو چې ځانته د ځانګړې سبک خاوند وو. د شعر او ادب په پراخه لمن کې يې خپل استعداد او لياقت په شهرت رشولی دی. په شاعرانو کې سه شاعر، په ډرامه ليکونکو کې ښه ډرامه ليکونکي او په مورخينو کې د ښې برخې څخه، برخمن وو. استاد بېنوا طبعاً شاعر وو. دده ژوند، دده خبرې، د ده مجلس ناسته او ولاړه، ده خويونه او خوراک او څښاک ډېر شاعرانه رنګ لرلو او اصلي رنګ يې همدغه وو. دې په ظاهري ښه شور او سپين مخ، شايسته څېرې باندې څوک ونه غولېږي. د قوم او وطن درد او احساس چې ورسره وو، هميشه دې ناارامه او بېنوا ساتلي وو. ده په ويل چې عيش او عشرت دي د بېنوايانو، خوارانو څخه اډونه بېل کړي.

مرحوم استاد بېنوا په کال ۱۳۱۷ المريز کې د خپل مشر ورور استاد عبدالکريم (ګدا) حقاني چې وروسته يې «حقاني» تخلص کاوه، د مطبوعاتو د مستقل رياست په غوښتنه د پښتو ټولنې د غړي په توګه ومنل شو. او له دې وخت څخه وروسته د مرکز د لويو او مشهورو ليکوالو او اديبانو سره يې پېژندګلوي پيدا کړه. استاد بېنوا هم ډوډۍ مار، مجلسي او هم بزمي انسان وو. د ډېرو لګرو د دسترخوان شريک، همدا راز او

د مجلس نقل وو. په کال ۱۳۲۷کې د وینې ځلمیانو د کنګرې د موسیسینو څخه وشمیرل شو.(۱)

استاد بېنوا په کال ۱۳۳۰المریز کې د پښتو ټولنې لوي مدیر او په عین وخت کې د ادبیاتو په پوهنځي کې د پښتو ژبې د ادبیاتو په څانګه کې د استاد په توګه دنده ترسره کوله. په کال ۱۳۳۲المریز کې د مطبوعاتو د مستقل ریاست په چوکاټ کې د خپرونو لوي مدیر او بیا وروسته تر کال ۱۳۳۴المریز پورې په ډهلي کې د افغانستان د دولت مطبوعاتي آتشه وو او چې بېرته کابل ته راغي د کابل راډیو رییس او د ۱۳۴۷المریز څخه تر ۱۳۵۱المریز پورې د اطلاعاتو او کلتور د وزیر په توګه دنده لرله. همدارنګه استاد بېنوا د موسی قلعه د خلکو له خوا په ولسي جرګه کې منتخب وکیل او نماینده وو. له ۱۳۵۱المریز څخه تر ۱۳۵۷المریز پورې متقاعد وو. په ۱۳۵۷کال کې د پښتو څېړنو په نړیوال مرکز کې غړي او بیا د افغانستان د علومو د اکاډمۍ په چارو کې مشاور وو. په کال ۱۳۵۸المریز څخه تر ۱۳۵۹المریز پورې د عظمي صدارت رسمي مشاور او په کال ۱۳۶۱المریز کې په لیبیا کې د افغانستان سفیر مقرر شو. او په پای کې په ۱۳۶۳المریز (۱۹۸۵میلادي) کې امریکا ته د تګ په وخت کې په جرمني کې د ستونې د سرطان د ناروغي له امله وفات شو او جنازې یې نیویارک ته یوړل شوه په نیو جرسي کې خاورو ته وسپارل شو.

استاد بېنوا چاپي اثار لرل چې د ځینو نومونه دلته رانقلوم:

پښتو کلي، پردیسي، پښتني میرمنې، د هوتکو په دوره کې پښتو، میرویس نیکه، اریاي پښتو مرثیې او ویرنې، دغنمو ډوډۍ، د پیر محمد کاکړ دیوان تصحیح او تدوین مقابله، چند آهنګ ملي، ادبي فنون وینې ځلمیان، د ډار ستر پښتو څېړنې، د رحمان بابا د دیوآن تدوین، خوشحال خټک څه وایي؟ نظر په پښتونستان، پښتونستان، لیډران امروزي پښتونستان، د کاظم شیدا دیوان، هوتکیها، پریشانه افکار، خوشحال او پسرلي، پاچا خان، د زړه

۱ـ محمد ولي ځلمي، ملي مبارزې، کابل، د میوند نشراتي موسسه، ۱۳۸۲، ص ۲۷۴.

خواله، پښتو قرأت زور ګنهګار ( ډرامه )، کاربر اصل ( ډرامه )، اوسني ليکوال ( دري ټوکه )، د افغانستان نوميالي ( دري ټوکه ) پښتو متلونه چاڼ ( دري ژباړه )، د عبدالمحمد شينواري، انګريزي ژباړه، استاد بېنوا په عربي انګليسي، اردو او فارسي ښه پوهېده او ترجمه يې ځيني کولاي شواي بېنوا د پشتو ژبې نازک خياله ملي، ولس، بزمي او حماسي شاعر وو. په خپلو ملي او اصلاحي اشعارو کې د مطلقيت او استبداد برخلاف احساسات را پارول. که څه هم د اشعارو او ليکنو ژبه به يې کلکه او تنده وه خود بينوا د پاکو جزياتو څخه يې سرچينه اخيستله، نو رسمي او غير رسمي عکس العملونه يې لير وو. نوموړي د هغه سياسي فشار له امله چې دولت پر ځينو روشنفکرانو اچولي وو په کال ۱۳۳۱المريز کې د ويښ ځلميانو د غړيتوب څخه لاس واخيست. همدارنګه په کال ۱۳۵۱المريز کې يې د مترقي دموکرات ګوند څخه په رسمي توګه استعفا اعلان کړه.

د استاد بېنوا د نثر نمونه :

د ژوندون په لوي ډګر کې هر چا ،

هر چا زيار يوست، چې ځانته د ښه ژوند لار پيدا کړي. لوړي او ژورې ولټوي هرې خوا ته يې منډې ووهلي ... خو تر ډېر تلاش وروسته ټولو ته دا ثابته شوه، چې د هر څه دمخه بايد د علم لمن ټينګه کړي او د علم په لارښوونه خپل مطلب ته ځانونه ورشوي. نو ټول د علم په زده کړه پسې ولاړل ... يوازې د هغه لوي ډګر په يوه ګوټ کې يو مغرور، بې علمه ځلمي ولاړ وو چې د علم خوا ته يې حرکت ونه کړ، او د علم د زده کوونکو په ډلې پسې راهي نه شو.

دې مغرور او ناپوه ځلمي د ځان سره هيڅ علمي سرمايه نه درلوده. يوازې دده په سر د خاندان يوه زړه خولې وه. دده ټول غرور همدا خولې وه ... ټول بشري احترامات اوانساني تعليمات يې همدي خولۍ ته وربلل. استراحتونه، ثروتونه، خوندور خوراکو نه يې يوازې د همدې خولي د خاوند حق ګاڼه.

ده ته هر څوک ناپوهه ښکاره کېده. چې دا خولۍ به یې پر سر نه وه. دانا پوه ځلمي همداسې مغرور ولاړ وو، څو چې د علم د زده کړې وخت ور باندې تېر شو... د کار وخت راغي دا ناپوه ځلمي هم هغسې مغرور او بې پروا فکر کې وو، چې ددې خولۍ د خاوند لپاره باید نور خلک کار وکړي. شلم قرن راغي له دې ناپوه ځلمې څخه یې د تحصیل دپلومه وغوښتله ځلمي په ډېر غرور او فخر د خاندان د خولۍ تصدیقنامه ور وړاندې کړه او د هغې امتیازات یې وغوښتل خو شلم قرن ورسره آشنا نه وو. هغه تصدیقنامه یې ونه لوستل شوه نو د ځلمي څخه یې د کار محصول وغوښت بې علمه ځلمي بیا خولۍ ور وړاندې کړه او ویې ویل:

دا د کارفرما خولۍ ده کارګرې خولۍ نه ده شلم قرن دې بې علمه او بې عمله ځلمي ته په غضب شو او د عصبي ښوونکي په څېر یې څپېړه جوړه کړه او دا ځلمي یې په داسې ضربه له ځانه لیرې وغورځاوه چې د خاندان خولۍ یې له سره ولیده او ورته ویې ویل: اې ناپوه او بیکاره ځلمیه! دا خولۍ ډېره زړه شوې او له موده لویدلې ده نور په دې خولۍ ځان مه غولوه اومه دنیا در پورې خندوه، ولاړ شه علم زده کړه، کار وکړه.

داستاد بېنوا د شعر بېلګه:

څـه خبر یم چې ژوندون دي
او کهـ شورو خوشي هسي

نه مو د رنګ شته نه مو بوي شته
په ځان لوړو خوشي هسي

پـخـوا او اوس څـلـه نـه یـو
دا نـه ګورو خوشي هسي

نـه صـغـرا شته نه کبرا شته
هـېـڅ قـیاس کولاي نه شم

هـر څـو څـمـه تـاریـکـي ده
هېـڅ رڼـا نه را ښکارېږي

هـر څـو سترګې سـره کش کړم
یـو بینا نه را ښکارېږي

دغـه مـړ دي هـغـه مـړ دي
څـه دنیا نه را ښکارېږي

کـار د زړه او مـغـزو هـېـڅ
پـه قلم لیکلاي نه سم

سـترګـې روښـې څـه نـه ویـنو
رون چیني راتـه خاورین دي

د ځـان شـهـد ګـنـډ پر بولـو
د بـل مرچ راته شیرین دي

| | |
|---|---|
| کـــلـــه پـــا ځـــــو کلـــه پرزو | تېښنګ اساس ترلاي نه شو |
| وزرستـــه الـــوتـــاي نه شو | چـــا مات کړي وزر دي |
| خـــــولـــه لرو رغيداي نه شو | دا د کـــوم جادو اثر دي |
| خپـــل پـــا يخي مو زولنې شوي | ځـــکه حال داسې ابتردي |
| زړه مـــــو شوځي خو له مـو پټه | د زړه درد شـودلاي نه شو |

## فيض محمد انګار:

ښاغلي فيض محمد انګار د حاجي ګل محمد زوي او د محمد حسن لمسي وو او په ختېه برېخي وو. مرحوم انګار په کال ۱۲۹۴لمريز کې د کندهار په دربیمه ناحيه کې د يحي خان په کوڅه کې زيږيدلی دي.

لومړي زده کړه يې د خپل پلار څخه چې د کندهار د نوميالیو ميرزايانو او مخورو څخه وو، زده کړې وي بيا يې د کندهار شاليمار د شوداګرو په ښوونځي او د ارګ په ښوونځي کې خپل لومړنې تحصيلات په سر ورشول. څرنګه چې پلار يې په رسمي دفترونو او تجارتي شرکتو کې د سرکاتب، مامور، مدير او رييس په توګه کار کاوه. ښاغلي انګار هم د خپل پلار سره د شاګرد ليکونکي او مامور په حيث دنده ترسره کوله.

فيض محمد انګار په کال ۱۳۲۵ لمريز کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي څخه د ليسانس ديپلوم په اخېستلو سره د ملي اقتصاد په وزارت کې د ګمرکاتو د مرستيال مدير او بيا دکندهار د موريسن کنودسن امريکايي کمپني کي او بيا د فوايد عامې په وزارت کې مامور وو.

ښاغلي انګار د ويښ ځلميانو د موسسي کنګرې په رييسه هييات کې د يوه فعال غړي په څېر ګډون لرلو. همدارنګه ده په کال ۱۳۲۹لمريز کې دحوت په نهمه (۹) د چهار شنبې په ورځ د انګار جريدې لومړي په خپل امتياز او مسؤول مديريت خپره کړه. نوموړي جريده هره يکشنبې اوچهار شنبې په پښتو او فارسي ژبو خپروني کولې او د انګار په شخصي ګستنر کې چاپېدله.

ښاغلي انګار چې کله کندهار ته ولاړلو وروسته هلته تر نظارت لاندې ونیول شو. او د کندهار په عسکري قشله کې شپږ کاله تر نظارت لاندې وو. د نظارت څخه تر خلاصیدو وروسته د کندهار په تجارتي شرکتونو او موسشو کې د مدیر او نماینده په توګه په کار شروع وکړه. نوموړې په کال ۱۳۴۳المریز کې د ویښ ځلمیانو د یوه شمېر ملګرو سره یو ځاي د محمد هاشم میوند وال صدراعظم ګوند د دموکرات مترقي په نامه شامل شو او ځیني ملګري یې وزارت، ریاست او ولشوالیو تر څوکیو پورې ورسیدل هغه وخت چې د هېواد د اداري پر ډول او د دموکراسي پر چلاو باندې د پاچا د کورنې د ځینو غړو او مرحوم میوندوال تر منځ د نظر اختلاف پېښ شو. دغه اختلافات په مظاهرو او اخبارو کې خپاره شول، انګار ځینو غړو په طرفداري په ۱۳۵۲المریز کې د جوزا د میاشتې په ۲۴نېټه په اخبارو کې د اعلامیې د صادرولو او په اخبارو کې د خپرولو له لارې په رسمي ډول د دموکرات مترقي ګوند څخه ووتل. هغه کسان عبارت وو له:

عبدالحي حبیبي، عبدالروف بېنوا، عبدالشکور رشاد، عبدالهادي هادي، فیض محمد انګار، محمد ابراهیم خواخوږی، نور محمد قاضي خېل، غلام جیلاني الکوزي، عبدالصمد ویسا، محمد عثمان هوتک او نور.

فیض محمد انګار په کال ۱۳۴۵کې د کلیو او پراختیا د ریاست په پنجوایي د پروژې د امر او بیا د کورنیو چارو وزارت د تفتیش دغړې په توګه کار کاوه وروسته په کال ۱۳۴۸المریز کې دکبرسن او د سترګو د لید د کمزورتیا او مزاج د علالت له مخې تقاعد ته شوق شو. ښاغلي انګار د ځلمي صاحب په قول میانه ونه، چاغ، سپین پوستي، خوش طبعه او میلمه دوست سړي وو. د بدن د چاغښت په نسبت د پښې د درد او د وینې د فشار ناروغیو زوراوه. او د همدغو ناروغیو له امله په کال ۱۳۵۸المریز کې د کابل د علي اباد په روغتون کې وفات شو او جنازه یې په کندهار کې خاورو ته وسپارله.

### نور محمد تره کي:

نور محمد تره کي د نظر محمد شبي خېل تره کي زوي وو، چې په کال ۱۲۹۲المریز د میزان په ۲۴مه نېټه د غزني د مقر د کوچني ناوي په سره کلي کې زېږېدلی دی. لومړنی زده کړې یې د کورني د غړو څخه مخصوصاً د خپل مشر ورور سلطان محمد تره کي او شاوخوا باشواده کسانو څخه زده کړې وي. او کله چې په لیک او لوست نسبتاً پوه شو په کلي کې یې د یوې کونډې، بېوزلې ښځې د مال او اولاد د ځارنې د مزدورۍ له لارې خپل اعاشه او اباته برابروله. وروسته د کار موندلو لپاره کندهار ته ولاړ او په شرکت پښتون کې لومړي ځل د افتخاري او ازمايشي کاتب او وروسته چې يې خپل لياقت او کفايت وښودلو په ۱۳۱۲المريز کال د نومورې شرکت له خوا په بمبي کې د نماينده ګۍ په کتابت مقرر شو. تره کي په کال ۱۳۱۶کې د شوداګرۍ په وزارت کې د اقتصاد د مجلې محرر او په کال ۱۳۱۷کې د کانو او صنايعو په وزارت کې د سرکاتب او په کال ۱۳۱۸المريز کې بېرته د اقتصاد د مجلې محرر مقرر شو. په کال ۱۳۲۰ لمريز کې د کابل راډيو د پښتو خپرونو مرستيال او په کال ۱۳۲۳المريز کې د باختر آژانس د موسسې د غړي په توګه او په ۱۳۲۴ لمريز کې د فوايد عامې وزارت د قلم مخصوص مدير او بيا د خارجي ارتباط د مدير په حيث کار کولو په کال ۱۳۲۶المريز کې د پطرولو د لوي مدير په حيث وټاکل شو او د يوې پېښې له کبله د دغه مديريت څخه معزول او د يو څه وخت لپاره وزګار پاتې شو د همدې پېښې په اړه سيد قاسم رستيا په خپل اثر کې ليکي:

« د يادونې وړ ده چې د هغو کسانو له ډلې څخه د سؤ استفادې په نسبت په همدغه کميسيون کې ماخذه شول يو هم نور محمد تره کي وو، چې د دندې د ترسره کولو په موده کې د پطرولو د مدير په حيث په سل ګونو جعلي حوالي چې په يوه خط او يو عبارت وې. لاسليک شوي او د ټولو لپاره يې علي الشويه شل (۲۰) ګيلنه پطرول منظور کړي وو وروسته له ګرفتارۍ چې خط او کتابت دهغوي تر تعقيب لاندې ونيول شول يو کس هم چې د موټر مالک ؤ په نومورې نومو ونه موندل شو او معلومه شوه چې حوالي ټولې د سؤ استفادې په مقصد

په دولتي نرخ چې تر کنټرول لاندې وو د يو کس له خوا ترتيب او د شرکت د امر له خوا په يو ډول لاسليک شوي وي او د تور بازار په نرخ پطرول خرڅ شوي وو چې د هغوي د پيشو تفاوت و لکونو افغانيو ته رسيدلو. کله چې د کميسيون په حضور داشت کې نور محمد تره کي تر پوښتنې لاندې راغي ويې ويل چې د کار د ډېروالي په نسبت پردې نه يم پوه شوي حوالي مې لاسليک کړي. خو د شرکت ټول مامورين د معلوماتو د اخېستلو لپاره حاضر شول تر څو د ليک او د يو ډول او يو شمېر حوالو د يووالي ته دعدم توجه علت په اړه ځواب ورکړي. هغوي په تحريري او شفاهي توګه اظهار کړلو چې مور. څو ځلې د حوالو د يو ډول والي موضوع و ياد شوي مدير ته ياد اوري کړي او د هدايت غوښتونکي شوو. خو هغه به ويل پرېږدي چې و غريبو خلکو ته څو روپې مرسته وشي. مور. په هر صورت تېل خرڅو دا چې وکومو اشخاصو ته ورکول کېږي فرق نه کوي، تعجب دا چې کله چې د تحقيقاتو نتيجه و ښاغلي عبدالمجيد خان زابلي ته ارايه شوه ويې خندل او ويې ويل چې خپله ده په خپل غفلت او ساده ګي اعتراف کړي همدغه جزا دده لپاره بس ده او د دوسيې د حفظ امر يې ورکړ».(۱)

د همدې موضوع په اړوند ښاغلي محمد ولي ځلمي بيا ليکي:

«... ما په کال ۱۳۵۸ المريز کې امريکې متحده ايالاتو د واشنګټن په ښار کې يو افغان وليدلو چې نوم يې زمان خان وو. او په هغه وخت کې چې نور محمد تره کي په انحصاراتو کې د پطرولو مدير وو، د دهمزنګ د تيلو مامور په توګه کار کولو او وروسته په پل باغ عمومي کې د زمان درملتون مالک وو. نوموړي يوه ورځ د دوستانو په مجلس کې د خپلو خاطراتو د يادلو په ترڅ کې د نور محمد تره کي د سادهګي او خوش باوري په اړه وويل: زه په دې ډېر خواشيني يم چې ما کله دده د دوستي او اعتماد څخه شو استفاده کوله او تيل مې په ساختګي حوالو د انحصاراتو څخه را ايستل، څو د هغه د بدنامي او بې کفايتي سبب وګرځېدم دغه ناوړه کار زه هر وخت روحاً او ايماناً زوروولم او د لشو کلونو وروسته يوه ورځ مجبور شوم

---

۱ـ سيد قاسم رشتيا، خاطرات سياسي سيد قاسم رښتيا، پشاور، ۱۳۷۷، ص ۲۳.

چې دده حضور ته ورغلم او په خپلو دغو ناوړو اعتراف او توبه وکاږم، تره کې چې دغه زما خبرې په غور وواریدلې په ځواب کې یې وویل: ماته دې که څه هم ډېر تکلیف راکړی او ډېر وزوریدم خو ستا په افغاني او ایماني همت افرین ته چې په خپله ګناه د ارتکاب وروسته اعتراف کوې او توبه کاږې دا د انساني عالي اخلاقو او لویو ښېګنو څخه ګڼل کېږي اوس هر څه چې وو تېر شول.

د تېر ورا سربېره کول او پلټل یې یو ډول خودخواهي او فضل فروشي شمېرل کېږي زه تا په خپله ګناه نه نیسم. که د بیت المال له مال څخه بې استحقاقه استفاده کړې، واي کولاي سي چې هغه مبلغ د هېواد پر بې وزلو او بېنوایانو د خیرات په توګه وویشي چې ګوندې غاړه دې خلاصي شي...»(۱)

نور محمد تره کي په کال ۱۲۲۸المریز کې د مطبوعاتو په مستقل ریاست کې د بولتن مدیر او په کال ۱۳۳۱المریز کې د باختر آژانس د لوي مدیر په حیث کار کولو په دغه وخت کې چې دولت د ویښو ځلمیانو د ټولنې موسسین او یو شمېر غړي د سیاسي فعالیتو څخه د لېرې کولو په مقصد په باندینو هېوادو کې د دندو ترسره کولو لپاره وګمارل، چې په ترڅ کې یې تره کي هم په واشنګټن کې د مطبوعاتو د آتشې په توګه مقرر شو. بېنوا په ډهلې کې آتشه مطبوعاتي او غلام حسن صافي په پېښور کې افغاني قونسل مقرر کړلو.

نور محمد تره کي په واشنګټن کې د دیپلوماتیکي دندې د اجرا په وخت کې د واشنګټن پوست ورځپاڼې سره په مرکه د دولت د سیاسي کړنلارې سره د مخالفت د ښرګندولو په خاطر، د دولت نظام او مطلقه استبدادي حکومت کلک وغندلو. او همدا مطلب یې نشر کړلو، چې په پایله کې سردار محمد نعیم خان ډېر ورباندې په غوصه شو او د څه مودې څخه وروسته د دندې د ترسره کولو وروسته سمدلاسه له دندې برطرف شو. په دغه وخت کې ځیني هېوادو نور محمد تره کي ته د پناه ورکولو پیشنهاد وکړلو خو ده ونه منلو او خپل

---

۱ـ محمد ولي، ځلمې، ملي مبارزې، کابل، د میوند نشراتي موسسه، ۱۳۸۲، مخ ۳۰۲.

هېواد ته راستون شو. د سردار محمد داودخان د حکومت تر پایه بیکاره وو او یو ډول تر نظارت لاندې پاتې شو.
خو دده د خلق د دموکراتیک ګوند تر تاسیس پورې د روشنفکرانو سیاسي فعالینو ځوانانو سره لیدنه او کتنه درلوده او خپل زیرزمیني فعالیت ته دوام ورکولو او په ډېر سیاسي فشار او اقتصادي تنګ لاس سره یې ژوند تېراوه. په کال ۱۳۴۳ کې د خلق د ګوند د لومړي موسسي کنګرې له خوا د عمومي منشي او په کال ۱۳۴۵المریز کې د خلق د جریدې چې د ګوند نشراتي ارګان وو، د امتیاز خاوند وټاکل شو.
تره کي د ۱۳۵۷المریز کال د ثور د میاشتې د نظامي کودتا څخه وروسته د دولت رییس د انقلابي شورا مشر او صدراعظم په حیث دنده ترسره کوله. ددغې نظامي کودتا په نتیجه کې د سردار محمد داود خان جمهوریت ته خاتمه ورکړله او پر ځاي یې چپي دموکراتیک نظام چې د شوروي اتحاد تر مستقیمې حمایې لاندې وو، رامنځته کړ. په کال ۱۳۵۸المریز کې د سنبلې د میاشتې په ۲۳ نېټه د خپل منځني اختلافاتو له امله دحفیظ الله آمین له خوا بندي او د میزان په شپاړسمه نېټه ووژل شو.
نور محمد تره کي د پښتو ژبې د خپل وخت ښه لیکونکي وو خصوصاً دده داستانونه ډېر په زړه پورې دي ډېر اثار یې په دې لړ کې لیکلي دي د ځینو نومونه دلته را اخلو: د بنګ مسافرې سپین، څړه، زند ګي نوین، سنګسار، خاطرات جنګ چرچل، عروسي من در خیبر، د ځلمیانو لارښوونکي، بې تربیه زوي، نطق ویشنکي در میوند، په ځان باور، لنډې کیسې لکه د غوایي لاندي، زما برخه، د سمټ مور او پلار، یو دسترخوان او دري ډوله خواړه، د کور ګټه د لاهور ګټه، په پاي کې بداي شو، زوړه، جوړه شوه، د مصیبتونو څخه د افغانستان د نجات لار او نور.
نور محمد تره کي د انګار جریدې په لومړې ګڼه لومړي کال د چهار شنبې د ۱۳۲۹المریز کال د حوت د میاشتې په دوهم مخ

کې د ویښ ځلمیانو د مرام د ( ارزوي مردم) تر سرلیک لاندې چې ( چې میخواهم) دا ډول ذکر کوي.

چې د نور محمد تره کي د نثر د بېلګې په توګه را اخلو :

لکه څنګه چې لازم ده نور ځینې تولنیز درد او لام اظهار نشوای کړای او هغه د خپل زړه د غوښتنې سره سم اظهار او مجسم نشو کړای زموږ کار نه ده. ځکه چې موږ تر اوسه د خپلو دردو د اظهار موقع نه ده موندلې تر څو د هغو په اظهار کې تجربه مو ترلاسه کړې وای.

په بله وینا لکه ګونګي غوندې جوړ شوي یو او اوس وایې چې په خبرو راتللو لپاره موقع راکړل شوي ښه خبرې ویونکي شوو. د دردونو اجازه هم راکړل شوي. خو متأسفانه زموږ اعصاب او روحیات تر فشار لاندې په افغاني اصطلاح ( ګنګه روژه ) داسې له منځه تللي دي چې د هغو د ویلو وس هم نه دي پاتې شوي. او د خپلې ټولنې د پیکر کوم ځاي ته اشاره وکړو چې دلته درد دي، ټول درد دي په هر صورت د خپل ګونګي علتونو په اطراف کې له بحث څخه صرف نظر کوو، نیغ و مهم موضوع ( څه غواړو ؟) شروع کوو :

څرنګه چې د درد او اظهار تکیتک باندې نه پوهېږو لذا په څرګنده وایو چې موږ د ډوډۍ په لومړي مرحله کې چې وچه ډوډۍ ده، غواړو.

که څه هم جامې په درېیمه درجه کې دي، غواړو یې موږ ژوندي جدي او په پراخه ملي کچه غواړو. موږ کار غواړو د هر چا لپاره په د ټولنیزو چارو کې یو شانته موقع غوښتونکي یو. موږ د سیاسي تربیې لپاره مشروع ګوندونه غواړو، موږ سړکونه پلونه او د هېواد جوړول غواړو، موږ د ملي او اجتماعي خاینونو له منځه وړل غواړو. موږ د قومي او قبیلوي امتیازاتو د محوه کولو غوښتونکي یو. موږ غواړو د هېواد له هر کنج او ګوښي وګړو له فلاکت بار څخه خبر شو چې تر اوسه پورې د حیواناتو پوستکي د هغوي د تن ښکلا ده. موږ غواړو رشوت خواران او استفاده جویان د ټولنیزو چارو په سر کې نه وي. موږ غواړو د ملي هدف لپاره یو ملي وحدت ولرو. موږ غواړو چې نور د بلې بلې صاحب او په سترګو قربان تېر شوي ټولنیز دردونه په څرګند

ډول یو بل ته وو ایو. و به فرمایي چې دا ټول (غوا ړو غوا ړو) په څه ډول ترلاسه کېداي شي؟ زه وایم د ملت د قوي اتحاد او بیدارۍ او د شاهي مشروطه رژیم او ملي حکومت په تایید چې البته طبعاً و پارلمان ته مشوول به وي، تر ټو ټول طبقات په ټولنیزو چارو کې ږغ ولري څکه اوس ملت په کافي اندازه را ویښ شوي خادم اوخایین پېژني.(۱)

## ګل پاچا الفت:

استاد ګل پاچا الفت د هېواد لوي ادیب، شاعر، ظریف، لیکوال، متفکر، اخلاقي و سیاسي شخصیت وو چې د پلار نوم یې میر سید پاچا وو. په کال ۱۲۸۷لمریز کې د لغمان ولایت د عزیز خان کڅ کې زیږیدلي دي. زده کړې یې په غیر رسمي ډول په مدرشو کې د ننګرهار او کابل له مشهورو جیدو علماً څخه کړې وو.

استاد الفت په کال ۱۳۱۴لمریز کې د کابل د انیس ورځپاڼې په چوکاټ کې د کاتب په توګه مقرر شو. او په کال ۱۳۱۵ لمریز کې د هغه وخت د ادبي انجمن چې وروسته یې نوم په پښتو ټولنې واوښت، د تالیف او ترجمې په څانګه کې په غړېتوب ومنل شو، چې د زیري اخبار یې هم چلاوه، په کال ۱۲۱۸کې د پښتو ټولنې د صحافت مرستیال او په کال ۱۳۲۰لمریز کې د پښتو ټولنې لوي مدیر او دکابل مجلې چلونکي مقرر شو. بیا وروسته د ننګرهار داتحاد مشرقي دجریدې مدیر او په کال ۱۲۲۷ لمریز کې د ننګرهار د قبایلو د مدیر او د ویښ ځلمیانو د موسس کنګرې د غړو څخه وګرځېد.

پاچا صاحب په کال ۱۳۲۷لمریز کې د ننګرهار دخلکو له خوا په ملي شورا کې (د شورا اوومه دوره) د وکیل په توګه انتخاب شو، ښاغلي استاد الفت په کال ۱۳۳۰د جوزا په شپږویشتمه (۲۲) نېټه په خپل امتیاز د ولس جریده د علي محمد شینواري په

---

۱ـ نور محمد تره کي، «چې میخواهیم؟» کابل، مطبعه ملي، ۱۳۳۲، ص ۱۱۴.

مسؤول مدیریت را وایستله، دغې جریدې د وینښ ځلمیانو د اهدافو او تبلیغاتو په خپرولو کې مهمه برخه واخیستله.

همدارنګه د ملي شورا په اتمه دوره کې د لغمان ولایت د قرغه یي ولسوالي د خلکو نماینده په شورا کې وو او په کال ۱۳۳۴المریز کې د ننګرهار د خلکو له خوا لویې جرګې ته په وکالت وټاکل شو او د ادبیاتو په پوهنځۍ کې د پښتو ژبې په څانګه کې استاد وو.

الفت په کال ۱۳۴۰المریز کې د قبایلو مستقل رییس وو په ۱۳۴۳المریز کال کې د نوي اساسي قانون په طرح او بریالیتوب کې فعاله ونډه واخیستله.

په همدغه کال کې د جلال آباد ښاریانو له خوا ولسي جرګې ته د وکیل په حیث وټاکل شو استاد پاچا او شاهي کورني ته ډېر ګران او د هغوي په نزد معزز او د سردار محمد داود خان له معتمدینو او همرازو څخه ګڼل کېدي.

د سردار محد داودخان په جمهوري دوره کې له دې امله چې استاد الفت او استاد بېنوا پاچا ته ډېر نږدې شوي وو او د نوي اساسي قانون په جوړولو کې یې فعاله ونډه لرله، د سردار محمد داود خان د تاثر اسباب را پیدا کړي وو او په ۱۳۵۴المریز کې یې یو په بل پسې دواو ته تقاعد منظور کړلو.

استاد ګل پاچا الفت په کال ۱۳۵۶المریز کې د زړه د دریدو له امله وفات شو او جنازه یې د عزیز خان کڅ په کلي کې په خپل پلارنۍ هدیریه کې و خاورو ته وسپارله.

استاد الفت ډېر اخلاقي او محبوب سړي وو د یوه لیکوال په قول که چیرې چا دده سره خبرې کولي ده به د شرم او حیا له مخې هغه ته ښکته کتل. دده مجلس ډېر خوږ او د ظرافت څخه ډک وو د پاچا مشهور اثار دادي: غوره اشعار، ادبي بحثونه، د پښتو املا او انشأ او نور.

داستاد ګل پاچا الفت د نثر نمونه:

« په یوه ورځ او په یوه میاشت کې له شفاخانې دوي جنازې راووتلې. هغه یو د کم خونې په وجه او دا بل د فشار خون په سبب مړه

وو. د هغه جنازه څلورو تنو په اوږو را اخيستې وه او ددې جنازې پسې بې حسابه لوي او واړه موټرونه روان وو. هغه يوه وينه نه درلوده ځکه مړ شو. ددغه بل وينه زياته شوې وه او تيزه شوې وه، ځکه يې ژوند د لاسه ورکړ. دوي دواړه مړه شول. مګر مرګونه يې يو راز نه وو او مرضونه يې بېل وو. يو د نورو وينې څکلې وي او دې ته محتاج وو چې ډاکټران بې له وجود نه وينه وباسي، بل ته چا خپله وينه نه وه پرې ايښې، او بې وينې وو يو د افراط او بل د تفريط د لاسه مړه شو. هغه چې فقير وو او په فقر الام مړ شو د هغه له مرګه باختر آژانس هېڅ خبر نه شو او ددې بل د مرګ اطلاع اخبارونو په ډېر تأسف اخېستې وو او د جريدو مخونه يې په ماتم تور شوه. دوي دواړه يو بادار او بل مزدور وو څه موده پخوا ښاغلي بادار رنځور شو ډاکټر د مزدور وينه د رنځونو په وجود کې انجکشن کړه د مزدور قوي وجود کمزوري شو او بادار په لږ وخت کې د هر راز خوراکونو په زور او د عياشي په وجه په فشار خون مبتلا شو چېرته چې دغه شانې باداري او مزدوري وي، دغه شان کارونه به کېږي نو د يوه پر ځاي دوه مړي يو کمزوري کول او بل قوي کول د دواړو په مړينه تمامېږي. د ظالم او مظلوم عاقبت همدغه شانې وي، موږ دا راز مرګونه طبيعي ګڼو، مګر په حقيقت کې قتل او مقاتله ده چې د وينو پورور ته ويلاي شو، په دغسې مرګونو کې هم قاتل او هم مقتول سته، مګر زموږ واليان او حاکمان نه پرې خبرېږي.

او داسې معنوي قتلونه له نورو څخه دوي ډېر کوي. دلته دا عادت دي که چا څوک په ټوپک وويشت او يا يې په چړو وواهه پوښتنه يې کېږي. مګر که چا د چا ډوډۍ وخوړه او هغه د لوږې مړشو دغسې قاتل ته سزا نه ورکوي دغه راز مقتول ته څوک شهيد هم نه وايي او نه څوک باندې پتې ترې رښتيا چې موږ ډېر ظاهر بين يو او حقايقو ته نه يو ملتفت زموږ ډاکټران هم موږ غوندې دي او په دې نه پوهېږي چې اصلي مرض ظلم دي او حقيقي علاج يې عدالت دي».

د ښاغلي ګل پاچا الفت د شعر بېلګه:

نــــه مې د چا مال خوړلي نه مې څوک وژلي دي
نــــه مــــې چـــاته ورک شه يا ګم شو ويلي دي
نـــــــوره ګناه نه لرم په دې ګناه مې مه نيسه
زړه کې مې چې پټ ظالم ته بد غوندې کتلي دي
وخـــــت د اعتـــــراف دي ګناه خپله درته وايمه
نه يمه منـــــــکر په مظــــــلومانو مې ژړلي دي
نــــــه ومه خبر پرده مې لږ غوندې چې جګه کړه
نـــــــــه دي ويلو هغه څه چې ما ليدلي دي
زه يې په ليدلو او ويــــــلو ګناه ګـــار شـــومه
نـــــور يې په کولو او عمل باندې ښاغلي دي
نـــــــــه يـــــمه خاين په خيانت د نورو پــوه يمه
پــــــوهه که ګناه ده، خلک ټول اوس پوهېـدلي دي
دا چـــــــــې ډېر کاره درته ولاړ دي ټيټ سرونه هم
ستا مخ کې چې سم نه شوه، سم کله چـــا ليدلي دي
هيڅ اميد تري مه کړه که څوک ځان دا ستا غلام ګڼې
مـــــــا غلامــــــــان ذهنيتونه پېژندلي دي

## قيام الدين خادم:

استاد قيام الدين خادم په اوسنيو پښتو ليکوالانو او شاعرانو کې د مشرتوب حق لري، او د افغاني پوهانو او ادبياتو په لومړي ډله کې راځي. استاد خادم د علمي شخصيت خاوند او د فلسفي افکارو لرونکي وو. استاد خادم د ملا حسام الدين زوي او د ملا علي ګل اخنذاده لمسي دي او د څمکنو مياعمر د خپلو نيکه ګانو څخه بولي. استاد خادم په خته پښتون مومند او په مومندو کې زاخيل دي په کال ۱۳۲۵المريز کې د کامې ولشوالي په علاقه کې زيږيدلي دي. اصلاً ځاي يې د کوز کنړ د شګي سيمه ده لومړنې زده کړې يې د خپل پلار څخه زده کړي او بيا نور متداوله علوم يې د ديني علماوو څخه زده کړي او په نومورو علومو کې يې پوره لاس درلوده او د نوموړي علومو د زده کړې لپاره ډهلي، لوديانه او نورو ښارونو ته ولاړه او

پنځلس کاله يې هلته د همدغو علومو د زده کړې لپاره تېر کړل او ډېر ښه تکړه عالم ورڅخه جوړ شو.

ښاغلي خادم د خپل شخصي ذوق او شوق له کبله ادبي علوم هم زده کړل او دې د مولانا خادم په نامه مشهور شو استاد خادم په کال ۱۳۰۴لمريز کې د کامې د لومړنې ښوونځي نه خلاص شو او بيا وروسته په جلال آباد کې د ښوونکې په حيث مقرر شو. بيا په لواړګي کې ښوونکي وو شعر او ادب ته يې مخه کړه د کندهار د ادبي انجمن غړي شو چې نوموړي انجمن په کال ۱۳۱۴لمريز کې کابل ته را نقل شو او د پوهنې په وزارت پورې وتړل شو. ښاغلي مولانا هم کابل ته ورسره راغي او دغه انجمن په کال ۱۳۱۵لمريز کې چې دکابل ادبي انجمن نوميده په پښتو ټولنې باندې تبديل شو. په دغه وخت کې ښاغلي مولانا خادم ته د زيري د اخبار مسؤوليت هم ور په غاړه وو. بيا وروسته د پښتو ټولنې د تاليف او ترجمې غړي، بيا مرستيال، د مشرقي اتحاد د اخبار مدير د دايرة المعارف د ترجمې مدير، د وېښ ځلميانو د ټولنې د جوړونکو او موسينو څخه (۱۳۲۷) او په کندهار کې د طلوع افغان د ورځپاڼې مدير، د اصلاح د ورځپاڼې مدير، د هېواد د ورځپاڼي مسؤول مدير، په مشرانو جرګه کې سناتور (۱۳۴۴لمريز) د افغان ولس د جريدې د امتياز خاوند او مدير وو. څرنګه چې په دغه وخت کې د وېښ ځلميانو ټولنه د له منځه تللو په حال کې وه نو مولانا خادم هم د هغې د مرام د بيا ژوندي کولو او ساتلو په خاطر «د افغان ملت» د سياسي ګوند د موسسينو په غونډه کې فعال رول ولوباوه او د ژوند تر پايه «د افغان ملت» د ګوند د وفادار او باوري ملګري په توګه پاتې شو.

استاد خادم د ۱۳۵۸لمريز کال د سنبلې په پنځمه د کابل په علي آباد روغتون کې وفات شو جنازه يې د ننګرهار د کامې په سيمه کې په خپله پلرنې هديره کې خاورو ته وسپارل شوه.

مولانا خادم د پښتو او دري ژبو پياوړي ليکوال او شاعر وو، په عربي، انګليسي او اردو پوهېدو. ډېرې ليکنې يې کړې، خو دغه څوارلس اثار يې ډېر زيات مشهور دي:

مكارم الاخلاق، بايزيد روښان، د شريف سرګذشت، نوي ژوندون، د مرغلرو امېل، دکوچنيانو اخلاقي پالنه، نبوغ او عبقريت، د پښتو نثر تاريخي تصورات، معياري پښتو، کوشانيان څوک دي؟ پښتونولي، نوي رڼا، پارتيان څوک وو؟ لوي سهاک، پر تذکرة الاولیا تبصره، روهي ګلونه، د پښتو نننۍ ليکوالي، څاڅروان، خيالي دنيا، معلم پښتو، پښتو کلي (۲ ټوکه)، نوي اصحابان، ادبي قصې او داسې نور.

د استاد خادم د نثر بېلګه:

«اې د قلم خاوندانو! اې د حقيقي ضمير لرونکو، اې د وجدان د آواز تر سيمونکو، اې د هرې ژبې په ژبه پوهېدونکو، اې د تاريخ اړونکو او د ادم (ع) د زړه په محفوظي تختي د سرمشق اچونکو! وايي چې دنيا د تنازع البقا ميدان دي. مه وايي چې موږ په دنيا کې د رقابت دپاره پيدا يو، مه واي چې دنيا دار دعمل دي. د کرنې او ريبې، مه وايه چې هلې ملنډې کړي، چې کاروان ولاړ، مه وايي چې موږ د قوم او وطن دپاره خدمت کوو. څکه موږ انسانان پيدا شوي يو. زموږ خلقت او افزايش عبث نه دي، زموږ حيات غايه لري او هغه: د وظيفي انجام دي. ترږمې د نيمې شپې په سکوت کې د غټو غټو ستورونه، ور هغه پلو د هغه وړو وړو سپرغيو په خفيفو اشارو کې ماته دا راز را ښکاره کړي، هلته وګوري».

دښاغلي استاد خادم د شعر يوه بېلګه:

صـــحيح لاره به ښايم کـــه وم وم کـــه نه وم نه وم
رښتيا رښتيا به وايـــــم کــه وم وم که نه وم نه وم
آزاد يم زيږيد لي بندګي کــــــولاي نـــــــه سم
بنده د خپل مولا يم که وم وم که نـــــــه وم نه وم
په بد ر خوشامند مي د ځان خوښ نه دي چې غټ شم
که غټ يم خو هم دا يم که وم وم که نــــــه وم نه وم
چې څوک غواړي چې سپکه مې د قام لــــه څه جهته
په ماته کښتې سپور يم، طوفانونـــه دي په مخ کې
په دې لاره بې بيايم که وم وم که نــــــه وم نه وم

خدمت د خپلې ژبې قام وطن زمـــــــا مسلک دي
په دې مينه به پايم که وم وم کــــــــــه نه وم نه وم
په ټېنګ عهد او پيمان چې مـــــې بيعت ورسره کړي
دده په تــــــولا يـــــم که وم وم که نــــــه وم نـــه وم
کرم ښکلي تخــــــمونه چې ګلراز شي پستنو ته
په دغه تمنــــــــا يم که وم وم که نــــــــه وم نه وم
د ناز په خـــــوب ويدي غنچې به ورو ورو ويښومه
« خـــــــــادم» باد صايم که وم وم که نه وم نه وم

## پوهاند صديق الله رشتين:

ښاغلي استاد رشتين دمولوي تاج محمد مهتمم سليمانخېل زوي چې په کال (۱۲۹۱) لمريز کې د مهمندو په غازي اباد کې زيږيدلي دي. لومړنې زده کړې يې د خپل پلار او بيا وروسته په ننګرهار کې د نجم المدارس په مدرسه کې ترسره کړي له هغه څخه وروسته په دارالعلوم کې شامل شو او د منځني تعليماتو څخه وروسته په کال ۱۳۱۸لمريز کې په پښتو ټولنه کې مقرر شو.

هلته نوموړي مدير او ورپسې د پښتو ټولنې مرستيال او بالاخره د پښتو ټولنې رييس شو. (۱۳۳۰)لمريز همدارنګه په کال **۱۳۲۵**لمريز کې د پوهنې د وزارت مشارو او د ادبياتو فاکولتې استاد شو او په کال**۱۳۵۲**لمريز کې يې تقاعد وکولو.

د استاد رشتين مهم اثار دادي : پښتانه شعرا، د پښتوادب تاريخ، پښتو ګرامر، پښتو اشتقاقونه او ترکيبونه، نوي ژوند، د پښتونستان په باره کې، د عبدالحميد مومند ديوان، د پښتو قصې، د خوشحال خان خټک بازنامه، پښتو ژب ښوونه او نور.

د استاد د شعر يوه بېلګه:

څـــو به مـــــورږ ويده يو د هاتيانو په غوږونو کې
هېڅ به نه ويښېږو په دا هسې رنګ شورونو کې
څـــــــو پيږۍ دمخه له مورږ تللې کاروانونه دي
ډک پرې پړاونه دي

مــــــــــوړ لا پراته يو په کټونو پالنګونو کې
يو کلي مو لاس کې وي ملک به بولو ځان
ځانته به هم وايو خان
شـــوز و به تر څو د جهالت په سرو او رونو کې
لـــــــــويږو به تر کومه د فتنو په کړنګونو کې

که څه هم رشتين صاحب د ويښ ځلميانو د سياسي جريان د موسسې کنګرې غړيتوب لرلو خو په عمل کې په ډېر مشکل سره ودې ته حاضريدلو چې د ويښ ځلميانو په پنځلس ورځني غونډو کې په منظم ډول ګډون وکړي. نوموړي په سياسي چارو کې د دولت سره مقابله او جنجال نه خوښاوه او د عاقبت پسندي لاره يې غوره کړې وه.

ښاغلي محمد ولي ځلمي د استاد رشتين د کرکتر او مزاج په هکله وايي:

« رشتين صاحب يو مامور طبيعته او د وخت د حکومتونو د پاليسيو او طرز العمل سره برابر ليکوال وو. د همدغو کرکتر له مخې په ورسپارل شويو دندو کې دده او يو شمېر همکارانو ترمنځ هر وخت کړکيچ او نارضايتي به موجودې وي لکه چې سعدالدين شپون په خپلو خاطرو کې چې ليکي: ...رشتين صاحب په پښتو ټولنه کې زمونږ رييس وو او ځينې غړې يې له اداري او نشراتي قيوداتو څخه دومره په عذاب وو چې درسته ورځ به يې عريضې وربانديې کولې او ځملاوه به مو دا نو بله خبره ده چې په دې درنې تېرې مو زور ونه رسيده، په خپل ځاې مو پريښوده او تراخره نيمه خوا له ځانه سره ګړيدو...» (۱)

رشتين صاحب د خپل ژوندانه وروستي شيبې او ورځې د دوامدارې ناروغي په حالت کې تېر کړلې د فشار او يو ډول ګوزڼ تکليف سره مخامخ وو تر څو په پاې کې په کال ۱۳۷۷ لمريز کې د ليندې په پنځمه د پېښور په يوه روغتون کې مړ شوه او جنازه يې د ننګرهار په سره رود کې خاورو ته وسپارله

## محمد ارسلان سليمي:

ښاغلي محمد ارسلان سليمي په کال ۱۳۹۳ لمريز کې د وردګو ولايت د ګوربت لوي جګ غره په لويديځه لمن کې د ګنډ کول په کلي

---

۱- محمد ولي ځلمي، ملي مبارزې، کابل، د ميوند نشراتي موسسه، ۱۳۸۲، ص ۳۲۸.

کې زیږېدلی دی. د پلار نوم یې محمد اسد خان دی، ښاغلي سلیمي لومړنۍ زده کړې په خصوصي ډول په مسجد کې ترسره کړې دي او بیا وروسته د کابل په دارالعلوم کې تر شپږم ټولګي پورې زده کړې دي په کال ۱۳۱۳ المریز کې په کندهار کې د پښتو ادبي انجمن د تحویلدار په حیث مقرر شو او بیا په کال ۱۳۱۸ کې د پښتو ټولنې د لومړي غړي په توګه وټاکل شو.

ښاغلي سلیمي ښه لیکوال او د شو احساساتو لرونکي وو او شاعرانه طبعه یې لرله او ډېر اشعار لري. په پښتو اوفارسي ژبو یې ډېرې ښې لیکنې کړې دي او په پښتو ژبه یې د احساساتو څخه ډک اشعار ویلي دي په مطبوعاتو کې د ښاغلي سلیمي چاپ شوي آثار کله د سلیمي په نامه او کله بیا د ګوربتوال او کله بیا د مایار وردګ په نومو خپاره شوي دي.

ښاغلي سلیمي د ویښ ځلمیانو د موسسي کنګرې غړي وو او د هغه د مرام د پلې کولو لپاره یې هغه څه کول چې ګوند ورته سپارل او د هغه لپاره یې ښه د قدر وړ خدمتونه وکړل.

## محمد ولي ځلمې:

محترم ځلمې صاحب د حاجي سید محمد زوی د ملا غلام محمد لمسی دی محترم محمد ولي ځلمې د کندهار ښار په دوهمه ناحیه د نورزو په کوڅه کې زیږېدلی دی، نوموړی په ختېه تره کي او تره کي کې بیا لیلیزي افغان دی. دده پلار او نیکه ګان به یې په ملا مشربي او صوفي ګري سربېره د یوې پېړۍ راهیسې د کندهار، هرات او پخواني هند په شوداګري بوخت وو. د محترم ځلمي له قوله دده پلرونو یو شمېر منشور او منظوم اثار په بېلا بېلو تخلصو ننګیالي او یا لیلیزي په نامه خپاره کړي دي.

محمد ولي ځلمي د پښتو ژبې د هغو لیکوالو څخه دی چې تر نظم یې نثر ډېر لیدل کېږي. چې معمولاً ولسي تاریخي تحقیقي او انتقادي اړخونه لري نوموړي خپل لومړنې خصوصي زده کړې د خپلې کورنۍ دغړو او په مسجد کې د دیني علمأو څخه زده کړې دي منظمه

او سیستماتیکه زده کړې یې له مشرقي لیسې څخه پیل کېږې چې تر شپږم ټولګي پورې په مشرقي ښوونځي کې بشپړ کړې دي. په کال ۱۳۲۲المریز کې ښاغلي ځلمي د کابل پوهنتون د حقوق او سیاسي علومو په پوهنځي کې شامل شو په دغه وخت کې د سردار شاه محمود خان د صدارت دوره پیل شوې وه او په تاریخ کې د لومړې دموکراسي دوره ګڼل کېږي خپله شاه محمود خان د دې دورې له امله د دموکراسي پلار او د ستر ملي مشر او سیاسي شخصیت په توګه پېژندل شوې دي او د وطن زیات شمېر روشنفکران او ملي مشرانو د وطن د پرمختګ او ملي عدالت راوستلو په هیله یې ډېر شناخت یې ورسره لرلو.

ښاغلي ځلمي هم د دغې دورې د څېړونکو او مشهورو لیکوالانو او روشنفکرانو لکه پوهاند علامه عبدالحي حبیبي، غبار، محمودي، فرهنګ، غلام حسن صافي او نورو سره اړیکې لرلې همدارنګه د زیاتو ملي او سیاسي غورځنګونو خصوصاً وینې ځلمیانو د لومړې سیاسي ګوند په بنسټ ایښودلو کې فعاله ونډه لرله او د دغو پر مخ تلونکو غورځنګو ملګري وو په کال ۱۳۳۱المریز کې چې د ځینو داخلي ستونزو له امله د وینې ځلمیانو وطن او د خلق سیاسي جریانونه له ستونزو او د دولت له خنډونو سره مخامخ شول، نو د دغو ګوندونو سیاسي حرکت د انحطاط او زوال په لور روان شو په دغه وخت کې د سردار محمد داود د صدارت دوره پیل شوه خو ښاغلي ځلمي بیا هم د ملي ارمانو د ترسره کولو په لاره کې د ملي یووالي، ټولنیز عدالت او اقتصادي اصلاحاتو د پښتنو او بلوڅو د ملي آزادي او حقوقو لاسته راوړلو په خاطر ښه کلک او پاخه ګامونه ایښې او د هغوي صادق خدمتګار و او خدمتونه یې څوک نشي هیرولاي.

د ښاغلي ځلمي صاحب رسمي ماموریت د بهرنیو چارو د وزارت د ارشیف څخه پیل کېږې، بیا وروسته د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په چوکاټ کې په بېلا بېلو ځانګو کې کار کړې لکه د کابل مجلې، مدیریت، د طلوع افغان مدیریتونه د هلمند د ورځپاڼې مسؤل مدیر، د

اصلاح در ورځپاڼې مشر د انیس ورځپاڼې مشر د هېواد د ورځپاڼې مدیریتونه په واشنګټن کې د مطبوعاتي آتشه او د سفارت مشاور، د دولتي مطبعې رییس د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي غړي او د حقوق او سیاسي علومو د انستیتوت امر او داسې نور دفترو کې کار کړي دي. همدارنګه محترم ځلمي د اصلاح ورځپاڼې د درېیمې دورې بنسټ ایښودونکي، رییس او مسؤل مدیر په توګه کار کولو او اوس د روان کال ۱۳۸۵ المریز د زمري میاشت له اته ویشتمي (۲۸) نېټې څخه وروسته متقاعد شو او اوس د تقاعد شپې او ورځې په کور کې تېروي.

ښاغلي ځلمي ډېر ښه لیکوال دي لیکنې یې رواني دي او زیاتره د افغانستان پېژندنې په برخه کې ترسره کړي دي دده په قول دي ۴۸ چاپي اثار لري چې د هغو له ډلې څخه دځینو نومونه دلته را نقلوو:

د پښتني تاریخ مفردات، پښتني سیاسي هڅې، د پښتنو او بلوڅو خودارادیت د ډیورند کرښه، قبایلي کودونه او د هغو حقوقي جنبې د بطلان حقوقي اسناد مجاهد افغان، د اسلامي او مدني حقوقو توپیر، دموکراسي په عمل کې په کلیو او بانډو کې د پښتني نومونو رواج ، د اریاییانو اصلي ټاټوبي، د افغانستان د اته ویشت (۲۸) ولایاتو تاریخي جغرافیا په بېلا بېلو ټوکونو کې د کندهار مشاهیر، دافغانستان ژورنالیزم لنډه تاریخچه، کندهار د صفویانو او ګورګانیانو په رقابت کې، د کندهار او کابل تاریخي مسجدونه، د افغنستان او روسیې د روابط لنډه تاریخچه، زموږ په خاوره کې د یو شمېر روسیي او انګریزي ګوډاګیانو شرمونکي سیاسي فعالیتونه، د افغانانو ټاټوبي د یوې فرهنګي او عرفاني حوزې په څېر، د افغانستان ترقي د جیوپولیتیکي مشکلاتو په بند کې، د افغانستان نومیالي، ملي مسله، د تصوف اوعرفان پخواني ریښې، یا به یو کېږو او یا به ورکېږو ، په افغانستان کې د مشروطي لنډه تاریخچه، زموږ غازیان، د مطلقیت او استبداد په مقابل کې یو شمېر ملي مبارزې، د ځلمي صاحب د کلام یوه نمونه:

هدفونه او وسيلې: افغانان ډېر شيان غواړي، چې شمېر يې د دې مقالې کار نه دي، خو خبره داده چې ولې ډېر شيان غواړي؟ د دې شوال ځواب د ډېرو فلسفي او ټولنيزو مکتبونو له خوا ورکړل شوي دي. چې دلته يې په لنډه او ساده توګه ليکو: د خوښۍ لذت او د ژوند ساتلو منل د ناخوښۍ، د درد او مرګ څخه د ځان ژغورلو احساس د هدفونو په شکل د دې متقضي دي چې د ډېرو شيانو څخه د وسايلو په شکل کار واخيستل شي.

تر څو چې انسانان وي د هغو سره به ځينې طبيعي غريزوي تمايلات موجود وي. ځکه چې د دوي د ژوند لذت او خوښې او د تکامل علتونه تاد او نه همدغه شيان جوړوي. د افغانانو د پخواني ژوند دودونه ډېر ساده تېر شول. دوي د خپلو هدفونو ته د رسيدلو دپاره د مختصر او متحد الشکل وسايلو څخه کار اخيست. ښکار کول، ماهيان نيول د غرونو او ونو په غارو کې ژوند کول، د ښځو او نرو جنس اشتراک بالاخره دخوښې او لذت د وسايلو په برابرولو کې بې په فکر بوخت وو او يو ډول ساده ګۍ او بساطت يې درلوده. هغه وخت چې د خلکو د ژوند وسايل واوښتل، فکرونه يې هم سم ورسره واوښتل دا ځکه چې فکرونه د مغزو محصول دي او مغزونه د خپل محيط او شاوخوا تر اغېزې لاندې وي. دانسانانو د طبقاتو او ټولنو شکل او ماهيت توپيرونه د همدغو وسايلو د توپيرونو پر اساس درول شوي دي. هرې طبقې د خپلې خوښې لذت او د ژوندانه د دوام د کسب او درد، ناخوښې او مرګ د لاسه کولو دپاره بېلا بېلې وسيلې پيدا کړي چې انسانانو د دليري والي او د هغو په منځ کې د انقلابونو او د وينو تويولو او د استعمار باعث شول، چې د خط او رښتيا د يوې اوړدې او نه هيريدونکي حادثې په شکل تر اوسه د بشر پر ژوند مستقيم اثر اچولي دي. د انسانانو دهدفونو او وسايلو دتغير لپاره مختلف علتونه شته، چې دهغو علتونو له کبله وسايل په دايمي تغير کې سير لري. د بشر د تاريخي اسنادو په مشاهدې ټول انسانان په ښه صورت نه دي بريالي شوي چې و اصلي هدفونو ته د رسيدو د پاره ټول وسايل يو شانته پيداکړي او همدغه يو اساسي علت وو چې د

افغانانو په مغزو کې يې د اعلي هدفونو پر ځاي موقتي او غير طبيعي شيان چې په خپل ذات کې وسايل وو را وايستل، دا حادثه چې د بشر د وحدت او د يوې خطا او اشتباه په شکل په اجتماعي ټولنو کې د ځينو طبقو په ډېره ګټه او مطلقه هوسايي چې طبعاً د نورو طبقو د ذلت او خواري سره معکوساً متناسبه ده.

تمامه شوه هغو لږ و خلکو چې هوسايي او ذلت يې په برخه شوي وو، کوښښ کاوه چې دعمومي خلکو په ذهنو کې دا شيان تغيير نه منونکي دايمي، مطلق اسماني او د مراعات ډېر وړ وګرزوي او په خکلو کې يې په هر صورت چې وي قبول کړي، همدا سې وشوه».

محترم ځلمي صاحب د نوي نظرياتو خاوند دي يو مترقي فکره، وطندوسته، صادق او ملي شخصيت دي. ښاغلي ځلمي په خپل شخصي کرکتر کې ډېر يارباشه صادق او له ډېرو ښو وطندوسته او صادقو خلکو سره کلکه يارانه لري او اړيکې ورسره ساتي. وايي چې سړي په يارانو معلومېږي له خاينانو رشوت خورو او د ښکته کرکتر خاوند شخه يې ښه نه راځي، دې په خپله د ټاکلو اصولو او پرنسيبونو خاوند ده چې دا د يوه ښه اصل په توګه د ځملي صاحب په ښه اوصافو کې ګڼل کېږي.

## غلام حسن ساپي:

ښاغلي ساپي په کال ۱۲۹۱المريز کې د لغمان ولايت د عمرزو په يوه منځنۍ کورنۍ کې زېږيدلي دي. نوموړي يو کلن وو چې پلار يې دکندهار په ارزګان کې د سرشته دار او د ماليې مدير په توګه دنده ترسره کوله په هغه سيمه کې يې نوي واده وکړلو د نوموړي پلار د نوي ميرمنې دخوښې لپاره د پخواني ميرمنې سره او دهغې د اولادونو سره ښه چلند نه کاوه په دغه وخت کې پنځه کلن وو د کورنې معلم شخه ابتدايي زده کړې وکړي. نوموړي په کال ۱۳۰۲المريز کې په اتلس (۱۸) کلنې کې د ښاروال کاتب او بيا وروسته د ننګرهار د فرقې کاتب چې محمد ګل خان مهمند يې قوماندان وو مقرر شو دې په لومړي سر کې

د محمد ګل خان مهمند د افكارو او خيالاتو تر اغېزو لاندې راغلي وو او هغه چې په هر ځاى ته تللو ښاغلي ساپي به يې له ځان سره بېولو.

ښاغلي ساپي د زابلي سره د پېژندګلوي له امله په كال ۱۳۱۷المريز كې د بلخ د رښتيا شركت په نماينده ګي د سركاتب او بيا وروسته يې دغه شركت كې د زياتو اسهامو د رانيولو په رابطه د نوموړي شركت مرستيال او رياست په څوكۍ كار كولو. په دغه وخت كې نوموړي و زابلي ته ډېر نږدې شوي وو د زابلي د زياتې پاملرنې له حيثه په كال ۱۳۲۵المريز كې د تعاوني ډيپو مرستيال مقرر شو او په كال ۱۳۲۹المريز كې د ملي بانک له خوا د قند جوړولو او د موټرانو د انحصاراتو د رياست څوكۍ ور وسپارله او د زابلي په اعتماد او سپارښتنه د سردار محمد داود سره له نژدې و پېژندل او د اخلاص لاس يې وركړو نوموړي د ۱۳۳۰المريز كې د نداي خلق په جريده كې د يوې قالې په نسبت چې پر موي مبارت باندې يې ليكلي وو د حضرات له خوا مظنون او ګناهګار وګڼل شو او محكمې ته احضار شو كه څه هم د هغوي دعوي په سر ونه رسيدله خو محكمې دې له دې امله چې ولس د ناصالح كس په توګه و پېژندلو تر څو چې دده په تندي كې د صلاح اثار شكاربږي په بند محكوم كړ. او د دوستانو اوحكومت په مرسته ډېر ژر له بنده خلاص شو او په كال ۱۳۳۳المريز كې په پېښور كې د افغاني كونسل په توګه مقرر شو او بيا وروسته په چكوسلواكيا كې د افغانستان د سفير په توګه په دنده وګمارل شو.

ښاغلي ساپي د وينښ ځلميانو د فعالو او نوميالو ښستې ايښودونكوغړو څخه ګڼل كېږي خو د وينښ ځلميانو كېنې لاشو غړو دده غړيتوب ته د شک په سترګه كتل، په خبرو او خصوصي مناسباتو كې بې احتياط ورسره كاوه.

## محمد رشول پښتون:

ښاغلي محمد رشول پښتون د حاجي خدايار خان باركزي زوي د الله يار خان باركزي لمسي دحبيب الله باركزي كړوسي وو په كال ۱۲۷۹المريز كې د كندهار ولايت په منصور غونډۍ كې زيږيدلي دي

حبيب الله خان بارکزي د عبدالمنصور خان عيني ورور وو چې د منصور نيکه په نامه يې شهرت درلوده.

ښاغلي پښتون د خپل ځان په اړه ليکي:

«... څرنګه چې د بارکزو د قوم مخکښ د محمد زو د حکومت د پيل څخه له ماليې معافي وي خو د اعليحضرت امان الله خان د اصلاحي پروګرامونو د تطبيق له مخې دغه مځکې په (۱۳۰۲) لمريز کې تر ماليې لاندې راغلي نو د بارکزو قوم ددغې موضوع د حل او فصل کولو لپاره زما پلار د قومي وکيل په څېر کابل ته ولېږي او زه چې په دغه وخت کې يوويشت (۲۱) کلن وم، په دغه سفر کې د پلار ملګري وم، موږ يو کال په کابل، جلال آباد او پغمان کې تېر کړلو په دغه زمان کې د لويانو خپلوانو او د پاچا سره مو په کراتو مراتو وليدل، ددغو مجلشو په نتيجه کې مې د کابل د خلکو د ژوندانه او تفکر سره له نږدې اشنايي پيدا کړه او د هغې رسمي د نيکمرغې او ترقي په رمزونو پوه شوم د همدغه تاثير له مخې مې د پلار څخه وغوښتل چې په عسکري مکتب کې مې شامل کړي.

په دې وخت کې سپه سالار محمد نادر خان وو. څرنګه چې زما پلار د هغه په دوستي، لياقت او اعتماد لرلو، نو زه يې د هغه حضور ته وروستم او د هغه د عنايت مورد وګرځېدم او دحربي ښوونځي په احضاريه کې د شمول امر راکړ».(۱)

ښاغلي پښتون د هغه اتهام له کبله چې دده پر نږدې دوست او ملګري حاجي خدايدوست چې د منصور غونډې اوسيدونکي وو، وار د شوي وو، محبوس شو او د همدغې موضوع په اړوند د ويښ ځلميانو دکندهار اوسيدونکي ځينې نور غړي هم ګرفتار او بنديان شول.

ښاغلي ځلمي پښتون داسې را پېژني:

«... ده د مطالعې، نوي فکر او سليقې سره پوره آشنايي درلوده، خو په عمل کې يې مطلق العنان، ملي غرور او د اوليت حق خوشيدي،

---

۱. محمد ولي ځلمي، ملي مبارزې، کابل، دميوند نشراتي موسسه، ۱۳۸۲، ص ۳۱۳-۳۱۴.

۲. همدا اثر، همدا مخ.

د همدغه کرکټر له مخې ده د حاکمې طبقې د خيالاتو، سياسي او ټولنيزو روشو سره چې کله به د پټکي او امرونو او کله به د رمزونو په صورت وو، نه درلود او د ماموريتو او کادداريو څخه ژر ژر يو په بل پسې تبديليدې. پښتون صاحب د هغه کرکټر له مخې چې يې په نصيب وو په دايمي توګه د ويښ ځلميانو د موسسانو غړو او افغان ملت، ورور ګلوي دګوندونو په غړيتوب کې پايدار نه شو پاته کېداى او ملګرو يې هم د هغه د غړيتوب مسؤليت په غاړه نه شو اخيستلاى. د همدغو غلط فهميو له کبله کله چې پښتون صاحب د خپلو ملګرو څخه ګيله درلوده او کله به ملګري دده څخه ګيله من وو».(۲)

پښتون صاحب د ژوندانه په وروستيو کې تهجد او تصوف ته پناه يوړه او راديې پخول، تعويذونه يې ليکل. ده د افغانستان د سياسي کشالې د حل لپاره د محمد طاهر خان راتګ او قيادت تاييداوه او ويل به يې چې ما پخوا ويلي وو چې افغانستان ته خطر د شمال له لورې متوجه ده په کال ۱۳۷۲لمريز کې وفات شو.

## عبدالهادي هادي (توخي، بحر) :

ښاغلي عبدالهادي خان توخي د حاجي عبدالروف توخي زوي دي چې د کندهار د ښار د لومړي ناحيې شاه قبر او خرقې مبارکيته ور خرمه کوڅه کې په کال ۱۳۰۰لمريز کې زيږيدلى دی. ښاغلي توخي يوې ملاکي، قبايلي اشرافي او مذهبي کورنۍ ته منشوب وو چې فکر او عمل يې هم ددغه ماحول او ټولنيزو شرايطو څخه وده کړې ده.

هغه وخت چې عبدالهادي بحر د کندهار د روشنفکرانو او نورو با درده روشنفکرانو سره اړيکې او پېژندګلوي پيدا کړه، د نويو مطالعاتو او افکارو د تبادلې په رڼا کې د خپلې خوښې او قانوني حکومت جوړولو په مزيت پوه شو، نو د ويښ ځلميانو او دموکراسي تر شعار لاندې يې دوي ته دهمکاري وعدې ورکړې. او د نوموړي سياسي غورځنګ په پياوړي کولو پېل وکړلو په دغه وخت کې د حکومت د سياسي او فرهنګي پاليسي د پر مخ بيولو دپاره په کندهار کې رسمي دولتي فرهنګي غړو سربېره روشنفکرانو او نفوذ لرونکو

ټولنيزو شخصيتو لپاره د نظر د څرګندولو او بيانيو ورکولو زمينه برابريدله، چې په دغه لړ کې عبدالهادي خان توخي په دغو کنفرانشو کې خپل نظريات او د تفکر طرز په پاخه منطق او رسابيان او ښه استدلال سره بيانول او دحقايقو په اظهار کې د چا څخه نه ويريدي او يا يې تر اغېزو لاندې نه راتلي په پوره جرأت او اخلاقي زړورتيا سره د وطندوستي او ملت غوښتې په پاکو او ښو احساساتو بيانول او حاضرين به يې تر اغېزې لاندې راوستل.

د ښاغلي توخي د شخصيت او حيثيت په لوړولو کې دده طبيعي ښکلا، جګه ونه او قامت پاک خوراک او څښاک، صداقت او وفا، لوي دسترخوان او د ملګرو د پاللو روحيه او داسې نورو اوصافو ډېر تاثير لرلو. د پوهې او زيرکتيا له پلوه په ځينو ملګرو کې د بحر په نامه مشهور وو.

د توخي د ژوندانه په لومړۍ مرحله کې به دده پر دسترخوان ځيني نوميالي ملايان پيران او قومي مشران، شکاريان، سترنج بازان او ټوکيان حاضريدل او مجلشونه به يې ښه تاوده وو. يو وخت د عبدالهادي خان هادي په ټولنيزو مناسباتو کې يو کيفي بدلون رامنځته شو او هغه دا وو چې د پخوانيو ډول ډول دوستانو او ملګرو پر ځاي يې تعليم يافته او دولتي لوړ رتبه کسان خپل د مجلس ملګري کړل د ورځې د سياست د غوښتنو سره سم په دغو کسانو د دموکراسي او ملي حکومت جوړولو په هيله د ګډ سياسي موقف نيولو په مقصد دده مجلس ته ورتلل او لازم تصميمونه به يې نيول چې په دغو هلو ځلو کې يو شمېر د ويښ ځلميانو په نامه کسانو هم ناسته ولاړه ورسره پيل کړه او په نتيجه کې يې توخي صاحب خپل ملګري ورګرځولو، نور نو عبدالهادي خان توخي د ويښ ځلميانو ټينګ او وفاداره ملګري شو او پر هغوي يې اعتماد درلوده.

ښاغلي ځلمې دده په اړه داسې ليکي:

«... ښه مې په ياد دي چې د ۱۳۲۹المريز کال په ژمي کې د کابل په ده بورې کې د عبدالهادي توخي په ويار دده يوه دوست ميلمستيا کړې وه. چې ما هم ګډون په کې کړي وو. د شه راغلي او دوستانه

خبرواترو په ترځ کې دې ودې نزاکت ته ملتفت کړ چې د ویښ ځلمیانو ټولنې ته پردې لاشونو را غزځېدلي دي او دغه ټولنه باید بین الایالتي او بین المليتي هویت پیدا کړي او د فاشیستي او علویت پسندي تورو څخه وژغورل سي.

توخي صاحب په ځواب کې ورته وویل چې زموږ په مرام کې د داسې تورونو لګولو ته ځاي نشته او د هر چا پر مخ یې ورخلاص دي. موږ د شمنان په دغه نامه غندي، دا یوه اجتماعي او اصلاحي ټولنه ده چې تراوسه یې رسمي او سیاسي هویت نه دي موندلي په اوس کې یې همدومره فعالیت بس دي راتلونکي جریانات او شرایط به موږ ته سمه او لازمه لار راوښیي په اصطلاح پراخو نه ښوروا ډېره ده».(۱) که څه هم د یو زیات شمیر هغو کسانو معرفي ضروري او پر ځاي کار وؤ کوم چې د ویښ ځلمیانو په غورځنګ کې یې ډېري ستونزي او ابړونه ګاللي دي. خو د وقت دکمي له امله د ډېري بخشني سره د هغوي که پیژند ګلوي څخه لاس پرسرشوم.

## نتیجه او وړاندیز:

« ویښ ځلمیان» په افغانستان کې د مستبدو حکومتو او ټولنیزو بې عدالتیو په مقابل کې د غبرګون یوه ټولنیزه، اخلاقي او ادبي تولنه وه چې زموږ د هېواد تکړه او بادرده ځوانانو څخه جوړه شوي وه. دغې ټولنې تر هر څه دمخه ادبي او اخلاقي هویت درلود او بیا وروسته د وخت دغوښتنو او د ژوندانه د عیني شرایطو د بدلون له کبله په سیاسي نهضت بدله شوه.

« ویښ ځلمیان» دویښ ځلمیانو د غورځنګ د پروګرام لومړنې اثر دي چې د ریفورمستانو او محافظه کارو د سازش محصول وو. خو د ریفورمستانو افکارو په دغه پروګرام کې زیات منعکس شوي دي. په سیاسي لحاظ نوموړي پروګرام یو محافظه کار، پروګرام دي ځکه په دغه پروګرام کې حکومت او شاهي نظام تر شوال لاندې نه وو

---

۱ـ محمد ولي، ځلمې، ملي مبارزې، کابل، دمیوند نشراتي موسسه، ۱۳۸۲، ص ۳۱۴.

راوستلي. یوازې یو شمېر دولتي کارکوونکي یې تر انتقاد لاندې نیولي وو چې بدې یې اخیستلي.

«د ویښ ځلمیانو» د پیدا کېدو لپاره درې عوامل د یادونې وړ دي:

لومړی عامل د داخلي سیاست بدلوناو د لیبرالو شرایطو رامنځته کېدل.

دوهم عامل د روشنفکراو د شمېر کمې زیاتوالي

درېیم عامل په حاکمه سیاسي طبقه کې بدلولونه، چې دهغو په نتیجه کې حاکمې طبقې د ځنیو نسبي آزادیو د ورکولو له امله غوښتل چې د ویښ ځلمیانو غورځنګ تر خپل کنټرول لاندې راولي. کله چې په ټولنه کې د بورژوا دموکراتیکو حرکتونو نسبتاً وده وکوله نو دا ډول ټولنیز او سیاسي ګوندونو د رامنځته کېدو امکانات را پیدا شول.

که څه هم د ویښ ځلمیانو د غورځنګ سیاسي عمر ډېر لنډ وو خو ډېر ښه وځلیدل. هغوي داستبداد پر خلاف د مبارزې دود رواج کړلو او د لومړۍ مشروطه غوښتنې او جوانان افغان د خپل زمان دغوښتنو سره د یووالي او موافقت کړۍ په ډېره ښه توګه وساتلو د ویښ ځلمیانو جریان د مرامي اهدافو د لرلو له پلوه د ګوند د داخلي ژوند تدوین شوي موازین او د سازماني فعالیتو په برخه کې دغیر دولتي مطبوعاتو بنسټ کېښودلو او د «انګار» او «اولس» دجریدو په خپرولو سره په دغه لاره کې ډېر ښه ګامونه اوچت کړل.

د «ویښ ځلمیانو»، «وطن» او «خلق» د سیاسي جریانونو بریاوې او ناکامۍ ټولې هغه تجربې دي چې د روستیو مبارزو د ښه والي او بډاینې لپاره په خپل ځای پرې اینبې دي. که چېرې د هغه وخت د جریانو ترمنځ د فکري، قشري او طبقاتي اختلافونو ته پام وکړو، د هغه وخت د جریانو ترمنځ متقابل ګذشت تېریدل او خویشتن داري اخلاق له هغو مهمو درشو څخه دي چې د هغه دورې د مبارزو څخه و راتلونکو نسلونو ته په میراث پرې اینبې دي. دا خبره په زغرده ویلای شو چې له هغو ټولو نیمګړتیاو او نارساییو سره سره چې ځینې

طبیعي هم وو او د ټولنې د فکري او ټولنیز حالت او دعدم پخوالي ځخه رامنځته شوي وو، د ویښ ځلمیانو جریان د استعمار، داخلي استبداد خلاف او د ټولنې د ناسالمو دودونو سره د مبارزې جریان وو چې د هېواد و استقلال ځخه دمخه او دهغه ځخه را وروسته د استبداد او استعمار ضد جریانو یوه قوي کړي وه.

د ویښ ځلمیانو د مبارزو جریان وښودله چې که چېرې د هېواد روشنفکران د خلکو له پر ګڼو سره په ټېنګ پیوند بې له دې ځخه چې په ځینو خاصو د ګمو علایقو کې لکه ژبنې، محلي او قومي مناسباتو تکیه کولو، سره را یو ځاي شي ډېرې زیاتې او چټکې او روښانه بریاوې به یې په نصیب سي. خو که چېرې دغه پیوند په خاصو ملي او محلي محورو، ټاکلو تنګ نظریو او روشفکرانه ذهنګیرانه برخوردو باندې ولاړې وي ډېرې سختې ماتې به یې په نصیب سي.

ددغه غورځنګ ځینې عمده لاسته راوړنې چې په خپل وار د تاریخي اهمیت لرونکي دي، دلته را اخلو:

- د ښاروالیو او پارلماني ټاکنو کې فعاله ونډه اخیستنه.
- په پارلمان کې د متحدې جبهې جوړول.
- د امریکایي کمپنې (موریسن کنودسن) د پور په برابر کې په خپل وخت مقاومت کول.
- او د ټولو سیاسي ګوندوو سره یو ځاي د قوانینو په تشوید او تصویب کې فعاله ونډه اخیستل، ټول هغه ګامونه دي چې دوي په خپل سیاسي ژوند کې ترسره کړي دي د «افکار»، «اولس»، «وطن» او «خلق» د جریدو خپرول او د «زوږ»، «ژغ مجله»، «کابل مجله»، «اتحاد مشرقي جریده»، «طلوع افغان»، «بیدار»، «هېواد» اونور ځخه ګټه اخېستنه د خپلو اهدافو لپاره او د خلکو او ځوانانو د رابیدارولو لپاره ښه ونډه لرله دا ټول ددغه سیاسي جریان له بریاو ځخه ګڼل کېږي.

په عمومي توګه ویلاي شو چې د ویښ ځلمیانو په غورځنګ کې داسې روشنفکران سره رایو ځاي شوي وو چې ټولنیز لحاظ په بېلا بېلو طبقاتو او اقشارو پورې اړه لرله مثلاً د کوچني بورژوا ډلې

روشنفکران، د ساري بورژوا نماينده ګان، دولتي پر سر اقتدار نماينده ګان ځيني مشهور فيودالان ملي او مذهبي خلک او نور، له همدې امله ددغه غورځنګ د غړو ترمنځ لازم فکري او سياسي يووالي وجود د نه لرلو او هم هومره سره چې لازم وو د ولشونو سره يې ضروري پيوند نه لرلو او هم د همدې موضوع له حيثه وو چې دولتي ملاتړ پر ځاي د دولت د لوړو کسانو له خوا حمايه کېدل.

«دوېښ ځلميانو» د مفهوم څخه مطلب د نامه ظاهري مانا نه ده، بلکې د هغه څخه مطلب د نو موړي مفهوم محتوي يعني سياسي حرکت دي، د وېښ ځلميانو په نامه باندې يو شمېر مقالې وليکل شوي او استاد بېنوا دا مقالې سره راټولې او په کابل مجله کې يې يو ځاي چاپ کړي، ددغو مقالو له مطالعه څخه کولاي شو د ليکوالانو ايډيالوژيکې موضعګيري و مومو عمدتاً دوه موضعګانې يا دوه اړخيزه انعکاس يا دوه ګروپه وو چې استاد بېنوا د لومړي ګروپ نماينده ګي او استاد خادم د دوهم ګروپ نماينده ګي کوله چې لومړي ګروپ ريفورمستان چې اقتصادي اصلاحاتو ته يې توجه لرله او دوهم ګروپ محافظه کاران وو ددغو پروګرامو دعملي کولو لپاره اخلاقي اړخ ته زياته توجه کوله.

ټولې مقالې دهېواد د داخلي حالت او دخلکو د ژوند په باره کې ليکل شوي دي او ددغه ټکي ته اشاره شوې ده چې څرنګه خپل هېواد د پرمختللو هېوادو په قطار کې ودروو. په دې ترخ کې د وروسته پاتې والي دعلتونو په پلټلو کې د «ملت» مفهوم وکارولو چې د خپل مليتي مربوطبت باندې به يې وياړل، له مخې وو. مثلاً پوهاند عبدالحي حبيبي ددغه دوه شکله کرکټر چې يو يې پر پښتنې سنتريزم بنا وو او بل د ښاري ژوند پر اساساتو پورې اړين روشنفکري نظريات وو يا دوو مختلفې نظريې موجودې وې د ښاري ژوند لکه غبار، محمودي طالب، نظامي او داسې نور.

په پاې کې بايد ووايم چې دربار ددغې غورځنګونو د رامنځته کېدو اصلي او عمده عامل ګڼل کېږي او د يوه اصل په توګه دربار د

ټولو روشنفکري غورځنګو د منځته راکېدو ځاله ګڼل کېداي شي او یو وړاندیز وړاندې کوم:

ځرنګه چې د افغانستان د روشنفکري غورځنګ تاریخي بهبرد ډېرو کسانو له خوا څېړل شوي دي. کله چې یو محقق نوموړي جریان څېړې او په اړه یې نوموړي اثار مطالعه کوي لېدل کېږي چې هر څېړونکي د خپل طرز تفکر علایقو او دلچسپو سره سم هغه تفسیر کړي او څېړلې دي نو زما وړاندیز دادي چې د دغه روشنفکري جریان د ښه روښانه کولو او څېړلو لپاره یو ګروپ محققین وټاکل سي او ټول روشنفکري جریانونه له پېل څخه تراوسه پورې په ښه بېطرفانه ډول وڅېړي او یو داسې تحقیقي اثر و ټولنې ته وړاندې کړي چې د راتلونکي نسلونو دپاره د خپل تاریخ ځلانده انځور په لاس ورکړي.

## دمنابعو او مأخذونو لست

الف: کتابونه:
۱ـ اخراموېچ، افغانستان بعد از جنګ، ژباړه، محمد ولي ځلمې، قلمي نسخه، کال(؟).
۲ـ بايايف، قربان، نهضت هاي مردمي و روشنفکري، پوهنتون کابل، ګستتنر ۱۳۶۷.
۳ـ بښرکي، محمد علم، ويښ ځلميان، نيدرلينډ، افغاني کلتوري ټولنه، ۱۳۷۹.
۴ـ بهار، سيدکريم، جنبش هاي دموکراتيک افغانستان، تزس ماستري، تايپي، پوهنتون کابل، ۱۳۶۲.
۵ـ پنجشيري، دستګير، ظهور و زوال حزب دموکراتيک خلق افغانستان، پشاور، ۱۳۷۷.
۶ـ پنجشيري، دستګير، پيدېش و رشد سرمايداري در افغانستان، چاپ ګستتنر، پوهنتون کابل، ۱۳۵۳.
۷ـ تايب، محمد طاهر، تاريخچه ويښ ځلميان، مونوګراف تاسيس پوهنتون کابل، ۱۳۶۶.
۸ـ حبيبي، عبدالحي، جنبش مشروطيت در افغانستان، کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۳.

۹- حصین، شاه محمود، تاریخ مبارزات ویښ ځلمیان، تیزس ماستري پوهنتون کابل، ۱۳۶۷.
۱۰- ځلمي، محمد ولي، ملي مبارزې، کابل، د میوند نشراتي موسسه، ۱۳۸۲.
۱۱- ډاکتر عبدالغني، نگاهي به اوضاع سیاسي آسیاي میانه، ۱۳۰۲.
۱۲- دوپري لویس، امیر عبدالرحمن خان و شروع افغانستان جدید، پشاور، ۱۳۷۳.
۱۳- رشتیا، سید قاسم، خاطرات سیاسي سید قاسم رشتیا، پشاور، ۱۳۷۷.
۱۴- رشتیا، سید قاسم، افغانستان در قرن ۱۹، کابل، مطبعه دولتي، ۱۳۳۵.
۱۵- زابلي، عبدالمجید، مشکلات اقتصادي ما، کابل، مطبعه عمومي، ۱۳۲۹.
۱۶- زرملوال، غلام محي الدین، د ویښ ځلمیانو مبارزه او د استبداد عکس العمل، پشاور، ۱۳۸۵.
۱۷- طنین، ظاهر، افغانستان در قرن بیستم، تهران، ۱۳۸۳.
۱۸- غبار، میر غلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد اول، کابل مطبعه دولتي، ۱۳۴۱.
۱۹- غبار، میر غلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد دوم کابل پشاور، ۱۳۷۲.
۲۰- فرهنگ، میر محمد صدیق، افغانستان در پنج قرن اخیر، پشاور، ۱۳۷۳.
۲۱- کارگون، افغانستان در دهه بیستم و سي ام قرن بیستم، ترجمه، جلال الدین صدیقي، پوهنتون کابل، ۱۳۲۴.
۲۲- گارگون روشنفکران در زنده گي سیاسي افغانستان، ترجمه نورمحمد تره کي، نسخه قلمي، ۱۳۵۴.

۲۳. کنګو فسکي، یورید، تاریخ نوین افغانستان، ترجمه جمشید جمراد ګستتنر، پوهنتون کابل، ۱۳۶۴.
۲۴. ګوتیک، توماس، نقش انجمن هاي ادبي، در پروسه تشکیل ویښ ځلمیان، نسخه تایپي، ۱۳۶۴.
۲۵. هاشمي، سید سعدالدین، جنبش مشروطه خواهي در افغانستان، ګستتنر پوهنتون کابل، ۱۳۵۴.

ب: مجلات و جراید:
۱. ازاد افغانستان د اخبار کلکسیون، ۱۳۳۱-۱۳۳۲
۲. انګار، د اخبار کلکسیون، ۱۳۳۲.
۳. بېنوا، عبدالروف، پښتوټولنه، ۱۳۳۲.
۴. ترقي، ورځپاڼه، کلکسیون، ۱۳۸۵.
۵. خط شوم، ویژه فرهنګي، شماره شوم و چهارم، ایران، ۱۳۸۲.
۶. غرجستان، ارګان نشراتي ملیت هزاره، کابل، ۱۳۶۷.
۷. کابل کلني، ۱۳۲۵- ۱۳۳۲.
۸. کابل مجله، مطبعه عمومي، ۱۳۳۲.
۹. مصاحبه با محمد ولي ځلمي، عبدالهادي هادي او عبدالروف بېنوا.
۱۰. وطن او نداي خلق د ورځپاڼو کلکسیون، ۱۳۲۹.
۱۱. یا حق جریده، کلکسیون، ۱۳۶۴.

## د لیکوال لنډ ژوند لیک:

لیکوال په ۱۳۳۲ لمریز کال کې زیږیدلی په کال ۱۳۵۲ لمریز کې د بابا هوتک د لیسې څخه فارغ او په کال ۱۳۵۳ کې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځی کې شامل او په کال ۱۳۵۶ کې د فلسفې او ټولنیزو علومو د څانګې څخه فارغ شوی. په کال ۱۳۵۷ کې د هلمند د ښوونکې د روزنې په موسسه کې د استاذ په توګه مقرر او بیا وروسته په کال ۱۳۶۰ کې د علومو د اکادمي په علمی کادر کې شامل شوی او اوس د فلسفې او ټولنپوهنې انستیتوت کې د ټولنپوهنې د دیپارتمنت د آمر په توګه دنده ترسره کوي